# د سردار محمد داود خان د واکمنۍ سياسي ستونزې

ليکوال: پوهاند مست علي نيازی
د ننګرهار پوهنتون استاد

## سريزه

د افغانستان خلکو د تاريخ په اوږدو کې د خپل استقلال او ملي هويت د ساتنې په غرض قرباني ورکړې او خپل استقلال يې ساتلی ، له بده مرغه دوی بيا دسياسي قدرت د تر لاسه کولو لپاره خپلمنځي جګړې کړې دي. دا به د حيرانتيا خبره نه وي ، چې د هيواد سياسي تاريخ د نفوسو له لړوالي سره سره بيا هم د پېښو له پلوه ډک او شتمن دی اود ګاونډيو هيوادونو له سياسي تاريخ سره ډېر توپير لري . د تاريخ او جغرافيې پوهانو هم افغانستان د نيواک ګرو ځواکونو د تګ اوراتګ ستراتيژيک پل ،د وريښمو د لارې دتقاطع ځای، د نړۍ د بام ،د هند د دروازې ، د اسلامي نړۍ د ختيځې دروازې ، د تمدنونو څلور لارې ، د نړيوالې سوداګرۍ د لويې لارې او ځينو د اسياد زړه په نومونو سره نومولی دی . ځينو افغانستان له (**۵۴۵**) قبل الميلاد څخه تر (**۱۸۱۵**) ميلادي پورې د هند په خاوره باندې ديرغلګرو د تيوپ د تختې او پل په نوم پېژندلی دي . د وريښمولار هم له دې هيواد څخه تيرېدله چې د هند ، پارس ،ماورا النهر،عراق اوجزيرت العرب، سوداګريزو قافلو پکې تګ او راتګ کاوه . افغانستان تل له ځانګړي جيو پولتيک ارزښت څخه برخمن و . خو دغې ځانګړتيا له ځان سره د وينو ډکې پېښې او [illegible] د روس او انګليس تر مينځ د سيالۍ له امله د حايل هيواد په نوم په سوق الجيشي لحاظ ځانګړی ارزښت وموند . (۱۰ م ۱-۲)

د اسيا او اروپا سترو امپراتوريو تل داهڅه او مينه درلوده ،چې هند ونيسي خو دغو يرغلګرو د هند تر لړو ډېرو برخو نيولو وروسته د هند د هغې برخې ساتنه د نورو يرغلګرو په مقابل کې خپل وروستی هدف ګاڼه ،هر څومره چې د بريتانيې حکمراني د هند شمال لويديځ پلوته پراخيده ور سره يې د ساتنې فکر هم پراخېده. په منځنۍ آسيا کې د روس شاهي تزاري دولت د يوې فعالې امپراتورۍ په شکل وده کوله چې د بريتانې حساسيت يې په ډېرې چټکتيا سره زيات کړ. هند ته د روس لخوا

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطر او گرمو اوبو ته د هغوی د رسېدو هيله په بريتا نوي هندوستان کې په عمومي ډول ومنلی شوه ،لومړی او دويم نړيوال جنگ ترلږ ځنده وروسته دې نيمې وچې ته د تزاري روسيې او بيا د شوروي اتحاد د خطر په اړه د بريتانيې انديښنو تر ۱۹۴۷ ز کال پورې دوام وکړ. تر څو د بريتانې واک په هند کې ختم شو ه:(۱۴-م۱)

انگليسانو په افغانستان کې د حاکميت اود روسانو د مخنيوي په غرض په ۱۸۳۹ ز کال د اپريل په (۲۰ مه) نېټه په کندهار کې شاه شجاع واک ته ورساوه . خود افغانستان قهرمان ملت د قربانيو په پايله کې يې ماتې وخوړه ، دوی خپله نظامي ماتې يو تصادفي کار وگاڼه ،د هوا سوړوالی او غلط تاکتيک يې بهانه کړ. د خپل حيثيت د اعاده کولو اوخپلو موخوته د رسېدو په خاطر يې د۱۸۷۸ زکال د نوامبر ۲۱ مه نېټه دوهم ځل لپاره پر افغانستان يرغل وکړ ، امير شيرعلي خان فکر کاوه چې د روس او انگليسانو له رقابت څخه په گټې اخستلو سره به له روسانو څخه ډيره مرسته تر لاسه کړي ، ځکه يې له کابل څخه د شمال لورته د روسي هيواد ته د سفر په نيت حرکت وکړ ، خو هلته په مزار شريف کې وفات شو، انگليسانو له امير محمد يعقوب خان سره د گندمک د تړون (۱۸۷۹ ز کال د په ۲۲مه نيټه) تر لاسليک کولو وروسته خپل سفير کيوناري (د ۱۸۷۹ زکال د جولای په ۲۴ مې نيټه )کابل ته را ولېږه ، هغه د مکناټن په څير حکمراني پيل کړه دافغانستان زړور ملت هغه هم د مکناټن په برخليک اخته کړ. تر دې وروسته انگليسانو سياسي لار خپله کړه : (۳۴م-۱۲)

انگليسانو پر سوق الجيشي لارو (بولان ، خيبر او کورمه) د تسلط په موخه محيلانه پلانونه طرحه کړل.دوی ددغو پلانونود تطبيق په لارکې د پښتنو له کلک مقاومت سره مخامخ شول. مگر بيا هم دوی خپل شوم پلانونه عملی کړل . انگليسانو په ۱۸۴۳ زکال د سند او په ۱۸۴۸ زکال د پنجاب سيمې ونيولې ،د افغانستان ختيځ ولايتونه د سند د سيند تر غاړې پورې بريتانيا خپل متصرفات وگڼل ، په ۱۸۵۵ زکال کې د جمرود او ۱۸۵۷ زکال کې يې د پېښور يو اړخيزه تړونونه له امير دوست محمد خان سره لاسليک کړل ، د گندمک (۱۸۷۹ زکال) او ډيورند (۱۸۹۳زکال) د جبري تړونونو تر لاسليک کولو وروسته د پښتونستان ډيرې سيمې د انگليس تر نفوذ لاندې راغلي او دې سيمو ته يې د شمال لويديځ سرحد اصطلاح استعمال کړه ، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیڅ حقوقي جنبه یې نه لرله ددې سیمي ( پښتونستان ) خلک باید د اصل خوداراديت داصولو په رڼاکې خپل برخلیک پخپله وټاکي (۲۲ م۔ ۹۸ او۹۹)

د انګلیسانو ګټو ته په اسیا کې هغه وخت خطر پېښ شو ، چې د ترکستان پوځ آمو سیند ته نږدې دشیر آباد په سیمه کې ځای پر ځای شو . په دې اړه د ۱۸۷۸ زکال دمارچ په ۲۲ مه نېټه د ققفاذ د پوځ قوماندان د هغه ځای اداري مشر ته ولیکل : ((بې له شکه چې انګلستان خپله هندي پوله کې زموږ په وړاندې کمزوری دی . دا مسئله دوه برخې لري ( پوځي او سیاسي ) چې دواړو برخو ته چمتو والی اړین دی . نن سبا انګلیستان او افغانستان سره خوا بدي دي . امیر شیر علي خان له هغې سبسایدي څخه لاس واخېست چې ده ته ورکول کیده . ځکه برتانوي هند واکمني له افغانستان څخه داسې غوښتنې کولې چې ددوی سیاسي خپلواکۍ ته یې خطر پېښاوه....)) ۲۴ م- ۳۳

کله چې انګلیسان پوه شول چې امیر شیر علي خان د انګلیسانو دایمي استازی د کابل ، کندهار او هرات په ولایتونو کې نه قبلوي او کابل ته یې د چمبرلین په مشرۍ هیئت ونه مانه خو روسي هیئت ته یې د جنرال ستولیتوف تر مشرۍ لاندې اجازه ورکړه، چې د(۱۸۷۸ز کال ) په جولای کې کابل ته راشي اوله دوی سره خبرې وکړي . سخت په قهر او د۱۸۷۸ زکال په نوامبر کې په افغانستان باندې دوهم یرغل پیل کړ. دوی په نظامي لحاظ ماتې وخوړه خو په سیاسي لحاظ لومړي ځل له شاه شجاع څخه د مثلث تړون (۱۸۳۸ز) کې د پېښور او ورسره اړوندې سیمې ملتان، دیره جات او کشمیرد تل لپاره له افغانستان څخه جلا کړل په دوهم ځل یې د ګندمک د تړون (۱۸۷۹زکال د مې ۲۹ مه) په ترڅ کې له امیر محمد یعقوب خان څخه د سیبي، پښین، کرمې، سوات، باجوړ، چترال، باشګل، وزیرستان،داروچاګي، کویټې او چمن سیمي خپلي کړي او په (۱۸۹۳) کې د ډیورند د تړون په اساس چې له امیر عبدالرحمن خان سره یې لاسلیک کړ یو شمیر نوري سیمي هم جلا کړې او ددې سیمو جلاوالي ته یې قانوني بڼه ورکړه . انګلیسانو تر دواړو یرغلونو ورسته د افغانستان په بهرني سیاست تسلط پیدا کړ . اوپه ټولو تړونونو کې به یې دا مطلب ذکر کاوه چې دافغانستان امیر حق نه لري، چې دانګلیسانو له اجازې پرته بل دولت سره ددوستۍ اړیکې ټینګې کړي . هر څه چې سرته رسوي باید د انګلیس په مشوره یې سرته ورسوي ، دامان الله خان تر راتګ پورې زموږ هیواد سیاسي استقلال نه لاره ، دافغانستان او

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګلیس دریم جنګ د همدې سیاسي استقلال د اخیستلو په خاطر و شو چې دافغانستان په ګټه او بریالیتوب سره پای ته ورسید .۴۲م م: (۵۳او۵۴)

دافغانستان دولت لومړی ځل د امان الله خان په واکمنۍ کې د یو اساسي قانون پواسطه تنظیم شو . د نادر خان او اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په وخت کې ددولت د ثبات لپاره ډیر کارونه وشول . ظاهر شاه (۱۹۳۰-۱۹۷۳زکلونه) په خپله واکمنۍ کې یو پیاوړی دولتي نظام ټینګ کړ. د سردار محمد داودخان د صدراعظمۍ پرمهال هیواد د عصري کیدو لپاره یو لړ اقتصادي او سیاسي اقدامات تر سره شول . هغه د دیموکراسۍ په لسیزه کې د هیواد روڼ اندو او ځوانانو ته د۱۳۴۳ ل کال د اساسي قانون په رڼاکې ځینې حقونه ورکړل . د پاچا هیله داوه چې دیموکراسي په کراره کراره پلي شي . اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په دوهم نړیوال جنګ کې د افغانستان ناپېیلتوب وساته او هم یې په سیمه کې له ټکر څخه ځان وژغوره . خو داود خان په (۱۳۵۲ د سرطان په ۲۲ نیټه-۱۹۷۳زکال دجولای په ۱۷ نیټه) د یوې کودتاه په وسیله پاچاهۍ رژیم له مینځه یوړ، او پرځای یې جمهوري نظام اعلان کړ . (۳م-۲)

ده د ۱۳۴۳ل کال اساسي قانون چې په هغه کې د ګوندونو ، ورځپاڼو او بیان آزادي خوندي شوې وه لغوه او ددولت چارې د یوي کمیټې او ده خپله اداره کولي ، چې همدې کلتور تر ډېره وخته دوام وکړ او هیڅا بیا د اساسي قانون دومره خیال ونه ساته .

تر دوهم نړیوال جنګ وروسته د امریکا او شوروي اتحاد نړیوال رقابت د افغانستان اقتصادي او سیاسي پر مختګ تر اغیزې لاندې راوست . د شاه محمودخان په دوره کې (۱۹۴۲-۱۹۵۳ زکال) د افغانستان بهرنۍ کړنلاره په دودیز ډول روانه وه . د داودخان دصدارت په دوره کې (۱۹۵۳-۱۹۶۳ زکال) لوی بدلون مینځ ته راغلل او په پوله کې دبریتانیې ځاي پاکستان نیولی و . د دوهمي نړیوالي جګړې وروسته د افغانستان بهرنۍ تګ لاره د جیوپولټیک اهمیت پراساس مخ ته بیول کیده . په شمال کې د شوروي اتحاد شتون او مارکسیستي ایدیالوژۍ افغاني واکمنانو د ځان لپاره یو جدي ګواښ ګاڼه . له بله پلوه امریکا په خپلو نظامي تړونونو کې دشوروي اتحاد ځیني ګاونډیو هیوادونه شامل کړل چې ترکیه په ۱۹۵۲ زکال په فبروري کې د شمالي اتلانتیک په دفاعي تړون (NATO) کې شامله شو اوپاکستان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹۵۴ زکال په سپتمبر کې د جنوب ختيځې آسيا د پوځي تړون (SEATO) غړی شو ، په ۱۹۵۵ زکال د بغداد تړون لاس ليک شو چې ايران او پاکستان هم په کې شامل او د شوروي اتحاد پر ضد ايسارونکې کربنه بشپړه شوه . په افغانستان کې امريکا په ۱۹۴۲ زکال يوه سياسي نمايند گي پرانسته چې بيا دغه نمايند گي په ۱۹۴۸ زکال سفارت ته لوړه شوه او ايلی پالمر(Ely-palmaer) يې د لومړي سفير په توگه وټاکل شو . خو د دواړو هيوادو تر مينځ پوځي ملگرتوب نا شونی و . ځکه افغانستان له شوروي اتحاد سره د ۱۹۳۱ کال تړون له مخې چې هغه مهال هم د اجرا وړ و. نشو کولی چې له بل دريم هيواد سره ملگرتوب وکړي ، بل پلو د پاکستان او افغانستان تر مينځ د سرحد ستونزه بيا راپورته شوه ، ځکه افغانستان دا نه وه هيره کړې چې داټک سيند پخوا له دې چې د بريتانيې له خوا ونيول شي، دافغانستان خاوره وه ، ځينو پښتنو د بريتانيا سره د يرغلگر په نوم جگړې کولې او نه يې غوښتل چې له پاکستان سره يو ځای شي. او له شوروي اتحاد سره هم په ۱۹۴۷ او ۱۹۵۵ زکالونو کې دافغانستان نور تړونونه لاس ليک کړل . خود داود خان د (۱۹۷۳ زکال) کودتاه سره په دغو اړيکو کې بدلون راغی. ۱۵ م۴۸۲_ ۴۸۷

محمد داودخان د جمهوريت په دوره کې دومره مطلق العنانه شو چې د کودتا په تور يې ښاغلی محمد هاشم ميوندوال په زندان کې تر ډېرو شگنجو وروسته مړ کړ . خو په رسمي توگه داسې اعلان وشو چې گواکې هغه په نکټايې سره ځان وژنه کړې ده خو دا خبره خلکو ته د منلو وړ نه وه . (۴۰ م۴۳)

خلکو اميد درلود چې سردارمحمد داودخان به تردوهم ځل ټاکل کيدو وروسته په خپله اداره کې سمون راولي . خوبيا هم دده په کابينه کې د ملت له هيلو سره سم کوم بدلون نه ليدل کيده چې دا کار د خلکو د مايوسۍ سبب شو . بل کار چې د ده ستونزې يې زياتې کړې د ملي انقلاب ( ملي غورزنگ) د گوند جوړول و. په نوي اساسي قانون کې ديو گوندي سيستم وړاندوينه شوې وه. په دې گوند کې هم درې مختلفې ډلگۍ موجودې وې. يوه يې هغه تحصيل لرونکي اشخاص وو چې د يو گوندي سيستم او ديکتاتورۍ ته له اړتيا سره موافق و او غوښتل يې چې نوموړی نظام برياليی شي . داډله د جمهور رئيس د مرستيال سيد عبدالله پر شاوخوا راټوله شوې وه. دوهمه ډله

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه فرصت طلبه حرفه يي عناصروو چې تل يې د قدرت انډول ته کتل. دربمه ډله هغه عناصروو چې د داودخان د کورنۍ له غړو سره د اړیکو له پیاوړتیا وروسته یې غوښتل چې لومړنی گروپ له صحنې وباسي او دهغوی ځای ونیسي دوی تل د داودخان له ورور سردار محمد نعیم خان او د داودخان د زوی عمر سره اړیکې ساتلې ، دوی فکر کاوه چې له داودخان وروسته به سردار محمد نعیم د قدرت په گدۍ کښېني او د چارو واگې به په لاس واخلي ، وروسته د سردار محمد نعیم خان او داودخان تر مینځ هم اړیکې ترینگلې شوې او دمحمد داودخان له همکارۍ یې ډډه وکړه . (۲۵م۴۳)

سردار محمد داودخان د جمهوري نظام په ورستیو کې له سیاسي ستونزو سره مخ و. کوښښ یې کاوه چې دخپلو مخالفینو د له مینځه وړلو پواسطه خپل نظام ته نظامي گواښونه کم کړي . خو بالاخره د افغانستان د خلق دیموکراتیک گوند رهبرۍ له بندي کیدو او دهغوی د محاکمې تر اعلان وروسته دیو وسله وال پاڅون په پایله کې دده جمهوري نظام ته د ۱۳۵۷ ل کال د ثور په اوومه نېټه د پای ټکی کېښود .

په دې ځیرنیز اثر کې د نورو موضوعاتو په خوا کې دا یوه مهمه موضوع روښانه شوه چې محمد داودخان د امام الدین ساپي لخوا نه دی وژل شوی اوبلکې د ببرک نومي یو افسرله خوا چې په گارد کې د اطفایی مسئول ووژل شوی ده، چې نوموړي افسر بیا دافغانستان د جمهور رئیس نور محمد ترکي یاور و چې د نورمحمد تر کي د له مینځه وړلو پرمهال د مخالفینو لخوادی هم له مینځه یوړل شو دغه ټکی جنرال امام الدین ساپي هم تائید کړی او وایې : (( ما سردارمحمد داودخان ته وویل چې واک دافغانستان د خلق دیموکراتیک گوند ته لیږدول شوی او باید تسلیم شي )) داود خان وویل کمونستانوته نه تسلیمیږم ورسره جوخت یې پر ما ډزې وکړې. زه زخمي شوم کلاشینکوف مې نشو راپورته کولی له دې امله ما پر داودخان او دهغه پرکورنۍ ډزې نه دي کړي...)) ښاغلي دستگیر پنجشیري هم د امام الدین وینا تائید وي او وایې :(( امام الدین نشو کولی چې کلاشینکوف راپورته کړي او ډزې وکړي ، هغه ټپي و . له هغه سره وسله وال سر تیري وو کله چې هغوی ولیدل چې داوداخان او زوی یې ډزی کوي دوی هم پرهغوی ډزې وکړې او داود خان د کورنۍ له غړو سره یو ځای ووژل شو (۲۵م م ۱۷او۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۳۵۷ ل کال د ثور اوومه نېټه دهیواد په معاصر تاریخ کې د لیکوالانو لخوا د پلویتوب او مخالفت په وجه په راز راز نومونو لکه انقلاب، پاڅون، اوښتون او کودتاه یاده شوې ده. ځینو دغه ورځ ستایلې او ځینو یې داسې غندنه کړې چې د قلم عفت ته یې هم پام نه دی شوی. زه نه غواړم چې په دې هکله وغږیږم ځکه چې دا کار یو ځانګړی بحث ته اړتیا لري او چې زما د څیړنې موخه نه ده. خو ما په خپله لیکنه کې دا ورځ د بدلون په نامه یاده کړې او د لیکوالونو لیکنې مې د هغوی د لیکنې په اساس د کودتاه یا بل نوم چې دوی ورکړې په امانتدارۍ سره لیکلي دي. دغه څیړنیز اثر یوازې د سردار محمد داودخان د سیاسي ستونزو په اړه دی. د هغه د واکمنۍ نور اړخونه لکه اقتصادي، اداري او ټولنیزو برخو ته یوازې د اړتیا تر بریده اشاره شوې او له بشپړې توضیح څخه یې ډډه شوې ده. د سردار محمد داودخان سیاسي ستونزو دافغانستان د خلکو پرژوند ډیره اغیزه درلوده او لري یې. په دغه اثر کې کوښښ شوی چې دده د سیاسي ستونزو پورې اړوند موضوعات چاڼ، پرتله، تحلیل او وروسته له اوسنیو پیښو سره د هغوی اړیکې و ښودل شي. په لیکنه کې د هر چا او هر شخص د لیکنې او نظر درناوي شوي که چیرې د هغوي سیاست او کړنې زمونږ د ټولنې په زیان هم تمامې شوې وي دا به د وخت په تېرېدو سره روښانه شي. په اثر کې د پېښو نېټې په لمریز او په خواکې په زیږدیزه نیټه هم ښودل شوي دي چې لمریز پرځای د (ل) او دزیږدیز پرځای د(ز) توری استعمال شوی دی. چې (ل) د لمریز او (ز) د زیږدیز معنی ورکوي. د اثر په لیکنه کې له ښواو معتبرو ماخذونو څخه په ګټه اخیستل شوي ده. د اثر اصلي موضوع ترمختلفو سرلیکونو لاندې توضیح شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# موخې

دغه څېړنيز اثر چې د سردار محمد داودخان واکمني او د هغه سياسي ستونزې تر سر ليک لاندې دغو موخو او اهدافو ته د رسيدو لپاره ليکل شوی دی :

۱ ـ د سردار محمد داودخان دصدارت او واکمنۍ دوره د افغانستان په معاصر تاريخ کی يوه حساسه اود ارزښت وړ موضوع ده ، د تاريخ او د افغانستان معاصر تاريخ د مضمون، جغرافيې په څانگه کې له اصلي مضامينو څخه د ی . او دغه مضمون له دې پوهنځي پرته د ننگرهار پوهنتون د کرنې، وترنري ، ژبو او ادبياتو او اقتصاد په پوهنځيو کې هم تدريسيږي . په دې هيله چې دا ليکل شوی اثر به د تاريخ او جغرافيې د څانگې او نورو پوهنځيو له محصلينو سره د مرستندويه موادو په توگه مرسته وکړي ، د مسلک خاوندانو او دافغانستان د تاريخ له مينه والو سره د معاصر تاريخ د يوې برخې او په ځانگړي ډول د سردار محمد داود خان په واکمنۍ او صدارت پورې اړوند پېښو په روښانولو کې مرسته وکړي .

۲ ـ په دې اثر کې د سردار محمد داودخان سياسي ستونزې ، ژوند او شخصيت په اړه څېړنه شوې . چې تر اوسه دده دواکمنۍ او سياسي ستونزو په اړه کوم څېړنيز اثر نه دی ليکل شوی . او د هغه سياسي ستونزې له اوسنيو پېښو سره مستقيمې او نا مستقيمې اړيکې لري . ځکه ما داکار اړين وگاڼه . چې په دې برخه کې يو څېړنيز اثر وليکم .

۳ ـ ددې څېړنيز اثر په ليکنه کې د تاريخ او جغرافيې د څانگې درسي اړتياوې او موافقه هم په پام کې نيول شوې ده.

۴ ـ دغه څېړنيز اثر به د داودخان د ژوند د مختلفو اړخونو د څېړنې لپاره لاره هواره کړي تر څو لوستونکي وهڅېږي په دې اړه غوره او ښه څېړنيز کتابونه وليکي .

۵ ـ د داود خان په اړه ځينې ليکل شوي کتابونه يو مخيزه دي يعنې زيات يې توصيفي بڼه لري . ما کوښښ کړی چې په ريښتنې ډول د هغه شخصيت او ستونزې لوستونکو ته ور وپېژنم .

۶ ـ د ذکر شوي اثر ليکنه له پوهنمل علمي رتبې څخه دپوهندوی علمي رتبې ته د لوړيدو په خاطر د يوشرط په توگه د تاريخ اوجغرافيې څانگې له خوا را سپارل شوی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تیرو ماخذونو ته یو کتنه ( د منابعو څرنګوالی )

هر څیړونکی د خپلی موضوع پوری اړوند یو لړ علمی او لیکلي اثار مطالعه او د هغوي د معلوماتو څخه په خپله لیکنه کې ګټه اخلي ، ماته هم ( د سردار محمد داودخان واکمني او دهغه سیاسي ستونزي تر سر لیک لاندې د یو څیړنیزاثر لیکنه د تاریخ او جغرافیې د څانګي لخوا د پوهنمل علمي رتبي څخه د پوهندوي علمي رتبي ته د لوړیدو له پاره دنده سپارل شوي و ماددي اثر د لیکني په خاطر د موادو د برابرولو او بشپړولو په غرض مختلف کتابتونونه لکه دننګرهار پوهنتون کتابتون ، د کابل پوهنتون کتابتون د ننګرهار داطلاعاتو او کلتور د ریاست کتابتون څخه ګټه اخېستي او هم مي هڅه کړي چې داود خان ته نږدې اشخاص پیدا او په دې اړه د هغو د معلوماتو څخه ګټه واخلم ، له کومو کتابونو څخه چې ددې اثر په لیکلو کې استفاده کړي او ځیني یې تازه چاپ شوي یو څو کتابونه په لاندې کرښو کې در پیژنم.

### ۱_ د سرطان کودتا دافغانستان داوږدې بی ثباتي پیلامه:

پورتني اثر د افغانستان معاصر تاریخ پوه ښاغلي پوهاند محمد حسن کاکړ په (۱۷۲) مخونو کې لیکلې چې د دانش خپرندویه ټولني په ۱۳۸۸ لمریز (۲۰۰۹ز) کال کې چاپ کړي. ده د محمد داودخان د واکمني پیښې، د هغه سیاسي کړنلاري ، پاکستان ته د محمد داودخان سفر او دهغه پایلي د افغانستان پر سیاسي وضع باندې د داودخان د سیاست اغیزي . او د کودتا ګانو له لاري د افغانستان د سیاسي رژیمونو کاواکه کیدل ، په دقیق او علمي ډول تحلیل اوارزیابي کړي. د کتاب په اخر کې یو څو کتابونه ته چې د داود خان د واکمني سره تړاو لري یوه کتنه کړي. ما ددې اثر څخه د خپلې لیکنې په مختلفو ځایونو کې ګټه اخېستي او لوستل یې د افغانستان د تاریخ مینه والو ته ګټور ګنم .

### ۲_ د افغانستان پر معاصر تاریخ یو لنډه کتنه :

مرحوم محمد ابراهیم عطایی لخوا لیکل شوي اثر ( د افغانستان پر معاصر یو لنډه کتنه ) د افغانستان د معاصر تاریخ ډیر پېښی بررسی کړي . هغه معاصر تاریخ د پیل ( ۱۷۴۷ م ) کال ، انګلیسانو او روسانو رقابت ، پر افغانستان د انګریزانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه برغلونه ، د روسانو يرغل ، د مجاهدينو د حکومت جوړيدل او کورنی جګړي څيړلي دي . ده د محمدداودخان په صدارت يې پوره بحث کړي او ما دا اثر د ليکلو پرمهال د نوي اساسي قانون (۱۳۴۳ل) تصويب، د جرګې دايريدل ، او يو لړ نور موضوعاتو په روښانولو کې تري استفاده کړي ده . نوموړي کتاب د معاصر تاريخ د مينه والو لپاره يو غوره ماخذ ده . چې نومړي کتاب په ۴۳۲ مخونواو دويشت فصلونو کې دميوند د خپرندويه ټولنی لخوا په (۱۳۸۳ ) لمريز کال کې دريم ځل لپاره چاپ شوي دی .

## ۳_ افغانستان در مسير تاريخ:

د افغانستان مشهور ليکوال، مؤرخ او سياست مدار ښاغلي مير غلام محمد(غبار ليکلي دي . نوموړي اثر د پوره شهرت څخه برخمن دي زه نه غواړم چې د هغه په اړه څه وليکم خو دومره زياتوم چې ما له دي ارزښتناکه اثر څخه دپښتونستان مساله او دپاکستان سره داړيکو خرابوالي په عنوان کې پوره ګټه اخيستي. ځکه ما نوموړي اثر له نورو کتابو نو سره پرتله کړ خو ښاغلي غبار د پښتونستان د موضوع په اړه تاريخي معلومات ليکلي زه بيا هم دا اثر د ټولو افغانانو له پاره يو ګټور اثر بولم چې لومړي ځل په ۱۳۴۶ لمريز کال د دولتي مطبعې لخوا چاپ شوي دي خو وروسته څو ځله د مختلفو نشراتي ارګانو لخوا چاپ او نشر شوي دي .

## ۴_ افغانستان در دوران صدارت محمد داودخان :

نوموړي اثر ښاغلي محقق عبدالصابر جنبش ليکلي اوپه ۱۳۸۵ لمريزکال د سعيد نشراتي مرکز لخوا په (۲۰۲) مخونو کي چاپ شوي ده . دغه اثر يو تحقيقي اثر دي چې داودخان د صدارت دوره يې په مکمل ډول څيړلي ده . د داودخان اقتصادي فعاليتونه ، سياسي کړنلاري، معارف ته خدمت کول او په دي دوری پوري ټول موضوعات څيړلي او دتاريخ ليکني د اصولو سره سم يې غوره او معتبرو ماخذونو څخ استفاده کړي . نوموړي علمي اثر د علومو اکاډمی د محققينو تقريظونه هم لري .

## ۵_ افغانستان در قرن بيستم :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي امين الله دريځ په خپل کتاب ( افغانستان در قرن بيستم ) کې د افغانستان سياسي تاريخ د امير عبدالرحمن د واکمنۍ څخه پيل د ۱۳۵۷ ل کال د ثور تر (۷) نيټې پورې ليکلي ، نوموړي زيار کښلي چې پېښې په تحليلي او روانه بڼه توضيح کړي ، ده په خپل کتاب کې د نورو موضوعاتو تر څنګ د سردار محمد داودخان د صدارت دوره ، اقتصادي پلانونه ، ټولنيزه حالت او د داود خان د واکمنۍ دوري سره يو ځاي توضيح کړي .نوموړی په خپل کتاب کې ځينې انځورونه هم ځای کړي دي . دغه کتاب کې موضوعات په مفصل ډول بيان شوي . نو ځکه پنډوالي يې (۲۱۲) مخونه ته رسيږي چې په (۱۳۷۹) لمريز (۲۰۰۱ ز) کال کې دانش کتابخانې چاپ کړي ، ده د داود خان پرسياسي او پرمختيايي کړنلاري پوره بحث کړي ، د ديموکراسۍ دوري صدراعظمان يې معرفي کړي دي . ماهم ددي کتاب څخه په خپل اثر کې ګټه اخيستي خو لوستل يې ټولو افغانستان ته داهميت وړ دي .

## ۲_ افغانستان در قرن بيستم :

ليکوال ژورناليست او ديپلومات ښاغلي ظاهر طنين دا کتاب ليکلي ده.په خپل کتاب کې د امير حبيب الله خان د واکمنۍ څخه د مجاهدينو د حکومت تر جوړيدو پوري موضوعات په ژورنالستيکې بڼه څيړلي دي . ده د داود خان د صدارت دوره او د داود خان جمهوريت د نورو موضوعاتو سره پوره څيړلي او ډيرمعلومات د مصاحبو له لارې راټول او بيايې تحليل کړې دې ، دده په کتاب کې د سياسي رهبرانو او لوړو پوړو چارواکو نظريات شته چې د اهميت وړ ده دغه کتاب په (۵۱۸) مخونو کې په (۱۳۸۳) ل کال لومړی ځل د ميوند نشراتي موسسې ، سبا کتابخانې لخوا چاپ شوي دي .

## ۷ _ اردو و سياست در سه دهه اخير :

ښاغلی محمد نبی عظيمی دغه کتاب ( ۲۷۲ ) مخونه کې ليکلې او د ميوند د نشراتي موسسی ، سبا کتابخانی لخوا په ۱۳۸۷ لمريز کال دريم ځل له پاره چاپ شوې دې . دا کتاب چې ډير پنډ دي خو د پام وړ مطالب لري . د کتاب ليکونکی د سردار محمد داود خان په کودتاه کې فعاله ونډه درلوده چې د ډيرو پيښو عينې شاهد ده . د پوځی حالت د بيانولو ترڅنګ سياسی مسايل هم څيړلي دي او د ۱۳۵۷ لمريز د ثور ۷ نېټې په بدلون کې د دواړو قوتونو ترکيب او د کاميابې

(c) ketabton.com: The Digital Library

عواملو ته کتنه کړې ده .په وروسته دولتونو کې یې هم د پوځ حالت څېړلي چې پوځ او پوځی کودتاه گانو په اړه یو ښه ماخذ ده .

## ۸ـ ژوندي خاطري

## په تیرو نهو لسیزو کی د افغانستان تاریخ ۱۹۰۰ ـ ۱۹۹۳ م .

ډېر تکړه ژورنالست ، لیکوال او څېړونکی ډاکتر عبدالعلی ارغنداوي نوموړي کتاب په ( ۲۰۹ ) مخونه او ( ۹ ) نهه فصلونو کی لیکلې او په ۱۹۹۷ ز کال د بی بی سی د پښتو څانگی لخوا په پیښور کی چاپ او خپور شو . په کتاب کې د امیر حبیب الله خان څخه د ډاکتر نجیب الله د حکومت تر سقوط پوری موضوعات لیکل شوي، چې اخرنی عنوان د ملگرو ملتونو د سولی پروسی ناکامی ده . وروسته یو شمیر اړیني ښلوني هم لري چې د نورو مطالبو په څوا کی د داود خان کودتاه ، جمهوریت ، اقتصادي پالیسی ، د ځمکی اصلاحاتو ، حزب انقلاب ملی ، د پښتونستان مسله او د افغانستان خارجي پالیسی په اړه یو لړ غوره علمی مطالب لري. چې د څېړونکو لپاره غوره ماخذ او لوستونکو ته د معلوماتو ښه منبع ده . ده مسایل د پوښتنو له لاري د څېړني او تحلیل وروسته د یوي پروژي په بڼه را ټول او تکمیل کړي، چې لومړي د بی بی سی راډیو له لاري خپاره او وروسته دغه معلومات د یو کتاب په بڼه چاپ کړل، نوموړي معلومات تر ډېره بریده د سیاسی او دولتی لوړ پوړو چارواکو څخه د پوښتنو او د هغوي په نظریو ډډه لگوي .

## ۹ ـ تحلیل واقعات سیاسی افغانستان ۱۹۱۹ ـ ۱۹۹۲ .

تکړه لیکوال او ژورنالست ښاغلی عبدالحمید مبارز دغه کتاب (۵۳۲) مخونو او ۹ نهه فصلونو په ۱۳۷۵ کال کې دویم ځل چاپ شوی . خو د چاپ موسسه یې معلومه نه ده . یوازې طرح او دیزاین یې د حمید نور پواسطه شوي . په کتاب کی لومړي فصل د افغانستان په اړه ، دویم فصل د امان الله خان د اصلاحی پروگرام ، په دریم او نورو فصلونو کی د نادرخان ، ظاهرشاه ، سردارمحمد هاشم ، سردار شاه محمودخان ، سردارمحمد داود خان د صدارت دوره او یو لړ مسایل لکه د دوکتور محمودي قتل ، د دیموکراسی دوره ، د ۱۳۴۳ ل کال اساسی قانون ، د دیموکراسی دوري صدراعظمان ، محمد هاشم میوندوال شهادت او ډاکتر نجیب الله د حکومت تر سقوط پوري یې مهم مسایل څېړلي دي . د کتاب په اخر کی یو لړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماخذونــه هــم معرفــی کــړي دي . نومــوړي کتــاب څخــه مــا هــم اســتفاده کــړي. د دیموکراسۍ او جمهوریت دورو پوري اړوند مسایلو د څیړني لپاره یو ښه ماخذ ده .

## ۱۰ _ تاسیس و تخریب اولین جمهوري افغانستان جز خاطرات ۱۳۱۰ _ ۱۳۷۴

ډاکتر محمد حسن شرق په نوموړي کتاب کې د جمهوري دولت اړونده پیښې څیړلی او دي پـه خپلـه د داود خان د کودتـاه فعـال غـړي و او پـه ډیـرو پریکـړو کـی شـریک و. ده پـه دي کتـاب کـې د داود خـان سیاسـتونه ، د جمهوریـت سـقوط ، د جمهورت سیاسی کړنلاره ( خطاب به مردم ) او د سردار محمد داود خان لومړي وینا هم په دي کتاب کی شـته خو د کتـاب د خپرونـی موسسـه او کـال نـه دي معلوم او لـه جمهوریت وروسته رژیمونو یې هم څیړلی دي.

## ۱۱ _ نگـاهې بـه شحصـیت ، نظریـات ، و سیاسـت هـاي سـردار محمد داود خان

ښاغلی ډاکتر عاصم اکرم په دي کتاب کې د داود خان ژوند زده کړو او دندو په اړه د شاه محمـود خان د صدارت پـه دوره کی لـه هغـه سره د داود خـان اختلافـات، بهرنــی کــړنلاره ، د پښتونســتان مســله ، د محمــد هاشــم میونــدوال شــهادت ، د جمهوریت لومړي کابینی په اړه او همدارنگه یو لړ مسایل په خپل کتاب کې تحلیـل او ارزولـي دي . دا کتـاب پـه ( ۴۲۲ ) مخونـو کـې چـاپ شـوي خـو د چـاپ ځـای او نشـراتی موسسـه یـې نـه ده معلومـه خـو ددي کتـاب لوسـتل ډیـر گټـور دي ځکـه موضوعات یې تازه او د پوهیدو اړتیا یې ډیره ده.

## ۱۲ _ افغانستان د دیموکراسی او جمهوریت پـه کلونـو کـې (۱۹۲۳ _ ۱۹۷۸ ز کال)

محترم عبدالغفار فراهي دغه کتاب په ۱۳۸۱ لمریز (۲۰۰۲ ز) کال په ( ۳۰۲ ) مخونو کې لیکلی او دانش خپرندویه ټولنی لخوا چاپ شوي ده. په دي کتاب کې د محمد داود خان د صدارت په دوره کې د حکومت طرز ، د صدارت څخه د استفا عوامل، داستفا څخه وروسته ژوند ، دیموکراسی دوره او ددي دوري صدراعظمان او د هغوي کابینی په اړه معلومات ځای کړل شوي دي ، په کتاب کې د گوندونو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطبوعات او یو شمیر نور مسایلو په اړه معلومات هم شته چې د دي کتاب معالعه د ټولو افغانانو خصوصاً د سیاسی فعالینو او د تاریخ څیړونکو له پاره ضروري ده .

## ۱۳ _ داود خان د ( کې جي بې ) په لوموکی .

ښاغلی ۱: هارون نوموړي کتاب په ( ۲۲۲ ) مخونو د سبا د نشراتو لخوا په ۱۳۷۲ ل کال کې چاپ شوی دی. په دي کتاب کې د روسانو لخوا د فعالیت پیل ، د داود خان کودتاه ، په نوي حکومت کې ټاکنی ، د کمونستانو پراخه فعالیت او ۱۳۵۷لمریز کال د ثورد ( ۷ ) نېټي ترکودتاه پوري ډیر مسایل په انتقادي توګه لیکلې دي. ده زیات معلومات د ( ع ) په حواله لیکلی نوموړي کتاب څو ځله چاپ شوی ، د داود خان کړنو او واکمنی پوري اړوند یو لړ موضوعاتو لرونکی دي. هیله ده چې لوستونکی تري استفاده وکړي .

## ۱۴ _ دافغانستان سقوط .

ښاغلی عبدالصمد غوث چې د بهرنیو چارو په وزارت کې دنده درلوده . ده د لیدلو پیښو په اړه خپل معلومات په پورتنی کتاب کې په ( ۲۴۸ ) مخونو او اته ( ۸ ) فصلونو کې په ۱۳۷۸ لمریز (۱۹۹۹ ز) کال کې د دانش خپرندوي ټولنی لخوا چاپ شوي دي . نوموړي کتاب کې شوروي اتحاد ته د داود خان سفر او لیونید بریژنف سره د هغه لفظی ټکر، د ایران ، پاکستان او امریکا سره د سیاسی اړیکو ، د پښتونستان مسله، افغانستان ته د بوټو راتګ ، پاکستان ته د داودخان سفر او سوداګریزه اړیکو په اړه پوره معلومات لري او د نوموړي کتاب لوستل د سیاسی څیړونکو او د تاریخ مینه والو له پاره ډیراړین او د اهمیت وړ دي

## ۱۵ _ ارمغان زندان .

ښاغلي عبدالملک عبدالرحیم زی چې د داود خان یو تکړه وزیر و، د کودتاه په تور بندي شو. وروسته دده نظریات او خاطرات د یو کتاب په بڼه په ۱۳۸۸ لمریز کال په ( ۳۸۵ ) مخونو کې په کابل کې د شمشاد د مطبعی لخوا چاپ شوي . نوموړي چې د مالي وزیر و . ده په خپل کتاب کې د نورو موضوعاتو په څوا کې د داود خان په اقتصادي کړنلارو او د هغه په اوه کلن اقتصادي پلان نیوکې کړي او د ده پلان یې پوره تحلیل او نیمګړتیاوي په ګوته کړي، د ده په کتاب کې د داود خان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړنو په اړه پوره معلومات شته چې لوستل یې د جمهوریت د پېښو د څېړنولپاره اړین دي .

## ۱۶ _ خاطرات سیاسی سید قاسم رښتیا ۱۳۱۱ (۱۹۳۳) ۱۳۷۱ (۱۹۹۳) .

ښاغلی سید قاسم رښتیا د محمد داود خان صدرات پر مهال هم لوړه دولتی دنده درلوده . ده ډیري پیښی د خپل ژوند لیک او خاطرو په ښه توضیح کړي. نوموړي د محمد داودخان سره د باندونگ په کنفرانس کی ملگري و او په دي کتاب کی ده د هغه کنفرانس ټول جریان لیکلې او هم یې د داود خان برخورد او وړاندیزونه په روان ډول توضیح کړي دي نوموړي کتاب په ( ۴۲۵ ) مخونو کې چاپ شوي خو د چاپ ځاي او نېټه یې نه ده معلوم، فقط لیکل شوي چې بااهتمام محمد قوي کوشان.

## ۱۷ _ څلرویشت ساعته چې افغانستان یې واړواه :

پیاوړي ژورنالست او لیکوال ښاغلی ډاکتر داود جنبش نوموړي کتاب تدوین او ترتیب کړي او سریزه یې هم پري لیکلې چې په ( ۵۰ ) مخونو کې د افغانستان د کلتوري ودي ټولني لخوا خپور او د اسد دانش مطبعی لخوا په ۱۳۸۸ ل (۲۰۰۹ ز) کال کې چاپ شوي په دي کتاب کې د ۱۳۵۷ لمریز کال د ثور د ۷ می او ۸ می د نظامي پیښو جریان د دقیقو او ساعتو په حساب توضیح او لیکل شوي او د ثور د ۷می نېټی د سهارڅخه د ثور تر (۸) می نېټی یعنی داود خان تر شهادت پوري چې د داود خان ټول حرکات او کارونه تشریح شوي او هم د داود خان او د هغه د کورنی د مړو د میندلو جریان په مفصل ډول څیړل شوي . کتاب د حجم په لحاظ وړوکی خو د مطالبو په لحاظ ډیر غني ده . چې د لوستونکو له پاره ډیر په زړه پوري او مهمو مطالبو لرونکی دي . د کتاب په اخر کې د داود خان او د کورنی د غړو د مړو د ښنیدو د مراسمو انځورونه چاپ شوي . د کتاب لوستل د هر افغان اوتاریخ مینوالو له پاره ډیر اړین او مهم دي .

ما د موضوع د اوږوېدو څخه دمخنوي په خاطر د هغو ټولو کتابونو د یادونی څخه چې ما د دي اثر په لیکلو کې تر گټه اخستی ډډه وکړه . خو د دي ټولو کتابونو مطالعی څخه وروسته دي پایلې ته ورسیدم چې د داود خان د واکمنی او د هغه د سیاسي ستونزو په اړه چې نوموړي ور سره مخامخ و او د غه ستونزي څه د مخکی څخه موجود وي او ځینی یې ده د خپله مطلقه پالیسی په نیتجه کې پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي ، خو د ده د سیاسي ستونزو په اړه کوم ځانګړي کتاب نه ده لیکل شوي ، ما د توان تر بریده هڅه او هاند کړي چې په دي ځیړنیز اثرکې نوي ، تازه ، کره او باوري معلومات راټول او تحلیل کړم . تر څو لوستونکي تري ګټه واخلي زه په دي وتوانیدم چې داود خان ته دوه نږدي اشخاص یو لالا جان ځاځي حق شناس چې د جمهوري ګارد د دوهم کنډک د لومړي ټولې قوماندان او د ګلخاني د امنیت مسؤل و. دویم ډاکتر لالا جان شیرزي چې د ۱۳۵۲ ل کال څخه تر ۱۳۵۷ کال پوري د ګارد د روغتون سرطبیب و، پیدا کړم. ما د دوي د معلوماتو څخه د دي اثر په مختلفو برخو کې ګټه اخیستی ده. زه د ډیرو هڅو او کوښښ څخه وروسته وتوانیدم چې دغه ځیړنیزه اثر بشپړ کړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مواد او کړنلاره :

پر دې څېړنيز اثر مې د څېړنې او ليکنې د ټولو معيارونو په نظر کې نيولو سره کار پيل کړ . څرنګه چې موضوع د معاصر تاريخ يو ه سياسي موضوع ده لومړی مې خپل کاري پلان ترتيب بيا مې دمعتبرو او نويو ماخذونو د پيدا کولو لټه پيل کړه ، هڅه مې وکړه چې غوره ، نوي او دهغو اشخاصو ليکنې پيدا کړم چې له داودخان سره يې په اداره کې ګډ کار کړی او يا په هغه وخت کې د هغه مخالف سياسي اشخاص وو ، کوښښ مې وکړ چې داودخان ته نږدې اشخاص پيدا کړم او له هغوی څخه د منظم پوښتنليک پواسطه معلومات تر لاسه کړم تر څو ددې اثر په ليکلو کې ترې ګټه واخلم . په همدې ډول د څېړنې په بهيرکې مې د نورو څېړنيزواو علمي اثارو په څير له معتبرو منابعوڅخه ددې اثر په بشپړيدو کې استفاده کړې چې د اثر په ماخذ ونو کې ځای په ځای نښه شوي دي .

په ليکنه کې دسردار محمد داودخان له صدارت دورې څخه د ديموکراسۍ د لسيزې ، د هغه دګوښه ګيرۍ ژوند او دده پر پاليسۍ د هغې اغيزه، د محمد داودخان واک ته رسيدل او دهغه له خوادسياسي کړنلارې اعلان ، د هغه کورنۍ سياست ، په واک کې ځينو خلکو ته د ډېرې ونډې ورکول او دهغې منفي اغېز ، دګوندونو عکس العملونه، پر لغمان او پنجشير د اسلامي ګوند حملې ، د ۱۳۵۵ ل کال جرګه او د داودخان بيا دويم ځلي ټاکنه ، له امريکا او شوروي سره اړيکې ، دپښتونښتان مسئله او له پاکستان سره داړيکو خرابيدل ، له ناپېيلتوب غورزنګ سره اړيکې، له بهرنيو هيوادونو څخه د قرضې اخېستل ، اووه کلن پرمختيايي پلان او دسردار محمد داودخان شهادت او دجمهوريت ړنګېدل . دغه ياد شوي سرليکونه بيا پر کوچنيو عنوانونو ويشل شوي چې هر عنوان په بشپړ او مکمل ډول څېړل شوی دی . په اثر کې را ټول شوي مواد او معلومات، د مسلک خاوندانو ، دتاريخ د ځانګې محصلينو ، د تاريخ مينه والواو د داود خان علاقه مندانو ته له ګټې څخه خالي نه وي او دکومکي موادو په توګه به ورسره مرسته وکړي . په دغه څېړنيز اثر کې د داودخان سياسي ستونزې د شاه محمود خان ، محمد يوسف او نورو صدراعظمانو سره پرتله شوي دي ، هڅه شوې ده چې د اوسنيو پېښو اود داود خان د سياسي ستونزو تر مينځ اړيکې و ښودل شي . چې سياستوال د افغانستان جيو پولتيک موقعيت ته دقيقه پاملرنه وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دګاونډيو هېوادونو لاس وهنې په دقيقه توګه وڅاري او هم د نړيوالو لويو قدرتونو ګټو ته پام وکړي او په خپلو سياسي کړنلارو کې دې موضوع ته ژوره پاملرنه وکړي. چې زموږ هيواد بيا دخپل سياسي ثبات خاوند شي . ځکه په دې اثر کې د نړيوالو اود ګاونډيو هيوادنو دلاس وهنو او مداخلې اغيزې هم څېړل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سردار محمد داود خان د صدارت دوره او دهغه د کوښنه کېدو لاملونه



**۱۵ سنبله ۱۳۳۲ل – ۱۸ حوت ۱۳۴۱ ل کال**

**۲ سپتمبر ۱۹۵۳ ز – ۷ مارچ ۱۹۶۳ز کال**

د دويمې نړيوالې جګړې له پای ته رسيدو سره سم ، د افغانستان په بهرنۍ سياسي کړنلاره کې بدلون راغی ، چې لامل يې دهند له نيمې وچې څخه د انګليستانو ( ۱۹۴۷ز – (۱۳۲۶ ل کال کې ) ووتل او د هند نيمه وچه په دوو برخو (هند او پاکستان) وويشله شوه . د افغانستان په ګاونډ کې يو نوی هېواد ( پاکستان ) جوړ شو . له پاکستان سره افغانستان د پښتونستان د سرحد ايالت يا کوزي پښتونخوا د مسئلې پر سر اختلاف در لود ، بل پلو ته شوروي اتحاد د نړيوال فاتح ځواک په توګه په نړيوال او سيمه ايېز سياست کې د يو اغيزمن نفوذ په لټه کې و . نړۍ په دوو نظامي او سياسي بلاکونو ووېشل شوه ، دختيځ بلاک په سر کې شوروي اتحاد، د لويديځ بلاک په سر کې يې د امريکا متحده ايالات ولاړ وو. دواړو خواوي د نظامي او اقتصادي توان لرونکی وی له دې وېش سره جوخت ، د ناپليتوب غورځنګ ، هم منځ ته راغې ، خو دد ې غورځنګ غړيو هيوادو اقتصادي او نظامي توان د لويو قدرتونو په پرتله ډېر کم و. چې ناپليو هيوادونه يا غير منسلک نهضت کې عمدتاً پرمختيايي هيوادونه شامل وو چې نه دسيو سيالستي نظام لرونکی وه او نه هم پانګوال پرمخ تللي صنعتی هيوادونه شميرل کيدل . چې افغانستان هم ددغه نهضت غړي او حتی د بنسټ ايښودونکو له جملې څخه ګڼل کيده چې داودخان ددې نهضت په ايجاد او وړتيا کې ځانګړې رول درلود ، د افغانستان له سياستوالو او روڼ اندو سره دا پوښتنه پيدا شوه، چې افغانستان له ډېر وخته راپه دې خوا د دوو نړيوالو قدرتونو تر منځ يو خپلواک ناپېيلی هيواد دی ،خو ددې نويو شرايطو په رامنځته کيدو سره دهېواد په سياسيی کړنلاره کې نوي والي اوبدلون ته اړتيا وه . ترڅو د شوروي اتحاد او امريکا تر مينځ انډول وساتل شي، ځکه امريکا ښايي دافغانستان په سياسي ژوند کې د انګليستان دنده او رول سر ته ورسوي او هغه تشه چې له هند څخه د انګليسانو په وتلو سره منځته راغلې ده ،ډکه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دویمې نړیوالې جګړې پای ته رسیدو سره په کابل کې دحکومت واک د سردار محمد هاشم خان په لاس کې و، نوموړی په (۱۹۴۲ ز ۱۳۲۵ل) کال استعفا وکړه . بیا هم ده د خپل ورور شاه محمود خان د صدارت په وخت [ ۱۹۴۲-۱۹۵۳ز (۱۳۲۵ل –۱۳۳۲ل)] کې هم قوي لاس درلود . نوموړي د شاه محمود تر استعفا یوه میاشت مخکې مړ شو. خود سردار محمد داود خان د صدارت په وخت ( ۱۵ /۶/ ۱۳۳۲_ ۱۳۴۱/۱۲/۱۸ل) کې د افغانستان د حکومت په سیاسي کړنلاره کې ژور بدلون راغی . (۳) م:۳۸۹

د (۱۹۴۹ ز) کال تر پارلماني ټاکنو وروسته هم نا دولتي ازادو ورځپاڼو د دولت په کړنلاره نیوکې کولې ، د عدالت ، دیموکراسۍ او د بیان د ازادۍ غوښتنه یې کوله . د پاچا کورنۍ تر دوو کالو زغم وروسته دنا دولتي ورځپاڼو په خپرونو بندیز ولګاوه او د محصلینو د اتحادیې فعالیت یې بند کړ . اصلاح غوښتونکی مخالفین بندیان کړل. دې کار په کابل کې د روڼ اندو ناخوښي نوره هم یې زیاته کړه ( ۱۲)م ۴۹

د سردار شاه محمود خان اود هغه د وخت دملي دفاع وزیر سردار محمد داود خان تر منځ هم د پښتونستان د مسئلې پر سر اړیکې خرابې شوې. د سردار محمد داود خان غوښتنه دا وه، چې د افغانستان دولت باید د پښتونستان د موضوع په اړوند غوځه کړنلاره غوره کړي. خو شاه محمود خان دې موضوع ته ارزښت نه ورکاوه. او پر حکومت د نوموړي نیوکې زیاتې شوې . د پاچا په کورنۍ کې دا وېره پیدا شوه ، چې سردار محمد داود خان د شاه محمود خان پر ضد وسلوال پاخون ونه کړي، ځکه نوموړي د دفاع پر وزارت سر بېره د مرکزي قول اردو قوماندان هم و. د پاچا کورنۍ شورا⊗ پریکړه وکړه ، چې د صدارت یوه دوره د سردار محمد داود خان ته چې د ښو احساساتو خاوند او له روڼ اندو سره یو څه اړیکې لري وسپارل شي ، که څه هم شاه محمود خان په دې پرېکړه خوښ نه و، خو د پاچا د کورنۍ شورا پرېکړه وه او هیچا سر غړونه ترې نه شوه کولې .

---

⊗ د پاچا کورنۍ شورا کې د پاچا ترونه، کاکا زامن او د کورنۍ مهم غړي شامل وو. دوي د دولت او حکومت د مهمو چارو په اړه پریکړې کولې. پاچا مجبور و چې د شورا پریکړې عملي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاچا کورنۍ شورا شاه محمود خان د ناروغۍ له امله له دندې ګوښه کړ، سردار محمد داود خان ته یې د صدارت دنده وسپارله ، چې خپله کابینه جوړه کړي. سردار محمد داود خان د پاچا له حکم سره سم د **۱۹۵۳** ز کال د سپتمبر په شپږمه او **۱۳۳۲** ل کال د وږي په پنځلسمه نېټه کابینه جوړه او د سپتمبر په شلمه یې خپله کړنلاره اعلان کړه (۱۲) م ۵۰

د سردار محمد داود خان د ټاکنې لا مل دا و، چې د شاهي کورنۍ شورا باید ټولې شاهي کورنۍ ته د محمد عزیز خان د زامنو په ګډون ونډه ورکړي، دا چې محمد داود د کابل ښار له روڼ اندو سره اړیکې درلودې او هم د عسکري کرکتر خاوند و ،او هم یې د پښتونستان له موضوع سره ډېره مینه درلوده، دې ملي موضوع په هغه وخت کې ډېر پلویان درلودل، دوې غوښتل، چې دده په وجود کې هغه کرکه او نفرت چې د دوي په مقابل کې پیدا شوي دي له خلکو څخه هیر او د هغوي غوښتنې یو څه پوره کړي ، که څه هم محمد داود ټول عمر په پوځ کې تیر کړی و، خو هغو ی پوهېدل، چې له ده سره په خواکې د ده تجربه لرونکی ورور ( سردار محمد نعیم) به هرو مرو له ده سره مرسته کوي. د دوی دا وړاندوینه تر ډېره حده، ربښتیا شوه. داود خان به ډېری ستونزې د محمد نعیم په مرسته اوارولې. همدا علت و، چې تر پایه پورې هغه د بهرنیو چارو د وزیرر په توګه کار وکړ.

سردار محمد داود خپله کابینه په لاندې ترکیب اعلان کړه

| | | |
|---|---|---|
| صدر اعظم | محمد داود خان | ۱۹۵۳ ز—۱۹۶۳ ز کال پورې |
| د صدر اعظم لومړی مرستیال | علی محمد خان بدخشي | ۱۹۵۳—۱۹۶۳ ز کال پورې |
| دوهم مرستیال | سردار محمد نعیم | ۱۹۵۳ز—۱۹۶۳ ز کال پورې |
| د بهرنیو چارو وزیر | سردار محمد نعیم | ۱۹۵۳ز—۱۹۶۳ کال پورې |
| د ملي دفاع وزیر | جنرال محمد عارف | ۱۹۵۳ز—۱۹۵۴ز کال پورې |
| | سردار محمد داود | ۱۹۵۴ز—۱۹۶۳ز کال پورې |
| کورنیو چارو وزیر | محمد داود | ۱۹۵۳ز—۱۹۵۵ز کال پورې |
| | عبدالحکیم شاه عالمي | ۱۹۵۵ز—۱۹۵۸ز کال پورې |
| | سید عبد الله خان | ۱۹۵۸ز—۱۹۶۳ز کال پورې |
| د مالیې وزیر | عبدالملک عبدالرحیمزی | ۱۹۵۳ز—۱۹۵۷ ز کال پورې |
| | عبد الله ملکیار | ۱۹۵۷ز—۱۹۶۳ز کال پورې |
| د عدلیې وزیر | نه و | |
| د سوداګرۍ وزیر | عبد الروف حیدر | ۱۹۵۳ز—۱۹۵۴ز کال پورې |
| | عبدالمالک عبدالر حیمزی | ۱۹۵۷ز—۱۹۵۷ز کال پورې |

| | | |
|---|---|---|
| | عبد الله ملکیار | ۱۹۵۷ز—۱۹۵۸ز کال پورې |
| | غلام محمد شیرزاد | ۱۹۵۸ز—۱۹۶۳ز کال پورې |
| د پوهنې وزیر | ډاکتر عبدالمجید خان | ۱۹۵۳ز—۱۹۵۵ز کال پورې |
| | ډاکتر علی احمد پوپل | ۱۹۵۵ز—۱۹۶۳ز کال پورې |
| د فواید عامې وزیر | عبدالحکیم شاه عالمي | ۱۹۵۳ز—۱۹۵۵ز کال پورې |
| | محمد کبیر خان | ۱۹۵۵ز—۱۹۶۳ز کال پورې |
| د روغتیا وزیر | ډاکتر غلام فاروق خان | ۱۹۵۳ز—۱۹۵۵ ز کال پورې |
| | ډاکتر عبدالظاهر خان | ۱۹۵۵ز—۱۹۵۸ز کال پورې |
| د مخابراتو وزیر | عبدالحکیم شاه عالمي | ۱۹۵۳ز—۱۹۵۴ز کال پورې |
| | محمد مرید خان | ۱۹۵۴ز—۱۹۶۳ ز کال پورې |
| د کانو وزیر | ډاکتر محمد یوسف | ۱۹۵۳ز—۱۹۶۳ز کال پورې |
| د کرنې وزیر | میر محمد یوسف خان | ۱۹۵۳ز—۱۹۵۸ز کال پورې |
| | غلام حیدر خان عدالت | ۱۹۵۸ز—۱۹۶۳ز کال پورې |
| د مطبوعاتو مستقل رئیس | صلاح الدین سلجوقي | ۱۹۵۳ز—۱۹۵۵ ز کال پورې |
| | محمد هاشم میوندوال * | ۱۹۵۵ز—۱۹۵۶ ز کال پورې |
| | سید قاسم رښتیا | ۱۹۵۸ز—۱۹۶۰ ز کال پورې |
| | محمد اصف سهیل | ۱۹۵۷ز—۱۹۶۳ ز کال پورې |
| *د پلان وزیر | سردار محمد داود | ۱۹۵۷ز—۱۹۶۳ ز کال پورې |
| د قبایلو مستقل رئیس | سید شمس الدین مجروح | ۱۹۵۷ز—۱۹۶۳ ز کال پورې (۴۰) م م ۵۹ او ۶۰ |

په دولت کې یو شمېر نور ارګانونه موجودد وو چې وزیرانو په مجلس کې شامل نه وو چې عبارت دي له :

| | | |
|---|---|---|
| د دربار وزیر | احمد علی سلیمان | ۱۹۵۳ز—۱۹۶۳ ز کال پورې |
| سر منشي | حافظ نور محمد کهګدای | ۱۹۵۳—۱۹۶۳ ز کال پورې |
| د ملي شورا رئیس | عبدالرشید خان | ۱۹۵۲ز—۱۹۵۵ ز کال پورې |
| | محمد نوروز خان | ۱۹۵۵ز—۱۹۶۱ کال پورې |
| | ډاکتر عبدالظاهر | ۱۹۶۱ز—۱۹۶۴ز کال پورې |
| د مشرانو د جرګې رئیس | فضل احمد مجددي | (۱۲) م م ۱۰۵ او ۱۰۶ |

د سردار محمد داود خان کابینې ته که څېر شو دده کابینه ښه او مسلکي وه ، زیاتو وزیرانو یې له سلطنتي کورنۍ سره اړیکې نه درلودې . خو یو ټکي ته پام په

* ښاغلی محمد هاشم میوند وال په هرات کې د ورځپاڼی مسول و تخلص یې پردیس و کله چې په کابل کې د انیس ورځپاڼې مسول شو خپل تحلص یې د پردیس څخه په میوند وال پاندي بدل کړ.

* د پلان د وزارت ټول کارونه د پلان د وزارت معین عبدالحی عزیز سرته رسول



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار دی هغه دا چې د کابینې زیات واک ده سره و. ځکه له صدر اعظمۍ سر بېره یې دملي دفاع ، کورنیو چارو او د پلان وزارتونو دندې هم تر سره کولې له بله پلوه ټولو وزیرانو دده له هیلې سره سم کار کوه او دده هیلو ته یې درناوی درلود ، خو دوو وزیرانو (عبدالملک عبدالرحیمزي او سردار محمد نعیم) په کار او خیال کې ځانونه خپلواک او خپل چاری ګڼل او آزادي ساتله ، خو د عبدالرحیمزي د وزارت د دندې موده ډېره لږه وه ، سردار محمد نعیم دهغه ورور و ،پرده یې ډیره اغیزه درلوده ځکه یې دهغه مخه یې نه شوه نیولې ، کله چې به محمد داود خان میز پر سوک ووا هه نو وزیران پوهېدل ، چې نور بحث پکار نه دي ، دده خبره او نظر به ومنل شو.

## کورنی سیاست:

د ۱۳۰۸ لمریز کال وروسته د نورو حکومتونو په پرتله د سردار محمد داود خان حکومت یو انقلابي حکومت ګڼل کېده ، چې د ډېرو بدلونونو تمه تري کېده ، په روڼ اندو کې داسې هیلې پیدا شوې وې، چې افغانستان کې به د امان الله خان د دورې سیاسي ، ټولنیزه او اقتصادي اصلاحات پیل او عملي شي ،کومو ټکو چې روڼ اندي یې هیله من کړي ووهغه د سردار محمد داود خان په کابینه کې د لوړ تحصیل لرونکو او کار پوهو وزیرانو شتون وو. لکه ډاکتر محمد یوسف ډاکتر علی احمد پوپل ، ډاکتر عبدالمجید ، عبدالله ملکیار او نور .... له بله پلوه سردار محمد داود له دې مخکې هم د چارو په تر سره کیدوکې جدي و ، تل یې هڅه کوله چې کارونه منظم او ژر ترسره شي، دده یواځېنۍ هیله داوه چې افغانستان دده تر لار ښوونې لاندې ډېر ژر پرمختګ وکړي ، نوموړي بستېیزه ازادي ، د اقتصادي پرمختګ په لار کې خنډ ګڼله.

د سردار محمد داود خان په کورني سیاست کې ځوانانو ته په حکومت کې د جذب لپاره د لومړیتوب حق ورکړل شو. هغه چاچې لوړ ې زده کړې درلودې، هغوی ته یې ډېره پاملرنه کوله ، نوموړي دحقوقو پوهنځي د محصلینو غونډې ته په خپله وینا کې ځوانان د خپلو پرمختللو پلانونو ملا تړ ته راوبلل ، د هغوي د باور د لاسته راوړلو په غرض یې د حقوقو د پوهنځي فارغان د کابل ښار د ناحیو د مدیرانو او ولایتونو کې د ولسوالانو په توګه مقرر کړل ، په دې ترتیب ټولو وزارتونو په جذب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ځوانانو ته د لومړیتوب حق ورکړاو هم یې په ۱۳۳۲لمریز کال کې پنځوسو تنو فارغانو ته یوه یوه نمره ځمکه توزیع او د جوړولو لپاره یې د تعمیراتي بانک لخوا دوي ته پور هم ورکړ. (۲۰)مم ۲۰۲ او۲۰۷)

نوموړي لومړی ځل د سوداګرۍ د خونو د ریاست په غونډه کې د کورنۍ اقتصاد د پرمختګ لپاره رهبري شوي اقتصاد او د پرانستو دروازو سیاست اعلان کړ ، مګر په سوداګریز او ملي اقتصاد کې یې د ازاد او کنترول شوي انډولیزه اقتصادي حالت توصیه کړ .کوچني پانګوال او ځمکوال یې هڅول ،مګر مقتدر او زور مند ملکان او فیوډالان یې نه خوښول. محمد داود خان په ختمه پښتون و . خو هر ډول سمتي ، ژبني او مذهبي اختلافات یې بد ګڼل ، حتی په خپله یې تل په دري ژبه وینا او خبرې کولې ، په پښتو ژبه یې ډېرې لږې خبرې او لیکنه کوله.

سردار محمد داود خان غوښتل چې په پوځي برخه کې ژور بدلون راولي او په نو یو وسلو یې سنبال کړي ، په خپله یې د پوځ د کمیت او کیفیت د لوړوالي څارنه کوله ، ښځو ته یې په ټولنیز ژوند کې د پوره ونډې ورکول غوښتل چې په دولت کې دنده تر سره کړي. د ښځې مخ لوڅول د لومړي ځل لپاره دده د صدارت په وخت کې عملي شول، ځکه نوموړي له خپلې میرمنې سره د جشن په مراسمو کې په همدې بڼه (په لوڅ مخ) ګډون وکړ.

## بهرني سیاسي کړنلاره

د صدراعظمۍ پر څوکۍ د سردار محمد داود خان د ټاکنې پر وخت (۱۳۳۲ل (۱۹۵۳ ز)) کال د نړۍ دهیوادونو په سیاسي ژوند او بهرني سیاست کې ژور بدلونونه منځ ته راغلي وو ځکه د دویمې نړیوالې جګړې په پایله کې د ډېرو هیوادونو په سیاسي نقشه او سیاسي رژیمونو کې بدلون راغې ، د افغانستان نوي صدر اعظم غوښتل د ناپیلتوب د سیاسي کړنلارې سره افغانستان په سیاسي او اقتصادي لحاظ ډېر ژر پرمختګ وکړي.د ګوښه ګیرۍ د سیاست څخه یې راوباسي او د نړۍ د ډېرو پر مختللو هیوادونو په قطار کې یې ودروي . خو د پاکستان جوړیدو نوموړی په خپله موخه کې د ستونزو سره مخامخ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دويمې نړيوالې جګړې وروسته نوی نړيوال ځواکونه منځ ته راغلل ځکه المان او جاپان په دوهمه نړيواله جګړه ( ۱۹۳۹ز- ۱۹۴۵ز کال) کې ماتې وخوړه ، د نړۍ دوه لوی نيواکګر هيوادونه (انګليستان او فرانسې) په دې جګړه کې ډېر تاوان وکړ ، خپلې مستعمرې يې له لاسه ورکړې ، ددوي ځای دوو نورو نړيوالو ځواکونو (شوروي اتحاد او امريکا متحده ايالات) ونيو.

د امريکا متحده ايالات عملاً دجګړې له ډګر څخه لېرې و ، ډېر تاوان يې ونه ليد خو د لويديځې اروپا د هيواد ونو په ازادولو کې يې پوره ونډه واخسته او د هغوي کلک ملاتړ يې وکړ ، په يوروشيما او ناګاساکي کې د اتوم بم له استعمال وروسته جاپان د جګړې څخه لاس واخست چې تر فلبپين پورې ټولې ځمکې يې له لاسه ورکړې ، شوروي اتحاد هم پرختيځه اروپا او نيمه کوريا باندې واکمن د امريکا متحد ايالات او شوروي اتحاد د دوهمې نړيوالې جګړې په اوږدوکې سره ملګرې وو. خو له جګړې وروسته په نړيوالو مسئايلو کې خصوصاً د نفوذ په پراختيا غوښتنې او هيوادونو باندې د تسلط په برخه کې دوي سره دښمن شول. خو کله چې د ۱۹۴۲ز کال د مارچ په پنځمه نېټه د انګليستان صدراعظم (چرچل *Wistan Charchil*) د امريکا په يو کالج کې وينا وکړه داويناد اوسپنيزې پردې د وينا په نوم شهرت لري ټول غربي بلاک په تېره بيا يې امريکا د کمونيزم خطر ته متوجه کړه چې له همدې نېټې وروسته د دواړو بلاکونو تر منځ سړه جګړه پيل شوه (۴۰) م م : ۵۲او ۵۳.

د امريکا متحده ايالات ددې لپاره چې د شوروي اتحاد د نفوذ د پراختيا مخه يې نيولې وي لومړی يې د لويديځې اروپا د بيا ودانولو لپاره يو لوي پلان په ( ۱۹۴۷ ز -۱۹۵۲زکال کې ) جوړ کړ چې د مارشال پلان په نوم هم ياد شوي، بل پلو ته يې د شوروي اتحاد پر شا وخوا د سينتو CENTO ، سياتو SEAT او ناتو NATO پوځی اتحاديې جوړې کړې ، چې د دغو اتحاديو غړو هيوادونو په وسيله د غربي اروپا ، منځنۍ آسيا او د اسيا جنوب ختيځې سيمې د يو ځنځير په څير سره تړل شوی وې ، پاکستان او ترکيه ددې ځنځير د يو ځای کيدو مهمې کړۍ وي او شوروي اتحاد دناتو په مقابل کې دختيځی اروپا دهيوادونو په ګډون د وارسا نظامي اتحاديه جوړه کړه (۴۰)م م ۵۳ _ ۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اسيا او افريقا کې يو شمېر هيوادونو د اروپايي استعمار څخه ازادي واخسته په دې هيوادو کې تکړه سياسي او ملي مشران لکه په مصر کې جمال عبدالناصر ، په اندونيزيا کې عبدالرحيم سوکارنو او دهند صدر اعظم جواهر لال نهرو په ويتنام کی هوچمن وو ، دوی دازادی د اخستلو وروسته د اقتصادي پرمختګ او ملي حاکميت دخوندي ساتلو لپاره يوه پريکړه وکړه ، چې د ختيځ او لويديځ په نظامي اتحاديو کې به نه شامليږي ، د خپلو هيوادونو لپاره يې د ناپيېيليتوب د غورځنګ لاره غوره کړه ، د دوي هيله داوه چې نوي ازاد شوي هيوادونه يو دبل سره نږدې شي او د دريم ځواک په توګه د ازاد قضاوت توان ولري او په نړيوالو مسايلو کې فعاله ونډه واخلي ، ددې غورځنګ لومړی غونډه په ( ۱۹۵۵ز ) کال په باندونګ کې جوړه شوه.(۴۰) م ۵۵

شوروي اتحاد هم دستالين له مړينې وروسته ددې غورځنګ دغړو هيوادونو سره مرسته کوله ، خو لويديځو هيوادونو هغه هيوادونه دځان دښمنان ګڼل چې د دوي په نظامي اتحاديه کې به نه شامليدل . دهند په نيمه وچه کې پاکستان د دولت جوړيدو د افغانستان لپاره ډېرې ستونزې پيدا کړې ځکه امريکا د انګليستان ځای ونيو ، افغانستان د دوو لويو قدرتونو په منځ کې وو ډيره ګرانه وه چې افغانستان يوې خوا ته ولاړ شي او د بل په مقابل کې ودريږي ، افغانستان هم د ناپيېيليتوب د غورځنګ غړی شو او په ۱۹۵۵ ز کال کې يې د باندونک په کنفرانس کې ګډون وکړ . سردار محمد داود خان د ناپيېيليتوب غورځنګ ته وفادار و ، کوښښ يې کاوه چې د دواړو نړيوالو ځواکونو تر منځ انډول وساتي او د دوي د مرستو څخه دخپل هيواد په ابادی کې ګټه واخلي ، خو امريکا ددې غورځنګ سره دښمني درلوده ، د امريکا د بهرنيو چارو وزير په ۱۹۵۶ ز کال د جون په ۹ نېټه په يوګوسلاويا کې وويل : ((هر هغه هيواد چې د امريکامتحده ايالات ملګری نه وي هغه هيواد د امريکا دښمن دی )) دده په خوله تر هغه وخته چې افغانستان د سينتو د اتحاديي غړی نه شي د امريکا متحده ايالات افغانستان دخپلو ملګرو په لست کې نه شاملوي .(۴۰) م ۵۶

د سردار محمد داود خان په مشري د افغانستان دولت د ناپيېيليتوب له غورځنګ سره ودريده نو ځکه د امريکامتحده ايالات د مرستو څخه بې برخې شو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په بهرني سیاسي کړنلاره کې تر اخره پورې ناپېیلې او ددې غورځنګ د اصولو رښتینی پلوي و

## اقصادي کړنلاره :

## (د پنځه کلن پرمختیایي پلان طرحه او عملی کول)

د سردار محمد داود خان د صدارت پر مهال (۱۹۵۳ ز کال) افغانستان له اقتصادي پلوه ډېر وروسته پاتې و ، نوموړي په ۱۹۵۴ ز ۱۳۳۳ل کال خپله اقتصادي کړنلاره داسې اعلان کړه: د پولې توازم له منځه وړل، د پانګې او اسعارو ساتنه او پراختیا ، رهبري شوي اقتصاد ، د بهرني پانګی جلبول، د ګډو ونډو ( سهامي) شرکتونو جوړول، د خصوصي سکتور پیا وړتیا چې دولت تر لار ښوونې لاندې د پانګوالې ډوله اقتصاد وده . د همدې کړنلارې سره سم چې په ۱۹۵۴ ز کال د کرنې پراختیا بانک او پښتنې تجارتي بانک جوړ کړ ، همدارنګه رهنی تعمیراتي بانکونه هم جوړ کړل . نوموړی بانک به سهامي شرکتونو ته پورونه ورکول. ۲۰ م: ۳۰۹

د دغو بانکونو په سلو کې ۵۱٪ سلنه پانګه د افغانستان بانک او پاتې پانګه یې پانګوالو شرکتونو پورې اړه درلوده ، په ۱۳۳۳لمریز (۱۹۵۴ ز)کال د بهرنی پانګې د جلبولو قانون جوړ شو ، د همدې کال په پای کې د اریانا هوایي شرکت ، زیمنس شرکت جوړ او د کندوز دچینې جوړولو فابریکه د جاپان په مرسته جوړه شوه . د دې قانون سره سم په ټولو سهامي شرکتونو او فابریکو کې باید ۵۱٪ سلنه پانګه د داخلي موسساتوپه واک کې وي (۲۰)م ۳۱۰

په ۱۳۳۳ لمریز (۱۹۵۴ ز ) کال کې د خوراکي موادو کمښت له کبله امریکا متحده ایالات سره د خوراکي موادو اخېستلو تړون لاس لیک شو او د امریکا متحده ایالات د صادراتو او وارداتو بانک ۸،۵ میلونه ډالره د هلمند د پروژې لپاره افغانستان ته ورکړل ، خو سردار محمد داودخان دځینو لا ملونو له مخی شوروي اتحاد سره اړیکې ټینګې کړی او په ۱۳۳۳ لمریز(۱۹۵۴ز ) کال کې د شوروي اتحاد سره د همکاري یو تړون لاس لیک کړ. د شوروي اتحاد په مرسته مرکزي سیلو او د کابل د قیر د فابریکی د جوړولواو نورو یو شمیر لویو او وړو پروژو کار پېل او سرته ورسید، سردار محمد داود خان ددې لپاره چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان اقتصاد په منظم ډول پرمختګ وکړي په ۱۹۵۴ ز کال د اقتصادي پلان د ترتیبولو په لپاره یو کمیټه وټاکله.

د ده لومړی اقتصادي پلان په ۱۹۵۲ز—۱۹۶۰ز (۱۳۳۵—۱۳۴۰ لمریز کال) کې تطبیق شو، چې موخه یې د کرنې، اوبو لګولو او مخابراتي سیستم سمون او پراختیا وه. ددې پلان عمومي پانګه ۲،۱۰ میلیارده افغانۍ وړاندو ینه شوي وه، چې زیاته تکیه چې په بهرنیو مرستو او د خصوصي سکتور په فعالې ونډې باندې وه، خصوصي سکتور پکې ښه او غوره ونډه وانه خسته، ځکه دولت ددې وسه نه درلوده چې دا پانګه پوره کړي او د خصوصي سکتور د ونډې نه اخستلو لپاره لاندې لاملونه موجود وو.

- د مالونو د واردولو لپاره د اسعارو د بیې لوړوالی.
- پر پانګوالو باندې د دولت ډېر تاکید چې پرمختیایي پروژو کې ونډه واخلي.
- د بهرنیو صنعتي مالونو په مقابل کې مقاومت.
- بې ځایه بیرو کراسي.
- د پانګوالو نه باور چې دولت به تل د دوي څخه د بهرنیو هیوادونو د مالونو په مقابل کې ملا تړ وکړي.
- د ګاونډیو هیوادونو د مالونو په مقابل کې د سیالی د توان نه لرل.
- د ځمکې نا منظم مالکیت په دې مانا چې د ځینو ځمکوالو په لاس کې د ځمکې ډېر برخه وه چې بې حاصله پاتې کیده (۲۰) م ۳۱۱.

یو اقتصاد پوه روح الله حبیب چې په ولسي جرګه کې وکیل هم و ددې پلان په اړه داسې لیکلي: ((په لومړي او دوهم پلان کې زمونږ دهیواد د لارو په جوړولو او مخابراتي اسانتیاو باندې ډېر تاکید شوي و. دې ډول پروژو په خپل ذات کې تولید منځ ته را نه وړ، او هم یې کارګران په دایمې ډول په کار نه ګمارل، مونږ هوایي ډګرونه جوړ کړل پرته له دې چې مالي منابع، اقتصادي مشروعیت او خپل اړتیاوي په نظر کې ونیسو، ډېرې پیسې په ودانیو ولګیدی چې هیڅ تولید یې نه درلود، د پیسو زیاته برخه په اداري سیستم ونه لګیدلی، د بی ضرورته او لوکسو سامان الا تو د واردولو په مخنیوي کې هیڅ اقدام ونشو، که چېرې ددې پرځای ز

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ زيات پام صنعتي او کرنيزو پروژو ته کړې وای پايله به يې مثبته وه، ځکه د غو پروژو هم توليد درلود او هم يې کارګران په دايمي ډول په دنده ګومارل .... ) ۲۰ م ۳۱۲

پورتني لا ملونه د لومړي پلان په تطبيق او پايلو کې څۀ نا څه اغېزه درلوده، خو بيا هم کوم آساسات چې په هغه وخت کې ايښودل شوي وو، تر اوسه زمونږ هيوادوال ترې ګټه اخلي.

دويم اقتصادي پلان په ( ۱۹۲۲—۱۹۲۷ ز (۱۳۴۱—۱۳۴۵المريز کال )) کې جوړ شو ، هغه پروژې چې په لومړي پلان کې پېل شوي وي په دويم پلان کې بشپړې شوې ، ددې پلان ٪۷۵ پانګه په بهرنيو اقتصادي او تخنيکي مرستو باندې ولاړه وه ، خو امريکامتحده ايالات د پلان په اوږدوکې د مرستوڅخه ډډه وکړه . نو ځکه دا پلان په بشپړ ډول تطبيق نه شو او لږ ه موده وروسته سرادر محمد داود خان استعفا وکړه.

ددې پلانونو اقتصادي اغېزې ډېرې ښې وې ، خو ددې پلانونو په ښه تطبيق کې سياسي ستونزې ډېرې مهمې وې . ځکه د پاکستان او افغانستان اړيکې خرابې شوې.او امريکا نه غوښتل چې پاکستان خفه کړي، بل په نظامي تړونونو کې د افغانستان نه ګډون هم امريکايان خفه کړل ، په داخل کې داود خان استعفااو د نورو صدراعظمانو منځ ته راتګ سياسي وضع بې ثباته کړه ، په دې توګه اقتصادي فعاليتونه ورو او په کراره عملي کيدل ، خو بيا هم د سردار محمد داود خان د صدارت څخه مخکې په ټول افغانستان کې (۱۱) کيلومتره سرک قير شوی و ، خو دده د استعفا پر مهال د غه اندازه (۲۰۰۰ دوه زره) کيلو مترو ته ورسيده.

## پوځي چارې:

د دويمې نړيوالې جګړې له پای ته رسيدو وروسته نړۍ کې ژور سياسي او نظامي بدلونونه منځ ته راغلل. لويو قدرتونو نړۍ په خپل منځ کې وويشله ، ډېر هيوادونه يوې خوا ته په نظامي تړون کې شامل شول. ناپېيلي هيوادونه هم د ځان د ساتنې او د مرستو پيدا کولو لپاره کرار ، کرار يوې او بلې خواته ميلان پيدا کړ. افغانستان چې د ناپېيليو هيوادونو د غورځنګ فعال غړی و ، زمونږ دولتې چارواکو کوښښ کاوه چې د لويو قدرتونو تر منځ انډول وساتي او د کوم نظامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواک پوره ونه ترل شي . همدا لا امل و چې تر ډېره وخته يې بهرنی نړی څخه مرستې تر لاسه نه کړی.

په ۱۹۴۶ ز کال د مئ په ۹ مه نېټه د سردار محمد هاشم خان د استعفا وروسته د هغه پر ځای سردار شاه محمود خان د صدر اعظم په توګه وټاکل شو ،او يو کال وروسته په ۱۹۴۷ ز کال په ختيځو ولايتونو کې د دولت ضد شورش پيل شو. د افغانستان فوځ د دغه شورش د ارامولو توان نه درلود. نو يې د قومونو څخه د شورش په غلي کولو کې ګټه واخسته، په ۱۹۴۸ز کال د ملي اقتصاد وزير عبدالمجيد زابلي د ۱۱۸ ميلونه ډالرو پور اخستلو لپاره امريکا ته سفر وکړ ، نوموړي امريکايانو ته د وسلو تر لاسه کولو لپاره ډير دلايل وړاندی کړل مګر امريکا يې هيئت د هغه دلايل ونه منل.ځکه دهغوی ډېره پاملرنه هند ، پاکستان ، ايران او اسرائيلو ته اړولی وه ،او استدلال يې کاوه چې افغانستان يو کوچنی هيواد دی که شوروي په دې هيواد کې نفوذ هم پيدا کړي بيا هم آسيا ته خطر نشي پيدا کولې (۱۲).م۱۲۴

امريکامتحده ايالا تو دغه دريځ يوه لويه تېروتنه وه چې نن يې دواړه هيوادونه د هغې تېروتنې ثمره په خپلو سترګووينې ، خو امريکا د پاکستان خپګان له امله دا کار نه کاوه ځکه (پاکستان) يې د نظامي پيمان غړی او په سيمه کې د دوي د ګټو ساتونکی و.

امريکا افغانستان ته د وسلو ورکول په لاندې څلور شرطونو پورې وتړل:

۱ـ د وسلو د بيې ور کول.

۲ـ نوموړی وسله به د پاکستان له لارې افغانستان ته وړل کېږي.

۳ـ له امريکا سره به افغانستان تل ښې او دوستانه اړيکې ساتي .

۴ـ تر ټولو مهم شرط دا و چې افغانستان به د پښتونستان له دعوې څخه تېريږي، چې ځينې شرطونه د افغانستان لپاره د منلو وړ نه و .خو بيا هم د افغانستان دولت د ۱۹۵۱ ز کال د اګست په ۱۳مه نېټه د اړتيا وړ وسلو لست ديوې رسمي ليک سره سم دامريکامتحد ايالاتو ته واستو، خو امريکامتحده ايالات د ۱۹۵۱ ز کال د نوامبر په ۲۷ مه نېټه ددې ليک په ځواب کې هغه پخوانی شرطونه تازه او ټينګار يې پرې کړې و. د سردار محمد داود خان دصدارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وخت (۱۹۵۴د ډسمبر په ۲۸مه نېټه) د امریکامتحده ایالاتو څخه د وسلو غوښتنه وکړه ، خو د امریکامتحده ایلاتو لخوا دا غوښتنه ونه منل شو.(۱.م ۱۲۲)

سردار محمد داود خان د پوځ د نوی او مجهز کولو لپاره تصمیم نیولې و . د امریکا څخه د منفي ځواب تر لاسه کولو وروسته د ناچارۍ نه یې شوروي اتحاد ته مخه کړه، د شوروي اتحاد سره یې په ۱۹۵۶ ز کال د اګست په میاشت کې د ۲۵ میلونو ډالرو په ارزښت نظامې تړون لاس لیک کړ، چې د همدې تړون په اساس شوروي اتحاد له ۱۹۵۷او ۱۹۵۸ ز کلونو کې د ۲۵ میلونو ډالرو په ارزښت ډول ډول وسلې افغانستان ته راولېږلې او د پوځي افسرانو د تربیې لپاره تیاری وښوده تر څو افغاني افسران د نوو وسلو د استعمال سره بلدیت پیدا کړي . د نوو وسلو وار دولو سره د پوځ په ټولو بر خو کې بدلون راغې ، ځوان افسران شوروي اتحاد ته د نظامي زده کړو لپاره ولیږل شول، هوایي نظامي ډګرونه جوړ شول ، ځکه چې سردار محمد داود خان غوښتل د افغانستان پوځ د ګاونډیو هیوادونو د پوځونو څخه ځوځله غښتلي او قوي وي ، ځانګړي پوځي تشکیلات او اداري یې جوړې او عسکري نظام له پخواڅخه ډېر ښه شو ، د موضوع د اوږدیدو په سبب د دغو تشکیلاتو له یادولو څخه ډډه کوم.

## ښوونه او روزنه :

په افغانستان کې د ښوونې او روزنې بنسټ په رسمي توګه د امیر شیرعلي خان د دوهم ځل واکمنۍ پر مهال ایښودل شوی دی ، د امیر عبدالرحمن خان دوره د امنیت په ټینګولو کې تېره شوه، د حبیب الله خان او امان الله دواکمنیو پر مهال معارف ته پاملرنه وشوه، د حبیب الله کلکاني خادم دین رسو الله د پاچاهۍ په وخت کې په رسمي ډول ټول ښوونځي وتړل شول،او د محمد نادر شاه او اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د واکمنیو په وخت کې په ټولو برخو کې کارونه پیل شول چې په هغه جمله کې، ښوونې او روزنې ته یې د لومړیتوب حق ورکړ.

د سردار محمد داود خان دصدارت په دوره کې د زده کوونکو او ښوونځیو په کمیت او کیفیت کې د پام وړ بدلون راغې ، دده له صدرات څخه د مخه د زده کونکو ټول شمېر ۱۲۲۰۹۲ تنو او د ښوونځیو شمیر (۸۰۲) بابو ته رسیده، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـومړي پـلان دتطبيـق نـه وروسـتـه پـه ۱۳۴۰ لمريـز کـال کـې د زده کوونکـو شـمېر (۲۳۵۳۰۱) او د ښوونځيو شمېر (۱۴۳۲) بابو ته ورسيده.۱۲ م ۱۳۴

که چېرې اوس دده د صدارت څخه مخکې او وروسته شمېر سره پرتله کړو د مخکني ټولې دورې په پرتله ډېر کار شوي خو دلتـه د کورني امنيت ، د روڼ انـدو فشـار ، بهرنـي نـړۍ نږديـوالی هـم بـې اغېـزې نـه و ، ځکـه پرمختللې افغانسـتـان د ښوونې او روزنې د پياوړتيا څخه پرته ناشونی کار و .

د سردار محمد داود خان بل مهم سياسي اقدام پـه ۱۹۵۲ز کـال کـې د لـوي جرګې د جوړيدو وړانديز و ، پاچا دغه وړانديز ومانه د ۱۳۳۴ لمريز کال د لړم پـه ۲۲مـه نېټـه لويـه جرګـه جـوړه شـوه، جرګـې پـه ۱:۳۰ بجـود بهرنيـو چـارو وزارت دستوري په ماڼی کې د پاچا د رياست لاندې د هغه د وينا سره سم په کارر پيـل وکـړ ، دا چې پاچا تـل د جرګې غونډو کې ګډون نشو کولی ځکه يې د شورا د نهمې دورې رئيس محمد نوروز خان د جرګې د رئيس او محمد ګل خان مهمند د نماينده ګانو لخوا د جرګې د نايب په توګه وټاکل شول. سردار محمد داود خان دي جرګې ته په خپله وينا کې وکړه و ويـل: « د افغانسـتان حکومـت اتـه کالـه کوښښ وکـړ چې د پاکسـتان واکمنـانو سـره د دوسـتۍ پـه فضـا کـې د خبـرو او مفـاهمې لـه لارې د پښتونستان د مسئلې اهميت رامنځتـه کـړي. تـر څـو دا مسئله پـه سـوله ييـزه توګـه اواره شي مګر له بده مرغه چې د افغانستان د حکومت کوښښ او زيار کوم ځای ونـه نيوه، نتيجه دا شوه چې پاکستان اوس غواړي په زور د پښتونسـتان خـاوره د خپـل هيواد يو برخه وګڼي، دوي په خپل عمل سره دا ثابته کړه چې دوي د پښتونسـتان د خلکو خوښی خلاف پريکړه کړې ترڅو د هغوي حقوق د تل لپاره له منځه يوسي، او د پښتونستان سيمه د پښتنو د ارزو بر خلاف د پاکستان برخه ګڼي ، له بله پلوه هغه اقتصادي او نظامي مرستې چې پاکستان يې له لويو دولتـو څخـه تـر لاسـه کـوي، پـه اسيا کې د قـوا و انـډول تـه زيـان اړوي ، پـه اوس اوراتلونکي کې يې د افغانسـتان لپاره جدي خطر پيدا کړی دی. د پاکستان همدا نظامي برتري پاکستان تـه وخـت پـه لاس ورکړی چې د زور او ظلم په وسيله د پښتونستان د خلکو حقوق تر پښـو لانـدې کړي، دهغو د بشپړې نـابودۍ لپـاره يـې ډېـر غښـتلی او درانـده ګامونـه پورتـه کـړي. (...) ۱۲ م م: ۱۷ _ ۱۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جرګې ګډون کوونکو د داود خان د وینا له اوریدو وروسته حکومت ته دنده وسپارله چې خپل پوخ پیاوړې کړي ، سردار محمد داود خان ددې پربکړې سره سم له شوروي اتحاد څخه فوځي سامان الات او وسلې هیواد ته واردې کړې .

سردار محمد داود خان د ۱۳۴۱ ل کال د حوت ۱۸ مه د ۱۹۶۳ زکال د مارچ په ۷ مه نیټه د صدارت له څوکی څخه استفاه وکړه چې ځینی افغانان د هغه د استفاه لامل دا ګڼی چې د افغانستان د صدارت په څوکۍ کې د پاچا ترونه او د اکا زامن په نوبت مقررېدل ، له محمد داود وروسته د مارشال شاه ولي خان د زوی سردار عبدالولي خان نوبت و ، محمد داود خان نه غوښتل چې سردار عبدالولي د افغانستان صدراعظم شي ، پاچاته یي وړاندیز وکړ چې د ۱۹۳۱ ز کال په اساسي قانون دی نوی کتنه وشي ، تر څو په هیواد کې دیموکراسي راشي او خلکو ته د ګوندونو دجوړولو اجازه ورکړل شي.

د سردار محمد داود خان پلویان په دې عقیده وو ، چې د دیموکراسۍ په صورت کې به نوموړی یو لوي ګوند جوړ کړي او ددې لارې به بېرته قدرت ته ورسیږي او دیو ملي لارښود په توګه به ډېر وخت په قدرت کې پاتې شي ، په دې اړه سردار محمد داود خان په ۱۹۵۹ ز کال د حقوقو د پوهنځي د محصلینو په یوه غونډه کې وویل : « اوس د دې وخت رارسیدلي دی چې په هیواد کې د اقتصادي تحولاتو ترڅنګ اجتماعي بدلونونه هم راوړل شي....» (۴۰، م ۲۱

د ورته لاملونه تر څنګ د پاکستان سره د اړیکو خړپړتیا ، د امریکامتحده ایالات فشار د سلطنتي کورنۍ ناخوښي او د محمد داود خان دا خیال چې د ګوند جوړولو او ټاکنو له لارې به بیا هم صدراعظم شي دده د استعفا لپاره زمینه برابره کړه ،نوموړی په ۱۳۴۱ ل کال د چنګاښ د میاشتې په ۹ ( ۱۹۶۲ ز کال د جون په ۳۰ نېټه) پاچا ته د یو لیک په وسیله لاندې وړاندیزو نه وکړل.

۱ - د قانون پوهانو یو ټولنه دې جوړه شي چې د مشروطه شاهي نظام په اساسي قانون باندې له سره کتنه وکړي او د اساسي قانون نوې مسوده دې حکومت ته وړاندې کړي.

۲ - د ټاکنو او اساسي قانون نور بشپړونکي قوانین دې جوړ او حکومت ته دې وسپارل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ – د قوانینو د تصویب لپاره دې لویه جرگه راوغوښتل شي.
۴ – د قوانینو تر تصویب وروسته دی په هیواد کې تاکنې وشی.
۵ – نوی شورا به دیو یا دوو گوندونو لخوا جوړیږي ، د نوی شورا تر پرانستلو وروسته به اوسنی حکومت استعفا کوی او نوی حکومت به د چارو واکی په لاس کې واخلي.

پاچا د ۱۳۴۱لمریز کال د سنبلې د میاشتې په ۱۲مه نېټه د محمد داود خان وړاندیزونه داسې ځواب کړل: (( زه په پرنسیپ کې د دیموکراسی د راتلو سره موافقه لرم په دې خاطر چې دا کار زما د پلار محمد نادر خان د اروزگانو څخه و .))

پاچا د دغه کار عملي کیدل په بل وخت کې د نورو کسانو په وسیله عملي وگڼل.

سردار محمد داود خان د ۱۳۴۱ل کال د مرغومی د میاشتې پر ۲۴مه نېټه د پاچا لیک ته په دې مفهوم ځواب ولیکه:

۱ – د افغانستان شاهي به مشروطه وي ، حکومت به پارلماني وي او هیواد کې به دیموکراسي راځي.
۲ – په اساسي قانون کې به د سلطنتي کورنۍ حدود تثبتیږي.
۳-- په اساسي قانون کې به فردي ازادي او شخصي ملکیت تضمینیږي.
۴ -- په اساس قانون کې به دوو گوندونو موجودیت وړاندوینه کېږي په پارلمان کې به د اکثریت گوند مشر ، د پاچا لخوا د حکومت په جوړولو مؤظف کېږي.
۵ – دولت پر تقنینه ، قضایه او اجرائیه قواوو ویشل کېږي.
۶ – یو شمېر پوهان به د اساسي قانون د تسوید لپاره توظیف کېږي.
۷ -- د اساسي قانون د تصویب لپاره به لویه جرگه راغوښتله کېږي.
۸ – سیاسي گوندونو ته به د فعالیت اجازه وکول کېږي.

اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د سردار محمد داود خان وروستنی لیک ته ځواب ورنکړ نو ځکه نوموړی د ۱۹۶۳ ز کال د مارچ په ۳ ( ۱۳۴۱ لمریز د کب په ۱۱ مه نېټه ) خپل استعفا لیک پاچا ته واستوه(۴۰، م ۲۲)

د ۱۳۴۱ لمریز کال د کب په مه ۱۸ نېټه ( د ۱۹۶۳ ز کال د مارچ په ۷) مه د افغانستان راډیو د افغانستان پاچا د دارالتحریر مدیریت د وینا سره سم د سردار محمد خان استعفا اعلان او زیاته یې کړه چې اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړی استعفا قبوله او ښاغلي ډاکتر محمد یوسف ته یې دنده وسپارله چې خپله کابینه جوړه کړي (۱۲)م ۱۸۹

سردار محمد داود خان د (۱۳۳۲/۲/۱۵ – ۱۸ /۱۳۴۱/۱۲ لمریز کال) (۲ سپتمبر ۱۹۵۳ز – ۷ مارچ ۱۹۲۳ ز) نږدې نهه (۹) کال او (۲) میاشتې او دری ورځې د افغانستان د صدر اعظم په توګه دنده اجرا کړه. دده د صدارت په دوره کې د هیواد په لارو، صنایعو، ښوونې او روزنې کې بنسټیز بدلونونه منځ ته راغلل، اعلیحضرت محمد ظاهر شاه دده وړاندیزونه ونه منل خو دوه کاله وروسته (۱۳۴۳ لمریز) کال کې نوی اساسي قانون جوړ کړ ګوندونو او مطبوعاتو ته یې ازادي ورکړه وروسته ټول صدر اعظمان یې د سلطنتي کورنۍ نه بهر وټاکل شول. ده خپلی سیاسی مبارزې ته دوام ورکړ او د پاچا له کورنۍ سره د ده سیاسی ستونزې نورې هم زیاتې شوې تر څو په ۱۳۵۲ لمریز کال د چنګاښ په ۲۶نیټه د کودتاه په وسیله د پاچا سلطنت ته د پای ټکي کیښود، خو پاچا د ده جمهوریت په رسمیت وپیژانده تر څو نوموړې د خپلی کړنلارې په تطبیق کی بریالي شي.

د سردار محمد داود خان د صدرات دورې مهمې سیاسي پېښې په لاندې ډول دي.

- په ۱۹۵۵ ز (۱۳۳۴لمریز) کال په کابل کې دده په وړاندیز لویه جرګه جوړه شوه، دغې لوی جرګې حکومت ته توصیه وکړه چې د بهرنیو د تیریود مخنیوي لپاره باید پوځ پیاوړی شي.
- په ۱۹۵۶ ز کال د اګست د میاشتې پر ۲۵می نیټې د وسلو اخستلو تړون د شوروي اتحاد او چکوسلواکیا سره لاس لیک کړ.اوپه ۱۹۵۶ ز کال د افغانستان او چین تر منځ سیاسي مناسبات ټینګ شول. چې په ۱۹۵۶ز کال د افغانستان او امریکا تر منځ د هلمند د ناوې د پراختیا له پاره یو نیم میلون ډالرو د پور اخستلو تړون هم لاس لیک شو. په ۱۹۵۸ ز کال کې لویدیځ المان د افغانستان سره د قدر وړ مرستې وکړې.او په ۱۹۵۸ ز کال صدر اعظم محمد داود خان امریکامتحده ایالاتو ته سفر وکړتر څوافغانستان سره مرستی وکړی خو امریکا د مرستو څخه ډډه وکړه. د دغو هیوادو سربیري په ۱۹۵۹ ز کال د فرانسې او جاپان او په ۱۹۲۰ز کال کې د ایتالیا سره اقتصادي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنگي تړونونه لاس ليک کړل.او د ۱۹۵۹ ز کال د نوامبر په مياشت کې د امريکا جمهور رئيس ايزن هاور کابل ته راغي . په ۱۹۲۱ ز کال سردار محمد داود خان د ناپېيلو هيوادو په غونډه کې چې په بلګراد کې جوړه شوې وه ګډون وکړ [۴۰م م۵۷او ۵۸]د سردار محمد داود خان د سياسي او اقتصادي اصلاحاتو تطبيق ده ته سياسي ستونزې زياتې کړې . په پاي کې امريکا خفګان ، د پاکستان سره د اړيکو خرابېدل ، په داخل کې د پاچا د کورنۍ ناخوښي د پاچا لخوا دده وړانديزونو ته ځواب نه ورکول، او د ټاکنو له لارې بېرته واک ته رسيدل، نوموړی د استعفا لپاره وهڅاوه ، پاچا ددي استعفا پرته له دي چې پوښتنه وکړي ومنله. د ده له استفاه وروسته د پاچا کورنۍ او سياسي شنونکوفکر کاوه چې وضع به د ثبات او د افغانستان په پرمختګ مثبته اغيزه وکړي خو برعکس له ده وروسته يو صدراعظم هم د خپلې کړنلارې په تطبيق کې بريالي نشو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ديموکراسۍ لسيزه او د محمد داود خان د کودتا په درشل کې د افغانستان وضعيت

د ديموکراسۍ کليمه د لويديځو فيلسوفانو د فکر زيږنده ده . په اروپا کې ځينې ديموکراتيک دولتي سيستمونه د منځنيو پيړيو په پاي کې رامنځته شول . د (۱۹) ميلادي پيړۍ له دويمې نيمائي څخه د (۲۰) ميلادي پيړۍ تر پايه يو شمير هيوادونه کې ديموکراتيک نظامونه جوړ شول ، چې وروسته دغه سيستم نړيواله بڼه غوره کړه.

په افغانستان کې سلطنتي کورنۍ دا درک کړه چې د افغانستان په شمول نړۍ کې ديموکراتيک سيستم د پراختيا په حال کې دی ، دوي نور نه شي کولی چې په مطلق العنانه ډول خپل حاکميت ته دوام ورکړي ، ځکه په نړيواله سطحه په انزوا کې د پاتې کيدو ويره موجوده وه او د هيواد دننه د يو لړ ستونزو د پيښيدو ډار احساسيده ، سردار محمد داود خان هم په دې اړوند د ارزښت څخه ډک وړانديزونه کړي و ، خو پاچا په نړۍ کې د لازم ځای او محبوبيت د پيدا کولو په داخل کې د روڼ اندو او خپلو خلکو د خوښې لپاره پريکړه وکړه چې د دولت په اداره کې بدلون راولي، وروسته تر دې به د حکومت رياست (صدارت) د پاچا د کورنۍ له غړو پرته د افغانستان د خلکو لخوا اداره او خپل حکومت به د لويديځې ديموکراسۍ له دود سره سم جوړ کړي.

د (۱۹۶۵) ز کال په لومړيو وختو کې د لومړي ځل لپاره د صدراعظم وينا کټ مټ پرته له سانسور څخه په مطبوعاتو کی خپاره شوه او د ديموکراسۍ په اړه ليکنې پيل شوې ، روڼ اندي په دې باور شول چی د ديموکراتيک نظام د جوړښت له پاره هيلې په ټوکيدو شوې او ملت ته په کې ونډه ورکول کيږي . د ډاکتر محمد يوسف د وينا خپريدل ځکه د پام وړ و ، چی له دې مخکې مطبوعاتو دا حق نه درلود چی د لوړ پوړو چارواکو ويناوې خپرې کړي ، له بله پلوه د نوي صدراعظم په خبرو کې په دولت باندې نيوکې او د ملت د استازو په ټاکنه کې د خلکو فعالې ونډې ته ارزښت ورکړ شوې و . ډاکتر محمد يوسف د نوي اساسي قانون لپاره يو کمسيون

(c) ketabton.com: The Digital Library

وټاکه . بیا نوموړی قانون د یوی جرګی لخوا تصویب شو خو د نوموړي اساسي قانون د (۲۴) مادي د موادو په اساس د پاچا د کورنۍ هر غړی د صدارت له څوکۍ نیولو بې برخې شو . د دیموکراسۍ د لسیزي په لس کلنه دوره کې اجرائیه قوه د پنځو صدراعظمانو (ډاکتر محمد یوسف ، محمد هاشم میوندوال، نوراحمد اعتمادي، ډاکتر عبدالظاهر او محمد موسی شفیق) له خوا په خپل وار سره اداره او رهبري شوه د ډاکتر محمد یوسف د صدارت دویمه دوره په ۱۹۲۵ز کال کې تر ټولو لنډه دوره وه چې څلور ورځې یې دوام وکړ . ۲۰م-۳۷۷

د دیموکراسۍ په دوره کې د صدارت څوکۍ د پاچا د کورنۍ له واک نه ووته خو صدراعظمان مجبور وو چی ځینو وزیرانو ته په کابینه کې د پاچا له خوښې سره سم ځای ورکړي ، د ساري په توګه جنرال خان محمد چې د ټولو صدراعظمانو په کابینو کې د ملي دفاع د وزیر په توګه دنده اجرا کړه .

ډاکتر محمد یوسف د ۱۳۴۱ لمریز کال د حوت په ۱۳مه د ۱۹۲۳ز کال د مارچ په ۱۲مه د صدراعظم په توګه و ټاکل شو. نوموړي دغه دنده د ۱۳۴۴لمریز کال د عقرب تر ۵می د ۱۹۲۵زکال د اکتوبر تر ۲۹می نیټې پوري اجرا کړه . ښاغلی ډاکتر محمد یوسف د محمد حسن زوی په کابل کې زیږیدلی ، لومړنۍ او منځنۍ زده کړې ئي د نجات په لیسه کې پای ته ورسولې ، وروسته د لوړو زده کړو لپاره لویدیځ المان ته ولاړ ، هلته ئي دګوتینګس له پوهنتون څخه د فزیک په څانګه کې ډاکتري واخېسته . هیواد ته له راستنیدو وروسته د کابل پوهنتون د ساینس پوهنځي کې د استاد په توګه مقرر شو .

نوموړي په ۱۳۲۲ل کال د ساینس د پوهنځي مرستیال ، په ۱۳۲۲ل کې د پوهني د وزارت د مسلکي تدریساتو رئیس ، په ۱۳۲۸ل کال د پوهنې د وزارت تدریسي معین ، په ۱۳۳۱ ل کال په اروپا کې د فرهنګي چارو رئیس ، په ۱۳۳۴ل کال د سردار محمد داود خان په کابینه کې دکانو او صنایعو د وزیر په توګه دنده اجرا کړیده . په ۱۳۴۱ ل کال د حوت په میاشت کې د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه لخوا د صدراعظم په حیثیت ونومول شو . ډاکتر محمد یوسف په پښتو ، دري ، الماني او انګلیسي ژبو ښه پوهیده ، خو په عربي او فرانسوي ژبو هم لږ و ډیر پوهیده . ۲۰-م۳۷۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د سردار محمد داود خان استعفا ومنل شوه د هغه ځخه د نوي صدراعظم په اړه پوښتنه وشوه ، هغه ډاکتر محمد یوسف په ګوته کړ، چې ددې دندې د اجرا کولو توان لري ، په دې اړه ښاغلی عبدالحمید مبارز وایي:
(( ډاکتر محمد یوسف د سردار محمد داود خان د لومړۍ کابینې یو ډیر پوه او لایق وزیر او پیژندل شوی شخصیت و . بل دا چې نوموړی د سردار محمد داود خان او پاچا دواړو د ډاډ وړ شخص و ، په هغه مهال فکر کیده چې ددوو کسانو ( ډاکتر محمد یوسف او ډاکتر عبدالظاهر ) ځخه به یو تن صدراعظم شي ، ډاکتر عبدالظاهر دغه وړاندیز قبول نکړ لیکن ډاکتر محمد یوسف ومانه. ...)) ۴ م م ۱۲۲ او ۱۲۳
نوموړي خپله کابینه د ۱۳۴۱ لمریز کال د حوت په میاشت کې په لاندې ترکیب سره اعلان کړه:

| | | |
|---|---|---|
| صدراعظم | ډاکتر محمد یوسف | ۱۹۶۲از-۱۹۶۵زکال پوري |
| دصدراعظم لومړی مرستیال | عبد الله ملکیار | ۱۹۶۲از-۱۹۶۴زکال پوري |
| دویم مرستیال | ډاکتر علی احمد پوپل | ۱۹۶۲از-۱۹۶۴زکال پوري |
| دریم مرستیال | ډاکتر عبدالظاهر | ۱۹۶۴از-۱۹۶۵زکال پوري |
| د ملي دفاع وزیر | جنرال خان محمد | ۱۹۶۲از-۱۹۶۵زکال پوري |
| د بهرینو چارو وزیر | ډاکتر محمد یوسف | ۱۹۶۲از-۱۹۶۵زکال پوري |
| دکورنیو چارو وزیر | سید عبدالله | ۱۹۶۲از-۱۹۶۳زکال پوري |
| | ډاکتر عبدالقیوم | ۱۹۶۳از-۱۹۶۵زکال پوري |
| د مالیې وزیر | عبدالله ملکیار | ۱۹۶۲از-۱۹۶۴زکال پوري |
| | سید قاسم رښتیا | ۱۹۶۴از-۱۹۶۵زکال پوري |
| د عدلیې وزیر | سید شمس الدین مجروح | ۱۹۶۲از-۱۹۶۵زکال پوري |
| د کانو وزیر | ډاکتر محمد یوسف | ۱۹۶۲از-۱۹۶۳زکال پوري |
| | انجینر محمد حسین مسا | ۱۹۶۳از-۱۹۶۵زکال پوري |
| د کرنې وزیر | ډاکتر محمد ناصر کشاورز | ۱۹۶۲از-۱۹۶۵زکال پوري |
| د فواید عامې وزیر | جنرال محمد عظیم | ۱۹۶۲از-۱۹۶۵زکال پوري |
| دپوهنې وزیر | ډاکتر علی احمد پوپل | ۱۹۶۲از-۱۹۶۴زکال پوري |
| | ډاکتر محمد انس | ۱۹۶۴از-۱۹۶۵زکال پوري |
| د مطبوعاتو وزیر | سید قاسم رښتیا | ۱۹۶۲از-۱۹۶۴زکال پوري |
| | محمد هاشم میوند وال | ۱۹۶۴از-۱۹۶۵زکال پوري |
| د سوداګرۍ وزیر | محمد سرور عمر | ۱۹۶۲از-۱۹۶۵زکال پوري |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| د پلان وزیر | عبد الحی عزیز | ۱۹۶۲ز-۱۹۶۳زکال پوري |
| | عبدالله یفتلي | ۱۹۶۳ز-۱۹۶۵زکال پوري |
| د روغتیا وزیر | ډاکتر عبد الرحیم | ۱۹۶۲ز-۱۹۶۴زکال پوري |
| | ډاکتر عبد الظاهر | ۱۹۶۴ز-۱۹۶۵زکال پوري |
| د مخابراتو وزیر | ډاکتر عبدالقیوم | ۱۹۶۲ز-۱۹۶۳زکال پوري |
| | ډاکتر محمد حیدر | ۱۹۶۳ز-۱۹۶۵زکال پوري |
| | سید شمس الدین مجروح | ۱۹۶۲ز-۱۹۶۳زکال پوري |
| د قبایلو مستقل رئیس | گل پاچا الفت | ۱۹۶۳ز-۱۹۶۵زکال پوري |
| | | ۴۰ م م۸۹او ۹۰ |
| د کابل د پوهنتون رئیس | ډاکتر محمد عثمان | (۲۰) ۱ م۳۷۸ |
| ملکي هوائي رئیس | سلطان محمود غازي | |

ډاکتر محمد یوسف د سردار محمد داود خان د استعفا وروسته ډیر ژر ۱۹۶۳زکال د مارچ په ۱۳ مه صدراعظم شو . نوموړی د دیموکراسۍ د لسیزې د پیل لومړنې صدراعظم و . نوموړي د نوي اساسي قانون په جوړولو مؤظف شو ده د اساسي قانون د جوړولو لپاره د تسوید کمیته په لاندې ترکیب سره وټاکله:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | د عدلیې وزیر | سید شمس الدین | د رئیس په توګه |
| ۲ | د مطبوعاتو مستقل وزیر | سید قاسم رښتیا | د غړي په توګه |
| ۳ | د پوهنې د وزارت مشاور | نجم الدین | د غړي په توګه |
| ۴ | د عدلې وزارت د قوانینو مدیر | موسی شفیق | د غړي په توګه |
| ۵ | د پوهنې وزارت د منځنیو تدریساتو رئیس | عبدالصمد حامد | د غړي په توګه |
| ۶ | د رښتیا ورور | محمد صدیق فرهنګ | د غړي په توګه |
| ۷ | د کابل پوهنتون د حقوقو پوهنځي استاد | حمید الله د علی محمد بد خشي زوی | د غړي په توګه |

په دې مسوده کې (۲۴مه) ماده ډېره جنجالي وه ، ځکه په دې ماده کې د پاچا زوی ، لور، ښځه د پاچا اکا او د اکا زامن د پاچا کورنۍ وګڼل شوه او د پاچا کورنۍ به په رسمي تشریفاتو کې تر پاچا او ملکې وروسته ځای نیسي . د پاچا د کورنۍ خرڅ (مصرف) د پاچا د خرڅ (مصرف) په بودیجه کې ټاکل کیږي ، القاب یوازې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچا کورنۍ تـه ځانګړي دي . چې د قـانون مطابق بـه انتخـابيږي ، د پـاچـا د کـورنۍ غړي په سياسي ګوندونو کې ګډون نه شي کولی او لاندې دندې به نه اجرا کوي:

۱- د صدراعظم او وزارت دندې

۲- د شورا غړيتوب

۳- د سترې محکمې غړيتوب( ۴ م م ۲۲۲او ۲۲۳ )

نوموړې مادې لويه غوغا پيل کړه ، د داود خان پلويان فکر کاوه چې پاچا د تل لپاره له داود خان څخه ځان خلاص کړ ، ځکه سردار محمد داود خان او د هغه ملګري په دې يقيني وو چې له استعفا وروسته به دوی د سياسي مبارزې او د ګوند جوړولو له لارې اکثريت رائې وګټي او په دې توګه به واک ترلاسه کړي . خو نوموړې د پاچا د کورنۍ غړی وګڼل شو چې د پـورتنۍ مـادې پـه اسـاس نـه يـوازې لـه ګوند جوړولو منع شو بلکې د صدارت له دندې هم محروم شو .

حکومت (۱۹۶۴ ز کال د فبرورۍ په ۹) د اساسي قانون د مسودې د کتنې او غور په موخه د لاندې اشخاصو په ګډون يو کميسون وټاکه:

1. عبد الهادي داوي ليکوال او سياسي شخصيت
2. صلاح الدين سلجوقي دانشمند .
3. عبدالمجيد زابلی داقتصاد پوه .
4. خليل الله خليلي شاعر.
5. نور احمد اعتمادي ديپلومات
6. ډاکتر محمد اصغر کابل ښاروال
7. ډاکتر محمد آصف سهيل ډاکتر او شاعر
8. محمد قدير ترکی استاد
9. مير غلام محمد غبار مؤرخ
10. ډاکتر عبد القيوم رسول د طب ډاکتر
11. احمد علی کهزاد مؤرخ
12. عبدالرشيد لطيفي ليکوال او ډرامه ليکوونکی
13. امرالدين شنسب انجينراو پانګوال
14. صديق الله رښتين استاد او ليکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

15.معصومه وردک
16.غلام سرور رحیمي استاد
17.کبرا نورزایي استاده
18.محمد هاشم مجددي استاد
19.محمد کریم تزیهی لیکوال
20.محمد کریم عفیفي لیکوال
21.مولوي محمد ارشاد فقیه
22.مولوي عبدالرب فقیه
23.مولوي محمد نبي کاموي
24.ډاکتر عبدالواحد سرابي
25.عبدالکریم اسرار لیکوال
26.لعل محمد کاکړ د کندهار ښاروال
27.محمد طاهر ځدران ښوونکی
28.ډاکتر خلیل احمد ابوي استاد

میرغلامحمد غبار او صلاح الدین سلجوقي د ناروغۍ او محمد آصف سهیل د نامالومو دلایلو له مخې په کمیسون کې برخه وا نه خیسته، نوموړی کمیسون د ۱۹۶۴ز کال د فبروری څخه د مارچ تر میاشتې ددې قانون ټولې مادې په غور سره مطالعه کړې خو د (۲۴مې) مادې جنجال پر خپل حال پاتې شو. ۳۲م ۲۲۳او ۲۲۴

د ۱۳۴۳المریز کال د لویې جرګې د دایریدو په اړه پاچا د ۱۹۶۴ز کال د اګست په ۱۲مه نیټه داسی اعلان وکړ.

ملت عزیزم!

قبلاً طی اعلان پادشاهی مورخ ۲۱دلو ۱۳۴۲ از اراده خود بر دایر وانعقاد لوی جرګه جهت مطالعه مسوده قانون اساسي جدید افغانستان در موردآن در نیمه اول امسال بشما اعلام نموده بودم.

اکنون مسوده قانون اساسی به پایه اکمال رسیده ، بعد از اخذ مشوره یک کمیسون مرکب از اهل دانش و خبره از طرف مجلس وزرا نیز تصویب شده است ، با

(c) ketabton.com: The Digital Library

استعانت از بارگاه پروردگار جل علی شانه عزم کرده ایم مجلس بزرگ و تاریخی لوی جرگه بروز هژدهم ماه سنبله ۱۳۴۳ هجری شمسی در پایتخت دایر گردد .

بدین ترتیب مراتب اتی را بشما عزیزان خود ابلاغ میدارم:

**اول**: مردم هر حوزه انتخابی مجلس شورای ملی قبل از ماه اسد سال جاری یک نفر از بین خود را مطابق به تعامل لویه جرگه سال ۱۳۴۳ جهت اشتراک در لویه جرگه انتخاب نمایند . موعد آغاز انتخاب بعداً از طرف حکومت با اطلاع شما رسانده خواهد شد .

**دوهم**: لویه جرگه از ارکان ذیل تشکیل خواهد گردید .

**الف**: اعضای شورای ملی که دوره خدمت شان تا کار ختم لویه جرگه تمدید گردیده است .

**ب**: رئیس و اعضای مجلس اعیان

**ج**: وکلا ئیکه از طرف شما برای شرکت در لویه جرگه انتخاب میشوند .

**د** : صدراعظم و وزرأ

**هـ**: رئیس و اعضای محکمه تمیز و عدلیه

**و** : رئیس و اعضای کمیته مطالعه قانون اساسی

**ز** : رئیس و اعضای کمیسون مشورتی

**ح**: یک تعداد اشخاصیکه از طرف ما حسب المعمول به عضویت لویه جرگه تعین خواهند گردید .

از خدای پاک تبارک و تعلی نیاز مندم تا به همه افراد ملت عزیز در ادای این وظیفه بزرگ تاریخی توفیق ایزدی خود را عنایت فرماید .

محمد ظاهر پادشاه افغانستان: ۴۷م م ۲۲۵ او ۲۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاچا د اعلان او دجرګې د جوړيدو په اړه د فرمان د صادريدو سره سم خلکو خپل استازي و ټاکل ، جرګه د ۱۹۶۴ ز کال د سپتمبر په (۹) نيټه په لاندې توګه دايره شوه .

| | |
|---|---|
| ۱- د ملي شورا د يولسمی دوری وکيلان | ۱۷۶ تنه |
| ۲- نوی ټاکل شوی وکيلان | ۱۷۶تنه |
| ۳- د اعيانو د مجلس غړي | ۱۹ تنه |
| ۴- د وزيرانو د هئيت غړي | ۱۴تنه |
| ۵- د تميز د عالی محکمی غړي | ۵ تنه |
| ۶- د اساسي قانون د تسويد د کميټی غړي | ۷ تنه |
| ۷- د مشورتي کميسون غړي | ۲۳تنه |
| ۸- د مشورتي کميسون غړي | ۲۴تنه |
| ټول | ۴۴۵ تنه |

پاچا د سپتمبر په ۲۰ مه نيټه د اساسي قانون متن له تصويب وروسته د ۱۳۴۳لمريز کال د ميزان په (۹) نيټه توشيح کړ چی له دې سره سم انتقالي دوره هم پيل شوه ۳۲م ۲۲۴

د ۱۳۴۳ لمريز کال په لويه جرګه کې د اعليحضرت محمد ظاهر شاه د پرانيستونکې وينا متن .

بسم الله الرحمن الرحيم

(( له لوي او توانا خدای (ج) ډېر راضي يم چی ماته يې دا وخت مساعد کړ تر څو په افغانستان کی د نوی نظام د تاسيس لپاره د افغانستان د خلکو لويه جرګه پرانيزم . زه نوموړی جرګه په داسې حال کې پرانيزم چی په هيواد او نړۍ کې پوره امنيت ټينګ دی . په دې غونډه کې ستاسې د هر يو ليدنه چی د ملت اراده تمثيلوي زما لپاره د خوښې سبب ده . هيله لرم چې په پلازمينه کابل کې تاسې د اوسيدو پر مهال خوښ او ستاسې هره غونډه بريالی او پايلی يې ددی ملت په نن او راتلونکي ژوند کې مثبتی او ژوري اغيزې ولري او پريکړې يي د ټولو هيوادوالو لپاره د وياړ وړ وي . دغه لويه جرګه چې نن دايريږي له يوې خوا زمونږ د هيواد په سياسي فضا کې يوه نوی دوره بلل کيږي ، له بلې خوا جرګه زمونږ د لرغونې قومي

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنعنې ځخه نماینده ګی کوي چې همدا جرګه زمونږ د تیر او راتلونکي د پیوستون کړۍ ده . (۳۵) کاله مخکې هغه وخت چې زمونږ هیواد د کورنۍ جګړې او انقلاب په اور کې سوزیده ، زما شهید پلار اعلیحضرت محمد نادر شاه چې ناروغ هم و هیواد ته راغې ټول هیواد ته یې د کورنۍ جګړې ځخه نجات ورکړ بیا یې په هیواد کې نظم ټینګ کړ ، په دویم پړاو کې هغه ارزو درلوده چې په افغانستان کې د خلکو په خوښۍ داسې حکومت جوړ کړي چې په هغه کې فردي حقوق تامین او د ټولنیز عدالت په رڼا کې د راتلونکي لپاره د ویاړ نه ډکه لار طی کړي . ...

سردار محمد هاشم خان او سردار شاه محمود خان هر یو په خپل نوبت په ډیرو سختو ورځو کې خپلې دندې په ډیر صداقت او امانتدارۍ سره سرته ورسولې او د سردارمحمد داود خان هغه هڅې چې دې لوړ هدف ته د رسیدو په خاطر یې سرته رسوي زما د خوښې او ستاینې وړ دي.

د ټولنیزې او سیاسي وضعې د پرمختک په نظر کې نیولو سره دا احساس پیدا کیږي چې په افغانستان کې مشروطه رژیم چې د ښاغلي شهید محمد نادرخان په وسیله یې بنسټ اینبودل شوی و چې تل یې د بشپړیدو هیله درلود مونږ باید ، پراختیا ورکړو ، تر اوسه پورې د اړتیا او د خلکو اعتماد په اساس د حکومت چارې زمونږ دکورنۍ لخوا اداره کیدلې . وروسته له دې دا د پاچاهي کورنۍ ځخه جلا شو . په دې ترتیب مونږ د دیموکراسۍ د اساساتو یو رکن ته عملې بڼه ورکړه . اوس ما ډاکتر محمد یوسف چې یو منور او تجربه لرونکی ځوان ، زما او د افغانستان د خلکو د اعتماد وړ دی مؤظف کړ چې خپله کابینه ترتیب او د اړتیا وړ قانوني اصلاحات عملي کړي . خوښ یم چې ډاکتر محمد یوسف په دې یو نیم کال کې د نوی حکومت له جوړیدو وروسته هغه دندې چې ورسپارل شوی وې د هیواد پال انسان په توګه ډیرې ښې سرته رسولې دي.

یو نیم کال مخکې د نویو او بنسټیزو بدلونونو په نتیجه کې پریکړه وشوه چې د افغانستان په اساسي قانون دې بیا کتنه وشي . نوي اساسات چې د هیواد د ملي پرمختګ لپاره لار خلاصه کړي او په دې ملي سند کې دې ثبت شي ، د همدې له پاره د نوی اساسي قانون د مسودې د ترتیبولو کار د هیواد پوهانو ته وسپارل شو . له مطالعې او څیړنې وروسته د اساسي قانون مسوده تیاره شوې ده ، د ښې او دقیقې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځیږني لپاره مو هغه مسوده یو بل هئیت ته چې د هیواد له مسلکي پوهانو څخه جوړ وو. وسپارله اوس دغه مسوده د وزیرانو له غونډې هم تیر شوې ، لوی جرګې ته وړاندې کیږي.

فکر نه کوم ددې اړتیا به وي چې ستاسې د دندې د اهمیت او عظمت په اړه چې یې په دې ورځو کې سرته رسوئ خبرې وکړم ، ځکه تاسې له غور او ژور فکر وروسته داسې یو ملي سند تصویبوی چې د هغې پواسطه د دولت کړنلاره او د ملت د ژوند راتلونی ټاکل کیږي.

زه د لوی او توانا خدای (ج) له دربار دا امید لرم چې د افغانستان نوی اساسي قانون زما د ګران ملت د نن او سبا ژوند د نیکمرغی ضامن وي ۴۷م ۲۲۷-۲۲۸-۲۲۹

د جرګې د سکرتریت آمر او د اساسي قانون د تسوید کمیټې غړي موسی شفیق د مزارشریف د ولایت استازې متقاعد جنرال عطا محمد خان ((توخي)) د تعامل سره سم د جرګې د معرفت د رئیس په توګه پشنهاد کړ جرګې هم موافقه وکړه ، توخي د جرګې له اعتماد څخه مننه وکړه ، د جرګې دایمې او لومړی رئیس په خپله پاچا دی. د رئیس مرستیال (نائب) باید وټاکل شي. پوهاند اصغر، ډاکتر عبدالظاهر د ملی شورا رئیس د جرګې د نائبت لپاره پشنهاد کړ ، دوو تنو محمد اسمعیل مایار هم پشنهاد کړ مخکې له دې چې د نائب په اړه پریکړه وشي ضیاء المشایخ محمد ابراهیم مجددي شیر پادشا بیانیه ورکړه له پاچا څخه مننه وکړه ، وروسته لوی جرګې ډاکتر عبدالظاهر د جرګې د نائب او ډاکتر موسی شفیق د جرګې د منشي په توګه وټاکل. ډاکتر عبداظاهر ، ډاکتر محمد یوسف ته په جرګه کې د وینا کولو لپاره بلنه ورکړه. ۴۷م ۲۲۹او ۲۳۰

د ډاکتر محمد یوسف له هر اړخیزې وینا وروسته لوی جرګې د ۱۳۴۳ لمریز کال د سنبلې د میاشتې د ۱۸ نیټې څخه تر ۲۸نیټې پورې په خپلو غونډو کې د نوموړي قانون ټولې مادې تر بحث لاندې ونیولې او د ځینو بدلونونو له راوړلو وروسته یې په یوولسو فصلونو او (۱۲۸) مادو کې تصویب کړ. اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د اساسي قانون د توشیح پر مهال داسې ولیکل: زه المتوکل علی الله محمد ظاهر شاه د افغانستان پاچا د نوی اساسي قانون مسوده چی د لوي جرګې لخوا د ۱۳۴۳لمریز کال د سنبلې له ۱۸ څخه تر ۲۸ نیټې پورې د کابل په ښار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړه شوي و تصویب شوه ، د لوی خدای (ج) په نوم یې توشیح کوم. له نن څخه یې د اساسي قانون په حیث د هیواد په ټولو برخو کې نافذ اعلانوم.

سر له نن ورځې هغه اساسي قانون چې د ۱۳۰۹هـ ش کال د لوی جرګې لخوا تصویب شوی او تر اوسه په هیواد کې نافذ و د ټولو ضمیمو سره لغوه اعلانوم.

د ګل خاني ماني ۴۷ م۲۲۳

۹ / میزان/۱۳۴۳لمریز کال

ډاکتر محمد یوسف د دوه نیمو کالو انتقالي دوره کې یو شمیر چارې سرته ورسولې ، خو د نوی اساسي قانون په بنسټ نوی غوره شوی شورا د ۱۹۲۵ز کال د اکتوبر په (۱۴مه) دایره شوه او پاچا یو ځل بیا ډاکتر محمد یوسف ته بلنه ورکړه چې د خپلې کابینې او کړنلارې څخه شورا ته اړینې څرګندونې وکړي .

صدراعظم د اکتوبر په ۲۴ نیټه د وزیرانو سره شورا ته ورغې خو هلته یې ولیدل چې د ځینو وکیلانو پر ځای نور نندار چیان چې زیاتره یې محصلین وو ناست وو ، او په شورا کې ګډوډې روانه وه ، صدراعظم د وضع په لیدو سره سم دستي بهر ته راووت او شورا ( ولسي جرګه ) رهبري جلسه وځنډوله . سبا د (۱۹۲۵ ز کال د اکتوبر ۲۵ او د ۱۳۴۴لمریز کال د عقرب په دریمه نیټه) شورا تر امنیتي قیوداتو لاندې وه ، کله چې ډاکتر محمد یوسف خپله کابینه ور وپیژانده او کړنلاره یې ولوستله نو یې د ولسي جرګې د غړو له بحث وروسته د باور رایه تر لاسه کړه او ډاکتر محمد یوسف ته د حکومت د اعتماد رایه ورکړل شوه . خو د ولسي جرګې نندارچیانو لخوا مظاهره وشوه. ځکه هغوي د ولسي جرګې تالار ته نندارچیان نه پریښودل، ورو ورو تر ماسپښین پورې د مظاهره چیانو شمیر زیات شو.

دوي د ډاکتر محمد یوسف او د ولسي جرګې له خوا دا عمل یو توطیه او غیر دیموکراتیک عمل و باله، په ډیر شدت سره یې د زنده باد او مرده باد نارې یې وهلې تر لمر ډوبیدو لږ وړاندې د ډاکتر محمد یوسف کور ته ورسیدل ، هلته ساتونکو او امنیتي قواو هوایي ډزې وکړې ، خو مظاهر چیان شاته نشول تر څو د مقاماتو د امر په اساس په مظاهر چیان مستقیم فیرونه وشول. چې مرګ او ژوبله یې له ځانه سره درلوده، داسې ویل کیدل چې دا امر د پاچا زوم او د مرکزي قواو قوماندان سردار ولي کړې و. په دې کار مظاهره پراخه شوه پاچا اړ شو چې د ډاکتر محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوسف پر ځای بل څوک دي څوکۍ ته وټاکي ، څکه يي د ۱۹۲۵ زکال د اکتوبر پر ۲۹ نیټه د راډیو څخه دا اعلان وشو چې ډاکتر محمد یوسف د روغتیایي ستونزو په نسبت له خپلې دندې څخه لاس واخیست او پاچا هم دده استعفا ومنله او محمد هاشم میوندوال یې د کابینې په جوړولو مؤظف کړ. ۳۲م۲۲۲

ددې پیښو په پرتله د عقرب د دریمې نیټې پیښه دومره نه وه چې صدراعظم استعفا ورکړې ، خو د افغانستان خلق دیموکراتیک ګوند دواړو خواو (خلق او پرچم) ددې پیښې څخه ډیره ګټه واخیسته ، د پراخه تبلیغاتو په نتیجه کې مظاهره پراخه شوه، پاچا مجبور شو چې صدراعظم له کاره ګوښه کړي چې په دې ډول سیاسي وضع نوره هم کاواکه شوه.

ښاغلی محمد هاشم میوندوال د پاچا د امر سره سم د ۱۳۴۴ لمریز کال د عقرب په ۷مه ، د ۱۹۲۵ز کال د اکتوبر په ۳۰مه د افغانستان د صدراعظم په توګه وټاکل شو. او د ۱۳۴۶ لمریز کال د میزان تر ۱۸مي ، ۱۹۲۷ ز کال د اکتوبر تر ۱۱ نیټې پورې د صدراعظم په توګه دنده اجرا کړه. ښاغلی محمد هاشم میوندوال د ملا عبدالرحیم زوی په ۱۲۹۸لمریز (۱۹۱۹ ز) کال د غزني ولایت د مقر په ولسوالۍ کې زیږیدلی دی. پر ۱۳۲۱ لمریز (۱۹۴۲ز) کال له حبیبي لیسې څخه فارغ او په هرات کې د اتفاق اسلام د جریدې د مدیر په توګه مقرر شو چې په دغه وخت کې نوموړي پردیس تخلص کاوه. ۴۰م۲۷

محمد هاشم میوندوال د ښه استعداد خاوند او د دولت په مهمو څوکیو کې دنده تر سره کړیده ، نوموړي درې ځلې د مطبوعاتو رئیس، دوه ځلې په کراچۍ کې د افغاني سفیر، د بهرینو چارو په وزارت کې د معین په توګه دنده اجرا کړې او یو څه وخت د پاچا مطبوعاتي مشاور هم و، نوموړی د ۱۹۲۵ ز کال د اکتوبر په (۳۰) نیټه د پاچا لخوا د حکومت په جوړولو مؤظف شو . خپله کابینه او کړنلاره یې د ۱۹۲۵ ز کال د نومبر په دویمه ترتیب او د ولسي جرګې څخه د باور رایه واخیسته .

صدراعظم د یو شمیر وزیرانو سره د کابل پوهنتون په ادیتورم کې د عقرب د دریمې نیټې د وژل شویو محصلینو د فاتحې په مراسمو کې ګډون وکړ. محصلینو ته یې وعده ورکړه چې ددې پیښې عاملینو ته به سزا ورکوي او محصلین د اتحادیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړه کړي، خو د عاملینوته په سزا کې پاتې راغې ځکه چې د دوې تر شاه قوي لاس موجود و. ۴۰م۲۲

محمد هاشم میوندوال په بهرني سیاست کې ډېر محتاط و ، د هیواد د بې طرفۍ سیاست یې تعقیباوه، د خپلو ګاونډیانو سره یې ښې اړیکې درلودې . په ۱۹۶۲ زکال د پاکستان واکمن مارشال ایوب خان تاشکند ته د تګ پر مهال کابل کې تم شو او له پاچا محمد ظاهرشاه او محمد هاشم میوندوال سره یې لیدنه وکړه.

د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزیر کاسګین د ۱۳۴۴ لمریز کال د مرغومي په ۲۴ نیټه له ډهلي څخه کابل ته راغی ، د میوندوال او پاچا سره یې ولیدل ، میوندوال یې دعوت کړ چې شوروي اتحاد ته دوستانه سفر وکړي. میوندوال په ۱۳۴۴ لمریز (۱۹۶۶ز) کال مسکو ته ولاړ ، د شوروي له بیلابیلو ښارونو یې لیدنه وکړه، شوروي رهبری کوښښ وکړ چې افغانستان د ځان دوست او امریکا یې دښمن وښئي، خو ګټه یې ونکړه. نوموړی ترکي ، متحده عربو جمهوریت او چین ته سفرونه وکړل. ۷ م۲۹۶

محمد هاشم میوندوال په ۱۹۶۷ ز کال د مارچ په دیارلسمه نیټه امریکا ته سفر وکړ ، د ملګروملتو د عمومي منشي او د امریکا جمهور رئیس سره یې وکتل ، د کرنۍ په برخه کې یې د مرستو غوښتنه وکړه او د ملګرو ملتونو د سازمان په غونډه کې چې د عربو او اسرائیلو د جګړې د ختمیدو لپاره یوه لار پیدا کړي.د هیوادونو مشران یې را بللي و چې د افغانستان په استازیتوب میوندوال پکې ګډون وکړ ، نوموړي په خپلې وینا کې د مسلمانانو پلوي وکړه.

میوندوال په کورني سیاست کې پر ستونزو بریالی نه شو ځکه کومه وعده ( دمحصلینو د قاتلانو نیول ) چې یې له محصلینو سره کړې وه پوره نکړه، د ولسي جرګې وکیلانو به دده په کارونو باندې نیوکې کولې، میوندوال د سوسیال مترقي دیموکرات په نامه یو ګوند جوړ کړ خو د ستونزو په حل کې ورسره چندان مرسته و نشوه کولی . په پای کې د کابل په ښار کې د تېر په څیر مظاهرو پراختیا پیدا کړه . د ښاغلي میوندوال روغتیایي حالت ډېر خراب و ، ځکه نوموړی د کولمو د انسداد له امله درې ځله عملیات شوي و ، څلورم عملیات ته هم اړتیا وه ، ځکه یې د ۱۹۶۷ ز کال د اکتوبر په ۱۱نیټه پاچا ته خپل استعفا لیک وړاندې کړ. ۴۰م۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني داسې استدلال کوي چې ميوندوال ته پاچا وعده ورکړې وه چې د درملني په موخه له امريکا څخه د راګرځيدو پورې به هيڅوک د ده پر ځای تعين نه کړي. دا خبره ربښتيا ښکاري ځکه د نورو صدراعظمانو په خلاف تر ۷۰ ورځو پورې يې د ده پر ځای څوک د حکومت په جوړولو مؤظف نکړ. يوازې د هغه مرستيال عبدالله يفتلي ته يې دنده وسپارله چې د حکومت چارې مخکې يوسي.

ځيني داسې ګمان کوي چې په شوروي اتحاد کې د محمد هاشم ميوندوال له وينا وروسته پاچا پر ده شکمن و چې نوموړي شوروي اتحاد ته ميلان پيدا کړی، کله چې ميوندوال له امريکا څخه راستون شو، وضع يې بالکل بدله شوې و، د پاچا کورنۍ شورا پريکړه کړې وه چې ميوندوال بايد شهرت پيدا نه کړي. د مساوات خپروني يې تر کنترول لاندې ونيوه، خو ميوندوال هم له امريکا څخه له راګرځيدو وروسته په عملي توګه مخالفت غوره کړ مګر د ده هڅو بيا هم نتيجه ورنکړه. ۲۰ م ۴۱۲-۴۱۷

عبدالحميد مبارز د ميوندوال په اړه ليکي: « نوموړی يو سياستمدار و، د هيواد سياسي وضع يې د بدلون په حال کې ليدله، ده پريکړه وکړه چې نور بايد د پاچا سره د نږديوالي په اساس واک ته ونه رسيږي، ځکه سلطنت يې د کينې اړخ ځواکونو او داود خان د پلويانو لخوا په خطر کې ليده، ده غوښتل چې د خلکو لخوا واک ته ورسيږي. مترقي ديموکرات ګوند يې جوړ کړ او د پاچا ملاتړ يې له لاسه ورکړ، خو د کينې اړخ او داودخان پلويان يې راضي نه کړای شول، ميوندوال هيله درلوده چې افغانستان د يو ريښتيني ديموکراتيک نظام په جوړيدو سره پرمختګ وکړي، ده له يوه ديموکراتيک نظام، آزاد دولت او ګوند له موجوديت پرته پرمختګ نيمګړی ګاڼه، ده د مترقي ګوند په جوړولو سره غوښتل چې د چپ او ښي اړخ تر منځ تشه ډکه کړي. خو د نوموړي روغتيا يې حالت د داودخان د پلويانو لکه وحيد عبدالله، حسن شرق، خلقيانو او د ډاکتر محمد يوسف د طرفدارانو لخوا کړه وړه او د ده پر ضد تبليغ د نوموړي او پاچا تر منځ واټن زيات کړ، تر څو مخالفت په دښمنۍ او يو خدمتګار په دښمن بدل شو.» ۴۷ م ۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر حال پاچا د میوندوال استعفا منظوره او نوراحمد اعتمادي ته یې دنده وسپارله چې حکومت جوړ کړي، د محمد هاشم میوندوال د حکومت غړې په لاندي ډول وو .

| | | |
|---|---|---|
| صدراعظم | محمد هاشم میوندوال | ۱۹۲۵-۱۹۲۷ز کال پورې |
| د صدراعظم لومړی مرستیال | نور احمد اعتمادي | ۱۹۲۵-۱۹۲۵ ز کال پورې |
| دویم مرستیال | عبدالستار شالیزی | ۱۹۲۵-۱۹۲۷ز کال پورې |
| د ملي دفاع وزیر | جنرال خان محمد | ۱۹۲۵-۱۹۲۷ز کال پورې |
| د بهرنیو چارو وزیر | نور احمد اعتمادي | ۱۹۲۵-۱۹۲۷ز کال پورې |
| کورنیو چارو وزیر | عبدالستار شالیزی | ۱۹۲۵-۱۹۲۲ ز کال پورې |
| | انجینر احمدالله | ۱۹۲۲-۱۹۲۷ ز کال پورې |
| د مالیې وزیر | عبدالله یفتلي | ۱۹۲۵-۱۹۲۷ز کال پورې |
| | عبدالکریم حکیمي | ۱۹۲۷-۱۹۲۷ز کال پورې |
| | ډاکتر محمد احسان تره کی | ۱۹۲۷-۱۹۲۷ز کال پورې |
| د کانو وزیر | انجینر عبدالصمد سلیم | ۱۹۲۵-۱۹۲۵ ز کال پورې |
| د کرنې وزیر | انجینر محمد اکبر رضا | ۱۹۲۵-۱۹۲۵ ز کال پورې |
| د فواید عامې وزیر | انجینر احمدالله | ۱۹۲۵-۱۹۲۲ز کال پورې |
| | انجینر محمد حسن مسا | ۱۹۲۲-۱۹۲۷ز کال پورې |
| د پوهنې وزیر | محمدهاشم میوندوال | ۱۹۲۵-۱۹۲۵ ز کال پورې |
| | ډاکتر محمد عثمان انوري | ۱۹۲۵-۱۹۲۷ز کال پورې |
| دمطبوعاتو وزیر | محمد هاشم میوندوال | ۱۹۲۵-۱۹۲۵ ز کال پورې |
| | محمد عثمان صدقي | ۱۹۲۵-۱۹۲۷ز کال پورې |
| | عبدالرؤف بینوا | ۱۹۲۷-۱۹۲۷ز کال پورې |
| د سوداګرۍ وزیر | ډاکتر نورعلی | ۱۹۲۵-۱۹۲۷ز کال پورې |
| دپلان وزیر | عبدالحکیم ضیایي | ۱۹۲۲-۱۹۲۷ز کال پورې |
| | عبدالله یفتلي | ۱۹۲۷-۱۹۲۷ز کال پورې |
| د روغتیا وزیر | محمد عثمان انوري | ۱۹۲۵-۱۹۲۵ ز کال پورې |
| | پیغله کبرا نورزائي | ۱۹۲۵-۱۹۲۷ز کال پورې |
| د مخابراتو وزیر | ډاکتر محمد حیدر | ۱۹۲۵-۱۹۲۲ز کال پورې |
| | عبدالکریم حکیمي | ۱۹۲۲-۱۹۲۷ز کال پورې |
| مشاور وزیر | ډاکتر محمد انس | ۱۹۲۷-۱۹۲۷ز کال پورې |
| | عبدالله یفتلي | ۱۹۲۷-۱۹۲۷ز کال پورې |
| د قبایلو مستقل رئیس | محمد خالد روښان | ۱۹۲۵-۱۹۲۷ز کال پورې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| د وزیرانو د شورا منشي | عبدالغفور روان فرهادي | ۱۹۲۵-۱۹۲۷ز کال پورې ۴۰ م ۹۲ او ۹۷ |

نوراحمد عتمادي د ۱۳۴۲ لمریز کال د عقرب په ۹مه نیټه ، ۱۹۲۷ز کال د نومبر په لومړي نیټه د پاچا لخوا د صدراعظم په توګه وټاکل شو ، چې ۱۳۵۰ لمریز کال د ثور تر ۲۲مي نیټې پوري يې د افغانستان د صدراعظم په توګه دنده اجرا کړه ، نوموړی په ۱۲۹۹ لمریز (۱۹۲۰ز) کال په کندهار کې زیږیدلی دی . نور احمد اعتمادی د غلام محمد زوی او د عبدالقدوس خان لمسی «عبدالقدوس د افغانستان آزادی (۱۹۱۹ز) کال په جګړه کې د کندهار د جبهې قوماندان و » ده، عبدالقدوس خان د مشروطه غوښتونکو د نهضت او د محمد زیو د کورنۍ غړی و. ۲۰ م۴۱۸

نور احمد اعتمادي د سرادار محمد داودخان پلوي ، د ډاکتر محمد یوسف او میوندوال د حکومتونو پرمهال چې له هغه سره ښې اړیکې درلودې ، هڅه وکړه چې د پاچا او محمد داود تر منځ اړیکي ښې کړي . د ده هڅو مثبته نتیجه ورنه کړه ، نوراحمد اعتمادي د استقلال لېسې څخه له فارغیدو وروسته د پوهنې په وزارت کې په کار پیل وکړ ، وروسته د بهرنیو چارو په وزارت کې په مختلفو څوکیو دنده اجرا کړه. څه موده په کراچۍ او اسلام اباد کې سفیر و ، نوموړ پیاوړی دیپلومات او د میوندوال په کابینه کې د صدراعظم مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر و . ۲۰ م۴۱۸

کله چې محمد ظاهر شاه د ۱۳۴۲ لمریز کال د لړم په ۹ (۱۹۲۷ز کال د نومبر په لومړۍ نیټه نور احمد اعتمادی د حکومت په جوړولو موظف کړ . نوموړي هم د ۱۳۴۲ لمریز کال د عقرب په ۲۳ او ۱۹۲۷ز کال د نومبر په دولسمه نیټه په لاندې ترکیب سره د اعتماد رایه واخیسته.

| | | |
|---|---|---|
| صدراعظم | نور احمد اعتمادي | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ز کال پورې |
| د صدراعظم لومړی مرستیال | ډاکتر علی احمد پوپل | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ز کال پورې |
| دویم مرستیال | عبدالله یفتلي | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ز کال پورې |
| د ملي دفاع وزیر | جنرال خان محمد | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ز کال پورې |
| د بهرنیو چارو وزیر | نور احمد اعتمادي | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ز کال پورې |
| د کورنیو چارو وزیر | ډاکتر محمد عمر وردک | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ز کال پورې |

| | | |
|---|---|---|
| د مالیې وزیر | محمد انور ضیایي | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ زکال پورې |
| د کانو وزیر | انجینر عبدالصمد | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۸ زکال پورې |
| | انجینر محمد حسن مسا | ۱۹۲۸ز-۱۹۲۹ زکال پورې |
| د عدلیې وزیر | ډاکتر محمد اصغر | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ زکال پورې |
| د کرنې وزیر | انجینر محمد اکبر رضا | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ زکال پورې |
| د فواید عامی وزیر | انجینر محمد حسن مسا | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ زکال پورې |
| د پوهنې وزیر | ډاکتر علی احمد پوپل | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ زکال پورې |
| | ډاکتر محمد اکرم | ۱۹۲۹ز-۱۹۲۹ زکال پورې |
| د اطلاعاتو او کلتور وزیر | ډاکتر محمد انس | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ زکال پورې |
| د سوداګرۍ وزیر | ډاکتر نورعلی | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ زکال پورې |
| د پلان وزیر | ډاکتر عبدالصمد حامد | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ زکال پورې |
| د روغتیا وزیر | پیغله کبرا نورزائي | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ زکال پورې |
| مخابراتو وزیر | انجینر محمد اعظم ګران | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ زکال پورې |
| مشاور وزیر | عبدالواحد سرابي | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ زکال پورې |
| د قبایلو مستقل رئیس | سید مسعود پوهنیار | ۱۹۲۷ز-۱۹۲۹ زکال پورې |

۲ م م ۱۹۶او-۹۷

په ۱۹۲۹ ز کال کې د ولسي جرګې له انتخاباتو وروسته نور احمد اعتمادي مجبور و چې د نوې ولسي جرګې څخه بیا د اعتماد رایه تر لاسه کړي ، نوموړي د دویم ځل لپاره خپله کابینه په لاندې ترکیب سره پشنهاد کړه.

## د نور احمد اعتمادي د دویم حکومت غړي

| | | |
|---|---|---|
| صدراعظم | نور احمد اعتمادي | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |
| د صدراعظم لومړی مرستیال | عبدالله یفتلي | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |
| دویم مرستیال | ډاکتر عبدالقیوم | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |
| د ملي دفاع وزیر | جنرال خان محمد | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |
| د بهرنیو چارو وزیر | نور احمد اعتمادي | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |
| د کورنیو چارو وزیر | محمد بشیر لودین | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |
| د مالیې وزیر | ډاکتر محمد امان | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |
| د کانو وزیر | امان الله منصوري | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |
| د عدلیې وزیر | عبدالستار سیرت | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |
| د کرنې وزیر | عبدالحکیم | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |
| د پوهنې وزیر | ډاکتر عبدالقیوم | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| د اطلاعاتو او کلتور وزیر | ډاکتر محمود حبیبي | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |
| د سوداګرۍ وزیر | ډاکتر محمد کبیر عمر | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |
| د پلان وزیر | ډاکتر عبدالواحد سرابي | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |
| د روغتیا وزیر | ډاکتر محمد ابراهیم مجید سراج | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |
| د فواید عامی وزیر | انجینر محمد یعقوب لعلي | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |
| مشاوره وزیره | میرمن شفیقه ضیایي | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |
| د قبایلو مستقل رئیس | سید مسعود پوهنیار | ۱۹۲۹ز- ۱۹۷۱ز کال پورې |

۲ م م ۹۲-او۹۷

نور احمد اعتمادي د باور د رایو تر لاسه کولو وروسته د یو لړ ستونزو سره مخ شو. چې همدغه ستونزې دده د حکومت د سقوط سبب شوې، او هغه دادي:_ دغه اوازه چې په مسکو کې یو محصل د غلام سخي غیرت په نوم د قرانکریم او خدای (ج) د نوم احانت کړی دی ، د کابل په سینماګانو کې د حضرت یوسف (ع) په نامه یو فلم نندارې ته وړاندې شو چې ځینې برخې یې د اسلام د مقدس دین پر ضد وی ، د پرچم په جریده کې پر لینن باندې درود ویل.دغه موضوعات په ډیر افراطي ډول تبلیغ شول، عام خلک او ملایان راوپاریدل، یو شمیر ملایان د پل خشتې په جومات کې سره راټول شول تقریباً (۴۳) ورځی یې په جومات کې تیري کړې ، د دولت پر ضد یې مظاهرې کولې چې د پلازمینې سیاسي او امنیتي وضع یې تقریباً بې ثباته کړه ، ځکه د دوی شمیر وخت په وخت زیاتیده ، د شورا ځینو غړو هم د ملایانو پلوي کوله . په ۱۹۷۰ زکال کې د ټولو سیمو د طالبانو د یو ځای کیدو بهیر مخ په زیاتیدو و. ددې ملایانو مشر مولوي فیضاني به مسجد کې د دولت پر ضد بیانیې ورکولې ، او مهمې غوښتنې یې دا وې:

- په هیواد کې د اسلامي شریعت او حنفي مذهب پوره او کامل تطبیق.
- د پوهنې وزارت په تعلیمي نصاب کې د اسلامي مضامینو زیاتوالی.
- ښځو ته د حجاب په سرول.

حکومت د دوی غوښتنی و نه منلې ، ټول ملایان یې د شپې لخوا په زور سره په عسکري موټرو کې ولایتونو ته انتقال کړل، پاچا د شورا غړې را وغوښتل چې ملایان باید هیڅ ډول دولتي ضد اقدام و نه کړي. ۴۰م۱۰۳

پر دې سربیره د محصلینو او زده کونکو پراخې مظاهرې ، د حکومت په چارو کې د سترې محکمې او د پاچا د کورنۍ لاس وهنې د حکومت د کمزورۍ لامل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې وایي پر اعتمادي یي دومره بده اغیزه وکړه چې ځان ووژني، غوښتل یې چې د قرغې په ډنډ کې ځان ډوب کړي، خو دا خبرې او ګونګوسې چندان رښتیني نه ښکاري، دا چې نوموړی د موجوده ستونزو په حل کې پاتې راغې دا یقیني خبره وه ځکه چې ده کوم سیاسي ګوند هم نه درلود، چې د ستونزو په حل کې له ده سره مرسته وکړي. ده دغه مداخلې د هغه عمل بدل ګڼلې چې ده د ۱۹۷۱ ز کال د اپریل په ۷ نیټه په ولسي جرګه کې د وکیلانو پوښتنو ته هیڅ ځواب و نه ویلې، وکیلانو په غونډه کې د اعتماد رایه مطرح کړه، مګر پاچا نه غوښتل چې د اعتمادي حکومت د ولسي جرګې د نه باور د رایي د استعمال پواسطه سقوط وکړي. په خصوصي ډول په دې بریالی شو چې اعتمادي استعفا ورکړي.

نور احمد اعتمادي د ۱۹۷۱ ز کال د اپریل په ۷ نیټه خپل استعفا لیک پاچا ته وړاندې کړ، پاچا هم دده استعفا قبوله کړه. او ډاکتر عبدالظاهر ته یې دنده وسپارله چې نوي حکومت جوړ کړي.۴۰م۱۰۵

نور احمد اعتمادي په کار پوه، هیواد ته وفادار و، کابینه یې هم په کار پوه اشخاصو څخه جوړه شوې وو. خو هغه وخت سیاسي فضا داسې حالت کې وه چې سیاسي ګوندونو ډیر امتیازات غوښتل او د هیواد سیاسي وضع یې کاواکه کړې وه، دده استعفا په دې معنی نه وه چې دی په کار نه پوهیده، د هغه موخه دا وه که دده په لرې کیدو د هیواد وضع ثبات پیدا کوي او د پرمختګ لپاره لار هوارېږي نوموړي هم له خپلې خوښې څخه د نور په څیر تیر شو او استعفا یې ورکړه.

ډاکتر عبدالظاهر د پاچا د امر په اساس د ۱۳۵۰لمریز کال د ثور په ۲۲ مه نېټه، د ۱۹۷۱ ز کال د مۍ په ۱۲ نېټه د صدراعظم په توګه وټاکل شو. او د ۱۳۵۱لمریز کال د میزان ۲می او د ۱۹۷۲ ز کال د سپتمبر تر ۲۴می نېټې پورې د افغانستان د صدراعظم په توګه دنده اجرا کړه. ښاغلی ډاکتر عبدالظاهر د عبدالقادر ابراهیم خیل زوی په ۱۲۸۹لمریز (۱۹۱۰ز) کال د لغمان ولایت کې زیږیدلی دی. په ۱۳۱۰لمریز (۱۹۳۱ز) کال د حبیبي لیسې څخه فارغ شوی، په ۱۳۱۴لمریز کال د امریکا د کولمبیا پوهنتون څخه یې لیسانس او په ۱۳۱۸لمریز (۱۹۳۹ز) کال د همدې پوهنتون څخه ډاکتري واخیسته او په ۱۳۲۱لمریز کال یې د نوموړي پوهنتون څخه د روغتیا په برخه کې د تخصص ډیپلوم هم واخیسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر عبدالظاهر په ۱۳۳۴لمریز (۱۹۵۵ز) کال د روغتیا وزارت کفیل ، وروسته په کراچۍ او روم کې د افغانستان سفیر ، په یولسمه او دولسمه دوره کې د ولسي جرګې رئیس ، په ۱۹۶۴ ز کال کې د لوی جرګې د رئیس په توګه مختلفې دندې اجرا کړي دي. ۴۰م۱۰۵

اعلیحضرت محمد ظاهر شاه ډاکتر عبدالظاهر ته د ۱۹۷۱ ز کال د مۍ پر ۱۲ او ۱۳۵۰لمریز کال د ثور په ۲۲ نیټه دنده وسپارله چې نوی حکومت جوړ کړي. نوموړی د ۱۹۷۱ ز کال د جولای په ۲ د ۱۳۵۰ لمریز کال د اسد په ۴ مه نېټه وتوانیده چې د ولسي جرګې څخه د باور رایه واخلي او د ۱۹۷۲ ز کال د سپتمبر د میاشتې تر ۲۴مې نېټې پورې د افغانستان صدراعظم و ، د ډاکتر عبد الظاهر د صدارت پر مهال زیات واک د عبدالصمد حامد او محمد موسی شفیق سره و ۲۰م ۴۲۸

نوموړي یو لړ ستونزو لکه د ژبو موضوع، د نوو قوانینو د انفاذ په اړه د محصلینو غوښتنه، وچکالي، د غلې کمبود او په ځینو سیمو کې له لوږې څخه د خلکو مړه کیدل ،د بچیانو خرڅول او نورې هغه پیښې وې چې دده حکومت یې کاواکه کړ. ده د عبدالصمد حامد په مشرۍ یو پلاوې بادغیس او هرات ته ولیږه، ستونزه پیچلې شوه او عبدالصمد حامد په چغچران کې د لاریون کوونکو لخوا په ډبرو وویشتل شو. د پلاوې ځینې غړي تېپیان او د هغوی د استوګنې ماڼۍ ښیښې ماتې شوې. عبدالصمد حامد د غور والي او اداري مسئولین ددې غمیزې مسئول وګڼل ، د هغوی د برطرفۍ او بدلیدو غوښتنه یې وکړه، عبدالصمد حامد بیرته کابل ته را وګرځیدو. غوښتل یې چې ستونزه د وزیرانو په غونډه کې مطرح کړي خو دغه غونډه ونشوه،عبدالصمد حامد خپله دنده پرېښودله، څو ورځې وروسته د درملنې په پلمه اروپا ته ولاړ. حکومت د بادغیس خلکو سره مرسته و نشو کولی، د حکومت د غفلت په اساس خلکو ته ډېر زیان واوښته . ډاکتر عبدالظاهر د ډېري کمې مودې دندې د اجرا نه وروسته د ۱۹۷۲ز کال د سپتمبر په ۲۴ نېټه استعفا ورکړه او پاچا موسی شفیق ته دنده وسپارل چې نوی حکومت جوړ کړي . ۴۰م۱۰۷

د ډاکتر عبدالظاهر د حکومت غړي

| | | |
|---|---|---|
| صدراعظم | ډاکتر عبدالظاهر | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| د صدراعظم لومړی مرستیال | ډاکتر عبدالمجید | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |
| د ملي دفاع وزیر | جنرال خان محمد | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |
| د بهرنیو چارو وزیر | موسی شفیق | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |
| د کورنیو چارو وزیر | امان الله منصوري | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |
| د مالیې وزیر | غلام حیدر داود | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |
| د کانو او صنایعو وزیر | محمد یعقوب لعلي | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |
| د عدلیې وزیر | محمد انور ارغندیوال | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |
| د کرنې وزیر | عبدالحکیم | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |
| د پوهنې وزیر | حمیدالله عنایت سراج | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |
| د مخابراتو وزیر | نصرت الله ملکیار | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |
| د اطلاعاتو او کلتور وزیر | محمد ابراهیم عباس | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |
| د سوداګرۍ وزیر | محمد عارف غوثي | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |
| د پلان وزیر | ډاکتر عبدالواحد سرابي | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |
| د روغتیا وزیر | ډاکترمحمد ابراهیم مجیدسراج | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |
| د فواید عامې وزیر | جنرال خوازک ځلمي | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |
| مشاوره وزیره | میرمن شفیقه ضیائي | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |
| مشاور وزیر | عبدالستار سیرت | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |
| د قبایلو مستقل رئیس | محمد ایوب عزیز | ۱۹۷۱ز-۱۹۷۲ز کال پورې |

۲ م م۹۷-۹۹

ډاکترعبدالظاهر هم د نوراحمد اعتمادي په څیر د ستونزو سره مخامخ و، خو یې هیڅکله نه غوښتل چې د پاچا کورنۍ سره ځان خپه کړي، او هم یې د هیواد ویجاړ سیاست زغملی نه شو. ده هڅه کوله چې هیواد کې اداري او اقتصادي اصلاحات عملي کړي او د نورو هیوادونو له تجربو څخه ګټه واخلي، خو ده ته هم د نور په څیر سیاسي ستونزي پیدا شوي. د وینو د تویولو پر ځای یې د څوکۍ پریښودل بهتر وګڼل.

محمد موسی شفیق د ډاکتر عبدالظاهر تر استعفا وروسته د پاچا په امر د ۱۳۵۱لمریز کال د قوس په ۱۲مه، ۱۹۷۲ زکال د ډسمبر په ۲۴ نېټه د افغانستان د صدراعظم په توګه وټاکل شو، چې د ۱۳۵۲لمریز کال د چنګاښ تر ۲۲مې او د۱۹۷۳ز کال د جولایي تر ۱۷نېټې پورې دنده اجرا کړه. ښاغلی موسی شفیق د مولوي محمد ابراهیم کاموي زوی او په ۱۳۱۰ لمریز کال په کابل کې زیږدیدلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړنۍ او منځنۍ زده کړې يې د جلال آباد په نجم المدارس او د ابوالحنيفه په مدرسو کې پای ته رسولې. د مصر له الازهر پوهنتون څخه يې د حقوقو په څانګه کې د ليسانس اخېستلو وروسته له همدې پوهنتون څخه يې د قضا په څانګه کې مافوق ليسانس درجه واخېسته ، نوموړی د کولمبيا په پوهنتون کې د حقوقو په بين الدوله څانګه کې د مافوق ليسانس د سند په اخېستلو بريالی شو او د امريکې د هارورد له پوهنتون څخه د نړيوالو مسايلو په څانګې کې برې ليک ترلاسه کړ. ۲۰م۴۳۹

ښاغلی موسی شفيق د زده کړو د پای ته رسولو او هيواد ته د راستنيدو سره سم د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو په پوهنځي کې د استاد په توګه مقرر شو . نوموړی وروسته د عدليې وزارت د قوانينو د مدير ، د عدليې وزارت د تقيقني چارو رئيس ، د عدليې وزارت معين، د اساسي قانون د مطالعې د کميسون غړی ، د ۱۳۴۳ لمريز کال د اساسي قانون د لوي جرګې منشي، د بهرنيو چارو د وزارت سلاکار، په قاهره، بيروت، خرتوم او اګره کې د افغانستان د سفير په حيث دندې اجرا کړې. همدارنګه موسی شفيق د اتن په ښار کې د حقوق پوهانو او په لاهور کې د ختيځ پيژندونکو ټولنه کې د غړې په توګه ګډون کړی، او په ژنيو کې د اتومي وسلې لرونکو هيوادونو په غونډه کې د افغاني هئيت رئيس و . نوموړی په پښتو ، دري، عربي ، انګليسي او فرانسوي ژبو ويل او ليکل کولی شول. د ډاکترعبد الظاهر له استعفا دوه ورځې وروسته د پاچا لخوا د ۱۹۷۲ ز کال د دسمبر په ۲۴ او د ۱۳۵۱لمريز کال د ليندۍ په ۱۲ نېټه د کابينې په جوړولو موظف شو. ۲۰ م م ۴۳۹-او ۴۴۰

## د موسی شفيق د حکومت غړي.

| | | |
|---|---|---|
| صدراعظم | محمد موسی شفيق | ۱۹۷۲ز-۱۹۷۳ ز کال پورې |
| د ملي دفاع وزير | جنرال خان محمد | ۱۹۷۲ز-۱۹۷۳ ز کال پورې |
| د بهرنيو چارو وزير | محمد موسی شفيق | ۱۹۷۲ز-۱۹۷۳ ز کال پورې |
| د ماليې وزير | محمد خان جلالر | ۱۹۷۲ز-۱۹۷۳ ز کال پورې |
| د کانو او صنايعو وزير | غلام دستګير عزيز | ۱۹۷۲ز-۱۹۷۳ ز کال پورې |
| د کرنې وزير | ډاکتر عبدالوکيل | ۱۹۷۲ز-۱۹۷۳ ز کال پورې |
| د پوهنې وزير | ډاکتر محمد ياسين عظيم | ۱۹۷۲ز-۱۹۷۳ ز کال پورې |
| د مخابراتو وزير | نصرت الله ملکيار | ۱۹۷۲ز-۱۹۷۳ ز کال پورې |
| د اطلاعاتو او کلتور وزير | صباح الدين کشککي | ۱۹۷۲ز-۱۹۷۳ ز کال پورې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| د پلان وزير | ډاکټر عبدالواحد سرابي | ۱۹۷۲ز-۱۹۷۳ ز کال پورې |
| د فوايد عامې وزير | جنرال خوازک ځلمی | ۱۹۷۲ز-۱۹۷۳ ز کال پورې |

۴۰ م ۱۲۰

موسی شفيق راتلونکي انتخابات و ځنډول، د ځينو جريدو مسئولين يې په دولت کې مقرر کړل، د لوړو زده کړو د وزارت اساسنامه يې جوړه کړه، په کابل راډيو او خپرونو کې رسماً اذان شامل کړ، ټولو سياسي ګوندونو ته يې خبر ورکړ چې له دې وروسته د دولت پرضد مظاهرې نه شي کولی، ده غوښتل چې نوی کړنلاره په شورا کې تصويب کړي خو وخت يې پيدا نکړ، نوموړي غوښتل چې په حکومتي چارو کې د سلطنتي کورنۍ د لاسوهنې مخه ونيسي ، موخه يې د محمد داود خان مخه نيول و. داسې ګومان کېده چې داود خان د ځينو سياسي ګوندونو ملاتړ کولو.

موسی شفيق د ۱۹۷۳ ز کال د جولای په ۱۲ او د ۱۳۵۲لمريز کال د سرطان په ۲۵ نېټه د مازيګر په پنځو بجو پاچا ته د تيلفون په کرښه په هيواد کې د کرارۍ او امنيت راپور ورکړ، خو ۹ ساعته وروسته همغې شپې ( ۱۳۵۲لمريز کال د چنګاښ $\frac{25}{26}$شپه) په دوو بجو د سردار محمد داود خان له لورې کودتا پيل شوه، او په پنځو ساعتونو کې يې د سلطنت کمبله ورټوله کړه. د سهار پر (۷) بجو د سردار محمد داود په وينا سره په هيواد کې سلطنتي نظام رنګ او پر ځای ئې جمهوري نظام اعلان شو. ۴۰م ۱۲۲

د سردار محمد داود خان د کودتا وروسته زمونږ د هيواد سياسي او ټولنيزو پيښو نوی بڼه غوره کړه. په لومړيو وختونو کې مترقي او چپي ګوندونو دده پلويتوب کاوه، دده پروګرامونه يې تائيدول او د هيواد د پر مختګ لپاره يې موثر ګڼل.

د ديموکراسۍ لسيزه که څه هم د هيواد سياسي وضع د څو حکومتونو په راتګ او له منځه تګ سره کاواکه کړه خو په هيواد کې د لومړي ځل لپاره د ديموکراسۍ پلوشې وځليدلې . په هيواد کې درې ډوله مطبوعات رامنځ ته شول . چې عبارت وو له : دولتي مطبوعاتو، ګوندي مطبوعاتو او ازاد مطبوعاتو څخه . دا ټولې خپرونې په کابل کې خپريدلې چې مونږ دلته په مجموع کې د ټولو جريدو يادونه کوو، لکه: وحدت، پيام امروز، افغان ملت، خلق، مردم، مساوات ، پيام

(c) ketabton.com: The Digital Library

وجدان، پرچم، صدای عوام، شعله جاوید ، ترجمان، صبا ، کاروان، خیبر، ګهیځ، پروانه، هدف، جبهه ملی، پکتیا ، سپیده دم، افغان ولس، اتحاد ملی ، روزګار افغان، نداي خلق، ملت ، افکار نو ، پیکار او شوخک په نومونو خپریدلی، چې مختلفې ایدیالوژګانې او ارمانونه یې خپرول، که څه هم ددوي عمر لنډ و ، خو بیا یې هم په ځوانانو باندې ډیره اغیزه وکړه، له دې امله ددیموکراسۍ لیسزه د مطبوعاتو د تجربې دوره هم ګڼل کیږي. خو د داود خان له کودتا وروسته دا ټولې مصادره او یوازې دولتي خپرونې خپریدی .....

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د سلطنت سقوط او د سردار محمد داود خان واک ته رسیدل

### د ۱۳۵۲ ل کال د چنګاښ ۲۲مه – ۱۳۵۷ ل کال د ثور ۷مه
### د۱۹۷۳ ز کال د جولای ۱۷مه – ۱۹۷۸ ز کال د اپریل۲۷ مه

سردار محمد داود خان ددی واقیعت په پوهیدو سره چې د پاچا( محمد ظاهر شاه ) په واکمنۍ کې دده له پاره د سیاسي فعالیت او خپل هدف ( واک) ته د رسیدو زمینه نه ده برابره ، ځکه یې له دندې څخه په ۱۳۴۱ لمریز ( ۱۹۶۲ز) کال کې استعفا وکړه . هیله یې دا وه چې د پاچا له احسان پرته دسیاسي فعالیت په پایله کې واک ته ورسیږي . تر څو د هیواد په سیاسي ، اقتصادي او ټولنیز بدلون او پر مختګ کې موثر نقش ولوبوي.

پاچا او هغه ته نږدې کسانو لکه مارشال شاولي خان او سردار عبدالولي خان د سردار محمد داود په پریکړه ( استعفا ) ډیر خوښ شول . ځکه دوی ( مارشال شاولي خان او جنرال سردار عبدالولي خان ) نوموړي د ځان له پاره په راتلونکي کې ستر خنډ ګڼلو خو پاچا د داود خان په پلان او هیلو باندې ښه پوهیده. دوي ټولو کوښښ کاوه چې هغه (داود خان ) هیڅکله په سیاسي ډګر کې داخل او قوي نشي ،چې د ۱۳۴۳لمریز کال د بنسټیزه قانون د (۲۴) مادې له تصویب وروسته د دوي دا هیله پوره شوه. په نوموړې ماده کې لومړی د پاچا کورنۍ او د هغوي ځینو دندو ( صدارت ، وزارت او ستره محکمې ریاست ) په ټاکنو کې ګډون او واک ته رسیدل منع شوي وو. داود خان تقریباً ( ۱۰ ) کاله په انزوایې ( ګوښه توب ) تیر کړل.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د ديموکراسي د دورې په ورستنيو کلونو کې د داود خان پرته د دوو نورو کودتاګانو (د سردار عبدالولي او د هغه پلار شاولي خان) خبري هم کيدلې، خو داود پردوی باندې ړومبی شو، هغو کسانو چې ددې کودتاه په لاربنوونه او بريالیتوب کې فعاله ونډه درلوده عبارت وو له: سردار داود خان او د هغه مرستيال محمد حسن شرق. غلام حيدر رسولي، محمد سرور نورستاني، مولاداد او محمد يوسف د ټانکيستانو سرګروپان وو، پاچا ګل وفادار او عبدالحميد (محتاط) دهوايي قواو انجينران، سيد عبدالله، غوث الدين فايق او عبدالقدير د سرګروپانو تر مينځ د اړيکو د ټينګولو مسئولين وو. په دغو کسانو سربيره د کابل ښار ځينو سيارو نظامي ټولګيو لکه د کوماندو (۴۴۴) قطعه د ښاری انظباط قطعه او د سلطنتي ګارد د ساتنې قطعه هم برخه درلوده او د نظام په بدلون کې يې اغيزمنه ونډه اخيستې وه. د (۴مې) او (۱۵مې) زغره والو ليواګانو څخه (۷۰) ټانګونه او (۲۰۰) تنه پرسونل د سرور نورستانې، محمد يوسف، او مولاداد تر قوماندې لاندې تياری درلود. د کوماندو د (۴۴۴) لوا څخه (۱۲۰۰) تنه وسله وال کسان د فيض محمد خان او هدايت الله خان د امر لاندې د کودتاه لپاره اماده وو. د ښاري انضباط له قطعي څخه (۴۰۰) تنه وسله وال د ضياٴ مجيد او محمد نبي عظيمي د امر لاندي د قوماندي منتظر وو.(۲۱ م ۵۳۹)

د پراشوت او سلطنتی ګارد له قطعو څخه (۳۰۰) تنه وسله وال او (۱۰) عرادي ټانکونه د عبدالقادر مياخيل او حبيب الله زرمتي د امر لاندي اماده وو. د ملی دفاع وزارت د څانګو او رياستونو (۱۰۰) تنه وسله وال افسران د حسن شرق او غوث الدين فايق د امر لاندې تيار وو. په دې ترتيب (۲۲۰۰) تنه وسله وال کسان د فوځ په قطعاتو کې د (۸۰) عرادو ټانکونو او مجهزو وسايلو سره د کودتا له پاره تيار وو. د ځکمنيو قطعاتو په خوا کې هوايي او مدافع هوايي قطعاتو، د خواجه رواش او باګرام پيلوټان او تخنيک ګران هم د لومړی بريدمن پاچا ګل وفادار او لومړي بريدمن عبدالحميد محتاط د امر لاندې تياري درلوده. د مهتاب قلعه (۸۸) توپچې لوا کې تورن خليل الله هم د کودتا کوونکو سره د مرستې وعده کړې و، چې نوموړی قطعه به ددوي په ګټه استعمالوي، او ټولو قطعاتو سره د پاچا ګل وفادار، عبدالحميد محتاط مرتضی قل او محمد اصف پواسطه اړيکې ټينګيدلي.(۲۱ مم ۵۳۹او ۵۴۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دکودتا پیل:

لومړې د خواجه رواش له هوايي ډګر څخه د مخابري يوه دستګاه په پټه د سردار محمد داود خان کور ( د کودتاه د قوماندي محل ) ته انتقال شوه. او بله د ضيا مجيد په واسطه د ښاري انضباط په قطعه کې ځای پرځای شوه. په دې وخت کې محمد ظاهرشاه د سترګو د علاج لپاره ايټاليې ته تللی و، دا چې داود خان د کودتاه د برياليتوب په هکله فکر وکړی د پاچا په غياب کې په کودتاه باندي شرميده، خو دده تصميم قاطع و ځکه حسن شرق ته يې دستور ورکړی و چې د ناکامۍ په صورت کې بايد هغه (داود خان) ووژني. (۲۱ م ۵۴۰)

د ۱۳۵۲ لمريز کال د چنګاښ $\frac{25}{26}$ او د ۱۹۷۳ز کال د جولاي په $\frac{16}{17}$ نېټه د عراق په سفارت کې د هغه هيواد د ملي ورځی په مناسبت په کابل کې د هغه هيواد سفير يوه ملمستيا ترتيب کړی و . چې په دې ميلمستيا کې د پاچا د کابينې په يو شمير وزيرانو او لوړ رتبه مامورينو سربيره د دفاع وزير جنرال خان محمد او سردار عبدالولي هم ګډون کړی و. له دې ميلمستيا وروسته يې په هغه ميلمستيا کې چې د امريکا د سفير په کور کې د هغه هيواد د نظامي اتشې د پيژندنې په خاطر جوړه شوې وه ګډون وکړ، د ښو غذاګانو او خوندورڅيزونود څښلو وروسته خپلو کورونو ته د استراحت له پاره ولاړل. د شپې په يوه نيمه بجه کودتا کوونکو د لاندي پلان مطابق کودتاه پيل کړه. د سردار عبدالولي خان (د پاچا زوم او د مارشال شاولي خان زوی) نيول او د سلطنتي ګارد د پرسونل بې وسلې کول او د کابل د هوايي ډګر نيول د کوماندو د (۴۴۴) قطعې په واسطه ، د ښاري انضباط (۷۷) قطعې په واسطه د ملي دفاع وزير، مارشال شاولي خان ، د افغانستان راديو نيول او دنيولو موظفو ګروپونو ته د وسلې ويشل. د شهزاده احمد شاه (چې په دغه وخت د سلطنت وکيل هم و ) نيول د کوماندو د (۴۴۴) قطعې په مرسته ، د فوځ د فعالو قوماندانانو نيول په هره قطعه کې د کودتاه د ملګرو پواسطه ، د اړتيا په وخت د ښاري انضباط يا پاراشوت د قطعو څخه د مرستې غوښتنه کيده. د کابل د ښار نيول د (۴ مې ) او (۱۵ مې ) زرهدارو لوا وو دټانګونو پواسطه. (۲۱ م ۵۴۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان خلک مخصوصاً د کابل د ښار اوسیدونکي لا په خوارهٔ خوب ویده وو خو ښار د یو عظیم طوفان په څپو کې د ډوبیدو په حال کې و، او نوي سیاسي فضا د راتلو په حال کې وه چې $\frac{25}{26}$ سرطان۱۳۵۲ لمریز کال $\frac{16}{17}$ جولاي ۱۹۷۳ز کال د شپې په یو نیمه بجه سردار محمد داود خان په قاطع تصمیم سره په خپل کور کې د بیسیم دستگاه شاته کښیناست د خبرو غوږۍ (گوشی) یې واخیسته د کوماندو او د انضباط د قطعې ټانگونو ته یې د ټاکل شویو موخو پر لور د حرکت قومانده ورکړه، یوه دقیقه وروسته د زرهدارو ټانگونو غږ په ارگ او بالاحصار کې واوریدل شو، مؤظفو گروپونو په ډیرې چټکۍ سره لاس په کار شول. د فیرونو له اوریدو وروسته ډیر ژر دوه بجې او شل دقیقې د افغانستان مرکزي مخابره ونیول شوه، او په ټول افغانستان کې مخابراتي سیستم فلج شو. د کودتاد پلان نه د خارجو قوتونو تر منځ مخابراتي اړیکې قطع شوي. د شپې تر ۳ بجو پورې سلطنتي گارد د کودتاچیانو په واک کې راغی او د سهار تر (۲) بجوپوري هغه کسان چې باید نیول شوي وای دنیولو وروسته د عبدالقدیر کور ته انتقال او تر نظارت لاندې ونیول شول، د کابل ټول ښار د کودتاچیانو تر کنترول لاندې راغی په دې ترتیب د ظاهرشاه تقریباً نیمه پیړۍ سلطنت په څلور نیمو ساعتونو کې له منځه ولاړ. (۲۱ م ۵۴۱)

سردار محمد داودخان پوره لس کاله (۱۳۴۱ – ۱۳۵۲) لمریز کال (۱۹۲۳ - ۱۹۷۳) په انزوا څخه وروسته . د ۱۹۷۳ ز کال د جولاي په ۱۷ یا د چنگاښ ۲۲ نېټه واک ته ورسید . دا چې په افغانستان کې څه پیښ شوي وه . خلک پرې نه پوهیدل ، مگر د ملی اتن هغه نغمې چې له رادیو څخه خپریدلې خلک په دی گومان کې اچولي وو، چې په دولتي سطحه کوم بدلون منځته راغلی دی هر څوک به د خپلې رادیو خواته غلی ناست و . او وضع یې څارله. (۳۳ م م ۲۸۱ او ۲۸۲)

د سهار ۷:۲۰ اوه بجې او شل دقیقې سردار محمد داود خان په داسې حال کې چې د اوړي کمیس او دریشي (چې عسکری رنگ یې درلود) یې په تن کې وه. د حسن شرق ، حیدر رسولي ، ضیا مجید او د کودتاه یو شمیر سرگروپان ورسره د افغانستان د راډیو تالار ته ورغلل د ښاري انظباط د قطعې له خوا د احترام مراسم پر ځای شول . داود خان د احترام د مراسمو له منلو وروسته سټیډیو ته داخل شو . د راډیو له یوه نطاق مهدي ظفر څخه یې وغوښتل چې انانس ورکړي او ووایي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس بـه سـردار محمـد داود خـان خپلـه وينـا واوروي. داود خـان ورتـه وويـل وروره:
وروسته له دی ما او بل هيچا ته د سردار خطاب ونه کړي، د سرداری بسـتره نـوره پـه
افغانسـتان کې ټوله شوه. مهدي ظفر له يوې لنډې وينا وروسـته داود خـان تـه د خبـرو
بلنه ورکړه هغه خپله وينا په لاندې توګه پيل کړه او ويې ويل:

(( بسم الله الرحمن الرحيم ))

ګرانو ورونو او خويندو اسلام عليکم!

زه مخکې هم د ډيرو مسؤليتونو په درلودلو سره د خلکو په خدمت کې وم، ما
تـل هڅـه کـړی چې د افغانسـتان د خلکو پـه ځانګړې توګـه د محرومـو طبقـاتو او د
هيواد د ځوان نسل دمادي او معنوي پرمختـګ لپـاره يـو ريښتني او واقعـي محيط
جوړ کړم تر څو زمونږ ټول هيـوادوال د تبعـيض او امتيـاز پرتـه د هيـواد پـه ابـادۍ او
پرمختـګ کې فعالـه ونډه واخلي پـه دې مـوده کې مـونږ کوښـښ وکـړ، تـر څـو هغـه
عوامل او ستونزي چې دې موخې ته په رسيدو کې زمونږ لپاره خنډونـه ايجـادوي پـه
تدريجي ډول له مينځه يوسو. همدرانګه مونږ کوښښ وکړ چې په هيواد کې د اعتبار
او اعتماد وړ امنيت ټينګ شي، تـر څـو د مثبتـو اقتصـادي او ټـولنيزو بـدلونونو لـه
پاره زمينه برابره شی، ځوان نسل د مصئونيت احساس وکړي، د ارتجاعي او ناکـاره
مفکورو د رشد مخه ونيول شي نو دې مـوخې تـه د رسيدو او پلي کيـدو لـه پـاره بلـه
لاره نه وه تر څو د هيواد په سياسي وضع کې بدلون رانه شي.

مـا د هيـواد د راتلـونکې نيکبختـی لـه پـاره پـه هيـواد کې د يـوې معقـولې
ديموکراسی څخه پرته چې بنسټ يې د افغانسـتان د اکثريت محرومـو خلکـو تـه پـه
خدمت ولاړ وي بله لاره نه درلوده او نه يې لرم...

زما په نظر د داسې يوې ټولنيزې وضعې د رامنځ تـه کيـدو اصلي بنسـټ د
خلکو د ټولو حقوقو تامين او د ملی حاکميت په اصل باندې په کامل ډول عمـل کـول
دي، چې دی دواړو پورتنيو اصلونو تـه پـه پټـه او ښـکاره ضـرر ونـه رسـيږي، همدغـه
مقدسه هيله وه چې زه او زما ملګري يې دېته اړ کړل چې پاچا ته اخرني وړانديز هم د
افغانستان د خلکو د خير او نيکمرغی په خاطر وړاندې او د تطبيـق هيلـه مـو وکـړه،
خو زمونږ دغه مقدسه هيله په هيـواد کې پـه ګـډوډۍ او انارشيزم بدلـه شـوه. زمـونږ
ځيني ضعيف النفسه ملګرو اصلی موخه پريښـوده او غلطه لار يې تعقيب کړه. چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې موضوع بيان يو لوی داستان دی چې تفصيل يې په لنډ وخت کې ناشونی کار دی. په هر صورت پايله يې دا شوه چې زمونږ نيکي هيلې، ارزو ګاني او پخواني اميدونه په يوه قلابي ديموکراسي چې له لومړی ورځی څخه يې بنسټ په شخصی او طبقاتي عقدو ، درواغو او د خلکو په تير ايستلو ولاړ و بدل شول. خو دوي د ډيرو درواغو پروپاګندو او تبليغاتو پواسطه هم ونه توانيدل چې د هيواد دغه اوسنی اقتصادي، اداري، سياسي او ټولنيز مطلق رکود دافغانستان د ملت او نړيوالو په يوه مطلق العنانه رژيم باندې بدل او ټول قوتونه په خپل مينځ او ملت سره په جګړه او زور وهلو اخته شول. دی فارمول چې نفاق واچوه حکومت وکړه په ټول هيواد کې د جګړې اور بل کړ- دوی غوښتل چې په داسې د غم او درد نه ډک حالت کې خپلو موخو ته ورسيږي.

هيواد پاله او بادرده ځوانان د هيواد په هر ګوټ کې چوپ وو خو د هيواد دې وضعې ناقراره کړي وو. دوي ټول خصوصاً د فوځ بادرده منسوبينو هيله دا وه چې دغه فاسده دستګاه او فرسوده وضع بدله شي، د تحمل او صبر څخه يې کار واخيست خو دولتي دستګاه دومره فاسده شوې وه چې نور يې د اصلاح هيله بې ځايه وه. نو ځکه د هيواد وطنپرستانو خصوصاً فوځ پريکړه وکړه چې فاسد رژيم ته خاتمه او د افغانستان خلکو ته له دې بدبختی څخه نجات ورکړي.

ګرانو هيوادوالو! تاسې ته بايد خبر درکړم چې نور شاهي نظام له مينځه ولاړ او نوي جمهوري نظام چې د اسلام د روحې سره سمون لري د مخکينې نظام ځای ونيو. زه او زما ملګري د زړه له کومې تاسې ته د افغانستان د لومړني جمهوري نظام مبارکي وايو. د خدای (ج) له دربار څخه غواړم چې دا نظام د افغانستان د خلکو له پاره د سعادت، نيکمرغی، برياليتوب او خوښۍ نظام وي.

د افغانستان د سرلوړي او فداکار فوځ غړو د هيواد په هر ځای او سيمه کې چې ياستئ ،د دغه برياليتوب له امله تاسې ټولو ته مبارکي وايم. باور لرم چې د تير په څير خپلو دندو ته چې د هيواد د امنيت ټينګښت او د افغانستان د ملي حاکميت ساتنه ده ادامه ورکړئ، نوی نظام حتماً له ځان سره بنسټيز بدلونونه لري چې د هغو تفصيل به په دې لنډ وخت کې ناممکن وي، په نږدې راتلونکې کې به دغه بدلون ټولو هيوادووالو ته ابلاغ کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان بهرنی سیاست به بې طرفه، ناپېیلتوب او په نظامي پکتونو کې نه ګډون، او د افغانستان د خلکو د ازاد قضاوت د اصولو پیروي کوي. د جمهوري دولت سیاست د افغانستان د اړتیا او د هیوادوالو د مادي او معنوي ژوند مطابق طرحه شوی دی. زمونږ د هیلو او کوښښونو څخه په ډاګه معلومېږي چې زمونږه لومړنۍ غوښتنه نړیواله سوله ده. هیڅ هیواد له نړیوالې سولې پرته نه شي کولای چې خپلو ملي موخو ته ورسیږي. مونږ هم له ټولو څخه زیات د خپل هیواد پرمختګ ته اړ یو، په دې وجه مونږ په نړۍ کې له هر څاڅخه نړیوالې سولې ته اړتیا لرو د افغانستان د بهرني سیاست بنسټ د نړۍ ټولو ملتونو او هیوادونو سره په سوله او دوستۍ باندې ټینګ دی. مونږ د هیڅ هیواد له خلکو سره لرې او کنږدې دي، هیڅ ډول تبعیض نه لرو زمونږ دغه کړنلاره د افغانستان د خلکو د ښه نیت زیږنده ده.

د افغانستان عنعنوي بې طرفي د افغانستان د خلکو د استقلال، آزادۍ، صمیمیت او ښه نیت څخه نمایندګي کوي. افغانستان تل د لویو قدرتونو او ګاونډیو هېوادونو سره خپلې اړیکي ټینګې ساتي او ددې اړیکو د پراختیا له پاره به هڅه وکړي، چې د شخصي او دیپلوماتیکو تماسونو پواسطه نړیواله مرسته جلب او کوښښ به وکړو چې د دغو هڅو او اړیکو څخه مثبتي پایلې لاسته راشي.

دغه نظام د ملګرو ملتونو د منشور اساسات چې موخه یې د بشري نړۍ نیکمرغي او ارامي ده محترم ګڼي. یوازې د پاکستان هیواد سره مونږ د پښتونستان د مسئلې پر سر اختلاف لرو. تر اوسه مونږ ددې موضوع په حل باندې بریالي شوی نه یو، د پښتونستان د قضیې د حل له پاره به زمونږ هڅې تل دوام ولرې.

په اخر کې یو ځل بیا د خپلو و طنپرستو هیوادوالو خصوصاً د پوځ څخه چې په دې لوی ملي بریالیتوب کې د هیڅ ډول کوښښ او سرښندنې څخه سرغړونه ونه کړه د زړه له کومې مننه کوم او د احترام مراتب ورته وړاندې کوم.

څرنګه چې زما هیلي او هڅې په دې ځای کې پای ته نه دي رسیدلې په دې برخه کې د ټولو هیوادوالو خصوصاً ځوانې طبقې همکاري زما د زړه غوښتنه ده او ددوی همکارۍ ته امیدواریم.))

ژوندی دی وي افغانستان

تـــل دې وي جـــمهوریـــت .( ۲۲ م م ۱۴۵ ، ۱۴۲ او ۱۴۷ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سردار محمد داود خان دې لومړنۍ وينا پر خلکو خصوصاً په ځوانانو، روڼ اندو، د چپي او مينځ لارو گوندونو پر غړيو باندې ژوره اغيزه وکړه. ځکه هغوي فکر کاوه چې نور پر دوي سياسي فشار کم او د ټاکنو له لارې دوي ته په دولتي واک کې د گډون لاره پرانستل شوه. ديموکراسي به په ريښتني ډول پلي شي. خو داسې ونشول، داود خان د واک په اخرو وختونو کې د خپلو نږدې ملگرو له خوا منحرف او يوې خواته يې هم ميلان ونښود. کيڼ اړخ او ښي اړخ، حتی منځ لارې گوندونه يې هم وځپل، چې دغه راز کړنو دده لپاره په هيواد کې سياسي ستونزې نورې هم زياتې کړې، او بالاخره نوموړی خپلو موخو ته په رسيدو کې پاتې راغی، له بله پلوه يې شاهي کورنۍ سره هم له عقدې ډک برخورد څخه کار واخيست. د صدارت له وخت څخه ورپاتې سياسي ستونزې بيا تازه او د خپلو کورنيو او سياسي مخالفينو له مينځه وړل يې پيل کړل. ده هرڅه د خپلې رهبرۍ لاندې غوښتل، همدغه لا امل و چې ډير ژر يي د مخالفينو په بندي کولو پيل او هغه کسان چې له کودتا وروسته بنديان شول. عبارت وو له :- د سلطنت د مقام وکيل شهزاده احمد شاه، مارشال شاه ولي خان، د مرکزي قوا و قوماندان سردار عبدالولي خان، صدراعظم موسی شفيق، د دفاع وزير ستر جنرال خان محمد خان، هوايي او د هوايي مدافع قوا و قوماندان جنرال گلبهار، د سلطنتي گارد قوماندان غلام محمد، د توپچي لواء قوماندان جنرال قمرالدين ((ناصري))، د کوماندو د قوې قوماندان ډگروال رحمت الله خان ساپی، دريشخور فرقی قوماندان جنرال عبدالحکيم خان کتهوازي، د قرغی د اتمي فرقی قوماندان جنرال علی نواز خان، د څلورمې زرهي قوې قوماندان جنرال محمد خان، د پنځلسمې زرهي قوې قوماندان جنرال حسين خان، د ژاندارم او پوليسو عمومي قوماندان جنرال سيدعبدالغنی پاچا، سرياور جنرال محمد عمر خان چې د کودتا پر سهار د شهزاده احمد شاه کور ته ورغلی و، له هغه ځايه دوي ټول د عبدالقدير نورستاني کور ته يوړل شول، ډاکتر نعمت الله پژواک په خپل کور کې تر نظارت لاندې ونيول شو چې ورسته يي د محمد داود خان په کابينه کې د پوهنې وزير په توگه دنده اجرا کوله. د کابل د امنيې قوماندان ډگرمن عبد الحنان او د کابل سرمامور هم په دغه شپه بنديان شول. يو څه يې ډير ژر خوشې شول او نور يې دهمزنگ ته انتقال کړل، مارشال شاولي خان يې په خپل کور او سردار عبدالولي خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې په ارګ کې تر نظارت لاندې ونيول ، د کودتاه پر سهار ځينې وزيران چې دندې ته تلل د بريکوټ په سيمه کې له نيولو وروسته د لږ وخت له پاره په ژوبڼ کې تر نظارت لاندې ونيول شول. ( ۴۱ م م ۲۲۳ او ۲۲۴ )

محترم ډاکتر عاصم اکرم پورتني اشخاص تائيدوي او زياتوي چې د کابل ، قندهار، مزار شريف او شينډنډ د هوايي ډګرونو قوماندانان هم ونيول شول. ( ۷ م ۱۹۲ )

د کودتا د بريالیتوب نه يوه ورځ وروسته ( ۲۷/ چنګاښ/ ۱۳۵۲ ل کال) لومړنۍ مرکزي کمېټه جوړه شوه، چې غړي يې عبارت وو له : سردار محمد داود خان رئيس ، داکتر محمد حسن شرق منشي ، جنرال غلام حيدر رسولي، ډګروال محمد سرور نورستاني، ډګرمن عبدالقدير نورستاني د ترافيکو افسران ، ډګرمن محمد يوسف، جګړن مولاداد ، جګړن خليل الله، ډګروال غوث الدين فايق، جکتورن عبدالحميد محتاط، او سيد عبدالله د غړو په توګه تعين شول. مرکزي کمېټې په لومړي ناسته کې سردار محمد داود خان د جمهوريت د مؤسس په توګه و پيژانده. د جمهور رئيس او صدراعظم په توګه يې وټاکه. کودتاه کوونکو ته د بخششي رتبو ، تنخواګانو په لوړولو او پر فوځي څوکيو د هغو د ټاکنو پريکړې هم وکړې . او مهمو څوکيو لپاره يې مسؤلين په لاندې توګه و ټاکل: عبدالقدير نورستاني د ژاندارم او پوليسو د عمومي قوماندان په توګه ضياء مجيد د جمهور رئيس سرياور او د جمهوري ګارد عمومي قوماندان ، خليل الله د (۸۸) توپچي لواء د رئيس ارکان، سرور نورستاني د څلورمي زرهي قوي قوماندان، يوسف د (۱۵مې) زغروالي قواو قوماندان ، مولاداد د رئيس ارکان، جګړن محمد نبي عظيمي د مرکزي قول اردو د (۷۱۷) ښاري انظباط د قطعې قوماندان او ستارخان د رئيس ارکان په توګه ، جګړن هدايت الله د کوماندو د (۴۴۴) قطعې قوماندان، غلام نبي فراهي د اوومې (۷) فرقې قوماندان، ډګروال سيد امير او ډګروال عبدالقادر په هوايي او مدافع هوايي قواو کې د رئيس ارکان په توګه مقرر شول . سردار محمد داود خان د ۱۳۵۲ لمريز کال د چنګاښ په (۲۷) نيټه د دفاع وزارت چارې په خپل لاس کې ونيولې. ( ۲۱ م م ۵۴۴ او ۵۴۵ )

په دې مرکزي کمېټه کې د ځينې کينڼ اړخو عناصرو موجوديت يو شمير کارپوهان په دې باور کړي وو چې سردار محمد داود خان د کمونستانو ( چپيانو ) تر اغيزې لاندې دي، خو له دوی سره ملګرتيا د هغه ( داود خان ) مجبوريت و . چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

واک ته د رسیدو لپاره باید د باسواده کارپوهه افسرانو څخه ګټه واخلي. خو دغه افسران چې په شوروي اتحاد کې یې زده کړې کړې وي او د هیواد د ابادي (ترقی) فکر یې درلود، د داود خان سره د شاهي نظام په له منځه وړلو کې موافق وو . هغوی دې موخې ته د رسیدو لپاره د سردار محمد داود خان د وجود، ټولنیز نفوذ او د پاچا د کورنۍ د غړی په توګه له هغه څخه ګټه اخېسته. له بل پلوه داود خان یو مترقی پروګرام درلود چې د هغې تطبیق د ټولو روڼ اندو لپاره د منلو وړ و. دغه دواړه لوري (سردار محمد داود خان او چپیان) په دې فکر کې و چې څه ډول یو د بل له سیاسي، ټولنیز او نظامي نفوذ څخه ګټه واخلي.

سردار محمد داود خان لارښونکی عمل کاوه او دخپل میل سره سم د بدلون غوښتونکی و. د سردار محمد داود خان د کودتا په بریالیتوب کې هیڅ بهرني ځواک مستقیم نقش نه درلود. دا یو افغاني حرکت و. افغاني اهداف یې درلودل. ده هیله درلوده چې د واک د ټینګښت نه وروسته به د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند نفوذ کمزوري کړي.دوه اونۍ وروسته (۱۳۵۲لمریز) کال د اسد په ۱۱ نېټه مرکزي کمېټې د سردار محمد داود خان په مشرۍ غونډه وکړه او هغه کابینه چې د صدراعظم (محمد داود خان) لخوا غونډې ته پشنهاد شوه د غونډې له خوا په مطلق اکثریت تائید شوه. د دفاع او بهرنیو چارو د وزارتونو دندې یې هم محمد داود خان ته وسپارلې. (۲۱ م ۵۴۲)

## د جمهوریت لومړنۍ کابینه

| | | |
|---|---|---|
| صدراعظم | سردار محمد داود خان | ۱۹۷۳ز – ۱۹۷۸ز کال پورې |
| د صدراعظم مرستیال | ډاکتر محمد حسن شرق | ۱۹۷۳ز – ۱۹۷۵ز کال پورې |
| | سید عبدالا الله | ۱۹۷۵ز- ۱۹۷۸ز کال پورې |
| د ملي دفاع وزیر | محمد داود خان | ۱۹۷۳ز – ۱۹۷۷ ز کال پورې |
| | غلام حیدر رسولي | ۱۹۷۷ز – ۱۹۷۸ ز کال پورې |
| د کورنیو چارو وزیر | فیض محمد | ۱۹۷۳ز – ۱۹۷۵ز کال پورې |
| | عبدالقدیر نورستاني | ۱۹۷۵ز- ۱۹۷۸ز کال پورې |
| د عدلیې وزیر | عبدالمجید خان | ۱۹۷۷ز- ۱۹۷۸ز کال پورې |
| | وفي الله سمیعي | ۱۹۷۷ز- ۱۹۷۸ز کال پورې |
| د مالیې وزیر | سید عبدالا الله | ۱۹۷۳ز – ۱۹۷۸ز کال پورې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| | ډاکتر نعمت الله پژواک | ۱۹۷۳ز – ۱۹۷۴ز کال پورې |
| د پوهنې وزیر | پوهاند عبدالقیوم وردک | ۱۹۷۴ز – ۱۹۷۷ز کال پورې |
| | ډاکتر محمد ابراهیم مجید سراج | ۱۹۷۷ز- ۱۹۷۸ز کال پورې |
| د لوړو زده کړو وزیر | پوهاند غلام صدیق محبی | ۱۹۷۵ز – ۱۹۷۸ز کال پورې |
| د سوداګرۍ وزیر | محمد خان جلالر | ۱۹۷۴ز – ۱۹۷۸ز کال پورې |
| د مخابراتو وزیر | عبدالحمید محتاط | ۱۹۷۳ز – ۱۹۷۵ز کال پورې |
| // // // | عبدالکریم عطایي | ۱۹۷۵ز- ۱۹۷۸زکال پورې |
| د کانونو وزیر | پوهاند عبدالقیوم | ۱۹۷۳ز- ۱۹۷۵ز کال پورې |
| | انجینر عبدالتواب آصفي | ۱۹۷۵ز- ۱۹۷۸زکال پورې |
| دکرنې وزیر | غلام جیلاني باختري | ۱۹۷۳ز- ۱۹۷۵ز کال پورې |
| د کرنې وزیر | عزیز الله واصفی | ۱۹۷۵ز- ۱۹۷۸زکال پورې |
| د اطلاعاتو او کلتور وزیر | ډاکتر عبدالرحیم پوپل | ۱۹۷۳ز – ۱۹۷۸ز کال پورې |
| د فواید عامې وزیر | غوث الدین فایق | ۱۹۷۳ز – ۱۹۷۸ز کال پورې |
| د روغتیا وزیر | ډاکتر نظرمحمد سکندر | ۱۹۷۳ز – ۱۹۷۶ز کال پورې |
| | ډاکتر عبدالله عمر | ۱۹۷۶ز – ۱۹۷۸ز کال پورې |
| د پلان وزیر | علي احمد خرم | ۱۹۷۴ز- ۱۹۷۷ز کال پورې |
| د قبایلو وزیر | پاچا ګل وفادار | ۱۹۷۳ز – ۱۹۷۴ ز کال پورې |
| | فیض محمد | ۱۹۷۵ز – ۱۹۷۷ ز کال پورې |
| | پوهاند عبدالقیوم وردک | ۱۹۷۷ز – ۱۹۷۸ ز کال پورې |
| د اوبو او برېښنا وزیر | جمعه محمد محمدي | ۱۹۷۶ز – ۱۹۷۸ زکال پورې |
| د دولت وزیر | ډاکتر عبدالمجید خان | ۱۹۷۷ز- ۱۹۷۸ ز کال پورې |

(۴۱ م م ۲۲۹ او ۲۳۰)

پورتنۍ کابینه کې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند غړي (د خلق او پرچم په اړخونو پوري مربوط) او طرفداران شامل وو، او د سلطنت په سقوط او د سردار محمد داود خان واک ته په رسیدو کې يې فعاله ونډه اخستې وو، خو هغوي هیڅکله د خپل ګوندي او ایدیالوژیکي موقف په اړه بحث نه کاوه. داود خان غوښتل چې له هغوی څخه د نظام په ټینګښت کې ګټه واخلي. دې کار دوه لاملونه درلودل. یو دا چې داود خان د افغانستان وروسته پاتې والی ته خپه و، ټول يې هڅول چې په دې لار کې ونډه واخلي. بل لامل يې دا و چې هغه د شوروي اتحاد مرستو ته ارزښت ورکاوه هیله يې درلوده چې د هغوي په مرستو خپل اقتصادي سیستم پیاوړي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده ټولي مرستي د بهرنيو له مداخلي او لاس وهني پرته غوښتلې خو امريکا هم خپلې مرستې د پښتونستان په مسالې پورې غوټه کړې وې . داود خان له پښتونستان څخه نه تيريده. نو له امريکا سره يې اړيکي سستې وې . شوروي اتحادهم له دوهم نړيوال جنګ وروسته د نړيوال قدرت په توګه د سيمې حالت په جدي توګه څارل . داود خان مجبور و ، چې د شوروي اتحاد رضايت په پام کې ونيسي د هغوی له مرستو څخه ګټه واخلي نو د هغو پلويان يې په کابينه کې ځای پر ځای کړل. سردار محمد داود خان ته د فاشيست يا کمونيست خطاب کول زما په نظر له ګونديي او شخصي احساساتو پرته بل هيڅ نه دي. هغه يو ملي، افغاني شخصيت درلود او د افغانستان د پرمختګ پلوی و. ده غوښتل چې هر څه بايد دده د لارښوونې سره سم تطبيق او افغانستان پرمختګ وکړي. دلته دده يو تيروتنه د يادولو وړ ده، هغه دا چې ده د افغانستان د خلق ديموکراتيک ګوند ځينو غړو ته په پوځ کې زيات واک ورکړ . په دې مانا چې دوي د ده کودتا ته وفادار وو. چې وروسته دا عمل دده لپاره ډيري سياسي او نظامي ستونزي پيدا کړې.چې نوموړی بيا ددی ستونزو په حل کې پاتې راغی. او بله تيروتنه يې دا وه چې ده ټول ګوندونه وځپل او يکه تازي يې پيل کړه په نورو برياليي شو خو د افغانستان د خلق ديموکراتيک ګوند په دې توانيده چې خپل نهضت له مرګ نه خلاص او په بدل کې د نوموړي واکمنۍ ته خاتمه و

## د سردار محمد داود خان له خوا د سياسي کړنلاري اعلان

## ( خلکو ته خطاب )

د نړۍ د نورو هيوادونو په څير د افغانستان له پاره د دويمي نړيوالي جګړي پايلو ډيره اغيزه درلوده، له دې جګړي وروسته په اقتصادي ، سياسي او نظامي برخو کي ددوو نړيوالو ځواکونو ( د امريکا متحده ايالاتو او شوروي اتحاد ) منځ ته راتګ او د برتانيي دومره کمزوري کيدل چې د خپلې امپراتورۍ ( مستعمرو ) د ساتلو توان يې له لاسه ورکړ، پريکړه يي وکړه چې د هند له نيمې وچې څخه ووزي. د برتانيا له وتلو سره سم د پاکستان جوړيدل او د بريتانيا لريوالې د افغانستان لپاره د سياسي کړنلارې په تعين کې ستونزې پيدا کړې.

له دويمې جګړې وروسته په دريو بلاکونو ( ختيځ ، لويديځ او ناپېيلو هيوادونو) باندې د نړۍ ويشل کيدو وروسته په نړۍ کې ستره جګړه پيل او ورځ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ تودیده د افغانستان له واکمنانو سره د امریکا د سیاست په اړه چې په اسیا کې یې شوروي اتحاد د پرمختګ د مخنوي لپاره غوره کړی و تشویش او نګرانې پیدا کړه، ځکه امریکا خپل ملګري په نظامي تړونونو کې شامل کړي وو، او هر راز مرستی به یې ورسره کولې. د پاکستان هیواد هم د یو نظامي تړون غړیتوب درلود، چې دي کار د افغانستان له ګټو سره سمون نه درلود.

افغانستان نه یوازي د لویدیځ او ختیځ په نظامي تړونونو (پکتونو) کې شامل نه شو، بلکي په مقابل کي د ناپلیتوب د غورځنګ فعال غړي شو. امریکایانو چې تازه نړیوال سیاست ته مخه کړې وه د افغانستان په جغرافیايي او جیوپولیتیک موقیعت په ارزښت نه پوهیده، ځکه یې د افغانستان ملګرتیا ته دومره ارزښت ورنکړ او د پاکستان په اشاره یې زمونږ هیواد تقریباً د خپلو دښمنو هیوادونو په لیکه کې حساباوه.

د سردار محمد داود خان واک ته د رسیدو په مهال (۱۳۵۲لمریز یا ۱۹۷۳ ز کال) په نړیواله کچه رقابت لا زیات شدید شو. پاکستان په ټول طاقت سره کوښښ کاوه چې د امریکا او افغانستان تر منځ اړیکې خرابې شي. اصلي ستونزه دا وه چې سردار محمد داود خان د خپلې صدراعظمۍ پر مهال له شوروي اتحاد سره یو لړ تړونونه لاس لیک کړی وو. او له هغوی څخه یې اقتصادي او نظامي مرستی تر لاسه کولې. شوروي اتحاد هم د یو نړیوال ځواک په توګه چې یو شمیر اروپایي هیوادونه یې پلوي و، او د افغانستان د شمالي ګاونډي هیوادونه یې تر تسلط لاندي وو، د افغانستان سیاسي حالت او نړیوال موقف یې خاره. شوروي اتحاد خوښ و چې افغانستان د ناپلیتوب د غورځنګ غړي وي، خو له دوی سره د لویدیځ (امریکا) په پرتله نیکي او دوستانه اړیکې ولري.

د (۱۳۵۷) لمریز کال له بدلون وروسته شوروي اتحاد د مخکینۍ موخې د عملي کیدو له پاره په ۱۳۵۸ لمریز کال – ۱۹۷۸ز کال د دسمبر په ۲۸ پر افغانستان یرغل وکړ چې خپل پلوي رژیم په افغاستان کې ټینګ کړي خو لو یدیځ بلاک او امریکا د هغه رژیم او د شوروي د ماتې په خاطر په هر اړخیزه ډول د افغانستان د مجاهدینو ملاتړ وکړ. په امریکا کې د ۲۰۰۱ ز کال د سپټمبر د (۱۱) نیټې له پیښې ورسته چې کله امریکا ائتلاف (د ناتو او ایساف) ځواکونه افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته راغلل، د مخالفینو له مینځه وړلو په خوا کې یې د امنیت ټینګول او د لویدیځې دیموکراسۍ د پلی کولو له پاره هر اړخیزه هلې ځلې پیل کړي. پایله یې دا شوه چې د افغانستان له پاره ناپیلې سیاست غوره کول ښه کار و، سردار محمد داود خان هم غوښتل چې د ریښتینو سیاسي موجودو شرایطو په پام کې نیولو سره خپله سیاسي کړنلاره اعلان او پلې کړي.

د سردار محمد داود خان نوي رژیم وتوانیده چې په ډیر کم وخت کې وضع تر کنترول لاندې راوړي، ترڅو د خپلو سیاسي او اقتصادي موخو د عملي کولو له پاره زمینه برابره کړي. هغه دولتی سیستم چې داود خان د خپل هیواد د پرمختګ له پاره په نظر کې نیولي و. د هغه په مشهوره وینا (خلکو ته خطاب) کې په تفصیل سره بیان شوي ده په نوموړي وینا کې د نوي نظام اداره، موخې، کړنې او د مخکیني نظام کړنو او ټولنیزو ستونزو ته اشاره شوي ده. نوموړي وینا د ۱۳۵۲ لمریز کال کې د سنبلې د میاشتې په لومړي نیټه د جمهور رئیس او صدراعظم (سردار محمد داود خان) له خوا ایراد او د راډیو افغانستان له خوا خپره شوه.

((بسم الله الرحمن الرحیم))

## ۱۳۵۲ لمریز کال د سنبلې لومړي نیټه

د افغانستان ډیرو نجیبو او شریفو هیوادوالو!

ددې ملي پاڅون او په هیواد کې د ژور سیاسي بدلون په مناسبت بیا هم د خپل ځان او قهرمانو ملګرو د میني ډکې مبارکۍ ددغه ستر او تاریخي بدلون په اړه چې د افغانستان د ملت د بالقوي ارادي او سرښندنې نتیجه وه. دوي د ځان تیریدنې په واسطه وتوانیدل چې یو ملي او تاریخي بدلون یعنې د لومړنی جمهوریت د بنسټ ډبره کیښوده. د هیواد ټولو خواریکښو خلکو په ځانګړي توګه د افغانستان ځوان او سرتیرې پوځ ته وړاندي کوم همدارنګه ټولو هیوادوالو څخه چې هغوي د جمهوري نظام د تاسیس له لومړي ورځې څخه زمونږ د نوي رژیم بې دریغه ملا تړ وکړ د زړه له کومې مننه کوم. ګران هیوادوال پوهیږي چې د هیواد د خپلواکې ویاړلې ورځ ډیر کلونه د سنبلې د میاشتې په لومړې نېټه لمانځل کیږي، سږ کال هم د معمول سره سم مونږ ځان مکلف ګڼو چې ددغې ملي ویاړلي ورځ په مناسب خپلې نیکې هیلې او مبارکۍ خپلو هیوادوالو ته وړاندي کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان ملت د استعمار ګرو د يرغل په مقابل کې دري ستري جګړې کړې دي، چې ددوی نه ماتيدونکي عزم او د هيواد سره بې کچه مينه ددې سبب شوه چې (۵۴) کاله مخکې دوی د خپلو پياوړو او قدر وړ رهبرانو په لارښونه، د ملي او پياوړي لښکر په همت او شجاعت آزادي واخسته، چې دا هم د تيرو بريو يوه نمونه وه. موږ د اعليحضرت غازي امان الله خان او اعليحضرت محمد نادرشاه او د هغو غازيانو نه هيريدونکي خدمتونه چې د قربانۍ په لومړي صف کې ولاړ وو، خپل ځانونه او ګران اولادونه يې په ډير زړورتوب سره د هيواد د ازادۍ په لار کې قربان کړل. موږ ددوی سرښندنو ته د احترام او قدر په سترګه ګورو او د ازادي د لاري ټولو شهيدانو په پاک روح باندي درود وايو.

ګرانو هيوادوالو خويندو او ورونو!

موږ به د لوي خدای(ج) په مرسته او د خلکو په همکارۍ په خپل هيواد کې د ټولنې تکاملي شرايطو سره سم د ټولنيز، سياسي ، اقتصادي او بنيادي بدلونونو د عملي کولو له پاره د پلان سره سم اقدام وکړو.

دا هغه وعده ده چې موږ د جمهوريت د لومړۍ ورځې په اعلاميه کې د افغانستان خلکو ته ورکړې وه، هيله لرم چې زه او زما ملګري د لوی او توانا خدای (ج) په مرسته د ژوند تر پايه ددې وعدې عملي کولو ته وفادار واوسو. د افغانستان د خلکو او نړيوالو په فکر او ذهن کې دا پوښتنه حتماً پيدا کيږي چې موږ ولې خپلې کورنۍ او طبقاتي ګټې د ملي ګټو په خاطر د هيواد د محرومو طبقو د ګټو له پاره قربان کړې.ددې پوښتني ښکاره ځواب دادي چې په دې ورستيو لسو کلونو کې د سلطنتي رژيم سياسي کړنلاره په ټولنيز توپير او بې عدالتۍ باندې متکي وه. چې د افغانستان د ټولو محرومو طبقو او روڼ اندو د شديد عکس العمل سره مخ وه. بل پلو ته په سيمه او نړۍ کې داسې بدلونونه مينځ ته راغلل چې د ازادي غوښتونکو ملتونو په ګټه د ارتجاع، استبداد او استعمار په زيان وه. چې دې بدلونونو هيڅ يو با وجدان او وطندوسته افغان ته اجازه نه ورکوله چې د سلطنت ددې ناوړه کړنو په مقابل کې ارام کيښني. موږ هم دهمدې مسؤليت او وطنپالنې په روحيه چې زما په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکینۍ وینا کې هم اعلام شوي ده، په هیواد کې د ریښتني او واقعي دیموکراسۍ او جمهوریت بیرغ په دې هیله چې بنسټ یې د هیواد د اکثریت خلکو په خدمت ټینګ وي پورته کړ. مونږ د لوی خدای (ج) په فضل د خلکو د حقوقو د تامین او د ملي حاکمیت د پلي کولو په لور لومړي ګام پورته کړ. ګران هیوادوال خبر دي چې ما خپلي نیکي هیلي د هیواد د پرمختګ له پاره لس کاله مخکې په ښه نیت ښکاره کړي وي، خو سلطنتي رژیم نه یوازې دا چې زما هیلې په نظر کې ونه نیولې برعکس یې د پرمختګ، ترقۍ او دیموکراسۍ او د هیواد د پرمختګ ضد عمل وکړ. زمونږ ګران هیواد افغانستان د ډیرو طبیعي منابعو، حاصلخیزي خاوري د خواریکښو او با استعداده وګړو، لرغوني تمدن او کلتور درلودونکۍ دی.

د پورتینو شرایطو له موجودیت سره سره د مخکینی منسوخ رژیم د سلطی په وخت کې د هیواد وضعیت خراب او د زیارکښانو ژوند له ستونزو سره مل و.

د افغانستان جمهوري دولت زمونږ د هیواد پالو او وطنپرستو عناصرو د قربانۍ په نتیجه کې د خلکو د ګټو له پاره منځ ته راغلې چې د دیموکراتیکو ګټو، آزادیو او د قوانینو د تامین او پراختیا په خاطر د جمهوریت اساسي قانون او نورو تکمیلونکي قوانین د ټولني له پاره لازم ګڼي. د افغانستان جمهوري دولت ځان مکلف ګڼي چې د هیواد د ملي ګټو او مصلحتونو په چوکاټ کې د خلکو د آزادیو او ګټو د تامین له پاره د ژوند په مختلفو برخو کې به لاندي ضروري او اړین فعالیتونه سرته ورسوي.

## ۱ ـ ملي مساله:

افغانستان داسي یو هیواد دی چې په هغه کې مختلف قومونه د ورونو په څیر ژوند کوي چې د بیلا بیلو اړیکو له مخي یو له بل سره پیوند لري. دوي ټولو د تاریخ په اوږدو کې ګډ ژوند کړی او د ازادۍ په لار کې یې په ښه اتفاق او یوالي سره مبارزه کړې ده، یو له بل سره یې مرسته کړې. یو ګډ ملي فرهنګ یې ایجاد کړی، له دي کبله جمهوري دولت د افغانستان د خلکو تر مینځ د ورورولۍ، دوستۍ او برابرۍ د اصولو په رڼا کې د مادي او معنوي اتحاد د ټینګښت له پاره کوښښ کوي او په دي هڅه کې دی چې د تبعیض او توپیر د ټولو شکلونو ریښي وکاږي.

## ۲ – اقتصادي اصلاحات:

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان په اقتصادي لحاظ د پرمختګ په حال کې هیواد دی، چې اقتصادي وروسته پاتې والی د دوي له پاره ضروري ده، چې په دې برخه کې چټک او پراخه ګامونه واخیستل شي ، بنسټیزه بدلونونه عملي شي ، تر څو د معاصرې تکنالوژۍ او ساینس پواسطه د یو منظم پلان په اساس یو مستقل پرمختللې هماهنګ او یو ملي اقتصادي سیستم ایجاد شي.

۳ ـ صنا یعو پراختیا:

دافغانستان جمهوري دولت د درندو صنایعو لکه د کانونو ایستل د ماشینونو او فلزي کاري صنعت بریښنا او کیمیاوي صنعت ایجاد او تا سیس ته چې د هیواد د چټک اقتصادي پرمختګ او استقلال ضامن دي ځانګړې ارزښت ورکوي ددولتي سکتور تر حاکمیت لاندې داقتصادي پیاوړتیا په برخه کې جدي کړنې ترسره کړې او د حاجي ګک د اوسپني کان څخه ګټه اخیستل او د اوسپنې دکارخانې جوړول زموږپخوانی هیله ده.

د افغانستان جمهوري دولت د وړو او متوسطو صنایعو په برخه کې د خصوصي متشبسینو له هڅوڅخه ملا تړ، کنترول او لارښوونه کوي. تر څو د دولتي او خصوصي پانګو تر مینځ اړیکي د مرستي په روحیه پراختیا ومومي .ترڅو د یو مترقي، ملي اقتصاد په پیاوړتیا او د مختلط اقتصاد په مینځ ته را تګ کې فعا له ونډه واخلي .جمهو ري دولت د ملي صنا یعو ، لاسي صنا یعو او ملي هنرونو څخه ملاتړ خپله اړ ینه د نده ګڼي.

۴ ـ سو دا ګري :

جمهوري دولت به دهیواد بهرنۍ سو داګرۍ د ملي ګټو په پام کې نیولو سره یوي رهبري شوې سوداګرۍ ته پراخنیا ور کړي .

۵ ـ په پولي او مالي برخه کې :

جمهو ري دولت به د هېواد په داخل کې بهرني اسعار په جدي توګه کنترولوي او په تور بازار کې هم دهغوي د ډیري زیاتي ګټې مخنیوي کوي ،په بانکونو کې د امانت او پس انداز حسابونه هڅوي او تضمین یې کوي . د افغانستان جمهوري دولت په خپل مالیاتي سیستم کې په غیرو مستقیمو مالیاتو باندي مستقیمو مالیاتو ته دلوړتیا (برتري) په ور کولو سره به دغه سیستم اصلاح کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ _ کر نه:

جمهوري دولت د افغانستان د اکثریت خلکو د ګټو په خاطر د ځمکو اصلاحات د خپلو بنسټیزه بدلونونو دعمده کړنو په توګه په نظر کې نیولي . دولت د بزګرو په ګډون او د هغوي په ګټه کوپراتیفونه او تعاوني شرکتونه جوړوي. دولت د خپلو امکاناتو سره سم شاړي ځمکې ابادوي او د او بو شبکو ته پراختیا ورکوي ، همدارنګه دولت به دحیواناتو دروزنې د پراختیا له پاره عملي تد بیرونه ونیسي .

۷ _ حمل و نقل او د لارو جوړونه :

د افغا نستان جمهوري دولت د ټولنیزو چارواو سړکونو جوړول د عصر د غوښتنو او شرا یطو سره سم تنظیموي . خو د کور جوړولو چاري به ګړندۍ او دځانګړو مقرراتو پو اسطه به یې مستحقو اشخاصو ته توزیع کړي، دولت د ښار جوړولو چاري اصلاح او په ځانګړي توګه دکابل په ښار کې دښار جوړونې ۲۵ کلن پلان تطبیق او مواصلاتي شبکو ته پراختیا ورکوي ، دهیواد مهم ښارونه او صنعتي مرکزونه د اساسي سړکونو پواسطه نښلوي، په راتلونکي کې به د اوسپنې دسړک «ریل» دجوړولو امکا نات هم تر څیړنې لاندي نیسي .

د افغانستان جمهوري دولت د حمل و نقل د چټکتیا او د خلکو د هوساینې لپاره به عامه ترانسپورتي وسایل اماده کړي خوپه لومړي درجه کې لوی خصوصي ترانسپورتي شرکتونه رهبري او تقویه کوي. تر څو خلکو ته ښاري ترانسپورتي اسانتیاوي برا بري شي .

۸ _ ټو لنیز اصلا حات :

د هیواد په اوسنیو شرایطو زمونږ د خلکو مطلق اکثریت له مادي او معنوي نعمتونو څخه محروم دي . چې په سیاسي لحاظ په ډیرو سختو شرایطو کې ژوند تیروي ، چې په هیڅ وجه دا تریخ و ضیعت د اوسنۍ معا صري نړۍ د مدني وضعي سره سمون نه لري .

د افغانستان جمهوري دولت د افغانستان د نجیبو خلکو د حالت د بدلون له پاره د لاندي ټولنیزو اصلاحاتو د پروګرامونو عملي کول په پام کې لري .

۸ _ ۱: د کار د شرا یطو ښه کول :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان جمهوري دولت د ما مورينو ، كارګرانو او خدماتي پرسونل د كار او ژوند د شرايطو ښه كولو له پاره لازمي او اړينې كړنې ترسره كوي په دولتي څوكيو (پوستونو) كې ټاكنو او ځاى پرځاى كولو په برخه كې د ما مو رينو شا يستګي ، پرهيزګاري ، كاري صلاحيت ، د كار سا بقه ، د هيواد پالنې روحيه ، د هيواد د پرمختګ او غوړيدو سره مينه لرل په نظر كې نيسي .

دولت په خپلو لومړنيو كړنو كې لږ تر لږه د كارګرانو د تنخوا په ټاكلو كې د هغوى اړين (مادي او معنوي ضرورتونه) ، لګښتونه او كاري ساعتونه په نظر كې نيسي تر څو د هغوى مزد د هغوى دكار سره برا بر شي ، دولت په صنعتي او كرنيزه چارو كې د كارګرانو د ټولنيزو او ځانى حقوقو د تامين او مصؤنيت له پاره يو نوى مترقي او ديمو كراتيك قانون تصويب او تطبيق كړي . جمهوري دولت هغو كارګرانو او ز يار كښانو له پاره چې په كليو او ښارونو كې ژوند كوي د هغوى د ټولنيزې او مالي وضعي په نظر كې نيولو سره د بيمې سيستم ايجادوي ، د خلكو د ژوند د شرايطو د ښه كولو له پاره به د كورونو ، دوكانونو او د مؤسساتو د كرايې په اړه جدي اقدامات وكړي .

**۹ ـ عمومي پرمختګ په اړه :**

د افغانستان جمهوري دولت د پوهنې په پروګرام باندې له نوې كتنې وروسته هغه اصلاح كوى . د بيسوادى د له منځه وړلو او په عمو مي ډول دكلتوري بدلون په خا طر ديو ملي او مترقي فرهنګ په رڼا كې به هڅې وكړو چې ځوان نسل د تقوا ، هيواد پالنې او خلكو ته د خدمت په روحيه تربيه كړو . دولت د هيواد ټولو كوچنيانو (هلكانو او نجونو) ته د دولتي ښونځيو دپراختيا له ليارې د عمومي روزني له پاره د منځنيو او لوړو زده كړو زمينه برابر وي .

جمهوري دولت به د خلكو د بيدارى په خاطر د مطبوعاتو او ډيمو كرا تيكو خپرونو د پراختيا له پاره مؤثر ګامونه واخلي . د ملي هنرونو ، سينما ، تياتر ، او راډيو موسسي به تقويه او پياوړې كوي . په مساعد وخت كې به د تلو يز وني شبكي په جوړولو او پراختيا كې اقدام وكړي ، همدا راز غواړي چې دهيواد دتيرو مدينتونو ، دتاريخي او لرغونو اثارو د موندلو او ساتلو په خاطر به د ملي موزيم په جوړولو كې اړين او موثر ګامونه واخلي ، دولت به د هيواد په مختلفو سيمو كې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتابتو نونه جوړ کړي. جمهوري دولت به د معالجوي طب او دولتي روغتو نونو جوړولو ته لا پراختیا ورکړي تر څو د هیواد د ټولو وګړو ته د معالجي زمینه برابره شي . خو دولت به وقایوي طب ته ځانګړي پاملرنه وکړي تر څو د ضروری او مجهزو وسایلو په درلو دلو سره د ساري ناروغیو مخه ونیول شي. دمور او ماشوم او نوي نسل ته د ملاتړ په خاطر دولت د خپلې مالي وضعې په پام کې نیولو سره د زیږنتون، شیدو ورکولو ځای (شیرخوار ګاه) او وړکتونونه جوړوي.

جمهوري دولت به د فحشا د ریښې د له مینځه وړلو، په چرسو، الکولو او تاریاکو باندي د متعادیدو او د الکولو د استعمال پرضد به جدي اقدامات وکړي. د احتکار او قاچاپو پر ضد به هم مبارزه وکړي. جمهوري دولت به د ښځو له پاره په اقتصادي، سیاسي، فرهنګي او د ژوند په ټولو برخو کي د سړیو سره د مساوي ونډي اخښستلو زمینه برابره کړي. دولت د کوچیانو د میشته کیدو د بدوي ژوند د پریښودو او بي ځمکي خلکو ته دولتي ځمکي توزیع کوي.

## ګرانو هیوادوالو:

دا یو حقیقت دي چي اقتصادي او ټولنیز پرمختګ د فرهنګي بدلونونو بنسټیزو اصطلاحاتو او د ریښتیني دیموکراسۍ د تامینولو سره نږدې اړیکي لري. اوس په سیمه او نړۍ کې ژور بدلونونه منځ ته راغلي دي، ملي جنبشونه ورځ په ورځ زیاتیږي. سوله خوښونکي او ازادي غوښتونکي قوتونه ورځ په ورځ پیاوړي کیږي، څو د جګړې او تجاوز په مقابل کې برتري حاصله کړي. د سولي سیاست او د نورو سره په سوله کې ژوند کولو پلویان هم ورځ په ورځ په نړي کي ډیریږي. د افغانستان ځوان جمهوري دولت د نړۍ د دغو بدلونونو په نظر کې نیولو او د خپل کورني مترقي سیاسیت پر بنسټ لاندی مسایل په بهرني سیاست کې په پام کې نیسي.

افغانستان یو سوله خوښونکي هیواد دی، او ځوان جمهوري دولت دا کړنلاره په دوامداره توګه تعقیبوي. د افغانستان ځوان جمهوریت په داسي حال کې چې ټولو نړیوالو تړونونو ته وفادار دی خو په دی اند دی چې د ملګرو ملتونو د سازمان غړی هیوادونه د نورو سوله خوښونکو هیوادونو په مرسته کولای شي چې د نړیوالې سولې په ټینګښت، د کړکیچ له مینځه وړلو او دیتانت کې فعاله ونډه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان جمهوري دولت په دې باوري دی چې استعماري سیاست او نژادي توپیر ختم شي او هر چاته د خپل برخلیک د ټاکلو حق ورکړل شي، په عربي هیوادونو باندی د اسرایلو د تیري اثرات له مینځه یوړل شی . د فلسطین خلکو ته خپل حقوق ورکړل شي. هغه هیوادونه چې مختلف سیاسي او ټولنیز نظامونه لري باید په سوله کې ژوند وکړي او سوله ایزه سیاست غوره کړي تر څو د تیري او جګړي سیاست پای ته ورسیږي. د کړکیچ وړ مسئلو د حل له پاره دې د پوځي قوت له استعمال څخه ډډه وشي. پورتنیو موخو ته د اعتقاد او وفادارۍ له پاره د افغانستان جمهوري دولت د بهرني سیاست بنسټ پر سوله غوښتني، فعاله او مثبته بي طرفۍ، په نظامي تړونونو کې نه ګډون ، د ملګرو ملتونو منشور ته درناوی، آزاد غوښتونکو غورځنګونو څخه ملا تړ، د نړۍ ټولو سوله غوښتونکو هیوادونو سره مرسته او د نیکو اړیکو ټینګول ، د نورو هیوادونو ملي ګټو ته په پاملرنې سره اقتصادي، فني، فرهنګي، ښو اړیکو ته پراختیا ورکول.

د افغانستان جمهوري دولت د خلکو د ارادي او ازادۍ د اصل په پیروۍ یو ځل بیا د جمهوریت د اعلامي تائید له پاره په ریښتنولۍ او صراحت سره اعلاموي چې د افغانستان کورنۍ او بهرنۍ سیاست د سولي، عدالت، ملي ازادۍ، ملي حاکمیت او ملي استقلال په اصل ټینګ دی خو بیا هم تکراروم چي په سوله کې ژوند ، د دوستانه اړیکو پیاوړتیا او پراختیا، د نړۍ ټولو ملتونو ته احترام زما دزړه هیله ده . د ښه ګاونډیتوب په اړه وایم چې له شوروي اتحاد سره زموږ اړیکي دوستانه، نیکې او نه ماتیدونکې دي. بل ګاونډي ( د چین د خلکو د جمهوریت ) سره موږ د دولتي صمیمت نه ډکي اړیکي لرو او هیله لرم چې دا اړیکي نورې هم پراخه شي، د ایراني ورونو سره هم زموږ اړیکي دوستانه دي او امید لرم چې دغه اړیکې نورې هم ټینګې شي.

په تاسف سره باید ووایم چې پاکستان یوازیني هیواد دی چې له هغه سره زموږ اړیکي د پښتنو او بلوڅو د حقوقو او د پښتونستان د ملي مسئلي پر سر زیانمنی او اختلاف نظر لرو خو د افغانستان جمهوري دولت به هڅه او کوښښ وکړي چې په پوره حوصله او سړه سینه د پښتونستان د ملي مسئالي د حل له پاره سوله ایزه شرافتمندانه لار پیدا کړي، زه باور لرم چې د پاکستان او افغانستان تر منځ ښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړيکې د دواړو هيوادونو او سيمي په ګټه دي ، نو زه بيا هم کوښښ کوم چې د دواړو هيوادونو تر مينځ د سولې د ټينګښت ترقۍ او د سيمي د ګټو په خاطر سياسي اړيکي ټينګې کړم او اميدوار يم چې په دې کار کې بريالي شم.

مونږ له ملي مترقي هيوادونو سره د ډيرو معنوي پيوندونو په واسطه تړل شوي يو او ښې اړيکې لرو. مونږ د دريمي نړۍ (ناپيلو) هيوادونو سره د سولې د ټينګښت، د استعمار او نژادي توپير پر ضد مبارزه کې په هر شکل چې وي مرسته کوو. د ډيرو کلکو او تاريخي اړيکو په لرلو سره مونږ د هند او بنګله ديش سره ښې اړيکې لرو. په دې نيمه وچه کې تل د سولې غوښتونکي يو. په دې برخه کې بې ځايه به نه وي چې د ټولو دوستانو په ځانګړي ډول شوروي اتحاد، امريکا متحده ايالاتو، د المان فدرالي جمهوريت، د چين ولسي جمهوريت او هغو هيوادونو څخه چې د افغانستان په پرمختګ کې يې ونډه اخيستي او اخلي يې، د افغانستان د جمهوري دولت او خلکو په استازيتوب له دوی څخه مننه وکړم.

## ګرانو هيوادوالو:

په دې لسو کلونو کې زمونږ هيواد د ډيرو اقتصادي، ټولنيزو او سياسي بحرانونو سره مخ شوی دی چې په لنډ ډول يې بيانوم:

اقتصادي برخه کې: د هيواد اقتصاد بايد د لومړی او دوهم پلان په تطبيق سره پرمختګ کړی وای، مګر د کاملې ويجاړتيا لوری ته سوق او د سقوط سره مخامخ شو. ځکه دغه اقتصادي پلانونه د اشخاصو د ذهني غوښتونو تابع شول او د هيواد په پرمختګ کې يې لازم اغيزمنتوب له لاسه ورکړ. اقتصادي حرکت ډير ورو (کند) شو. د خصوصي پانګې منظمه اچونه رامنځ ته نه شوه. بل پلو ته په دغه برخه کې دولتي پانګه اچونه هم کال په کال په لړيدو وه. د پس انداز حسابونه او په صنعت کې خصوصي پانګه اچونه هيڅ جلب نه شوه. د ساري په توګه د دويم پلان ټوله پانګه (۲۲۰۲۰) ميليارده افغانۍ وه خو په دريم پلان کې دغه پانګه (۱۹۲۵) ميلياردو افغانيو ته را ټيټه شوه. د دوهم پلان د څو محدودو پروژو تطبيق هغه د دوستو هيوادونو د مرستې په اساس وړاندوينه شوی وه. که چيری دغه پروژې په يو استثنايي حالت کې ونيسو، د هيواد اقتصاد په دې اخرو لسو کلونو کې د نفوسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رشد او د نرخونو د لوړوالي او په مختلفو هیوادونو کې د پرمختګ په تناسب مونږه دغه اقتصادی پرمختګ داسې ګڼو چې ګواکې پرمختګ پرځای مونږ شاته ګامونه اخیستې دي. د داسی وضعی په موجودیت کې نه یوازی د ملي عوایدو په زیاتوالي کې د پام وړ بدلون رانه غی خو ددی عوایدو یو عمده برخه ددی په عوض چې په پانګه اچونه ولګول شي په بوالهوسه کارونو لګیدلي دي.

په لومړي پلان کې خصوصي پانګه اچونه د ټولی پانګی په سلو کې ۹،۷ فیصده تشکیلوله. خو تش په نامه دریم پلان کې دغه ونډه په سلو کې ۷، ۲فیصده ته را ټیټه شوه. سره له دی چې د لومړی او دویم پلان په تطبیق سره هیواد کې د اقتصادی موسسو زیربنا او بنسټ کیښودل شو، خو په دی تیرو لسو کالونو کې په صنعتي تولیداتو کې د پام وړ زیاتوالي نه دی راغلی او د کرنیزو محصولاتو په زیاتوالي کې هم په داسی وخت کې د هیواد اقتصاد په کرنه متکی دی په سلو کې ۹۰فیصده د ټولو ملي تولیداتو کرنیزه محصولات جوړوي. خو زمونږ په هیواد کې زړې کرنیزې اړیکې او د وروسته پاتي تولید طرز مسلط دی. د بزګرانو فقر د ملي بازارونو او له خلکو سره د اخیستلو د توان نه موجودیت، د خامو موادو کمښت د دی سبب شوی، چې په دی وروستیو لسو کلونو کې په افغانستان کې په کرنیزه موادو باندې د مالیاتي سیستم د اصلاح له پاره یو اغیزمن ګام نه دی اخیستل شوی، مالیات اوس هم په دولتي عایداتو کې کمه ونډ لري، په ځمکې، څارویو، کورنیو سوداګرو باندې ډیره کمه مالیه وضع شوې او د اضافي لګښتونو له پاره پر مستقیمو مالیاتو کې زیاتوالي راغلی دي.

په دی وروستیو کلونو کې د بهرنۍ سوداګرۍ په برخه کې د خلاصو دروازو سیاست عملي شوی. ملی ګټو ته په پام کولو د توکو په ورادولو کې د اړینو او غیرو ضروری توکو تر مینځ توپیر ونشو. او د هیواد د عمده صادراتي توکو په برخه کې په بهرنیو اسعارو باندې هیڅ ډول کنټرول نه و. د بهرنیو اسعارو په مقابل کې د دولت پولي سیاست د خلاص لاس او تور بازار تابع و. ځکه له بهرنیو نماینده ګیو او سوداګرو سره قانوني معامله نه کیده بلکه هغوی ته غیر قانوني امتیازات ورکول کیدل، او د هیواد د عمده صادراتي جنسونو پخواني نرخونه لوړ شول. په دې ترتیب د هیواد اقتصاد یې ضعیفه او د ویجاړیدو خوا ته سوق کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه دا چې په دی وروستیو لسو کلونو کې زمونږ په هیواد کې ډیره ګډوډي وه. په اقتصادي برخه کې د غولونې لوبه روانه وه، په همدي علت د هیواد اقتصاد ویجاړ، اقتصادي ، صنعتي او ټولنیز پرمختګ ډیر کرار، حتی په ټپه ولاړ وو ..

## په ټولنیزه برخه کې:

په تاسف سره باید ووایم چې زمونږ هیواد په فرهنګي او روغتیایي برخه کې په نړیواله کچه په ټیټه سطحه کې قرار لري. په وروستي لسیزه کې د افغانستان د خلکو د ژوند سطحه ټیټه شوې ده، ځکه د لګښتونو کچه لوړه شوې او د هر کال په تیریدو سره دا بیې لا درنیږي ، ځکه نرخونه په چټکۍ سره لوړیږي مګر د ټیټ رتبه دولتي مامورینو تنخوا، او د کارګرانو، اجیرانو مزدوري د بخور نمیر له حالت څخه زیاتوالي نه دی کړی چې فقر، بیکاری، بدبختي او د خلکو در بدری ورځ په ورځ په ټولنه کې زیاتیږی او د خلکو په مینځ کې ناروغي زیاته شوی ده، پوهنه او فرهنګ د سقوط لور ته مخه کړیده، په ټولنه کې مصؤنیت او د قانون تطبیق نشته. په بدل کې د با نفوذه خلکو او لوړ رتبه مامورینو لخوا مطلق العنانی ، ظلم، ستم او استبداد لاشدت پیدا کړی و. چې دولتي دستګاه یې د ویجاړیدو او رسوایي خواته سوق کړې وه.

بیت المال، دهیواد ملي ثروت اود خلکو له مال څخه ناوړه ګټه اخېستل او مصرفول رواج شول. اختلاس، بډې اخېستل، احتکار، قاچاق، ټګي ( تقلب ) ، سود خوړل ورځ په ورځ زیات او د خلکو په مینځ کې رواج موندلی دی ،له دې کبله زمونږ د ډیری خلکو د ژوند ساحه تنګه شوي وه.

## په سیاسي برخه کې:

په دی تیرو لسو کلونو کې د دولت کورنی سیاست په چل، فریب ، سیاسي ټګۍ، د پرګنو په غولوني او تیرایستني باندې ډډه لګولی، د تهدید له مختلفو شکلونو څخه کار اخېستل، په زور سره د خلکو تحریکول او وحشت ایجادول، یو د بل په وړاندې لمسول، د مختلفو ګروپونو او د خلکو تر مینځ بي اتفاقي، اختلاف او دښمنۍ پیدا کول، سلطنتي رژیم د ځان د پایښت له پاره یو مهم شرط ګڼلو.

د دیموکراسۍ او وطنپرستانو پر ضد د ارتجاعی قوتونو هڅول او تحریکول د تیر منسوخ شوی دولت په کورني سیاست کې لوړ مقام درلود. په خلکو باندې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فشار او اختناق دسیاست تحمل، د زور، ظلم او بي عدالتۍ څخه ملا تړ، د هغوي کار وه ، خو د مظلومانو فریادهیڅچا نه اوریده ، د خلکو په تیره بیا ځوانانو تر مینځ فشار، بي اتفاقي او ملي ضد کارونو ته لمن وهل کیده. د قلابي دیموکراسۍ څخه ناوړه ګټه اخېستل پیل شوې وه. پارلمان په خپلو رایو د دولت ملي ضد پریکړو د تائیدولو په ماشین بدل شو. دوي هم د بیت المال او د خلکو د جیبونو په غارت او لوټولو پیل وکړ، د خلکو حقونه او رېښتني آزادي ورځ په ورځ سلب او عملاً تر پښو لاندي کیدله. زور، ځپل سري او د ځنګل قانون په هیواد باندي حاکم و.

د مخکیني رژیم یوه بله سیاسي ځانګړتیا دا وه چې د بي پلویتوب تر عنوان لاندي یې د استفاده جویي کړنلاره په مخ وړله. په بهرني سیاست کې د آزادي د سیاست په نوم په هره مسئله کې باید د خلکو څخه نظر غوښتنه شوي واى، خو په عمل کې هیڅکله داسي ونشول، او هیڅ مساله کې د خلکو نظر ونه غوښتل شو، دولت تل په بهرني سیاسي کړنلاره کې رېښتني نه و، دوکه، چل او فریب د دوي د سیاست خاصه ځانګړتیا وه، د مظلومانو فریاد او د خطرونو هغه زنګونه چې له هره طرفه اوریدل کیدل په دي ونه توانیدل چې نوموړي رژیم د خپل مغرضانه سیاست څخه واړوي او د هیوادوالو د ژوند دردونکي حالت ته یې متوجي کړي. نور د اصلاح تمه تري قطع شوي وه پرته له دي چې دغه رژیم له مینځه یوړل شي بله لاره پاتي نه وه. مګر هغه دردونه چې له مخکیني رژیم څخه مونږ ته په میراث پاتې دى، له مونږ څخه د درندو دندو د اجرا غوښتنه کوي.

په اقتصادي، ټولنیز او د ژوند په ټولو برخو کې د پام وړ وروسته پاتي والى لیدل کیږي چې د کار او دندو د اجرا په طرز کې هم نیمګړتیا شته. چې ژر باید اصلاح شي. د هیواد اقتصادي وضع ډیره ګډوډه او بي نظمه ده، په ټولنیز ژوند کې هم ډیرې او مختلفي ستونزي موجودې دي، دولتي دستګاه له حده زیاته فاسده شوې او په ټولو برخو کې یې بې عدالتي لیدل کیږي، پر ټولنې باندي فقر، بیکارى، ناروغۍ، بیسوادۍ خپل سیورى غوړولی دی. تبعیض، نابرابري ډیري بدې پایلې له ځانه سره راوړي دي. اوس مونږ ته ډیري مهمي ملي دندي په مخکي شته چې باید اجرا شي تر څو نوموړي ستونزي حل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ باید وګورو چې دا ټولي ستونزي یو ځل حل کولي شو؟ آیا مونږ باید هغه ټولي ملي دندي چې زمونږ په مقابل کې پرتې دي یو دم اجرا کړو؟ د هغو هیوادونو تجربو ښودلې ده، چې د خپل هیواد د پرمختګ له پاره یې ډیره وارخطایي کړي ده او له هري ممکني او غیر ممکنې وسیلې څخه د وروسته پاتې والی څخه د خپل هیواد د خلاصون په هیله البته یو دم عمل کړیدی. د ټولو چارو اصلاح یو دم یو طفلانه کار او بی نتیجي عمل دی، له دې امله باید په ډیر متانت، ټینګ عزم، دقیق سنجش، د ډیرو امکاناتو څخه په ګټې اخېستلو سره د ټولني د اصلاح او د خلکو د ژوند د بهبود له پاره پېل وکړو، باید قدم په قدم د خپلو فعالیتونو د ساحې د پراخولو پواسطه مرحله په مرحله مخکي ولاړ شو. د دندو د بریالیتوب له پاره اړین شرط په اقتصادی، سیاسي او ټولنیز ژوند او فعالیتونو کې د اکثریت خلکو فعاله ونډه اخېستل دي

- ګرانو هیوادوالو!

مونږ په داسې مرحله کې قرار لرو چې لاندي پوښتنې او غوښتنې مطرح دي:

- څه کولي شو؟
- له کوم ځایه څخه یې پیل کړو؟
- کومي خواته لاړ شو؟

ددي ټولو پوښتنو د ځواب له پاره باید له ټولو څخه وړاندي اعلام کړم چې په اوسنیو شرایطو کې د افغانستان د ځوان جمهوریت ضروري او مهمه دنده د جمهوري رژیم د بنسټیزه ستنو ټینګښت، د امنیت، مصئونیت تامینول او په هیواد کې د قانون تطبیق دی، چې پرته له تبعیض او امتیاز څخه د ټولو هیوادوالو له پاره سالمی، د ډاډ وړ او دیموکراتیکه نظام رامینځ ته شي. ډیر ژر به د نوي اساسي قانون د مسودې د جوړولو او مطالعي له پارو یو کمیسون و ټاکو تر څو د افغانستان د جمهوري نوي اساسي قانون د قانوني پړاونو د تیرولو او د لویي جرګې له تصویب وروسته به نافذ شي، چې د هغه په تطبیق سره به ریښتني دیموکراسي تامین شي، د افغانستان ځوان جمهوریت په ټولنیز نظام کې د ژورو او بنسټیزو بدلونونو غوښتونکی دی، دولت به د یادو شوو دندو د اجرا له پاره د لاندي چارو او دندو په اجرا کې ډیر کوښښ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي حاکمیت

د خوښۍ ځای دی چې ځوان جمهوریت د افغانستان د اکثریت خلکو د ښه ملاتړ څخه برخمن دی او د هغو د ګټو استازیتوب کوي په نږدې راتلونکي کې به جمهوریت د اساسي قانون پواسطه کوم چې نافذیږي د دولت د دري ګوني قوتونو تفکیک به وشي. او د خلکو د قانوني ګډون او تاکنو پواسطه به قانوني ثبات رامنځته شي. جمهوري دولت د ګران هیواد افغانستان نه د دفاع، د ځمکنی تمامیت، د هیواد د ازادي ساتل او د حاکمیت د ټینګښت له پاره کومه چې د دولت سیخلي دنده ده، د نړیوالو پواسطه په سیمه کې د قواوو انډول ته په پام به د هیواد د دفاعي ځواک پیاوړي کړي زمونږ ځوان پوځ نور د جمهوریت پوځ دي.

## ګرانو هیوادوالو:

اجازه غواړم او په صراحت سره اعلاموم د افغانانو او په ځانګړي توګه د اسلامي ریښتني ترقي غوښتونکو هیلو سره سم او د نوي عصر د غوښتنو په پام کې نیولو سره د افغانستان ځوان جمهوري دولت د بنیادي اصلاحاتو په لور به د لوي خدای (ج) په مرسته له وارخطایي، افراط او تفریط او لغزش پرته په ډیر جرت سره پرمخ ولاړ شو. مونږ خوښ یو چې په دي تارخي مرحله کې د افغانستان د جمهوري دولت دندي د ټولنیزي نابرابرۍ، فقر، اقتصادي وروسته پاتي والي چې له ډیرو پیړیو راهیسي زمونږ په هیواد کې شتون لري، ختمول، د سیاسي او اقتصادي استقلال پر ټینګښت برلاسی او ور رسیدل دي.

جمهوري دولت که چیري د ټولنیزي پرمختیایي مبارزي پر مهال د یو پیاوړی ملي اقتصاد په ایجاد کې بریالي نه شي، سیاسي استقلال او ملي حاکمیت له خطر سره مخ کیږي. د ملي اقتصاد د ایجاد له پاره چې په نوي عصري تکنالوژۍ او ساینس باندي متکي وي. نو لازمه ده چې یو لړ اقتصادي او ټولنیز ژور بدلونونه رامینځ ته شي. دولتي سکتور باید ټینګ او تکامل وکړي. په اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو برخو کې دیموکراسي پلې او په هیواد کې باید د ملي صنایعو بنسټ کینښودل شي.یو ازي ریښتیني انقلابي بدلونونه کولای شي په هیواد کې ملي حاکمیت ټینګ او د خدای (ج) په مرسته به وکولای شو چې د اقتصادي او ټولنیزو پرمختګ په لور موثر ګامونه واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

گرانو هیوادوالو!

د دي درندو ملي دندو اجرا ایجابوي چې په دی خطرناک او حساس پړاو کې ټول ملي او مترقي ځواکونه او وطن پالونکي طبقات په یو پراخه جبهه کې د هیواد د ځوان جمهوریت تر رهبری لاندې متحد شي، د خداي (ج) په فضل د نوواو بنسټیزو اصلاحاتوعملی کول ، د نوي ، قوي او مترقي افغانستان جوړښت ، د وطنپالني له شور او زوره څخه په ډکه روحیه، زړورتیا او پوره ډاډ سره ، د ګران هیواد افغانستان ځوان جمهوریت په انقلابې ولولو سره د راتلونکي په لور، د لوي او مهربان خدای (ج) باندي په توکل او مرسته مخ په وړاندي ځي...

مذهب زنده دلان خواب پریشاني نیست
از همین خاک جهان دیگر ساختن است
زنده و جاویدان بـــــاد افغانستـــان
سربلند بـــــاد مردم افغانستـــان
بر افراشته باد بیرق جـــــــمهوري [۲۱ م م ۵۵۰_ ۵۲۰]

خلکو ته خطاب چې د نوي دولت سیاسي کړنلاره وه د ۱۹۷۳ ز کال د اګست په ۲۳ نیټه، ماښام د کابل راډیو څخه خپره شو د لیکني میتود او اساس یې د خلق دیموکراتیک ګوند د برنامي سره ډیر و توپیر نه درلود چې بنیادي اصلاحاتو لکه د نوي اساسي قانون تصویب، دیموکراتیکو حقوقو پراختیا ، د رشوت او فساد پرضد مبارزه، دولتي کارونو څخه د پاچا کورني د غړو لاس لنډول، د ځمکو ویشل، د معارف، سواد زده کړه او روغتیایي خدمتونو عامول وعدي ورکړي چې د یوي پاکي اداري زیري یې ورکاوه.

د دي وینا خپریدلو خلک په اندیښنه کي واچول . ځکه چې دده په خوا کې د پرچم د جناح یو شمیر غړو له ده سره همکاری درلوده او د حکومت په مهمو څوکیو کې په دندو وګمارل شول، د خلق جناح هم دده حمایت او تائید کړي و..

د سردار محمد داود خان ملګرو فکر کاوه چې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند اتحاد د داود خان سره موقتي بڼه لري ، خو کله چې نوموړي د خپل واک ستني ټینګي کړي پرچمیان به له دولتي څوکیو څخه لیري او د هغه پر ځای به خپل دوستان او ملګري مقرر کړي.(۳۳ م ۲۸۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړي وينا چې د ۱۳۵۲ لمريز کال د وږي د مياشتي په لومړي ورځ د راديو افغانستان نه خپره شوه د جمهوري دولت د ټولنيزو، سياسي، اقتصادي او فرهنګي چارو د سرته رسولو کړنلاره وه. دغه د جملو او کلماتو په لحاظ يو مغز نه وينا وه. خو په عمل کې د دي وينا د پلي کولو توان له جمهور رئيس او د هغه له دولت سره نه وه. د هغه په خپله وينا کې د جمهوري انقلاب په تاريخي ضرورت باندي ډير ټينګار شوی وه. او د ۱۳۴۳ لمريز کال د اساسي قانون ديموکراسي يې يو قلابي ديموکراسي وبلله او وويل چې نوموړي ديموکراسي زمونږ د خلکو ژوند له خطر سره مخامخ کړي وو. نو ځکه د هيواد ځوانانو دا انقلاب وکړ ده په تيری ديموکراسي باندي په سياسي او اجتماعی لحاظ ډير انتقادونه وکړل او د پارلمان فعاليتونه يي د شخصی استفادی وسيله و بلل.

سردار محمد داود خان په خپله وينا کې د اداري د پاکوالي، د برابرو حقوقو د تامين، د ملي ازادي او سالمي روزنې له پاره د زميني برابرولو وعدی ورکړي وي، د ملي مسالي تر عنوان لاندي په افغانستان کې ټول ميشت قومونه ورونه او د هغوي ژبي يې برابري و ګڼلي او هيڅا ته د برتري حق نه وو ورکړل شوي. د سوداګري، پولي، مالي او د بهرنې سوداګري چاري بايد د دولت د لارښوونو او اوامرو تابع وي. د کرنې د پرمختيا او عصر ی کولو، د کار د شرايطو د ښه والي او عمومي ترقۍ ټينګي وعدي ورکړې وې په بهرنې سياست کي د ګاونډيانو سره د ښو اړيکو او روغی هيله ځرګنده کړي وه. (۳۳ م ۲۸۵)

دي وينا په هيواد کې د روڼ اندو هيلي د هيواد د ابادي او پرمختګ په اړه زياتي او د ديموکراسي پلي کيدو ته اميدواره کړل. خو په اخير کې ملي رهبر په خپل عظمت کې غرق او د ګوند په جوړولو کې دده شاو خوا ناپاکه او سستو عناصرو ونيوله، چې دده په نوم يي ډيرې ناوړه کړنې سرته ورسولي، د پاکستان په لمسون د پښتونستان د مسالي پر سر لويديځه نړۍ د هغوي په سر کې د امريکا متحده ايالات د افغانستان په اړه بې اعتنا او اړيکي يې سستي شوي چې شوروي اتحاد ددي خلا ځخه ګټه واخيسته او په خلاص مټ يې د افغانستان په کورنيو چارو کې لاس وهنه پيل کړه تر څو چې يې په ۱۹۷۸ ز کال د ډسمبر په ۲۷ کې نظامي يرغل وکړ او د ډيرو وينو تويولو وروسته ناکام او وتلو ته مجبور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کورني سياست

## ۱ _ له ۱۳۵۲ څخه تر ۱۳۵۵ لمريز کال پوري :

سردار محمد داود خان د ۱۹۷۳ کال د اگست د ۲۳ نېټې وينا (خلکو ته خطاب) کې د کورني او بهرني سياست لوري په ډاگه کړ. نوموړي پر پخواني رژيم د نيو کو تر څنگ د هېواد په اقتصادي ، ټولنيز او سياسي ژوند کې د ټولو خلکو د گډون پر بنسټ په ټولنه کې د سمونونو «اصلاحاتو» له راوستلو بر سېره په لومړي پړاو کې د جمهوريت د بنسټونو د ټينگولو ، د خلکو د د يموکراتيک ژوند د سمبالتيا له پاره د شرايطو ، قانوني ځواک د ضمانت او رېښتني ولسواکي د رامنځته کولو له پاره د نوي بنسټيزه قانون د جوړولو چارې په گوته کړې . خو په دې کړنلارو کې د وينا (بيان) سياسي غونډو او سياسي گوندونو د جوړولو حق په ستر گو نه لېدل کېده .(۴۲م م ۱۳۹ _ ۱۴۱)

د جمهوري نظام فعاليتونه د هغوی د هغو وعدو او د ډيموکراسۍ د غوښتنې دادعا برخلاف چې په خپلو رسمي اعلاميو ، فرمانو نو او اساسي قانون کې ترې پوره يادونه کړې وه يوازې د جمهور ريس د نظر او ارادې مطابق سرته رسېدل ځکه د جمهور ريس او رهبر خبره پرته له کوم خنډ څخه تل د قانون په څېر پلې کېده ، اداري کار کوونکو د ځان د بقا له پاره هم د سردار محمد داود خان درناوي کاوه . ده به په خپله اجرائيوي څانگو ته هدايت ور کاوه او راپور به يې ترې اخسته خو بياهم اجر اتو يې د ملي گټو سره سمون درلود.او دده هره کړنه د هېواد د پرمختگ لپاره وه . د سردار محمد داود خان په اند افغاني ټولنه د فرهنگ او تمدن له مخې وروسته پاتې او د پوهې کچه يې ډېره ټيټه ده . هغه سياسي گوندونه او سياسي کړۍ چې د هېواد په مختلفو سيمو کې فعاليت کوي مناسبه سياسي تجربه او هم د يو پر مختللي ، مترقي او پياوړي افغانستان د جوړېدو له پاره يو مثبته او معقوله کړنلاره نه لري ، نوموړی په خپلو مامورينو بې اعتماده و او د هغوی د ناوړو گټو او بدې اخېستلو په اړه انديښمن و ...

نوموړی په دې نظر و چې يوازې په سياست او اداره کې د نورو د نظر او رايې شريکول گټور دی خو د دې ترڅنگ د هغوی عملي شريکولو د تشنج او گډوډې او موخې ته د رسېدو په لاره کې ناکامۍ لامل گرځي . ده په اداره کې د ځانگړې لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیروي کوله چې د افغانستان د پر مختګ له پاره یې د خپلو نظریاتو تحمیل او زړه سو اندې د یکتاتورۍ تطبیق و . (۲۱ م ۵۶۱)

سردار محمد داود خان غوښتل چې په هېواد کې اقتصادي پرمختګ وده چټکه کړي او د ټولنیز ژوند په ټولو برخو کې پرمختک له پاره زمینې برابرې کړي ، ځکه هغه هیله درلوده تر څو افغانستان د سیمې او نړۍ د هیوادونو په څیر ، په ډېر لږ وخت کې پر ځان متکي هېواد باندې واوړي .

لوموړۍ هغه (داود خان) په افغانستان کې ټول مېشت قومونه پرته له امتیاز څخه افغان یاد کړل . قومي او محلي تخلصونه لیکنه او د تابعیت په تذکره کې ئې د پښتون، هزاره ، تاجک رسما منع اعلان کړل ، هڅه کېده چې افغاني ناسیونالېزم (ملت پالنه) رواج شي تر څو د پردیو د ایدالوژي د واوردیدو مخه ونیسي او دا تشه ډکه کړي . داود خان هم د ملت پالنې په ایډیالوژي او ټولنیز ، اقتصاد باندې معتقد و. نورو ته به یې دا توصیه کوله باور ولري هغه انسان چې ایمان او مسلک ونه لري هیڅکله به خپل هیواد او ټولنې ته په اوس او راتونکي کې د ګټور خدمت جوګه نشي (۲۱ م ۵۶۳)

سردار محمد داود خان دخپلې وینا د ریښتینولي او پلې کولو له پاره د بیمې شرکت او بانکونه ملي اعلان کړل . د ځمکو د اصلاحاتو له پاره یې دوه قانونه ( د ځمکو د اصلاحاتو او مترقي مالیاتو ) تصویب کړل . ددې قوانینو په اساس شخصي ملکیت اندازه ( ٤٠ ) جریبه اوبه لرونکي ځمکه چې له ( ٢٠) هکتاره سره برابره وه او (٢٠٠) جریبه وچه (للمي) ځمکه چې ( ٢٤٠) هکتاره سره برابره وه وټاکل شوه او په دې قوانینو کې پرېکړه شوې وه چې زیاتې ( اضافه ) ځمکې دې د ځمکوالو څخه په مناسب او عادلا نه قیمت واخېستل شي او د دې ځمکو قیمت دې په (٢٥) کلونو په موده کې د قسط په ډول ورکړل شي . بیا دې ځمکې پر بې ځمکو بزګرانو باندې په اقساطو وپلورل شي د مترقي مالیات ور کړې تر څو په خپله ځمکوال د ځمکې پلورلوته اړ ایستل ځکه د ځمکې حاصلا تو دغه مالیه نه پوره کوله . (۲۱ م ۵۶۳)

د دې قانون له نافذېدو وروسته د ځمکو د اصلاحاتو پر مهال یوفرمان صادر شو چې د ځمکو د اصلاحاتو پر ختمیدو پوري هیڅوک کرنیزه ځمکه پلورلې نه شي په هغه وخت کې په افغانستان کې د ځمکو د مترقي مالي تطبیق او عملي کېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدونکی و . خو د دې کار له پاره لومړی د ملکیتونو د ثبت د ادارو اصلاح ته سخته اړتیا وه او هم ځوان ولسوالان باید نه ستړې کېدونکې کار وکړي خو داسې ونه شول ځکه یو شمېر ځوان ولسوالان د خلق دیموکراتیک گوند د پرچم جناح غړي او هو اخوان وو .. چې فیض محمد او ذبیح الله زیارمل لخوا په دندو وگمارل شول . ذبیح الله زیارمل هم د کورینو چارود وزارت د قلم مخصوص مدیر په توگه دنده اجرا کوله . او جیلاني باختري د کرنې په وزارت کې مقرر و . ځوانو ولسوالانو غوښتل چې ډېره ژر د ملکانو او ځمکوالو نفوذ له مینځه یوسي تر څو د خپلې ایدیالوژي سره سم ټولنیز عدالت را منځ ته شي . خو د ځمکو د استملاک په نتیجه کې ځمکوال زیانمن او داود خان د نفوذ خاوندانو او ملکانو نفوذ کم او په سیاسي ژوند کې یې شاته کړل ، پر ځای یې تحصیل لرونکي ځوانان په کار وگمارلو او په خواکې یې سردار محمد داود خان هغه پخواني مامورین چې له ده سره ملگري وو او ( ۱۰ ) کاله په کورناست او یا یي د ده د صدراعظمي پر مهال له ده سره کار کاوه که څه هم د هغو سن د تقاعد حتی د جبري کار له اندازي څخه اوښتي و . هغوی یې بېرته د جمهوریت په کابینه کې مقرر کړل لکه جنرال محمد اصف سهیل د مطبوعاتو ریس په ترتیب سره د پیکنگ د سفارت څخه راغلی و د تهیې ریس او جمهوریت د روځپانې د مسول په توگه مقرر کړ .(۲۱ م ۵۲۴)

سردارمحمد داود خان په دولتي دستگاه کې د افغانستان د خلق دیموکراتیک گوند په تیره د پرچم اړخ نفوذ زیا ت و . نوموړي غوښتل چې له هغوی نه په خپله گټه کار واخلي برعکس د خلق دېموکراتیک گوند غړو غوښتل چې خپل نفوذ په نه احساسېدونکي ډول زیات کړي کله چې داود خان د دوي د هیلې سره سم کار ونه کړ نو په کورنیو چارو کي لاسوهنه پیل کړه ده هم دخپلې دولتي دستگاه په تصفیه کولو کې اقدام وکړ دا کار یې له خپلې کابینې څخه پیل کړ چې د کورنیو چار وزیر فیض محمد ، دسرحداتو وزیر پاچا گل وفادار ، د کرنې وزیر غلام جیلاني باختري او دمخابراتو وزیر عبدالحمید محتاط یې له دندو څخه لیرې کړل پر ځای یې عبدالقدیر نورستاني د کورنیو چاروزیر ،عبد اکریم عطائي د مخابراتو وزیر،عزیزالله واصفي د کرنې وزیر او پوهاند عبدالقیوم یې د سرحداتو وزیر په توگه وټاکل لږموده وروسته د صدراعظم مرستیال محمد حسن (شرق) او نعمت الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

پژواک چې د پرچم د اړخ غړي وو له دندو څخه لیرې او حسن شرق په جاپان کې د سفیر په توګه مقرر کړ. (۲۱ م ۵۲۴)

سردار محمد داود خان د نوو ټاکنو او لیرې کولو سره ظاهراً دولتي دستګاه تصفیه کړه خو هغه د دولت په ټیټو او منځنیو پوړونو (سطحو) کې د هغوی نفوذ او موثریت ته پاملرنه ونه کړه چې د دې ګوند غړو د خپل ګوند نفوذ او موقیعت د ټینګولو له پاره ترې ګټه واخیسته. بل پلو ته ښاغلي داودخان د پورتنۍ تصفیې وروسته په پوځ او پولیسو کې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د غړو د لیرې کولو څخه ډډه وکړه او دا کار یې د ځان له پاره خطر ګڼلو چې وروسته بیا د داودخان واکمني ته هم دغو ټیټ رتبه پوځي افسرانو د پای ټکی کېښود.

کله چې سردار محمد داودخان په هرات کې د وینا پر مهال د خلق دیموکراتیک ګوند او دهغوی ایدیالوژي سره مخالفت ښکاره کړ. دګوند رهبري او شوروي اتحاد دواړه په دې پوه شول چې داودخا ن د مارکسیسیم سره مخالف دي دشوروي اتحاد په کوښښ دواړه جناح (خلق او پرچم) سره یو ځای شول. سلطان علي کشتمند د خلق دديموکراتیک ګوند سره د سردارمحمد داود خان د اړیکو په اړه داسې وایي:

«رابطه حزب با محمد داود خان بیشتر یک رابطه اي اګر بوده باشد تا حدود معیني ولي رابطه ذهني وفکري نه بوده و هیچ ګونه قرارداد در میان وجود نداشت و بعداً وقتي محمد دادو خان جمهوري را اعلام کرد وبه حاکمیت رسید باز هم رابطه میان حزب دیموکراتیک خلق ومحمد داود بیشتر یک رابطه رسمي بود با یک تفاهم معین متقابل با وجود همکاري هاي محمد داودوحزب دیموکراتیک نه بسیار با سیاستهاي حزب موافق بود ونه نسبت به همه رهبران خوشبین. (۲۸ م۱۷۵)

په دې اړه عبدالکریم عطایي داسې نظر لري: (( د جمهوري دولت له اعلانولو وروسته د چنګابښ د (۲۲) نېټې د پاخون د مشر په هره وینا کې پردې ټینګار کیده چې کین اړخي عناصرو له خپلو دندو څخه ګوښه شي او دا د دې ښکاره ثبوت دی چې ښاغلي جمهور رئیس او جمهوري دولت له هېڅ یوې ډلې سره هم لاس نه دی یوکړی د ولس دښمنانو چې کله ځان په خطر کې ولید د دولت پر خلاف به یې هر ډول تخریبي فعالیتونه سرته رسول. [۳ م۴۰] او په دې اړه ظاهر طنین داسې وایي: (( ما په خپله له جمهور رئیس محمد داود خان نه په ۱۹۷۲ زکال په یوې مصاحبه کې پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه خلک وايي او اوازه ده چې د ۱۳۵۲ لمريز کال دچنگاښ د ۲۲ (۱۹۷۳ زکال د جولاي د۱۷) مې نېټې د پاڅون پر مهال ستا او دخلق ديموکراتيک گوند تر مينځ يو پټ تړون موجود دي آيا داواقيعت لري؟ داود خان وويل: چې خداى (ج) شاهد دى چې دا خبره هېڅ واقيعت نه لري نه په پټه او نه په ښکاره زما او د هغوى تر مينځ کومې اړيکې نشته .(۲۸ م ۱۷۴)

له پورتنيو څرگندونو څخه داسې نتيجه اخلو چې سردار محمد داود خان له واکمنۍ مخکې او د واکمنۍ پر مهال له هېڅ يوې سياسي ډلې سره اړيکې نه درلودې خو په کومه اندازه چې دافغانستان د خلق دېموکراتيک گوند څخه ويريده . همغه اندازه د اسلامي نهضت (اخوانيانو) څخه هم ډاربده .ددواړو مقابلې ته يې تياري نيوه ځکه له دې دواړو (خلق ديموکراتيک گوند او اخوانيانو نهضت) څخه د جدي خطر احساس کېده . ددغو دواړو قوتونو سياسي واک ته د رسېدو امکانات زيات و ځکه له يوې خوا د شوروي اتحاد او بل لوري د پاکستان اوعربي هيوادونو ملا تړ څخه برخمن وو. داود خان د دواړوخواو د ضعيفه کولو نيت درلود ،تر څو دده په مقابل کې دمخالفت توان له لاسه ورکړي ځکه ده (داودخان ) د هېڅ امخالفت نشو زغملى ،هڅه يې کوله چې خپل مخالفين له مينځه يوسي دده همدې کړنلارې دده مخالفين لا زيات کړل.

ښاغلي هارون وايي : (( ځوان جمهوري سياست پر اختناق او پوليسي نظام باندې ولاړ و د جمهوريت مخالفت او پر هغه باندې انتقاد جرم بلل کېده او سخته سزا يې درلوده چې له جمهوريت سره مخالفت په نوم ډېر کسان وتکول شول .(۱)م۹۲)

نوموړي د اگست د۲۳ نېټې په بيانيه کې ديو لړ تولنيزو اقتصادي بدلونونو او اصلاحاتو وعده ورکړې وه خو د ۱۳۴۳ لمريز کال قانون يې لغوه اعلان کړ او دمرکزي کمېټې لخوا يو حکم صادر شو چې ددي حکم پواسطه دمخکينۍ مقنني قوي صلاحيتونه مرکزي کمېټۍاو د پاچا صلاحيتونه رئيس جمهور پوري اړه پيدا کړ.

ښاغلي حسن شرق هم د داودخان دا سياست چې مخالفين يې نه پرېښودل په غيرمستقيم ډول تائيدوي ، ليکي : ((د سردارمحمد داود خان د هدايت سره سم مولوي سيف الرحمن د تورن نظر محمد له خوا تر څارنې لاندې ونيول شو. ځکه داود

(c) ketabton.com: The Digital Library

خا ن فکر کاوه چې مولو ي سیف الرحمن په پټه د پوځي افسرانو سر ه ګوري په ځانګړي ډول د دفاع وزارت مرستیال جنرال خان محمد سره د هغه اړیکو لرل دده اشتباه نوره هم زیاته کړه ۰د کورنیو چارو وزارت د پولیسو او ژاندارم د قوماندان عبدالقدیر تر مشري لاندي د شکمنو اشخاصو څارنه نوره هم سخته شوه دوي وتوانېدل چې د جنرال خان محمد د خدمتګار په وسیله د هغو کسانو غږونه ثبت کړي چې د هغه کورته تلل . د ۱۳۵۲لمریز کال د وږي د میاشتې په ۳۱ نېټه د جمهوري ریاست ددفتر د بیړنۍ اطلاع له مخې د مرکزي کمېټې ټول غړي جمهور رئیس (محمد داود) خپل حضورته وغوښتل ، د جمهور رئیس حضور ته د رسېدلو وروسته موضوع په اړه اوږدې څرګندونې ورکړې او وې ویل ( ورونو دیوې موثقې اطلاع او لاس ته راغلو اسنادو په اساس نن شپه دوه بجې مخالفین د پخواني صدراعظم محمد هاشم میوندوال او مرستیال خان محمد ترمشرۍ لا ندې د جمهوري نظام د را پرزیدو له پاره وسله وال قیام کېږي ما غوښتل چې تاسې خبرکړم او ستاسې نظریات له ځان سره ولرم ). د غونډې په پای کې پرېکړه وشو چې جمهوري غوښتونکي دې ټولو قطعاتو کې پټ اولومړۍ درجه احظارات عملي کړي .»[ ۲۲م ۱۷۰ ] سردار محمد داود خان هېڅ ډول مخالفت نشو زغملي او د واک په ټوله موده کې یې خپل مخالفین له څوکۍ څخه لیرې یا بندیا ن کړل

## ۲ _ له ۱۳۵۵ _ ۱۳۵۷ لمریز کال پورې:

د سردارمحمد داود خان د دوهم ځل ټاکنې وروسته د ټولنې په ټولو برخو کې تقریبا د وېرې فضا حاکمه شوه هېچا نشو کولایی چې د حاکم نظام د سیاسي کړنو په خلاف خپل نظرڅرګند کړي نشرات سانسور او مطبوعاتو یوازې د دولت ورځني فعالیتونه هغه هم مثبت او یو طرفه نشرول ، د ټولو ګوندونو فعالیتو نه بند شول یوازې د ملي غورځنګ ګوند چې دداود خا ن تر لارښوونې لاندې یې فعالیت کاوه او د ده ریاست په وخت کې جوړشوی ود فعالیت قانوني اجازه درلوده .او خپلو پلویانو جذبولوته یې ځانګړې پاملرنه کوله .

سردار محمد داود خا ن په دې نظر و چې په اوسنیو شرایطوکې بایدیوازې اقتصادي او ټولنیز حالت ته ډېره پاملرنه وشي ځکه سیاسي دیموکراسي له اقتصادي او ټولنیزې ودې پرته امکان نه لري خو د اقتصادي فعالیتولارښوونه باید

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دولت په لاس کې وي انارشيزم څخه د مخنيوي له پاره پکار ده چې تر څه وخته پورې يوازې يو گوند فعاليت وکړي او ډېرو خلکو غوښتنې په نظر کې ونيسي خو دا په دې معنى هم نه ده چې تل به مخالف گوند مجود نه وي .ځکه د مخالف گوند له موجوديت پرته ديموکراسي معنى نه لري . (۲۱م ۵۲۱)

نوموړي د پورتنيو دلايلو په نظرکې نيولو سره يو انقلابي گوند جوړ ، خومخکې له دې چې ددې گوند اساسنامه او بر نامه جوړه شي د ځينو خود غرضه اشخاصوله خوا د خپلوځاني او شخصي گټو خونديتوب له پاره جلب او جذب پيل شو. په دې لړ کې هغه روڼ اندوځوانانو چې دگوند د غړيتوب څخه سر غړونه کوله پرتهديدولو سر بېره په تور لست کې شاملېدل خو کله چې داود خان په دې کار خبر شو ډېر ژر د ملي راډيو له لارې اعلان وکړ چې دملي غورځنگ په گوندکې غړيتوب د هېچا له پاره جبري نه ده. د ملي غورځنگ د تاسيس او اجازې په اړه د اساسي قانون په (۲۴) مې ماده کې داسې ذکر شوي وه : ((دافغانستا ن دخلکو د وخت د سياسي او ټولنيز غوښتنوسره سم تر هغه پورې چې دوی په طبعي ډول رشد ته نه وي رسېدلي په هېواد کې به يو گوندي سيستم هغه هم د ملي غورځنگ د لارښوونې لاندې (چې نوموړي گوند ۱۳۵۲ لمريز کال د چنگاښ د ۲۲ مې نيټې د انقلاب بنسټ اېښودونکي) ټينگ وي . نوموړي گوند د۱۳۵۲ل کال د چنگاښ په (۲۲) مې نېټه تشکيل اوفعاليت يې پيل کړ . (۲۱م ۵۲)

د ملي غورځنگ رهبري د هغوی کسانو تر نفوذ لاندې راغله چې غوښتل يې په گوندکې دغړيتوب او فعاليت له مخې ځا ن سردارمحمدداودخان ته ځان وفادار وښيي دا کار ددې لامل شوچې دگوند نفوذ له دولتي دستگاه څخه بيرون نه شواو په نورو او لسي کړيواوقشرونوکې نفوذ و نه شو کړاي .د ملي غورځنگ گوند د دې له پاره جوړ شو چې دولتي ستنې ټينگې کړي خو برعکس هغه يې ولړزولې. ځکه هغه لوړ رتبه مامورين چې ددې گوند غړي وودې په ځای چې خپلو دندواو مسوليتونوته متوجه شي پريو بل د مخکې کيد واو دمقام د تر لاسه کولو له پاره يې مبارزه پيل کړه.

سردارمحمد داود خان دخپل حکومت په اخرو وختونو کې غوښتل په کورني سياست په تېره بيا په کابينه او د دولت په لوړو پوړو چارواکو کې بدلون را ولي .ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کابینه کې د چپیانو شمیر کم کړ او پر ځاي یې د ملي ګټو پلویان او ده ته ریښتني وفادار کسان مقرر کړل ځکه په کابینه کې د چپیانو ( د افغانستان خلق دیموکراتیک ګوند غړو خصوصا د ( پرچم اړخ ) د موجودیت له امله تل اسلام پالو ګوندونو پر داود خان سختې نیوکې کولې داود خان په دولت کې د وزیرانو په کچې سر بېره په منځنیو رتبو کې مقررو چپي عناصر دندې هم محدودې کړې خو دا بدلون یې له وزیرانو را پیل کړ . د کورنیو چارو وزیر فیض محمد پر ځای عبدالقدیر نورستاني د کورنیو چارو د وزیر په توګه او فیض محمد یې د پاچا ګل وفادار پر ځاي چې په کور کې ناست و د سرحدونو وزیر په توګه ، د مخابراتو د وزیر عبدالحمید محتاط پر ځای یې عبدالکریم عطائي او د جیلاني باختري پر ځای یې عزیز الله واصفي د کرنې د وزیر په توګه ، محمد حسن شرق یې هم د صدارت د مرستیالي له څوکۍ څخه لرې او په توکیو ( جاپان ) کې د سفیر په توګه او په عوض یې سید عبدالله د مالي په وزارت سر بېره د صدراعظم د مرستیال په توګه مقرر کړل .(۷ م م ۲۴٤ او ۲٤٥)

سردار محمد داود خان د دې بدلونونو سر بیره به تل په خپلو ونیا کې پرله پسې ټینګار کاوه چې په افغانستان کې هېڅ ډول وارداتي مفکوره او ایدیالوژي د منلو وړ نه ده د هغه دا ډول څرګندونې او موقف په هېواد کې د چپي عناصرو د خفګان او تشویش سبب شو ددې پورتنیو بدلونونو په اړه د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت ریس او د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند عمومي منشي نورمحمد تره کي د ثور د (۷) نیټې د بدلون څخه وروسته د ۱۳۵۷ لمریز کال د ثور د میاشتې په ( ۱۹) مه نېټه په خپله وینا کې داسې وویل :(( محمد داود له یوې لنډې مودې څخه وروسته له دولتي دندو څخه ملي او مترقي عناصرو په لرې کولو سره په عملي توګه د سلطنت غوښتونکو او ښې اړخو عناصرو سره اتحاد وکړ او د بهرني ارتجاع په خدمت کې یې قرارونیو . په حساسو دولتي څوکیو کې یې د زړې سلطنتي دستګاه پلویان وګمارل.... )) ( ۷م ۲٤٦)

ځینو خلقیانو او پرچمیانو ته د سردارمحمد داود خان له خوا د دندو د سپارلو موخه دا وه چې د روښ اندو تر مینځ د نظر یووالی او همکارۍ جلب او ټول په ګډه وطن پالنې په روحیه د هېواد په اقتصادي او ټولنیز پرمختګ کې ونډه واخلي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ملي بيرغ او ملي سرود :

په ۱۹۷۳ ز کال کې سردار محمد داود خان د ارگ دماڼۍ مخې ته چې په زرگونو خلک حاضروو ملي بيرغ پورته کړ . نو موړي بيرغ تور ، سور ، او زرغون رنگ درلود ، خو په نښان کې يې بدلون راغلی و چې په نښان کې د محراب او منبر پر ځای د* هما مرغه ځيره ځاي شوې و چې په خلاصو وزرونو هوا ته د الوتلو په حال کې معلومېږي

*د هما مانا مبارکه (فرخنده) ده يو لاشه خوړونکي الوتکه ده او يو لوي شاهين ته ورته ده . دهما د بدن ځانگړې جوړښت دا له نورو لا شخوروڅخه جلا کوي ، دهما وزونه پلن ، اوږده اوکونج لرونکي دي ، اوږده تورنگه لکې لري . د شاه وزرونه او لکې يې تور ، ايرې ډوله او سر يې ټول نخودي ، د سترگو څلور خواويا و ماخوکه يې تور رنگ لري . د ماخوکه لاندې لکه د ږيرې په څير څو تاره تو ويښته لري نس يې نارنجي زيږ او ټټر يې نارنجي رنگ لري ، چې د تورو وزرو سره يې تضاد لري . ددې الوتونکي چرگوړې توره سره غاړه لري .

د هما دبدن اوږود والې يو متر ته رسيږي . اوعموماً په غرنيو سيمو کې ژوند کوي او په سختو گړنگونو کې ځانته ځاله جوړوي . دپخوانيو خلکو په اند دا الوتوکې د انسان د ښه بخت او سعادت لا مل گرځي د هغوي په اند هما چې د گوربت (عقاب) د کورنۍ غړې دي چې سيورې د هر چا په سر ولويږي هغه نيکمرغه کيږي . فردوسي په شاهنامه کې د يو بيرغ (درفش) څخه يادونه شوې ده چې هما پرې انځور شوې وه او هغه يې دبيرغونو مور بللې ،

دا نښان د ډېرو په نظر ښه و خو بهرنيو دښمنانو مذهبی عناصر راوپارول د قندهار ښار څلورلارې کې يو ملا په لوړآواز وويل : (( مسلمانانو وگوری چې نوی دولت د محراب او منبر پر ځای يو مردار خور ټپوس ودرا وه )) داسې تبليغات ډېر زيات شول د حکومت استخباراتي شبکو تعقيبول د خلکو ذهنيتونه ورځ په ورځ ياغي کېدل ، دولت اعلان وکړ چې د پوځ په بيرغ کې بدلون نه دی راغلی او د عقاب نښان يوازې په ملکي برخه کې رسميت لري خو د دښمن تبليغاتو عامه فکرونه دومره مسموم کړې و چې سردار محمد داود خان يې د اسلام نه مخ گرزونکو په نوم ياد کړ . (۳۳ م ۲۸۸)

دغه بيرغ په لوړ ځاي ځړول کيده چې ټول خلک يې ووينې ، هخا منشيانو په وخت کې هم د هما بيرغ موجود و پر شاهي چتر د هما انحور ايستل شوې وو . (۵۱ م ۲۴)

هما په زدشتي افسانو کې د (ساينا) يا (سيمرغ) په نامه يادشوې او ددې الوتکی په صفت کې ليکې .

هما از همه مرغان از آن شرف دارد استخوان خورد و جانور رئيس سازارد

رحمن بابا هما په خپل شعر کې داسې يادوي .

هر مرغه په خپله جاله کې همادي که کارغه که منگيرک او که قنس

ځيني هغه ټپوس (کرکس) گڼي چې مردار خور دې د ځينو لخوا ورته د سعادت الوتوکی هم ويل شوي دي ، او وايې د هغه سيورې چې دهر چا په سر ولويږي هغه پاچا يا شتمن کيږي او دهايون لغت هم د هما نه اخيستل شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي چې همدا مانا لري . دا چې خلک د منني په وخت کي يو بل ته وايي «خداي د ستا سيوري له ما له سره نه کموي .» اشاره همدي ته ده .

حميد ماشو خيل وايي .

طلبوه سرفرازي په سرکوزي کې | را کوزيږي په هډوکي هما ښکته

رحمن بابا د هما په هکله وايي :

څه عجب دي چې هما يې په دام نښلي | هر صياد څخه چې دام دي داخلاص
ستا دباغ او بې زاغ زما هماي دي | په نظر ځما هماي ستا دباغ بې زاغ
څه بزرگي به يې د باز و دهما وي | زباني زکر که سل رنگ کا خراړه
د هما په څير طمعه کړه د وچ هډوکي | لکه مچ طالب د شهدو شکر مه شه
مرتبه به دي د مچ او دميږي شي | زړه په غوړو غوښه مه تړه همايه
لکه فرق چې دهما و دزاغ نه شي | هم دغه دليل د شاه او دگداي دي
دا خو بخت دي څوک سپين و څوک يې تور کړه | گڼه عين زاغ هسي هما دي

او حافظ وايي:

که هما اوج سعادت به دام ما افتاد | اگر تو راگذري بر مقام ما افتدد

او په شاهنا مه کي هم د هما څخه يادنه شوي دي . ( ۵۱ م م ۲۲ او ۲۷ )

واقيعت داو چې د داود خان دې کار «په نښان کې بدلون» د افغانستان د مذهبي ټولنې او موجوده شرايطو سره سمون نه درلوده دا دهغه يو ذهني عمل و که نه دی تغير ته دومره اړتيا نه وه د افغانستان پاچاهانو خو تل دغه راز اقتصادي او ټولنيز پرمختگ او کړنو په ځاى ځينې سطحې بدلون لکه نښان ، لوټونه ، ځينې نومونه او د وزارتونو زياتولو او کمولو ته ډېره جدي پاملرنه کوي .

سردار محمد داود خان د هېواد پياوړی شاعر عبدالروف ( بېنوا ) ته دنده وسپارله چې د جمهوريت له پاره ملي سرود جوړ کړي هغه دا لاندې ملي سرود جوړ کړ

څو چې دا ځمکه اسمان وي
څو چې دا جهان ودان وي
څو چې ژوند په دې جهان وي
څو چې پاتې يو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوريت
تل دوې ملي وحدت

(c) ketabton.com: The Digital Library

تل د وي افغان ملت جمهوريت
تل دې وي افغان ملت جمهوريت
ملي وحدت ملي وحدت

نوموړی ملي سرود پوځ په موزيک کې ځای شو په ټولو تشريفاتو ( په داخل او بهر ) کې خصوصا د سردار محمد داود خان د سفر او بېرته راتګ پر مهال غږول کېده او انتقاد پرې دا و چې د اسلام مقدس نوم پکې نه دي اخيستل شوي ٣٣م ٢٨٨ )

## په واک کې ځينو خلکو ته زياته ونډه ورکول :

د جمهوريت د دولتي دستګاه په لوړو څوکيو کې د پرچميانو ، خلقيانو او ټولو روڼ اندو د ټاکنې اصلي علت دا وو چې د هېواد ټولو منورو قشرونو ته په اقتصادي او ټولنيز بدلونونو کې ونډه ور کړل شي تر څو په دولت کې د نظر د يووالي او ګډې همکارۍ روحيه را مېنځ ته کړي . خو د دې هيلې ( د ګډې همکارۍ جلبول ) پوره کېدل يو نا شونې کار و د کرنې وزير غلام جيلاني باختري لخوا د ببرک کامل په پلوۍ جلب و جذب پيل شو نوموړی د جمهوريت د مرکز يې کميټې ترنيو کې لاندې راغې له دې وروسته په کابينه کې د پرچميانو تصفيه شروع شوه . خو سردار محمد داود خان له دې مخکې د ١٣٥٣ کال د سنبلې په ( ٢٩) نېټه ( ٤٢ ) تنه نظامي او ملکي شخصيتونه ونيول لکه خان محمد د دفاع وزارت مرستيال ، ډګر جنرال عبدالرزاق ، جنرال ګلبهار ، جنرال عبدالسلام ملکيار ، جنرال نيک محمد سهاک ، جنرال محمد رحيم ناصري ، ډګروال زرغون شاه ، ډګرمن محمد اکرم ، نقيب الله ، ډګرمن مختار په پوځي افسرانو سر بېره يو شمېر مخور قومي مشران او سوداګر هم د کودتاه په نوم ونيول لکه سيف الرحمن خان د ولسي جرګې غړي ، محمد عارف ، جنت خان غروال د پشتني تجارتي بانک ريس عبدالحکيم خان کتوازي ، سعدالله کمال د مهمندرې وکيل حاجي الله ګل هو دخېل او ورور يې مولاګل ، حاجي حنان ځاځی ، حاجي فقيرمحمد خان ، اوالله نظر دوستي خيل يې بنديان کړل (١٨م م ٢٣٦او ٢٣٧)

په لوړو او حساسو څوکيو او پوځ کې نا پېژندل شوو پرچيمانو مقرري د حسن شرق له خوا او يا د هغه په سلا وه د هغو شمېر په دولت کې دومره ډېر وو چې په سردار محمد داود خان باندې هم د کمونست تور و لګول شو . ده ( سردار محمد داود

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان ) لومړی د خپل ځان څخه د دغه تور د لري کول له پاره د ۱۳۵۳ لمریز کال د ثور په ( ۲۹ ) مه نېټه د پولي تخنیک د فارغانو په غونډه کې وویل : (( زمونږ د انقلاب دښمنان ما ته د کمونست نسبت کوي زه د ستاسو ځوانانو په مخکې وایم چې زه مسلمان یم او د کمونست په نوم زما بدنامول یوه نه ښنونکې ګناه او جرم ده ... ))

همدارنګه سردار محمد داود خان د همدې ( ۱۳۵۳ ) لمریز کال د ثور په ( ۱۹ ) نېټه د جمهوري بیرغ د اوچتیدو په مراسمو کې هم وویل چې :(( د جمهوري نظام د مینځ ته راتګ سره سم زه شعوري دښمنانو کله په یو نوم او کله په بل نوم بد نام کړی یم . زه په ښکاره اعلان کوم چې زه مسلمان یم په لایزال خداې (ج) ټینګ ایمان او عقیده لرم . هغه څوک چې ایمان او عقیده ونه لري هېڅکله خپل هېواد او ټولنې ته د خدمت مصدر نشي کېدلی ....)) ( ۳۹ م ۱۳۰ )

سردار محمد داود خان چې د ۱۳۵٤ لمریز کال د وري د میاشتې په لومړۍ نېټه د عراق ، ایران او سعودې عربستان له سفر څخه را وګرځید په هلیکوپټر کې هرات ته ولاړ هلته یې هم د ډېرو خلکو په مخکې وویل : چې د یوې ملي ایدالوژۍ پرته ، پردۍ ایدالوژۍ او مفکورې زمونږ د ټولنې په زیان دي په همدغه نېټه ـ ۱۳۵٤/۱/۱ لمریز کال یې په یو مطبوعاتي کنفرانس کې وویل: (( ځینې هېوادونه افغانستان د شوروي اتحاد سپوږمیو څه یوه سپوږمۍ ګڼي . زه په ښکاره اعلانوم چې افغانستان یو خپلواک ناپییلې هېواد دی د هېڅ هېواد سپوږمۍ نه ده اونه د چا سپوږمۍ کېدای شي .که دښمنان په دی اړه کوم فکر لري دومره وایم چې دا نظر یو خوب او خیال او حتي لېونتوب دی .)) ( ۳۹ م ۱۳۱ )

سردار محمد داود خان د دې له پاره چې د مینځ لارو او ښي اړخ ګوندونو او بې طرفه عناصرو او بېروکراتانو د انتقاد نه ځان وژغورې د ۱۳۵٤ لمریز کال د میزان د میاشتې په پنځمه نېټه لاندې نوي ټاکنې وکړې او په کابینه کې یې بدلون د کابل راډیو له لارې اعلان کړ او د پرچم د جناح په څوکیو کې یې نوي اشخاص په دندو وګمارل .

۱-د مالیې وزیر عبد الله د صدارت د دوهم مرستیال په توګه .

۲- غوث الدین فایق بیا د فواید عامې وزیر په توګه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳-د ننگرهار والي عزیزا لله واصفي د جیلاني باختري پر ځای د کرنې د وزیر په توگه
.
۴-د هرات والي عبدالتواب د کانو او صنایعو د وزیر په توگه .
۵-دفیض محمد په عوض عبدالقیوم وردگ د سرحداتو د وزیر په توگه .
۶-دسکندر پر ځای عبدالله عمر د عامې روغتیا د وزیر په توگه .
۷د عبدالحمید محتاط په عوض عبدالکریم عطائي د مخابراتو د وزیر په توگه
۸-علي احمد خرم د پلان د وزیر په توگه .
۹- وفي الله سمیعي د عبدالمجید خان پر ځای د عدلې د وزیر په توگه .
۱۰-عبدالمجید د دولت د وزیر په توگه
۱۱ - سردار عبدالمجید خان د ښوونې او روزنې د وزیر په توگه .
۱۲- محبي د لوړو زده کړو د وزیر په توگه ۰
۱۳- عبدالقدیر د ترافیکو افسر چې مخکې د فیض محمد په عوضد کورنیو چارود وزیر په توگه ټاکل شوی وبیا د کورنیو چارو د وزیر په توگه مقررشو.
۱۴-متقاعد ډگروال غلام رباني چې مخکې یې هم د دفاع وزارت دنده په غیر رسمي ډول اجرا کوله په رسمي ډول د دفاع د وزیر په توگه مقرر شول.
۱۵-وحید عبدالله د بهرنیوچارو د وزارت دسیاسي مرستیال په توگه.
د پورتنیو ټاکنو وروسته وحید عبدالله د حسن شرق صلاحیتونه کم کړل تر څو هغه په جاپان کې د سفیر په توگه مقرر شو.(۳۹ م م ۱۳۲او ۱۳۳)

د پورتنیو بدلونونو په خوا کې د پرچم د جناح یو شمېر غړو او یا هغوی ته وفادارو کسانو او خپلوانو د داود خان سره په حکومت کې دنده اجرا کوله لکه په پولیسو کې غلام فاروق یعقوبي ، قطره، جلیل نورستاني، صمد ازهر ، محمد نبي ، عبدالله همکار ، چې د ثور د بدلون نه وروسته یې د دولت په لوړ ځوکیو کې کار کاوه . سناتور حاجي محمد څمکنی دکونړ لوی ولسوال و چې د نور محمد تره کي په وخت کې د هوټلونو رئیس او د داکتر نجیب الله په حکومت کې د یو څه وخت له پاره د انقلابي شورا رئیس شو ۰ د سید محمد گلاب زوي ورور خان محمد د بانک د کتابت نه د تورخم دگمرک مدیر شو د ببرک کارمل پلار جنرال محمد حسین د یوې ترفیع په ورکولو سره د ډگرجنرال په توگه د پکتیا د قول اردولوی قوماندا ن

(c) ketabton.com: The Digital Library

،د صمد ازهر پلار عبدالکریم عمر خېل د پروان والي په توګه،او دداکتر نجیب الله پلار اخترمحمد تقاعد او په پېښور کې وکیل تجار وټاکل شو. خلقیان لري وساتل شو خو یوازې صاحب جان صحرائي دکونړ ولایت د قبایلو مدیرمقررشو. (۱م۹۱)

د پرچمیانو په ځانګړې توګه جیلاني باختري په لري کولو سره د پرچمیانو ټولو کړیو شدید عکس العمل وښود .خو کله چې فیض محمد د کورنیو چارو له وزارت نه لري او په اندونیزیا کې سفیرشو پرچمیانو د داود خان پرضد تبلیغات پیل کړل. داود خان په لومړیوختونو کې دا حرکتونه عادي وګڼل خو کله چې ځیر شووضع ډېره خرابه وه . ځکه شوروي اتحاد د نوموړې ډلې ملا تړ کاوه خو ده یو د بل پسې له دولتي دستګاه څخه وویستلواو په مقابل کې یې د ملي انقلاب (ملي غورځنګ) ډلې ته وده ورکوله ترڅودولت ستنې ټینګې کړي٠خو دا ډله ددې پرځای چې ددولت ستنې ټینګې کړي په دولت کې یې انارشېزم او ګډوډي زیاته کړه ځکه ددې ډلې غړو هر یو د خپل نفوذ او واکځ د زیاتوالي او داود خان ته نږدې کېدو له پاره ډېره هڅه کوله که څه هم نوموړې ګوندد اساسي قانو ن د اصلو پراساس رسمي اعلان شو ٠خودغه ګوند ( ملي غورځنګ )ددولت ستونزه په ټینګولو کې بریالی نه شو.(۳۲م۳۹)

د سردار محمد داود خان دا تصفیه د افغانستان او دسردار محمدداود خان په زیان تمامه شوه. ځکه له شوروي اتحاد سره د ده اړیکې ترینګلې شوې او شوروي اتحاد د خپلو پلویانو کمزورتیا او له واکه نه لري کیدل نشو زغملی او داود خان سره هم د دوي اړیکي د کمزوري په حال کې وې.د خلق او پرچم ترمینځ د یوالي له ټینګېدو وروسته دوی واک ته د رسېدو او د داود په مقابل کې د غوڅ ځواب له پاره په فوځ کې خپل فعالیت چټک کړ . د هغه دي له مینځه وړلو له پاره یې پوره تیاري ونیوه او پرېکړه یې وکړه دا ځل پرګوندي رهبرانو باندې د برید په مقابل کې باید دهغه واکمنی ته باید د پای ټکی کیښودل شی .دا ګوند وروسته په ۱۳۵۷لمریز کال د ثور په اوومه نېټه په خپل پرېکړه کې بریالی شو او د داودخان واکمنی ته یې په خپل پوځي حرکت سره ډېرژر چې امید تري نه کېده د پای ټکی کېښود.

## دګوندونو عکس العملونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سردار محمد داودخان د ۱۳۵۲ ل لمریز کال د چنګاښ د ۲۲ نېټې د کوتاه وروسته د هغه په لومړۍ کابینه کې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د پرچم جناح ته زیاته ونډه ورکړل شوې وه او د دولت په حساسو پو ستونو کې یې دندې تر سره کولې هغوی د ټینګو سازماني تشکیلا تو ، اصولو په لرلو او ځانګړې موخو ته د رسیدو له پار هڅه کوله چې د موقع نه ګټه واخلي تر څو خپل مخالفین له مینځه یوسي. دوی تر ډېره حده پورې په دې کار بریالي هم شول . سردارمحمد داود خان په دې اند و چې د نوموړو ( پرچمیانو) په شتون کې به د شوروي اتحاد مرستې او رضایت تر لاسه کړي او دوی (پرچمیانو) ته په دومره وخت ورنه کړي چې د ده دارادې او اجازې پرته خپل مخالفین له مینځه یو سي. مګر نوموړې (سردارمحمد داودخان ) په خپل تحلیل کې تېر وتی و. ځکه پرچمیانو وکولې شول چې د ده په امر خپل مخالفین بندیان او حتي ووژني .د افغانستان مترقي دیموکرات ګوند مشر ښاغلی محمد هاشم میوندوال چې د ۱۳۵۲ لمریز کال د چنګاښ د ۲۲ مې نېټې د کودتا پرمهال په عراق ( بغداد ) کې و خو کله چې نوموړی بېرته خپل هیواد ته راستون شو د ده د نیولو له پاره پرده د اسنادو د پیدا کولو هڅې پیل شوې ځکه د ده د پوښتني او لیدني له پاره درې ډوله خلک د هغه استوګنځي ته ورتلل . لومړی هغه خلک ووچې دده ګوندي او شخصي ملګري وو. دویمه ډله هغه خلک وو چې میوندوال یې د داود خان ملګري او د هغه په کودتاه کې شریک ګڼلو ، هغو داسې فکر کاوه چې میوندوال هم به کومه څوکي تر لاسه کړي . چې دوي هم بیا په دندو وګمارل شي ، د داسې خلکو او روڼ اندو شمېر اوس بالکل زیات شوي دي. دریمه ډله ددولت اجنټان او پولیس وو. تر څو له هغه سره په ناسته کې د هغه څخه اسناد تر لاسه کړي . خو هغه ټول موضوعات داسې مطرح کول چې ټولنیز از علمي جنبه ولري ددولت پرخلاف بحث ته یې مجال نه ورکاوه . خو د پښتونستان د جشن د نمانځل وپر مهال او مراسموکې د حاضرینو له خوا ( دلوړ پوړو چاروا کو) دمیوندوال تود هرکلي وشو ښایي دا هر کلي به د هغه تېرصدارت او مشر توب په خاطرو.خو دې حرکت د داودخان او دهغه د کابینې د ځینوغړو په زړنو کې کینه پیدا کړه.

ښاغلی محمد هاشم میوند وال د ۱۳۵۲ ل- ل کال د تلې د میاشتې په (۲) نېټه د پنجشنبې په ورځ د ماسپښین په دوو بجو د امنیتي قواوو له خوا ارګ ته بوتلل شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو کله چې نوموړي د سردار محمد داود خان حضور ته ورغې هغه ( داود خان ) ده ته د خاین خطاب وکړ او دا جمله یې څوځلې تکرار کړه په پای کې میوند وال هم د کلونو ، کلونو سکوت مات او ځواب یې ورکړ یې وویل :( خاین ته او ستا اسلاف دي چې د تاریخ په اوږدو کې یې هېواد کله په غریبانو او کله په شرق باندې پلورلي دي ) زه خاین نه یم ولې ځانان مې د هېواد خلکو ته معرفي کړې دي . ( ۲م م ۱۴۶_۱۴۷)

ددې خبرو سره د موظفو افسرانو له خوا چې هلته موجود و د ټوپک په قنداغ ووهل شو او په ځمکه را ولوېد . د میوندوال ځواب چې د سلطان محمد خان طلائي د کړنو سره سمون لري . داود خان دومره خاین نه و البته تېروتنه او خیانت سره تو پېر لري مگر داود خان نور هم په قهر شو او نوموړی یې بند یخانې ته واستوه په بندیخانه کي ناروغه میوند وال ته ډېرې سختې جسمي او روحي شکنجې ورکړل شوې چې د (۸) شپو بند نه وروسته د فزیکي ضربو پواسطه د ۱۳۵۲ لمریز کال تلې په (۹) نېټه شهید کړاي شو خو دولت د هغه مړینه ځان وژنه ( د نیکټائي په واسطه خپل ځان وژلي ) اعلان کړه خو ډېرې تاریخي اسناد دا ثابتوي چې ښاغلی میوند وال د افغانستان د خلق دیموکراتیک گوند د پرچم د جناح غړي صمد ازهر او د هغه د څېړنو د هئیت د غړو لخوا میوند وال د ضربو او مرۍ خفه کولو پواسطه ووژل شو .خپله داود خان د پرچمیانو په دي کار راضي نه و خو دا چې له دې مخکې د هغې محکمې له خوا چې د توطیه گرانو په نوم جوړه شوې وه داود خان د میوند وال او خان محمد خان له پاره د پاسني جزا اعلان کړې وه . (۳۷ م ۲۲۱)

د میوند وال وژنه او د یو شمېر نظامي ، ملکي او سیاسي شخصیتونو بندي کېدل او وژنه د داود خان د واکمنۍ پر مهال ډېر وار خطا کار وه . د میوند وال د نیولو او وژلو ( ۱۳۵۲ ) لمریز کال د تلې ( میزان ) تر (۹) نېټې پورې د داود خان د کوتاه څخه دوه میاشتې او اوه ورځې تېرېدې په دومره کم وخت کې د سیاسي اشخاصو په بیړه وژل او بندي کول د دولت له پاره سیاسي ستونزو ډېر وې او دا کار یوه غټه سیاسي تېرو تنه ده . داود خان له پاره د میوند وال وژل او د اسلامي نهضت په رهبرانو برید د ده له پاره سیاسي ستونزي نورې هم زیاتې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او گاونډي هیوادونو (شوروي او پاکستان) د دې حالت او دغو ځواکونو څخه پوره ګټه واخیسته او د ده واکمنۍ ته یې د پای ټکي کېښود.

که داود خان د دې نیولو او وژلو پر ځای یو تفاهم کړی وای یا یې یوه جبه جوړه کړې وای قوي احتمال وه چې میوندوال او ځینې نور سیاسي قوتونه د ده په خوا کې ولاړه او له ده سره به یې مرسته کړې وای خو ده د سیاسي زغم لاره خپله نه کړه، مشورو لاره یې پرېښودله چې په پای کې د ده سیاسي ستونزې دومره زیاتې شوې چې نه یوازې نومړې په چاروکې پاتې راغی بلکې ده خپل ژوند له لاسه ورکړ. ځکه دغه ځوان جمهوري نظام په لومړیو ورځو کې د ځینو خو د غرضو او چپي عناصرو په مشوره او وسیله ځینې با نفوذه او سیاسي شخصیتونه او سیاسي ګوندونه وځپل او ډېر سخت چلند (وژل، بندي کول، او له دندې لرې کول) څخه یې کار واخیست.

## ـ د لغمان، پنجشیر او حصار شاهي په اداري مرکزونو باندي د اسلامي ګوند بریدونه:

سردار محمد داودخان د واکمنۍ په لومړیو وختونو کې یو شمېر پوځي افسرانو د جمهو ریت د مخالفینو په نوم له دندو لرې او سیاسي رهبران بندیان او ووژل شول ددغې وضعې څخه هغې ډلې (پرچم اړخ) چې په ښکاره د محمد داود خان ملګري وو خو په پټه کې د خپل نفوذ د پیاوړتیا او د داود خان کمزورتیا له پاره یې ډېر ګټه واخسته.

د داود خان په کابینه کې واکمن ګروپ (د پرچم اړخ) دښاغلي محمد هاشم میوندوال د شهادت څخه وروسته د اسلامي نهضت د رهبرۍ د له مینځه وړلو له پاره کوښښ پېل او سردار محمد داود خان یې هم په دې قانع کړ تر څو د اسلامي نهضت رهبرۍ غړي و نیسي دوي لومړي د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي استاد او د اسلامي نهضت لاربنود غلام محمد (نیازي) په ۱۳۵۲ المریز کال بندي کړ د رهبرۍ هیئت د نورو غړو لکه استاد برهان الدین (رباني)، انجینر ګلبدین حکمتیار او انجینر احمد شاه مسعود د نیولو له پاره پولیس موظف کړل. خو هغوي پاکستا ن کي پناه واخیسته او هلته مېشت شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاکستان صدراعظم ( ذوالفقار علي بوټو ) د پښتونستان د مسالې پر سر د سردار محمد داودخان سره جګړه کې راګیر او وارخطا حالت درلود . د پورتنیو اشخاصو (انجینر ګلبدین حکمتیار، استاد رباني او احمد شاه مسعود) ورتګ هغه ته ځانګړې اهمیت درلود. ځکه یې د دوي تود هر کلي وکړ. او زمینه یې ورته برابره کړه چې د پاکستان له خاورې څخه د سردار محمد داود خان په ضد ګټه واخلي او درژیم د ځینو اداري واحدونو د نیولو له پاره پوځي عملیات تر سره کړي

د خان عبدالغفار خان زوې سردار عبدالولي خان ددوي مخالفت وکړ خو دپاکستان د جمیعت اسلامي ګوند او ابولاعلي مودودي ددوي ملا تړ وکړ. انجینرګلبدین حکمتیار ، استاد رباني، مولوي صاحب خالص، مولوي نصرا لله منصور، مولوي جلالدین ( حقاني )، انجینر احمدشاه مسعود او قاضي محمد امین سره یو ځای لومړی د اسلامي حزب بنسټ کېښود . دوي دوسله وال پاڅون او عملیاتو نقشه ترتیب او ځینې ځوانان یې په عادي وسلو سمبال کړل او دنوموړو ولسوالیو په اداري واحدونو باندې بریدونه وکړل .(۴۱ م م ۲۳ او ۲۴ )

د داود خان واک ته رسېدل او دهغه پر شاو خوا په لوړو دولتي پوستونو کې د پرچمیانو ټاکنې د ځوانو مسلمانانو سازمان چې د ښاغلي محمد حسن البناد سیاسي نظریاتو څخه الهام اخیسته خپل شعار یې د اسلامي نظام تاسیس وټاکه خو په ډېر پام یې تیاری نیوه ، ځکه دوي پوهېدل چې سردار محمد داود خان د خپل ناسیو نالستي تفکر په درلودلو سره یې هغه خپل لومړني دښمن ګڼه چې هېڅکله به هغه دوي ته دا مجال ورنه کړي تر څو خپل نظریات تطبیق کړي ، د میوندوال د شهادت څخه وروسته د دوي له پاره د خطر احساس او تشویش زیات شو خو د ځوانو مسلمانانو نهضت هم په قرار ناست نه وه دوي کوښښ کاوه چې د انجینرحبیب الرحمن تر رهبري لاندې د پوځي افسرانو په ملا تړ یو نظامي پاڅون سر ته ورسوي . خو دولت دا پلان کشف او مسولین یې بندیان کړل . په دغه وخت کې هم د ځوانو مسلمانانو نهضت د غړو تر مینځ په تشکیلا تي لحاظ یوالی نه و. ځکه انجینر ګلبدین حکمتیار او استاد رباني هر یوه د رهبرۍ دعوه کوله خو ددې نهضت یو زیات شمېر غړي دا تائیدوي چې د اسلامي نهضت رهبر د کابل پوهنتون د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرعیاتو د پوهنځي استاد او ریس غلام محمد (نیازی) و تر څو چې هغه بندی شو.
(۲۱ م ۵۹۰)

ښاغلی ګلبدین حکمتیار په دي اړه داسي لیکي: ((د مرحوم عبد الرحیم نیازی د مړینې (نوموړی د ۱۳۵۰ لمریز کال د جوزا په ۲۹ نېټه په هند کې وفات شو) وروسته مونږ په دي هڅه کې وو چې دا تشه د هغو کسانو په دعوت او له نهضت سره په یو ځاي کېدو سره ډکه کړو چې دیني، اجتماعي، علمي یا سیاسي برتري ولري.... زه یوازې او د ځینو وروڼو په شمول داسي ډېرو کسانوته ورغلی یم .او د دوی په وړاندې مې همدا غلطه هېله ښکاره کړه . د دې غلطۍ په څرنګوالي او بدو عواقبو اوس ښه پوهېږم.

یو ځل فضل غني مجددي د حقوقو د پوهنځي محصل، ما او ځینو کسانو ته په خپل کور کې میلمستیا کړې وه. د میلمستیا د انګېزې په هکله څه نشم ویلی، په دې غونډه کې د لاندې کسانو په شمول ځېنو دوستانو برخه اخیستې وه.

۱_ محمد هاشم مجددي

۲_ صبغت الله مجددي

۳_ برهان الدین رباني

۴_ شهید غفوري

۵_ انجینر احمد شاه مسعود

فضل غني مجددي وویل: چې ما ځینې کسانوته هم بلنه ورکړې وه خو د خاصو معاذیرو په وجه را نه غلل. استاد غلام محمد نیازی د شرعیاتو د پوهنځي رئیس یو له هغو کسانو څخه و .چې دا راز غونډو کې برخه نشوه اخیستی، خبری داسي پیل شوې چې باید ټول اسلام غوښتونکي یو بل ته لاس ورکړي او په ګډه د ګواښونو مقابله وکړي ... ما وویل:

دا ځوان بهیر د خداي (ج) په مرسته پیل شو دا دي امید ښونکي پړاو ته رسیدلي یو خو ټول باید ددې ملا تړ وکړي.... مونږ د ملګرتیا دوه شرطونه لرو

۱ _ څرګنده ملګرتیا به کوی .نه په پټه، دا به نه وايي چې زه تاسي سره ملګری یم خو په څرګند تاسې خوا کې نشم درېدی .دا عذر له ځېنوخاصو کسانو څخه منل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدای شي نه له ټولو څخه ،نه له هغه ځاڅخه چې د فعالې ونډې تمه ورڅخه کېدای شي .

۲- له نظام سره په پرېکړه ، د نظام په ضد مبارزه به همدومره اړینه ګڼي لکه له کمونستانو سره د ځوانو مسلمانانو په لیکو کې چې ځوک تنظیم شوي وي ټول همدا روحیه لري . صبغت الله مجددي ماته مخ کړ او وویل :زه ستا له لومړي شرط سره موافق یم .خو له دوهم سره زه دا معقوله نه ګڼم چې په یو وخت کې په دوو جبهو کې ځان مصروف کړو ، برعکس دا غوره ګڼم چې یواځې د کمونستانو مقابله وکړو او په دې مقابله کې د دولت مرسته هم تر لاسه کړو .

ما ورته وویل: دولت د فساد اصلي عامل دی ... بل وخت د پولې تخنیک په مسجد کې ۲۲۰ اهل الرایې کسان را غونډ شول پرېکړه وشوه چې د نهضت د ښه تنظیم له پاره باید پنځه کسیزه قیادي شورا غوره شي ... درایې کاغذونه راغونډشول له شمارلو وروسته د لاندې پنځه کسانو نومونه اعلا ن شول .

۱_مولوي حبیب الرحمن

۲_ انجینر حبیب الرحمن

۳_ سیف الدین نصرت یار

۴_ غلام رباني عطش

۵_ انجینر حکمتیار (۱۸) م م۱۹۹او۲۰۲

د همدې اثر په بل ځای کې بیا هم ښاغلي حکمتیار خپل نظر داسې لیکي :

د سردار محمد داود خان او پرچمي ملګرو یې ددوهمې تصفیې له پاره اسلامي نهضت غوره کړې و ..... د اردو له هغو افسرانو سره چې د ورونو له خوا معرفي شوي وو مقدماتي خبري ورسره وشوې . جګتورن شیر علي خان د زرهدارود څلورمې فرقې رئیس ارکان ،ډګر وال ضیاالدین د هوای قواو د su(سو) غونډ قومندان چې زړور دروند اوبا دارایته افسر و. کله چې د شېر علي خان دده له ملګرتیا څخه خبرشو وې ویل یوازې زه او دی ددې اقدام له پاره کافي یو، ستاسې هڅې د شمېر په زیاتوالي پسې ګرځي .خو شېر علي خان ددولت له خوا ونیول شو....)) (۱۸) م م۲۵۰او ۲۵۱

د۱۳۵۴ لمریز کال د زمري (اسد) په لومړۍ نېټه د اسلامي نهضت (اخوانیانو هغه رهبرانو چې پاکستان کې پناه اخېستې وه په لغمان ، پنجشیر او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حصار شاهي (ننگر هار ولايت کې) په اداري مرکزونو باندي نظامي بريدونه وکړل (۳۹، م ۱۰۱)

د دوي پلان په کابل کې هم و، خو هلته مسول کسان ونيول شول. دغه پورتني کسان له ماتې سره مخ شول چې ځيني بنديان او ځيني يې پاکستان ته ولاړل.

د نيول شوو کسانو شخه (۲۴) تنه هغه کسان چې په لغمان، پروان (پنجشيرچې هغه وخت د پروان يوه ولسوالي وه) او حصار شاهي (ننگرهار په ولايت) کې د وسلو سره نيول شوي و د يوي واکمني محکمې (ديوان حرب) له خوا په مرگ او ابدي بند باندې محکوم شول چې د ۱۳۵۲ لمريز کال د چنگاښ په ۱۳ مه نېټه د سردار محمد داود خان له منظورې وروسته ۲۱ تنه په عمري بند او څلور تنه هريو :مولوي حبيب الرحمن*، داکتر محمد عمر، انجينر حبيب الرحمن او خواجه محفوظ په مرگ محکوم شول (۲۱، م ۵۹۱

د پورتنيو پېښو په راتگ سره اسلامي نهضت (اخوانيانو) سخته ضربه وليدله خو ددوی شهرت په ټول افغانستان کې زيات شو او د يو قوت په توگه د افغانستان په داخل او بهرکې وپېژندل شول.خوله بده مرغه بيا هم دوی ونه توانېدل چې د يو سازماني قوت په توگه يو منظم او متحد صف جوړ کړي. په دوې کې انجينر گلبدين حکمتيار تر نورو فعال و چې د خپل ملگري معلم مرجان پوسيله و توانېد تر څو د داود خان د پلان وزير علي احمد خرم په رښا ورځ د خپل وزارت په ودانۍ کې ووژني چې دې کار دولت نه فوق العاده ستونزه پيدا کړه. ده درژيم د پرزيدو له پاره د پاکستان له خاورې خپل فعاليت ته دوام ورکړ .اود پاکستان دولت هم داود خان ته د ستونزو د پيدا کولو لپاره نوموړی تقويه کاوه.

---

* د مولوي صاحب حبيب الرحمن په اړه ښاغلي غوث الدين فايق داسي نظر لري :

(( کله چې په پنجشېر، لغمان او ننگر هار کې دولت پر ضد د مسلمانانو پاڅون پيل شو خو د حکومت له خوا وټکول شو، مگر مولوي صاحب حبيب الرحمن تر يوې مودې پورې مقاومت وکړ. او زياتوي:- يوه ورځ زه په دفتر کې وم چې د صدارت څخه تيلفون راغي او د مولوي صاحب حبيب الرحمن د نيولو او صدارت ته د انتقالولو خبر راورسېد . ماچې د مولوي صاحب له شجاعت او زړه ورتيا سره مينه درلود د هغه د ليدلو له پاره صدارت ته ورغلم په صدارت کې د صدارت مرستيال محمد حسن شرق، د کورنيو چارو وزير فيض محمد او سرور نورستاني په کوچنو کې ناست وو او ددوی په مقابل کې د يوې لنډې ونې لرونکي لاغر اندامونه يې درلودل په لاسونو کې ولچک

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پښتو کې زولنې وې دوه نفره وسله وال ساتنمنان (ساتونکي) یې شاته وو په ډېر جرات سره ولاړو‌و.ده ته دهری خوا څخه بدي خبری او سپکی ویل کیدي، ددي صحنې په لیدو سره ډیرخپه شوم حاضرینوته مې وویل :ستاسې دغه کنځلې له اخلاقو او بشري کرامت څخه لرې کار دې..که چېرې تاسې د لغمان په غرونو کې چې دده په لاس کې ولچک نه وای دا کار تاسې کړای وای ما نیوکه نه درلود .خو اوس په کوټه کې د هغه شاته دوه ساتونکي ولاړ دي .ستاسې برخورد د نامردانو کار دی .تاسې اوس د هغه لاسونه خوشي کړی چې زه ورسره خبرې وکړم .مولوي صاحب حبیب الرحمن له مانه پوښتنه وکړه چې تاسې څوک یاستی ؟ محمد حسن شرق ورته وویل :ستاسې ملګری د فواید عامې وزیر غوث الدین (فایق) وروسته مولوي حبیب الرحمن وویل: وزیر صاحب له مانه دا پوښتنه مه کوی چې ولې دې حالت ته را رسیدلی یم ما وویل خپله ځواب په خپله ووایه هغه حسن شرق او نورو ته په لاس اشاره

## ـ د افغانستان سوسیال دیموکرات ګوند ( افغام ملت) موقف :

د افغان ملت ګوند فکري نظر یاتي او ایډیالوژیک بنسټ ناسیونالېزم وه . چې د محمد داود خان له سیاسي لید سره ګډې وجې درلودي مثلاً داود خان په دولتي سمبول اود افغان ملت دګوند په سمبول د هما (عقاب ) مرغی ځای شوي و. همدارنګه د محمد داود خان د حکومت په ملي سرود کی د سوسیال دیموکرات ګوند مفکوروي مفهوم او درې ځله د افغان ملت کلیمه پکې یاده شوې وه.د محمد داود خان اقتصادي کرنلارې سره دوي مخالفت نه درلود. د پښتونستان د مسالي په اړه د محمد داودخان ادعا او موضعګیري هم ددوي سیاسي موخې سره برابره وه. او تر ټولو مهمه خبره داوه چې سردار محمد داودخان په ښکاره ځان د ملي ایډیالوژي پلوي او ساتونکي باله (۲۱) م ۵۹۲

د دې پورتنیو ځانګړتیاو او ګډو موخو سره هم سوسیال دیموکرات (افغان ملت ) ګوند ونشو کړای چې داود خان سره یو روغی جوړی ته ورسېږي او په رژیم کې د پر چمیانو تشه ډکه کړي ، برعکس دوی د محمد داود خان څخه لرې پاتې او د پردیتوب احساس یې کاوه . ددي ګوند رهبري پریکړه وکړه چې داود خان په خپلو کړنو کې ازاد پریږدي او هېڅ ډول مخالفت ورسره ونه کړي . مګر د دې ګوند ځوانو غړي او ټېټو کړیو د دې پریکړې ملا تړ و نه کړ او دایې بهتره وګڼه چې د یو فعال اپوزیسون رول ولوبوي .په دي وتوګه ځینو هڅه وکړه چې د رژیم پرِضد فعالیتونو کې ونډه واخلي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د **۱۳۵۵** لمریز کال د لیندي په میاشت کې ددي گوند د ځینوغړو په ملاتړ د ملي دفاع د وزارت د توپچي رئیس جنرال میر احمد خان په رهبرۍ دولتي ضد توطیه پیل کړه.د گډونکونکو شمېر یې ډېر کم وو .مخکې له دې چې دوی کوم حرکت سرته

---

* وکړه اووویل : مونږ ددې روسانو او ملحدو کافرانو له لاسه پاځون وکړ او غرونو ته پورته شولو ... فایق زیاتوي زه د هغه په شهامت ویاړم ، زه خپله جمهور رئیس محمد داود خان ته ورغلم او ټول جریان څخه می ورته اطلاع ورکړه او هیله مې ترې وکړه چی مولو ي حبیب الرحمن خپل حضور ته را وغواړي او پوښتنه تری وکړي خوهغه (داودخان) وویل دادي پولیسو او څارنوالی کار دې ما وویل هغه په زور او ظلم اقرار اخلي او په اشخاصو باندې اعتراف کوي بیا یې وویل چې جمهور رئیس نشي کولی چې له یو مجرم څخه پوښتنه او تحقیق وکړي . بیا هم ما تاکید وکړ چې د هر مجرم لیدل زه نه غواړم دا خو د پوهنتون استاد دی ، دروغ نه وایي د وینا حقیقت ته یې غوږ کېږدی خو داودخان ونه منله.۳۹م م ۱۰۳_۱۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور سوي د ۱۳۵۵ لمريز کال د ليندي په (۱۵) مه نېټه نوموړي جنرال د خپلو ملګرو سره ونيول شو او د دولت رسمي خپرونو دغه پېښه يو تشويش او د امنيت خرابول معرفي کړه (۲۱)م ۵۹۳

د افغان ملت ګوند وروسته کوم نظامي اقدام ونه کړ. او نه يې د داود خان پر ضد له چا سره ائتلاف وکړ.

## د افغانستان دخلق ديموکراتيک ګوند (دخلق او پرچم اړخونو) موقيعت

کله چې سردارمحمد داود خان دکودتا له پاره تياري نيوه هغه تصميم نه درلود چې په پوځ کې د خلق يا پرچم له اړخونو سره اتحاد وکړي .هغه مهال دغه مسالې ده ته اهميت نه درلود خو د هغه ستره تيروتنه داوه چې د پوځي کودتا له پاره له تياري کار يې ډاکتر محمد حسن شرق ته وسپاره، او حسن شر ق له خپلو ملګرو سره اړيکې ټينګې کړې چې د پرچم او د خلق له اړخونو سره يې اړيکې درلودې او د پوځ په ټيټو پوړيو کې يې دنده تر سره کوله. دکودتا د بريالېتوب په لومړي کال د پرچم اړخ په کابينه کې د څوتنو وزيرانو په شتون ډېر خوښ وو .

د پرچم د اړخ وزيرانو د خپلو مشرانو په مشوره خپل ګوندي ملګري د حکومت په مختلفو سطحو کې ځاى پرځاى کړل.دوى په دې اند وو چې پردوي باندې داودخان د دوامداري اتکا له پاره اړينه ده چې دولت په چوکاټ کې پوره ونډه او نفوذ ولري.او داود خان يو سمبوليک رول ولري. که چيرته داود خان د دوى د ګټو پرضد عمل وکړي دوي به داسې اقدام وکړي چې سياسې واکه ټول لاس ته راوړي (۲۱)م م۵۹۳او ۵۹۴

له پورتنيو څرګندونو څخه معلوميږي چې داود خان په چپيانو او چپيانو پرداود خان باندې اعتماد نه درلود ددوى تر مينځ يوه د ټګي سياسې معامله روانه وه د داود خان خپلوانو تل هغه ته په حکومت کې د چپيانو شتون د خطر په اړه څرګندوني کړې وې او له څوکيو څخه د هغو د ليرې کولو هيله يې ترې کوله .

سردارمحمد داود خان يو څه موده وروسته ځير شو چې چپيانو له ټغر نه پښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایستلې او په ځینو برخو کې ډېره لاس وهنه کوي هغوي يې يو، يو د سفيرانو په توگه مقرر کړل او يا يې له دندو څخه لرې کړل کله چې د پرچم او خلق اړخونو د داود خان دغه کړکه احساس کړه دوي هم پټ فعاليت پيل کړ.

شوروي اتحاد محمد داود خان خپه کړ خو د لويديځ او د هغو د ملگرو لخوا د داود خان تود هرکلي د دې سبب شو چې داود خان د شوروي اتحاد په مقابل کې بې غوره او بې تفاوته شو .خپله تصفيه يې چټکه کړه چې دغو پرله پسې ليرې کېدو چپيان دخطر سره مخ او وېره ورته پيدا شو. د شوروي اتحاد رهبري هم په دې وپوهيده چې داود خان سره د دوي اړيکې د ويجاړيدو په حال کې دي د ښه والي تمه ترې نه کېده .

سردارمحمد داود خان پرېکړه وکړه چې چپيان ( د مسکو طرفداران ) نفوذ کم او راتلونکي دولتي سياست په چپ او ښي اړخ باندي د اتکا پرته پرمخ يوسي . د افغانستان د خلق ديموکراتيک گوند هم دخطر په احساس سره د شوروي په منځگړيتوب او هڅونه وتوانېدل چې دواړو اړخونو يو ميکانيکي وحدت وکړ، او خپل کار ته يې په پوځ کې چټکتيا ورکړه او پرنظام باندې د حملې له پاره تيار کړل.

داود خان د نورمحمد تره کي ، ببرک کارمل، مير اکبرخيبر او حفيظ الله امين کورونه يې تر څارنې لاندې ونيول او وويل چې د مطبوعات بندول زمونږ ستره تير وتنه وه ،امر يې وکړ چې دگهيځ، خيبر،پکتيا ،افغان ملت،افغان او روزگارانو جريدو ته دفعتاً اجازه ورکړي او دنورو په اړه به تصميم ونيسو .(۲۱) م۵۹۹

د ميراکبر خيبرد مړيني وروسته دهغه دخښولو په مراسمو کې کريم ميثاق وويل: ((وياړو چې د هيواد د ازادي په لارکې د ارتجاع او امپرياليزم لخوا قرباني کېږو... د خيبر جنازه د افغانستان د خلق ديموکراتيک گوند د پلينوم د پرېکړې سره دولتي مطبع ،د امريکا دسفارت ، پل خشتي ، سپاهي گمنام ، جاده ميوند او د بالاحصار په مخکې کېښودل شوه. په دې مراسمو کې نورمحمد تره کي، ببرک کارمل، سليمان لايق،او نورو رهبري غړو پرته له حفيظ الله امين خبرې وکړلي .او داود خان رژيم يې په دې وژنه کې شريک وگانه .په دې مهال سردارمحمد داود خان د امريکا دسفير نيودرواليوت د۱۹۷۸ز کال د اپرېل په ۲۴ نېټه د مرکزي قواوو په کلوپ دتړلو دروازو شاته خبرې وکړې او بيا يې ۱۹۷۸ز کال د اپرېل په (۲۵) د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانسان د خلق ديموكراتيك گوند د رهبرۍ د نيولو امر وكړ او په همدي شپه د (٨) بجو په سروېس كې چې د داكتر نوين په امر ترتيب شو داسي اعلان و شو چې نورمحمد تره كي ، ببرک کارمل ،حفيظ الله امين ،دستگير پنجشيري ، سليمان لايق ،ډاكتر شاه ولي او ضمير صافي د ملي خيانت او د جمهوري نظام د اساسي قانون د پښو لاندې كولو په جرم د امنيتي موظفينو لخوا ونيول شو او دهغه نور ملگري به هم ونيول شي. (٢١) م ٢٠٥

ددي خبر په خپريدو سره د حفيظ الله امين لخوا د داود خان د نظام د نسكوريدو نقشه په پوځ كې موظفو اشخاصو ته وسپارل شو او د ١٣٥٧ لمريز كال د ثور په اوومه نېټه د داود خان رژيم له مينځه يوړ.

## ـ د سردار محمد داود خان سياسي وژنې او د هغو پايله .

په نظامې محكمه كې د مركزي كمټې د ملگري په نوم د څلورمى زغروالې قواو د قوماندان سرور نورستاني نفوذ او رول تر ټول ډير و . تورن جنرال عبدالقدير خليق هم د ديوان حرب غړي و په سر كې ډگر جنرال غلام فاروق خان و چې دوي ټولو د سرور نورستاني خولي ته كتل ، د اعدام په پريكړي زيات وخت نه نيوه . د نظامې محكمې د پريكړي په اساس تورن جنرال خان حمد مرستيال ، ډگروال سيد امير ، ډگروال ماما زرغون شاه ، مولوي سيف الرحمن اومحمد عارف دريكشو سوداگر له يو شمير نورو كسانو سره په اعدام محكوم شو ل. ١ م ١٠٤

جنت گل غروال ، حنان ځاځې ، الله گل كوچي او حاجي مولاگل بنديان ، شتمني او سرا يونه يې ضبط شول . چې د شتمنيو ضبطولو تر دغه وخته پوري زمونږ په هيواد كې سابقه نه درلوده .

د پريكړي د تائيد له پاره سر دار محمد داود خان د دولت د رئيس او ملی دفاع د وزير په توگه د تائيد لاس ليک و كړ . په اعدام باندې محكوم خلک د څلورمي زغروالې قواو نظامې ډگر ته په داسي حال كې بوتلل شو. چې لاسونه يې تړلي ، توري خولي ور پرسر كړي وي په صف كې د ديوال خوا ته ودرول شول . چې په ١٥ پنځلس متري كې يو ټولي عسكر د زنگون كيش حالت كې ناست وو ، د داود خان د قوماندي وروسته هر يوه د خپلي وسلي جاغور تش كړ . د اور د قومندي په وركولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره نورنو الله اکبر ناري پورته کړي خو به وينو رنګ ټټرونه پر مځکله وليدل . چې له همدي ورځې څخه زمونږ په هيواد د وينو تويدل عمومی شول . ۱م۱۰۵

همدا رنګه دوه مشهور شخصيتونه لکه ملک عبدالرحميزي او محمد هاشم ميوند وال چې د داود خان نږدي ملګري هم وو د کودتاه په تور ونيول شول چې محمد هاشم ميوندوال مړ خو عبدالمالک عبدالحميزي د «۲۳» کالو بند څخه وروسته ازاد شو . ۱م۱۰۵

پر دوي دي کودتاه ګانو تور دروغ وه دوي دواړو د کودتاه نيت نه درلود د داود خان د دي سر بير د اسلامي نهضت يو پياوړي لاربنود مولوي حبيب الرحمن هم وواژه . د ه هيڅ وخت خپل مخالف لوري زغملي نشو کله چې د افغانستان د خلق ديموکراتيک ګوند رهبري بندي او د هغوي د وژلو پريکړه يې وکړه هغوي داود خان له مينځه يوړ . داود خان په دي اندو چې د مخاليفينو له مينځه وړل به د ده سياسي ستونزي کمی کړي خو دا يو ذهني نقشه و . چې پايله کې د ده په مرګ او په افغانستان کې د مرکزي حکومت له مينځه تګ شو .

ده نه يوازي خپلي سياسي ستونزو کمي نه کړي بلکي هيواد يې د جګړي او بد بختي لوري ته سوق کړ بنه به دا وي چې ده ټولو ګوندونو او سياسي اشخاصو ته د فعاليت اجازه ور کړي وايي ، او په دولت کې شريک کړي واي ځکه هغه وخت په هيواد کې امنيت ټينګ او هيڅ يو ګوند د وسلوال ځواکه په توګه مخالفت نشو کولي د ده وژنو په پايله کې هر ګوند پريکړه وکړه چې د وسلي په زور واک ته ورسيږي ځکه دانتخاباتي لاره پري بنده شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ۱۳۵۵ لمریز کال د لویې جرګې جوړېدل او د جمهور رییس په توګه د سردار محمد داود خان دوهم ځل ټاکنه

سردار محمد داودخان واک ته د رسېدو نه یوه اونۍ وروسته د مطبوعاتي کنفرانس په جریان کې د یو بهرني ژورنالست د پوښتنې په ځواب کې وویل چې دجمهوریت له اعلام څخه وروسته د شاهي دورې بنسټیز قانون نور داعتبار وړ نه دی. د کنفرانس څخه دوه ورځې وروسته د ۱۳۵۲ لمریز کال د زمري د میاشتې په (۱۴) نېټه د افغانستان جمهور رییس په دې توګه لومړی نمبرفرمان صادر کړ . وروسته له دې د شاهي رژیم د دورې بنسټیز قانون د اعتبار وړ نه دی مګر یوازې هغه برخې چې دهغو رعایت دجمهوررییس دفرمانونو په وسیله اعلام شي.(۲۱ م ۵۲۵)

په دې ترتیب درې کاله او اته میاشتې ددولت قانوني چارې جمهور رییس د فرمانونو په وسیله سرته ورسولې .خوکله چې سردار محمد داودخان له ډېرو عمده بوختیاوو څخه خلاص شو پرېکړه وکړ چې د اساسي قانون د تصویب په وسیله موجوده حاکمیت ته چې د نظامي لارې مینځ ته راغلې ملي بڼه ورکړي او دده واکمني دبنسټیز قانون د تطبیق په وسیله مشروعیت پیدا کړي. (۲۱م۵۲۶)

ښاغلی سردار محمد داودخان د اساسي قانون د مسودې د ترتیب او لیکنې له پاره په ۱۹۷۶ زکال کې لاندې ۴۱ یو څلوېښت کسانو ته دنده وسپارله .

۱_ داکتر محمد حسن (شرق) ۲_ سید عبدالله ۳_ عبدالقدیر ( نورستاني )

۴_ داکتر عبدالمجید خان ۵_ انجینر عبدالتواب ( اصفي ) ۶_غوث الدین ( فایق )

۷_ محمدخان جلالر ۸_داکتر عبدالله (عمر) ۹_عبدالکریم (عطائي)

۱۰_پوهاند عبدالقیوم(وردک) ۱۱_داکتر عبدالرحیم(نوین)

۱۲_ عزیز الله( واصفي) ۱۳_فیض محمد

۱۴_انجینرجمعه محمد (محمدي) ۱۵_علي احمد (خرم) ۱۶_سید وحید عبدالله

۱۷_غلام حیدر( رسولي)

۱۸_ محمد سرور ۱۹_مولاداد ۲۰_محمد یوسف ۲۱_ مولانا عنایت الله(ابلاغ)

۲۲_داکتر سعید (افغاني) ۲۳_عبدالهادي(هدایت) ۲۴_ داکتر محمد اصف (سهیل) ۲۵_پوهاند وفي الله(سمیعي) ۲۶_خلیل الله (خلیلي) ۲۷_مولوي عبدالبصیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۸غلام علي(کریمي)۲۹_داکتر غلام صدیق (محبي) ۳۰_جنرال شاه پور خان
۳۱_ جنرال محمد یحي (نوروز)۳۲_محمد اکبر (اکبري)
۳۳_محمد اسمعیل (قاسمیار )۳۴_داکتر ضامن علي
۳۵_یار محمد (دلیلي)۳۶_سید مخدوم( رهین)
۳۷_داکتر محمد بشیر (وهابزاده)۳۸_عالیه (حفیظ) ۳۹_فاطمه (کیفي)
۴۰_محمد اعظم وهابزاده ۴۱_محمد ناصر دي.بنسټیزقانون د مسوده د عامو خلکو د خبرتیا له پاره د ۱۹۷۷زکال د جنوري د میاشتي په ۲۲مه نېټه په جریده کې خپره شوه.

محمد داود خان د نوي قانون د تصویب لپاره مجبور و چې لویه جرگه را وغواړي نوموړې جرگه د ۱۳۵۵لمریز کال دلیندۍ په لسمه نېټه د کابل ښار کې جوړه او(۱۲) ورځې وه . په دې جرگه کې د ولایتونو او ولسوالیو (۲۲۱) تنو نماینده گانو چې په دې نماینده گانو کې (۴) تنه ښځې وې ،(۱۳۰) تنه گډونکونکې دجمهور ریس او صدراعظم له خواغوره شوي وو. په دې ډله کې (۱۵) تنه پوځي افسران ،(۲۳) تنه بزگران (۲۲) تنه کارگران ،(۷) تنه ښځې چې یوه ئې بکلوریا (۵) لسانسه او یوه یې ما فوق لسانس وه او (۵۲) تحصیل لرونکي نارینووچې د لسانس ،ماسترۍ او داکترۍ په سویه تحصیل یې درلود په نوموړې جرگه کې گډون وکړ ۲۱م ۵۲۲)

په ولایتونو کې د استازو د ټاکنې په اړه شکایتونه ووچې محلي چار واکو د استازو په ټاکنه کې لاس وهنه کړې ده . داسې شکایتونه ډېر شول ، دولت مجبور شو چې دیوې ابلاغیې په ترڅ کې د کابل ښار دمیر بچه کوټ او قره باغ د ولسوالیو ، دپروان ولایت او دکاپیسا د لوې ولسوالۍ ټاکنې باطلې او امر یې وکړ چې په دغو سیمو کې بیا له سره استازي وټاکل شي او داچې محلي چارواکي په دې ټاکنوکې لاس وهنه ونه کړي د کابل او پروان والیان یې له دندو څخه گوښه کړل . ۲۱م ۵۲۲

د ۱۳۵۵ لمریز کال جرگه لومړي د یو پخواني قاضي عبدالکریم په ریاست پیل شو ه خو بیا د جرگې ریاست عزیز الله واصفي ته وسپارل شو .د بنسټیز قانون د مسوده باندي د بحث او یو لړ تعدیلا تو ، سمونو وروسته نوموړی قانون په ۱۳ فصلونو ا و۱۳۶ مادو کې د ۱۳۵۵ لمریز کالد لیندۍ په ۲۴ مه نېټه تصویب شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ۱۳۵۵ لمریز کال د لیندی په ۲۵ مه نېټه د جمهوري ریا ست مقام ته د ټاکنې موضوع رامینځته شوه .(۲۱ م ۵۲۵

د جمهوري ریاست له پاره سردار محمد داودخان یو بې سیاله نوماند و. خو ددې له پاره چې ددې مقام ټاکنه دیموکراتیکه او طبعي وښايي عزیزالله واصفي دجرګې له غړو غوښتنه وکړه چې خپله دجرګې غړي یا بهر له جرګې خپل نوماند معرفي کړي .د جرګې ډېر غړي دې عزیزالله واصفي په دې فارمولیته وړاندیز پوهېدل .خو د هرات خلکو استازې نجیبي وړاندیز وکړ چې ښاغلي محمد داود خان دې ځان د دولت د رئیس په توګه کاندید کړي د غونډې رئیس عزیزالله واصفي وویل :ګراني خوري، ما مخکي ستاسي په خدمت کي خپل عرض وړاندي کړ :دهرات وکیلي نجیبي بیا وویل :د جمهور ریس په توګه مونږ دا هیله لرو چې خپل یو کاندید معرفي کړو حاضرینو وویل تائیدده، تائیدده (۲۸)م ۱۹۵

د جرګې یو غړي د پولیسو پخواني افسر وریښمین خان چې د غلام حیدر رسولي په تضمین ا وسپارښت جرګې ته ټاکل شوی و دا صحنه جدي په نظر ورغله او باور یې راغی چې ګواکي واصفي رښتیا وایې نو په لوړ اواز یې وویل : ((که رئیس دولت نه کوي نو رسولي صاحب دې کاندید شي)) د جرګې بل غړي چې دننګرهار څخه و حاجي عبدالوهاب وویل : ((که په رښتیا ریس صاحب دولت یې نه کوي ، نو تکلیف مه ورکوي موږ دې ببرته د پخوا حال ته راولي)) د نوموړي خبرې د جرګې له خوا پرې شوې تر څو داودخان جرګې ته راغی او ځان یې کاندید کړ. (۱)م ۱۱۱

سردار محمد داودخان د جرګې تالار ته په شور او زوږ کې ننوت او ویې ویل زه ستاسو ښاغلو محترمو وکیلانو غوښتنه او وړاندیز په یو شرط منم ، عزیزالله واصفي په زوره وویل منویې، منویې . داود خان وویل: (( زه حاضر یم ستاسي محترمو وکیلانو وړاندیز په دې شرط ومنم چې زه دغه ملي لویه دنده تر هغه وخته پورې تر سره کوم تر څو چې زه جسما او روحا د دندې د سرته رسولو توان ولرم ، بل دا چې خلک هغه دولتي بنسټونه چې دوي تصویب کړي ملا تړ او پیروي وکوي ،تر هغه وخته چې له ما سره د افغانستان د نجیبو خلکو مرسته وي او د دې دندې د سرته رسولو توان ولرم زه به له نوموړې دندې څخه سر غړونه و نه کړم ، که چېرته زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوه شوم چې ددې دندې د سرته رسولو له پاره روحاً او جسماً توانايي نلرم ډېر ژر به خپل عذر د افغانستان ملت ته وړاندې کړم .(۲۱)م ۵۲۲

د جرګې رئيس عزيزالله واصفي د جمهور رياست کانديد سردار محمدداود خان دی شرط د اورېدو وروسته د جرګې څخه دهغه ټاکنې په اړه دراې غوښتنه وکړه په داسې حال کې چې يوه مخالف رايه نه وه يا چا د مخالفت توان نه درلود ،سردارمحمد داود خان د شپږو کالو له پاره د افغانستا ن لومړنی جمهور ريس په توګه وټاکل شو. چې د ۱۳۵۵ لمريز کال د کب په (۷) اومه نېټه نظامي حکومت لغواو مرکزي کمېټه له مينځه ولاړه او دنوي بنسټيز قانون د (۲۳) مادې له مخې د مخکني حکومت رنګېدل اعلان او لارښونه يې وکړه چې د نوي حکومت تر جوړېدو پورې دې مرستيالان د وزارتونو اداري چاري پر مخ يوسي (۲۱م ۵۲۷

ښاغلی محمد ابراهيم عطائي د اساسي قانون په اړه داسې ليکي (دغه اساسي قانون يو سر درګمه قانون و.د قواو بيلتون په کې معلوم نه و د بيان ، ليکنې ازادۍ هېڅ په کې نه وه ) . (۳۳م ۲۹۱

ښاغلی فراهي داسې نظر لري: ((دغه قانون ډېر مواد مخصوصا د شخصي مصئونيت احکام دډيموکراسۍ د دورې د اساسي قانون موادو ته ورته و. چې ځينې ليکوالان ددغه ورته والي داسې تعبيروي .چې د جمهوريت د وخت د اساسي قانون دغه احکام د ډيموکراسي دورې د اساسې قانون څخه اخيستل شوي دي. اما واقيعت دا دی چې محمد داودخان د دېموکراسۍ دورې د اساسي قانون د څو مادو سره مخالف و او د ډيموکراسۍ دورې د اساسي قانون نور متن يې منلی و. د افغانستا ن جمهوري دو لت اساسي قانون د سياسي ګوندونو په برخه کې د افغاني ټولني عيني شرايط په نظرکې نه وو نيولي ددغه قانون څلوېښتمه ماده داسې تصويب شوې وه . د افغانستان د خلکو سياسي روزنې او ټولنيز غوښتنو د ځرګندولو لپاره ، تر هغه وخته چې داهيله تر سره کېږي او طبعي ودې ته رسېږي په هېواد کې د ملي انقلاب دګوندپه لارښوونه کوم چې د افغانستان د خلکو د۱۳۵۲کال د چنګاښ د ۲۲ مه نېټې د مترقي او ولسي انقلاب بنسټ اېښودونکی او مخکښ ګوند يوازې يو ګوندی سيستم دی ټينګ وي )) (۴۱)م م ۲۴۴ او۲۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سـردارمحمد داودخـان لخـوا ديـو گونـد ي سيسـتم رهبـري او دټـولنې د پرمختگ ټولواړخونولار ښوونه يو نا شونې کار و. ځکه نړۍ او سيمي حالت ددوهم نړيوال جنگ څخه وروسته بدل شوې وه او هغوې د افغانستان په سياسي وضع نېغ په نېغه اغېزه درلود، که څه هم اوسنيو پېښو (۱۳۵۷_۱۳۸۸) لمريز کال پـه تحليـل کې د گوندونود کړونو په نظر کې نيولو سره دهغه سياست مثبت ارزوي، او تـر ډېره حده دبهرنيو هېوادو دکړنو په خوا کې مهم دې. خو د هغه د قانون څلوېښتمې مـادې حکم د پرمختگ مخه ډپ کړې وه چې په هغه وخت کي د ستونزو د اوارېدو پرځـاى سياسـي سـتونزې زيـاتې کـړې. ځکـه پـه روڼ انـدواو سياسـي گونـدونو بانـدې د انتخاباتي مبارزې لار بنده شو. هغوې يوازې په نظامي حل باندې تکيه وکوله چې په پايله کې هېواد د گډوډۍ، بې باوري او تشنج لوري ته روان او هغه بنسټونه چې مخکې جوړ او د پرمختگ تمه تـرې کېده لـه مينځـه ولاړل. اوس هم مـونږ د سياسي رژيم په جوړېدو او يو مرکزيت مينځ ته راوړلو کې پاتې راغلي يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بهرني سياست

## دنړيوالو لويو قدرتونو ( امريکا او شوروي اتحاد ) سره سياسي اړيکي:

سردار محمد داود خان د ۱۹۷۳ ز کال د جولاې په اوه لسمه نېټه دافغانستان خلکو ته په وينا کې خپله بهرنۍ کړنلاره په دې توګه اعلان کړه : (( د افغانستان بهرنۍ کړنلاره په بې طرفۍ ، نظامي تړونونو کې په نه ګډون او د مسائلو په هکله د خلکو په ازاد قضاوت ولاړ ده.

زمونږ کړنلاره بايد د خلکو مادي او روحاني غوښتنې پوره کړي ، زمونږ غوښتنې له هر څه څخه زيات يوې سوله ايزه نړۍ ته اړتيا ده ، ځکه هېڅ هېواد د سولې پرته خپلو ملي هيلو ته عملي بڼه نه شي ور کولی . مونږ چې په کومه کچه د افغانستان پرمختګ ته لېواله يو په همغه اندازه د نړيوالې سولې ټينګښت هم غواړو .

افغانستان د ناپېليتوب د سياسي کړنلارې بنسټونه سره سم د خپل هېواد ګټو ته په نظر کې ساتلو په رښتينولۍ او اخلاص سره د نورو خپلواکو ته په د رنښت ، احترام ، ښه ګاونډيتوب او د يو بل په کورنيو چارو کې د نه لاس وهنې په اصولو باندې ټينګ دي . د دوستانه سفرونو ، ديپلوماتيکو هلو ځلو او نړيوالو مرستو په وسيله به کوښښ وکړو چې دا اړيکې نورې هم قوي شي مونږ هيله مند يو چې دا هڅې به مثبتې او عملي نتيجه ور کړي. .نوی رژيم د ملګرو ملتو د منشور اصول مراعت او احترام ورته لري ، چې دغه احترام د بنيادم ښېګړه او نړيواله سوله ده. (۳۷ م: ۱۲۸)

سردار محمد داود خان خپله کړنلاره او بدلونونه ، د افغاني دولت د عصري کولو او پايښت لپاره اړين توکي ګڼل ، د افغانستان د ګاونډيانو ، عربي هېوادونو او متحده ايالاتو سره د اړيکو ،پراختيا ورکول د جمهوريت مهمو هدفونو په توګه په ګوته کړل .

### _له امريکا سره سياسي اړيکې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بهرینو چارو وزارت د سیاسي چارو عمومي مدیر عبدالواحد کریم په کابل کې ټول مېشت سفیران د کودتاه په دویمه ورځ را وغوښتل د نوي رژیم د کامیابۍ څخه د خبرولو او د خپلو هېوادونو له لوري د دې نظام په رسمیت پېژندلو غوښتنه وکړه . شوروي اتحاد لومړی هېواد و چې جمهوري نظام یې په رسمیت وپېژانده ، نورو هېوادونو هم یو پر بل پسې دغه نوي رژیم په رسمیت وپېژانده .

د جمهوریت په لومړیو وختونو کې له افغانستان سره د امریکا اړیکې سړې وې ځکه هغوی فکر کاوه چې د داود خان په کودتاه کې د چپیانو ونډه ډېره وه . شاید دا کودتاه د شوروي اتحاد پلوی کودتاه وي او په داخل کې داسې تبلیغات کېدل چې د میوندوال په کودتاه کې د پاکستان سربېره امریکا هم ونډه درلوده . خو بیا هم د افغانستان دولت د امریکا سره د اړیکو د ټینګولو کوښښ کاوه او د امریکا له مرستو سره یې علاقمندي درلوده سردار محمد نعیم او د امریکا سفیر تیودور ایل ایلت جونیز په دې برخه کې ډېره ونډه واخېسته نوموړی سفیر وتوانېده چې د داود خان د رژیم د بې پلویتوب په اړه واشنګټن ته قناعت ورکړي او د هغوی پام افغانستان خوا ته را واړوي (۳۷، م م ۳۲۹ او ۳۳۰)

په ۱۹۷۴ ز کال د امریکا سفیر تیودور ایل ایلنټ جونیز وکولی شول چې د افغانستان او امریکې اړیکې ښې او د هغوی پام یې را وګرځاوه چې د همدې کال (۱۹۷۴ز ) کال د نوامبر په لومړۍ نېټه د امریکا لوړ پوړی هیئت د هنري کیسنجر په مشرۍ افغانستان ته راغی داود خان د دې هیئت سره په کتنه کې د امریکا له مرستو څخه مننه وکړه او د هلمند د پروژې د تکمیلولو له پاره یې د زیاتو مالي او تخنیکي مرستو غوښتنه وکړه . کیسنجر داود خان ته وویل امریکا متحده ایالات له افغانستان سره دوستۍ ته اهمیت ورکوي خو افغانستان باید د مرستو د جذب توانایي ولري . سردار محمد داود خان له شوروي اتحاد ، د عربي هېوادو او ایران سره اړیکو د ټینګولو د اړتیا په باره کې کیسنجر ته معلومات ورکړل او د افغانستان بهرنۍ کړنلاره یې د افغانانو اړتیا وبلله . خو کیسنجر وویل چې بوټو شکایت لري ، امریکا د افغانستان او پاکستان تر مینځ د ستونزې د یو پرامنه حل غوښتونکې ده . هغه د سفر په پای کې د داود خان سره یوه ګډه وینا خپره کړه چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وينا کې د امريکا او افغانستان تر مينځ په ښو اړيکو او اقتصادي مرستو باندې ټينګار شوی وو . (۳۷) م ۱۸۲

د ۱۹۷۵ ز کال د جنوری په ۲۳ او ۲۴ نېټه د ( A , I , D ) رئيس د ايفال پارکر ( D , P , K ) افغانستان ته راغی . ده د هلمند د پروژې په بشپړېدو کې د امريکا ونډه ښکاره کړه . همدارنګه د ۱۹۷۲ ز کال د جون د ۲۹ مې نېټې څخه د جولای تر لومړۍ نېټې پورې سردار محمد نعيم خان د جمهور رئيس د استازي په توګه واشنګټن ته سفر وکړ چې د سنا مجلس له غړو او نورو مشرانو سره يې ليدنه وکړه امريکايې چارواکو د کوکنارو په بندولو ډېر ټينګار کاوه او داود خان د کوکنارو د کرنې د بنديدوو له پاره کلک اقدامات وکړل . د محمد نعيم سفر يو ګټور سفر و .

د ۱۹۷۷ ز کال کې جيمي کارتر داود خان ته رسمي بلنه ور کړه چې متحده ايالاتو ته سفر وکړي . ځکه کارتر د افغانستان د ناپيلتوب مسايلو او پاکستان سره د ولس مشر د مثبتو هڅو هر کلی کاوه . داود خان د کارتر بلنه ومنله خو په ۱۹۷۷ ز کال کې ده يو شمېر نورو هېوادونو ته ټاکلي سفرونه لرل، مشکله وه چې په همدې کال امريکا ته سفر وکړي ده غوښتل په ۱۹۷۸ز کال کې امريکا ته سفر وکړي او هم د ملګرو ملتو عمومي اسامبلي په غونډه کې وينا وکړي واشنګټن هم په دې سفر موافقه وکړه او په ۱۹۷۸ز کال د ايران پاچا کابل ته راغی چې د غو سفرونه په شوروي اتحاد ښه ونه لګېدل (۳۷) م ۱۸۸

د امريکا او افغانستان د اړيکو په اړه د پاکستان موضعګيري ، پښتونستان مساله د سنټو په نظامي پکت کې د پاکستا ن عضويت او د ناپليتو ب غورځنګ کې د افغانستان په غړيتوب ډېره اغېزه درلوده ځکه د دوهم نړيوال جنګ څخه وروسته د انګلستانو پر ځای امريکا په سيمه کې نفوذ پيدا کړ او د افغانستان په ګاونډ کې پاکستان د دوی د ګټو له پاره ډېر مهم و . امريکا تل د پاکستان په خوښه په سيمه کې عمل کاوه او پاکستان د پښتونستان د مسالې پر سر د افغانستان سره اختلاف درلود او د داود خان د مخالفينو ملاتړ يې کاوه . نظامي تړون کې د افغانانو غړيتوب نه لرلو، د امر يکا او افغانستان اړيکې سستې کړې او هغه وخت چې څوک د امريکا سره په نظامي تړون کې نه وه شامل هغوی هغه هيواد ته د دښمن په سترګه کتل . داود خان کوښښ کاوه چې د يو ناپيلي او منځګړي هېواد په توګه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوولويو قدرتونو (امريکا او شوروي اتحاد) تر مينځ پاتې شي . د دوی دا موقف له افغانستان سره د امريکا اړيکې خصوصاً په لومړيو وختونو کې سستې کړې . د امريکا هېواد حاضر نشو چې په خلاص مټ د افغانستان سره اقتصادي مرستې وکړي حتی د افغانستان جيوپولوټيک موقعيت ته کم ارزښت ور کاوه . افغانستان د مجبوريت له مخې د شوروي اتحاد په مرستو اتکا وکړه او د غربي نړۍ د اقتصادي مرستو څخه بې برخې پاتې شو، که غربي هېوادونو هم مرستې کولې خو هغه هم په نشت حساب وې . خو کله چې داود خان په جدی توگه د شوروي اتحاد څخه لوديځ ته ميلان پيدا کړ د لوديځ سره د اړيکو د ټينگولو او پياوړتيا په اساس د هغه واکمني پای ته ورسېده .

## ـد شوروي اتحاد سره سياسي اړيکي :

شوروي اتحاد لومړنی هېواد و چې ۱۹۷۳ زکال د جولای په (۲۰) مه نېټه چې د افغانستان جمهوري رژيم په رسميت وپيژندلو او دجولای د (۲۲) نېټې په پيغام کې شوروي مشر تابه ، سردار محمد داودخان ته دباور د څرگندولو سر بېره د ښه گاونډيتوب ، دوستانه اړيکو او مرستو وعده ورکړې وه، په کابل کې شوروي سفير الگزاند پوزانوف د بهرنيو چارو د وزارت مرستيال وحيد عبدالله سره د ليدنې په وخت کې د رژيم د بدلون په اړه د شوروي خوښې څرگنده کړه.(۳۷، م ۱۸۹

دسردار محمد داود خان او شوروي اتحاد اړيکې مخکې د ۱۹۴۰ ز کلونو په دويمه نيمايي کې ټينگې شوې وې په هغه وخت کې د پښتونستان مسله ډېره گرمه وه. افغانستان د پښتونستان مسئله پرېښودلې نه شوه ځکه د يو عصري پوځ د جوړولو اړتيا حس کېده . پاکستان هم دافغاني رژيم د کمزوري کولو لپاره متې نغښتې وې افغانان دشوروي اتحاد د پوځي مرستو په خطرونوباندې پوهېدل خو بله لاره نه وه. ځکه د امريکا متحده ايالاتو له ډېر پخوا څخه افغانستان ته د وسلو ورکولو درخواست ردکړې وه. چې د ۱۹۵۵ ز کال محمد ظاهر شاه او محمد داودخان دواړو خروشوف او بلگاتگين ته په دې اړه خپله ويره څرگنده کړې وه، چې ځوانو افسرانو ته کمونستي درس ورنکړي هغوي په تکرار سره داود خان او پاچا ته ډاډ ورکاوه چې شوروي به داسې کار ونه کړي . د خروشوف نه تر بريژنيف پورې د شوروي ټول واکمنان دافغانستان د ناپليتوب سره علاقمند وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان حکومت په ډېر اخلاص سره شوروي ته د دوستي لاس ورکړ. تر څو هغوی ته د افغاني قواوو ته د شوروي په طرفداري د تربيه کولو اړتيا پاتې نشي .(۳۷) م م ۱۹۰ او ۱۹۲

يوي خبرې ته پام په کار دی هغه دا چې افغانستان د مصر په څېر د شوروي اتحاد په مقابل دريځ نشو نيولی ځکه افغانستان د شوروي اتحاد سره اوږده سرحدي پوله درلوده او مصر په جغرافيائي لحاظ ليری پروت و . ځکه سادات ټول روسان له مصر څخه وويستل خود افغانستان سره يې په سرحدي پولې د پښتونستا ن ستو نزه او له پاکستان سره د اړيکو د خړ پړ تيا له کبله دا هېواد مجبور و چې له شوروي اتحاد سره دوستانه سياسي اړيکي ولري تر څو اقتصادي مرستې قطع نشي په همدې هيله افغانستان د شوروي له تمی څخه ګټه واخېسته او ډېر ښه اقتصادي کومکونه يې را جلب کړل چې د پوځ په عصري کولو کې ورڅخه ګټه واخېسته .

د جمهوري د پيل څخه وروسته په مرکزي کميټه کې شوروي او امريکا د مرستو او پروژو په اړه د نظر اختلاف وه . محمد داودخان واک ته د رسيدو نه وروسته په لومړي ځل په ۱۹۷۴ز کال په جون کې مسکو ته سفر وکړ .

د سردار محمد داودخان په ليدنه کې پوډګورني وويل: (( د ۱۹۷۳ز کال په جولای کې د جمهوري نظام د جوړېدو وروسته زمونږ دوستانه اړيکي ډېرې ښې شوې ، شوروي اتحاد لومړنی هېوادوو. چې نوي جمهوري نظام يې د هغې اعلان څخه وروسته په رسميت وپېژنده او دوستانو اړيکو او ګټورو مرستوله پاره يې تياري څرګنده کړه.(۳۷) م م ۱۹۳ او ۱۹۳

د دواړو خواو په موافقه د اقتصادي او تخنيکي همکاری له پاره يو ګډ کميسون جوړ شو تر څو هغه پروژی په ګوته کړي چې د شوروي اتحاد په مرسته جوړېدلی شي . داود خان په کرېملن کې د غرمې په ميلمستيا کې د وينا پر مهال د افغانستان او پاکستان خرابې اړيکي توضيح کړې. خو شورويانو ځان بې طرفه وښود او د سفر په پای کې د دواړو هېوادو د رهبرانو په ګډه وينا کې د پاکستان او افغانستان د اختلاف حل لپاره د خبرو له لاری د سوله ايزه حل غوښتنه وکړه . خو داود خان د بريژنېف د وړانديز په اړه چې د اسيا د ګډ امنيت د ټينګېدولو په اړه په خپله تبصره کې څرګنده کړه چې مونږ ددې طرحې ځينې توکي خوښوو. خو د سرحدونو ټاکنه په زور نه خوښوو مطلب يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکستان و.داودخان د بریژنیف نوموړي وړاندیز ( په اسیا کې د ګډ امنیت) په باره کې وویل: (( ستاسو جلالتماب په اسیا کې د ګډ امنیت یادونه وکړه. دا د ستاینې وړ فکر دی،خو افغانستان داسې فکر کوي چې حقیقي امن هغه وخت راتلې شي چې ټول دولتونه د بشري پرګنو قانوني حقونه رعایت کړي او دملګرو ملتونو د چارتونو له مخې استعماري روش وغندي .)) (۳۷) م ۱۹۷

کابل ته د محمد داود خان د راستنید وڅخه وروسته ، سملاسي په اوه کلن انکشافي پلان کې ، چې له مخکې نه پیل شوی و، د روسې ونډې د ټاکلو جریان تیز شو دواړوخواو د لاندې پروژود عملي کېدو موافقه وکړه ، د اوبوخور،کرنې مختلفې پروژې ، د یوریا دسرې د جوړولو یو بل ماشین ،د جرقدوق د ګاز پروژه ، د افغانستان د طبیعي منابعو معلومول او یو شمېر نورې پروژې . د ۱۹۷۴ زکال د اکتوبر په میاشت د شوروي د دفاع وزیر مارشال موسکولینکو کابل ته په رسمي سفر راغې او له ده وروسته پوډګورني هم د دوه ورځو له پاره د ۱۹۷۵ زکال په ډسمبر کې افغانستان ته راغی . ده داوداخان ته مشوره ورکړه چې د صوبه سرحد او بلوچستان په چارو کې لاسوهنه ونه کړي خو داود خان نړیوال خطر ته اشاره وکړه او دهغه خطر نړیواله پړه یې په امریکا واچوله . خو تبصره یې ونکړه دومره یې وویل چې ټول طاقتونه د نړۍ د امن او امنیت ساتلو مسولیت لري ، په اخر کې د ټاکنونو ورکولو او نورونظامي مرستو دوعدې ورکولو او دیوې ګډې اعلامیې د صادرولو وروسته شوروي ته روان شو (۳۷) م ۲۰۲

کله چې په ۱۹۷۲ زکال کې شورویانو د محمدداودخان دچپیانوترمینځ داختلا ف باندې یقیني شول لومړي یې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند دواړه (خلق او پرچم ) اړخونه سره یو ځای کړل .چې داود خان ددوي په دې پټ فعالیت سخت خپه وه . ولې شورویانو بیا د ۱۹۷۷ زکال کې محمد داود ته بلنه ورکړه چې مسکو ته سفروکړي .
سردار محمد داود خان د ۱۹۷۷ زکال د اپریل له۱۲نه تر۱۵ پورې شوروي ته د بریژنیف سره د کتنې ،تر څو دهغوی د لاس وهنې په اړه د هغوی څخه د پوښتنه وکړي شوروي اتحاد ته سفر وکړ . دوی په لیدنه کې بریژنیف ، نیکولای پوډګواني ، الکسي کوسیچین او نورو شورویانو ، دافغانستان لخوا محمد داودخان ورسره هیئت ګډون وکړ. ګاریلوف د شوروي د بهرنیو چارو د دفتر مامور چې په کابل کې یې ډېر وخت دنده اجراکړې وه دری ژبه یې زده و ددوی خبرې یې ژباړلې .د بریژنیف له خوا د هرکلي ویلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته محمد داودخان خبره واخیسته د شوروي د مرستو او په اوه کلن پلان کې د هغو د ونډو اخیستلو څخه یې منته وکړه ، د افغانستان او پاکستان د اړیکو د ښه کېدلو دایران او عربي هیوادونو سره د نږدې اقتصادي اړیکو په اړه یې هم معلومات وړاندې کړل او په خپل ناپېلیتوب یې ټینګار وکړ. د شوروي اتحاد بې غرضو مرستو په اړه چې د جمهوري نظام د جوړېد وپخوا او وروسته یې کړي په ځانګړي ډول جمهوریت د جوړېدو وروسته د لومړي اوه کلن پلان د عملي کولو د پاره یې ورکړې منته وکړه. (۳۷م م ۲۱۰او ۲۱۱

د محمد داود خان او بریژنیف په وروستۍ لیدنه کې د نورو خبرو په خوا کې یو ناڅاپه بریژنیف محمد داود خان ته وکتل ا و ویې ویل : (( په افغانستان کې په دوه اړخیزو کارونو ، د ملګروملتونو او نور ګڼ اړخیز پروژو کې دناټو غړوهیوادونو کارپوهانو شمېر ډېر زیات شوی دی. په تېر وخت کې افغانستان لږتر لږه دومره کول چې په شمال سیمو کې به یې دناټو غړو هیوادونو کار پوهان نه پرېښودل خو اوس دې لوري ته پاملرنه نه کوي او وویل : چې شوروي اتحاد دا کار ښه نه ګڼي افغانستان باید د شوروي اتحاد دکار پوهانو پرته نور څوک هلته پرې نه ږدي، ځکه هغه جاسوسان دي او دخپلې امپراتورۍ او خپلو موخو له پاره کار کوي .... د بریژنیف ژباړن کارویلوف د دې ژباړې او خبرو وروسته یوه خاموشي خپره او زړونه وترهېدل. د محمد داود خان مخ د قهرنه تک تور شو او بریژنیف ته یې په ځواب کې وویل : (( مونږ به هېڅ کله هم تاسوته اجازه در نه کړو چې مونږ ته حکم راکړې ، چې مونږ څنګه خپل هېواد وساتو ، او څوک په افغانستان کې استخدام کړو. دا چې افغانستا ن له پاره رابلل شو ی بهرني کارپوهان مونږ څه ډول او څېرته ساتو ، دایوازې زمونږ حق دی ، که مونږ په دې تګلاره کې وروسته هم پاتې شو پروا نه کوي خو په خپلو پرېکړو کې بل چاته د لاسو هنو حق نه ورکوو... .)) (۳۷م م ۲۱۲او۲۱۳

له دې وینا وروسته محمد داود خان یو دم را پاڅېده او ټول افغانان ورسره پاڅېدل. داود خان روسانوته یو څه درناوي وروسته د حال د دروازو په لوري روان شو. بریژنیف او د هغه ملګري پوډګورني او کوسیچین له روسي ژباړن سره د داود خان په لور روان شول تر څو خپلې نیمګړتیاوې تلا في کړي. داود خان د وحید عبدالله او ملګرو په غوښتنه خپل لاس د بریژنف په لور اوږد کړ بریژنیف وویل تاسې عزت مآب غوښتل چې له ما سره ځانګړې خصوصي لیدنې ولرۍ زه ستاسې په خدمت کې یم سردار محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

داودخان په لوړ اواز سره وویل :« ماغوښتل چې تاسو عزت مآب سره خبرې وکړم خو هغې لېدنې ته نوره اړتیا پاتې شوې نه ده . دایې وویل له پوډ ګورنې او کوسیګین سره یې روغبړ وکړ او په تیزۍ له کوټې څخه ووت . دادې محمد داود خان او بریژنېف اخرنۍ لیدنه وه دواړو هیئتونو تر مینځ نیمګړې غونډه بیا ونه شو او دروسانو خبرې نیمګړې پاتې شوې . «۳۷» م م ۲۱۳ او ۲۱۴

له مسکو څخه چې محمد داود خان را ستون شو د شوروي او افغانستان اړیکې د پخوا په شان وې خو داود خان د بریژنېف په خبرو ډېر خپه و. هغه د شوروي اړیکو باندې خوښ و خو په کورنیو چارو کې مداخله یې نه قبوله کوښښ یې کاوه چې د شوروي د سفارت دغړو شمېر باید کم شي . په ۱۹۷۷ ز کال په اکتوبر کې د روسیې ترانسپورتي الوتکو توپولوف او انتونو ۲۲ د افغانستان په هوایي سیمو کې الوتنې کولې چې حبشې ته وسلې وړلې . داود خان غوښتل چې احتجاج وکړي . خو د ځینو مجبوریتونو په اساس یې دا کار ونه کړ ، د ۱۹۷۷ ز کال په منۍ کې د پلان وزارت ځینو مامورینو دشوروي د ونډې اخېستلو په اړه شکایت وکړ «۳۷» م ۲۱۷

وروسته له دې شوروي اتحاد په پټ او ښکاره د سردارمحمد داودخان پرضد کړنې تر سره کولې او هیله یې و . چې افغانستان تر مستقیمې اداري لاندې راولي . اود دې هیواد کورنۍ او بهرنۍ چارې د دوی په میل سرته ورسېږي .که څه هم د ۱۹۷۷ ز کال د اپریل د ۲۷ نېټې بدلون «کودتاه» څخه وروسته دوی ډېر ډاډه او ۱۹۷۸ ز کال پر افغانستا ن پوځي یرغل وکړ. د افغانستان لاندې کول یې ډېر اسانه ګڼلي وو. خو دوی په خپل تحلیل کې د نورو په څېر اشتباه کړې وه ځکه د «۱۰» کاله جګړې او د خپلو عسکرو دوژنې وروسته د افغانستان څخه وتلو ته مجبور او خپله ماتې یې په نړیواله سطحه ومنله ، نه یوازې دا چې دوی په افغانستان کې ماتې وخوړه بلکه د شوروي اتحاد هغه کوم دولت چې د مرکزي اسیا یو شمېر جمهوریتونه یې لاندې کړي او ددوهم نړیوال جنګ وروسته یو نړیوال طاقت په توګه څرګند شوي وو. په نړیواله سطحه ماتې وخوړه او نظام یې له مینځه ولاړ او لاس لاندې هېوادونو ازادي واخېسته د دوی یو سیاسي بلاک هم دافغانستان د نیولو قرباني شو .مونږ دلته دشوروي سره د اړیکو په اړه ښاغلي محمدظاهر او اجمل خټک نظریات چې هغه وخت په مسایلو کې داخل شخصیتونه وو.رانقل کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

له شوروي اتحاد سره د اړیکو په اړه پاچا محمد ظاهرشاه وایي: ((دادي شخص د توانایي سوال نه دی، حتی د یو حکومت د توانایي سوال هم نه دی ، دا په عمومي توګه شرایطو پورې اړه لري او ځینې حکومتونو ته دا شرایط په خپله اماده کېږي په دي کي هېڅ شک نشته چې امریکا او شوروي دواړو غوښتل چې مونږ ځانته جلب کړي . خو مونږ ته دا امکان نه وو چې د امریکي یا د شوروي اتحاد غېږې ته ځان وغورزو. که مونږ د شورویانو څخه کومه مرسته ترلاسه کوله په همغه ترتیب سره مونږ دامریکایانو څخه هم تر لاسه کوله او موازنه مو ساتله . په دې ترتیب سره د هېواد اقتصادي بنسټ ټینګ شو ((۳۷، م م ۲۴۱ او ۲۴۲

د داود خان ځینې مخالفین وایي چې د جمهور رئیس محمد داود خان سره د شوروي پوځي مرسته وه چې د ورستیو بربادیو سبب وګرځېده . خو ښاغلي ډاکتر عبدالصمد د دې نظر سره موافقه لري وایي: ((چې دا اړیکي له خطره ډکې وي ولي بله چاره نه وه ، زه د دی سره قناعت لرم چې دافغانستان اړیکې له شوروي سره ددویم نړیوال جنګ خصوصاً د داود خان د صدارت څخه وروسته ډېرې قوي شوې ، ځکه د عسکرۍ له پاره د هغو څخه مرسته اخیستل کېده. د نفت اوګاز د پلټنې پروژه شوروي اتحاد ته ورکړل شوي وه، زه د دې او نورو اقداماتو څخه دفاع کوم. خو د خارجي سیاست ایجابات ددغه داخلي مېکانېزم له مخې قضاوت کول واقعیت نه دي ۳۷، م م ۲۴۲ او ۲۴۳

د پاکستان د نېشنل عوامي پارټي مشر اجمل خټک د جمهور رئیس محمد داود خان سره نږدې په تماس کې و هغه وایي چې سردار محمد داود خان د هرې بهرنۍ مفکورې او سیاسي واکمنۍ مخالف و . هغه (محمد داودخان ) د شوروي اتحاد سره دیو ازاد او مستقل افغانستان په حیث د دوستي په حق کې و. لیکن ددې په حق کې نه و چې د شورو ي د نظر یې او یا د هغه تر نظامي او سیاسي تسلط لاندې راشي .زه په یقین سره ویلی شم چې دهرې خارجي مفکورې او سیاسي تسلط او لاس هغه مخالف و او هغه دافغانستان د ابادۍ ، خوشحالۍ او تعمیر لپاره بهر دنیا ته لاړو، ایران سره یې هم خبري اترې وکړې. پاکستا ن ته هم لاړو، د هغه مطلب دا و چې خاص چا پورې ځان و نه تړي ، د یو مستقل، خپلواک، اباد او خوشحاله افغانستان دپاره هغه له هر چا سره تعلقات جوړول. (۴، م م ۲۴۴ او ۲۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي پايلې ته رسېږو چې د داود خان اړيکې له شوروي اتحاد سره په مفکوروي لحاظ نه وي او هغه ته د کمونست ويل يو تېر وتنه ده د هغه اړيکې اقتصادي او نظامي مرستود ترلاسه کولو او د يو پياوړي افغانستان د جوړېدو په موخه د گټې اخيستلو پر بناوې، هغه د پرديو دهر ډول تسلط مخالف و ، خو جغرافيايي موقعيت د پښتونستان ستونزې د پاکستان سياست په نړيواله کچه د امريکا ملا تړ دی مجبور کړی و چې د شوروي اتحاد سره نږدې اړيکې وساتي خو شوروي اتحادد اقتصادي او نظامي مرستو په ورکولو کې خپلې موخې درلودې او د هغوی دعملي کېدو له پاره يې هڅه کوله ،او دا هڅې اوس هم د بڼې په تغير سره دوام لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ـد پښتونستان مسئله او له پاکستان سره د اړیکو خرابېدل.

د پښتونستان سیمه چې له چترال څخه د هند تر سمندر پورې د سند د سیند په ښي خوا د (۸۰۰) میله او تقریبا (۲) میلونو نفوسو په لرلو سره پرته او د افغانستان دخاورې طبعي برخه وه، د (۱۸۱۰) او (۱۸۲۳) زکلونو تر مینځ هغه مهال چې افغانستان کې د محمدزیو ورونو تر مینځ کورنۍ جګړې وې. دپنجاب دسکانو حکومت ، د انګلیسانو د لمسون له مخې ددې سیمې ځینې برخې دسند سیند دواړو خواوو ته ونیولی، دانګلیسانو حکومت د لاهور دمثلث تړون پوسیله د سکانو اوانګلیسانوله خواد نیول شویو سیمو په اړه د تبعید شوي شاه شجاع په رسمي ډول ددې سیمو له ادعا څخه تېرکړ. اما دافغانستان خلکو په (۱۸۴۲ز) کال کې دشاه شجاع په وژلو او دانګلیس فوځ د له مینځه وړلو او ماتې پواسطه دا تړون باطل او دهغه ټول مواد یې عملاً له مینځه یوړل . امیر دوست محمد خان انګلیسانو ته وخت ورکړ چې تر (۱۸۵۴) ز کال پورې د سند او بلوچستان ولایتونه ونیسي ، ځکه امیر دوست محمد خان د سک حکومت تر ړنګیدو وروسته له ګجرات ، ګیرات او اټک څخه شاته راغی انګلیسانو خپل ځانونه د سکانو ځای ناستي او وارثان اعلان کړل (۳۲) م م ۹۷۸ او ۵۷۹

انګلیسانو په دې سلو کلونو کې افغاني ولایتونه لومړی په مختلفو برخو او نومونو لکه چترال، سوات، دیر،باجوړ بیایې په شمال کې د مختلفو ریاستونو په نوم لکه مکران ، خاران ، لس بیله، پشن ډوکي تریو (شور) او د برتانوي بلوچستان په نوم ونومول او په جنوب کي یې یو محکومه سرحدي پوله د دیري، پیښور ،هزاره، اټک او ازاد سرحد لکه تیرا ،شمالي وزیرستان ،جنوبي وزیرستان او کرمي په سیمو وویشل شوی . له نوموړو سیمو سره د انګلیسانو اړیکي د مختلفو ایجنسیو پواسطه لکه د دیره جاتو ایجنسي ،پیښور ایجنسي،د هزاره ایجنسي،د اټک ایجنسي ، ملکنډ ایجنسي،خیبر ایجنسي،کرم ایجنسي،د شمالي وزیرستان ایجنسي،کویټي ایجنسي، دلورلاي ایجنسي او چکي ایجنسي ټینګیدلې .ددې ایجنسیو اساسي د ندې او کړنلارې د بې اتفاقۍ پیدا کول. د هر ډول ټولنیزو ،اقتصادي او فرهنګي چارو پرمختک مخنیوی و .ورسره ورسره د نظامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلاگانو او سرکونو جوړول، د حاکمو نقطو او مهمو لاروباندي تسلط او کنترول وو. (۳۲، م ۵۷۹)

انګلیسانو د پورتنیو هیلو او موخو ته د رسیدو له پاره د هر ډول مقاومت مقابله کوله . په دې لار کي د خلکو وژل، د قوي وسلي ټوپک، توپ او الوتکو د استعمالولو پواسطه ددي سیمي خلک له هري خوا کلا بند کړل. څکه دوي د ډیورند له کرښي ورو ورو ازاد سرحد په لوري د سرکونود جوړول لاره ځان ته خلاصه کړې.څکه د ډیورند د کرښي او برطانوي هند د محکوم سرحد تر مینځ آزاد سرحد په نوم یوه مستقله سیمه موجوده وه . تر ډیره وخته دغه سیمه د آزادو قبایلو یا آزاد سرحد په نوم یادیده .د موجوده افغانستان او د وخت برطانوي هند تر مینځ د نښلوني لویه لاره و. (۳۲، م۵۷۹)

د انګلیسانو حکومت د آزاد سرحد سیمه د ښکارځای (عملي کار یا ټریننګ) په سیمه بدله کړه څکه کله به چي انګلیسي پوځ وغوښتل نو هلته به یې پوځي عملیات تر سره کول . دغه پوځي عملیاتو د عملي ستاژ بڼه درلوده . دسلوکالو په موده کې تقریبا سل غټې او وړې جګړې انګلیس پوځ له دي با شهامته او غیرتي قوم سره وکړې خو بریالي نشول .د مثال په ډول د څو مشهورو جګړو یادونه کوو: په (۱۸۵۹) زکال کې یې د بهادرخېلو له قوم سره، په (۱۸۵۳)زکال کې د اپریدو له قوم سره، په (۱۸۵۵ ) ز کال د اکاخیلو د قوم سره په (۱۸۵۹) زکال په کرمه او په ( ۱۸۲۰) زکال کې یې پر مسعودو بریدونه وکړل . دوي (انګریزانو ) یوازي د اپریدیو سره له (۱۸۵۰_ ۱۹۰۸زکال ) پوري اته ستري جګړې وکړلې .

انګلیسانو له (۱۸۵۱_ ۱۸۲۴) د مهمندو سره شپږ ستري جګړې وکړې چې مشهوره جګړه یې په ( ۱۸۲۳) زکال د امبیلې جګړه وه او بله جګړه یې په(۱۸۹۷) زکال کي دمیزارجګړه وه چې د ډیورند د تړون تر لاسلیک کېدو وروسته د ملکنډو مهمندو ، تیرا ، ورکزیو، اپریدیوا و نورو قومونو په دي جګړه کې د انګریزانو پرضد ګډون کړې وو. چې یو کال یې دوام وکړ، خو انګلیسانو له هند څخه د وتلو تر وخته د خیبرد هسکو غرونو د نیولو لپاره توره او ټوپک په څمکه کینښود . او په هره جګړه کې یې له شپږو زرو تر شپیتو زرو عسکرو ګډون کاوه .د انګلیس داستعماري امپراتورۍ له ناروا کړنو سره د ازاد سرحد نوم او نښان په خپل حال

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتې شو خو که یوه لویه امپراتوري هم واي په دې جګړه کې به له مینځه تللې وای خو په پښتون خوا کې داسي ونشول، ځکه ازاد سرحد د انګلیسانو او بیا د پاکستان تر جوړېدو پورې په خپل حال پاتې شو. د ازاد سرحد خلکو سره په هره جګړه کې د انګلیسانو د سلوڅخه تر زرو پوځیانو پورې او یا تر دې زیات مړه کېدل او دوی ( پښتنو ) به بیاهم په انګلیسانو د ترپ اوخرپ او جبهه یې بریدونه کول. ددې سلو کلونو په جریان کې مهمندو (۲۵) ځله او وزیرو لس کرته د انګلیسانو په پوځي چونیو حملې او بریدونه وکړل . (۳۲، م ۵۸۰

پښتنو د مبارزې ، شهامت او د خیبر د درې په اړه مشهور شاعر محمد اقبال افغانستان ته د راتګ په وخت کې په خپل کتاب مسافر کې د دې سیمې د ښایست او عظمت بیان کړي وایي:

خیبر از مردان حق بیګانه نیست　　درون او صد هزار افسانه ایست
سر زمین کبک و شاهین مزاج　　آهوي او ګیرد ازشیران خراج
در فضایش خبره بازان تیز چنګ　　لرزه برتن نهیب شان پلنګ

د افغانانو ددې بې سارې دفاع پایله دا شوه چې د انګلیسانو لویه امپراتوري د افغانستا ن د ختیځو ولایتونو په نیولو کی ما یوسه او ناکامه شوه . د مجبوریت په وجه یې د چترال څخه د هند تر سمندر پور ي د دې سیمې محلي واکمنانو ، خانانو ،ملکانو او رئیسانو داخلي ازادي او خودمختاري ومنله او د دغو رئیسانودملا تړ پو اسطه یې خپل قیمومیت ته دوام ورکړ . انګلیسانو مستقیمه سلطه په دې لو یه او پراخه سیمه یوازې په شمال کې په پیښور،دیره جاتو، (شمال غربي صوبه سرحد)او په جنوب کې د سیبي ،پشین،ژوکي ، ( برتانوي بلوچستان) د انګلیسانو په ولکه کې وه .خو انګلیسانو دغه لاس لاندې سیمې وروسته پاتې وساتلې او اصلاحات یې اځې په هند کې عملي کېدل. له ودې او پرمختګ څخه داسیمې محرومې وساتل شوې اوهغه سیاسي حقوق چې د هندوستان خلکودرلودل دی سیمو ته یې ورنکړل .(کله چې په ۱۹۳۲ زکال د هندوستاني اتباعو حقوق تر نامه لاندې د انګلیسانولخوا ورکړل شوي و.) صوبه سرحد دیو غیر افغاني اقلیت تر اداري او کنترول لاندې پاتې شو ، په دې ټوله سیمه کې دوه فابریکې (دمیوې او شکرې ) جوړې شوې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹۱۳ ز کال کې د پېښور اسلامي کالج د اشرافو ، نوابانو ، خانانو او فيوډالانو لخوا جوړ شو . خو کله چې کانګرس (د افغانانو کابينه )جوړه شوه ددې کابيني په سر کي ډاکتر خان صاحب د عبد الغفارخان ورور ودريد . خو په ۱۹۸۵ ز کال کي ووژل شو او قاضي عطاالله خان چي د معارف وزير و وروسته بياد سياست په پايله کي له مينځه و لاړ .نوموړې کابيني (کانګرس) تر جوړيدو وروسته په ۱۹۳۷ ز کال کې معارف پرمختګ وکړ او د پيښوراسلامي کالج پوهنتون ته لوړ شو (۳۲) م ۵۸۰

انګليسانوکه د سند په سواحلوکې افغاني نيولی شوې سيمې وروسته پاتې وساتلې خو د ازادۍ غوښتونکو او سياسي نهضتونو د محنيوي څخه عاجز پاتي شول ځکه تر لومړۍ نړيوالې جګړې وروسته انګليسانو د يو فاتح هيواد په توګه د هند سره نظامي سياست لوباوه، نو صوبه سرحد يې هم اطاعت ته مجبوراوه خو افغانانو (پښتنو ) د اتمانزو قوم مشر توب د خان عبدالغفار تر مشرۍ لاندې د انګليسانو ددې ويش پر ضد غونډه وکړه، انګليسانو خان عبدالغفارخان او هغه سره ملګري ټول بنديان کړل، پښتنو(افغانانو)د انګريزانو پرضد جګړه اعلان او پيښور کې يې يوه اعلاميه نشر کړه .په اعلاميه کي راغلي و چې پيښورته به داخليږي .مګر په ۱۹۲۱ ز کال په داسې حال کې چې د صوبه سرحد رهبران بنديان وو، د (خلافت جمعيت) افتتاح وشوه. دهغه جمعيت يوه برخه وه چې د لومړۍ نړيوالې جګړې وروسته دهند دمسلمانو رهبرانو لکه مولوي محمد علي خان اوشوکت علي خان لخوا تاسيس شوي و.په ۱۹۲۲ ز کال کي يې د پرنس آف ويلز د راتګ پرمهال د مخالفت لاريون وکړ چې ځينې لاريون کوونکي بنديان هم شول[(۳۲) م ۵۸۰ ] د هند د خلافت په تحريک کې هندوان او مسلمانان يو او متحد شول .ګاندي د (عدم تعاون تحريک رهبري کاوه مګرمصطفي کمال پادشاه د مينځ ته راتګ وروسته د خلافت تحريک کومه ځانګړې موضع ګيري نه لرله خو دعدم تعاون تحريک په هند کې پاتې شو. چندرابوش ډيرفعاليت کاوه . ولي انګليسان هم ارام کښيناستل. شردهاسند او دهغه د ملګرو هندوانو او مسلمانانو تر مينځ يې داختلاف اور بل کړ . تر دې پورې چې ځينو معتصبينو په دې ټينګار کاوه چې هند د هندوانو مال دي مسلمانان مجبور دې چې خپل مذهب بدل کړي اويا دهند څخه تير شي په دې کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيرې ويني توی شوې، مګرد مسلمانانو او هندوانو ترمينځ اختلاف زيات شو. ددې ارخه انګليسان ډيرډاډه ښکاريدل . (۳۲م ۵۸۰

دترنګزو د حاجي صاحب د فعاليت په تعقيب خان عبدالغفار خان په (۱۹۱۴ز) کال ((دانجمن اصلاح افاغنه)) تشکيل کړ. چې همکاران او ملګري يې ښاغلي محمداکبرخان خادم ، ميان احمد شاه خان ،قاضي عطاالله ((د پښتنو د تاريخ مولف)) جعفر شاه کاکاخيل اوعبدالکريم خان وو. نوموړی انجمن په (۱۹۲۹ ز) کال لومړنۍ غونډه وکړه خو په (۱۹۳۰ز) کال د(خدايي خدمتګارانو) يا سرخ پوشانو ((کاليو يې نسواري رنګ درلود)) ګوند تشکيل شو. د پښتنو رهبرانو له دې قربانيو سره سره په پېښور ، بنو،کوهاټ او ديره اسمعيل خان کې انګليسانو سره جګړې وکړې. حتی پر پېښور يې بريدونه هم وکړل، ډېر اپريدي شهيدان او زخميان شول. مګر ازادۍ ته ونه رسيدل .او دوی له افغانستان څخه لرې وساتل شول. هغوی مجبور وو چې د انګريزانو په مقابل کې يوازي وجنګېږي او له هندي مبارزينو مرسته وغواړي خو د هغوی په رهبرۍ کې کانګرس او مسلم ليک قرار درلود. چې هيڅ يو دصوبه سرحد (پښتنو يا افغانانو) له ګټو سره مينه نه درلوده .کانګرس يو لوی او قوي هندوستان غوښته خو مسلم ليک د مسلمانانو لپاره د يو جلا هيواد غوښتنه کوله .کانګرس د انګليسانو پاملرنه جلب کړه ولې مسلم ليک چې تر کانګرس ضعيفه و. خو د انګليسانو په پلوي يې فعاليت کاوه. څکه د دوی په رهبرۍ کې ملکانو ، نوابانو او جاګيردارانو قرار درلود. ددې بر عکس د صوبه سرحد د مبارزينو زيات اميد کانګرس ته و له دې سره هم خان عبدالغفار خان چې بندي و له مسلم ليک سره يې د يو ځای کيدو هيله وکړه خو هغوی رد کړه ولې کانګريس په خلاصه غيږ د افغانانو ديو ځای کيدو هر کلی وکړ (۳۲م۵۸۱

په داسې نازک وخت کې د افغانانو (پښتنو) تر مينځ نفاق ، تجزيه او دقوتونو جلا والی مينځ ته راغی چې پرديو له دې وضعې نه په خپله ګټه استفاده وکړه خو افغان ملت (پښتنو) له دې وضعې ډير زيان وليد څکه پښتانه نيمايي دکانګرس او نيمايي د مسلم ليک پلوي شول په دې توګه د سرخ پوشانو تر مينځ هم اختلاف پيدا شو په مقابل کې مسلم ليک د مشهور شاعر ډاکترعلامه اقبال تر رياست لاندې غونډه وکړه او د (پاکستان) شعاريې مينځ ته راوړ چې په (۱۹۴۰ ز)کال کې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعار تصویب شو. په (۱۹۴۲ ز) کال کې جواهر لعل نهرو د افغانانو سیمې پښتونخوا (صوبه سرحد) ته راغي صوبه سرحد کې د نهرو هر کلی ونشو. خو لوئې مونتې بیتن چې د لاردیول ځای ناستی و د (۱۹۴۷ ز) کال د جون په (۳ مه) نیټه د هندوستان وېش اعلان کړ خو افغانان (صوبه سرحد) او سیدونکي د انتظار په حالت کې پاتې شول. د (۱۹۴۷ز) کال د جولایې د (۶_۱۷) نیټې پورې په پېښورکې د دووهیوادونو (هنداو پاکستان) یاهندو اومسلمان په نومونو یوه فرمایشي رایې ګیري وشوه. خو د پښتنو (صوبه سرحد) لپاره له افغانستان سره دیو ځای کېدو او یا مستقل پاتې کېدو په اړه له ټولټاکنو سره مقاطعه وشوه. پاکستان نه یوازې دا چې قران یې د هندوانو د کتاب په مقابل کې کېښود، بل پلو ته یې په ټولټاکنه کې تقلب وکړ یعني له دري میلونو پښتنو او بلوڅو څخه یوازې دري لکو په دې ټولټاکنو کې ګډون وکړ، چې د هند په وړاندې پاکستان اکثریت په لاس راوړ انګلیسانو هم له پاکستان سره د صوبه سرحد د یوځای کېدو امر صادر کړ. په دې ترتیب د (۱۹۴۷ز) کال د اګست په (۱۴ مه) نېټه پاکستان له سند ولایت، بنګال، پنجاب، بلوچستان او صوبه سرحد (پیښور او دیره جاتو) څخه تشکیل او افغانستان د یوه نندار چې په څېرپاتې شو. (۳۲م ۵۸۲)

پاکستان د افغانستان ددولت له موقف نه ګټه واخېسته په زړورتیاسره یې دې ته متې را ونغښتي چې د افغانانو (پښتنو) ملي هویت له مینځه یوسي او له پنجاب سره یې مدغم کړي، په دې خاطریې د صوبه سرحد کابینه چې د پارلمان بنه یې درلوده لغوه کړه. په چارسده کې یې آزادي غوښتونکي په بې رحمۍ ووژل. قلات خان، باجوړخان او نور یې عزل او بندیان کړل. ملي ګوندونه له مینځه لاړل او رهبران یې بندیان شول، پنجابي مهاجرین ټول د پښتنو سیمو (پښتونخوا) ته راغلل. دانګلیسانو لخوا د آزاد سرحد سیمه له پاکستان څخه د نه بلیدونکي سیمې په توګه اعلان شوه او پښتنو د ورکېدو په حال کې قرار ونیو. (۳۲م ۵۸۲)

عبدالولي خان په دی اړه وایې: ((کله چې فرنګیانو د (۱۹۴۷ز) کال د جون په دریمه نېټه اعلان وکړ (مونږ له دې ملک څخه ځو) دوی همدغه وخت د هند دتقسیم فیصله وکړه. د دوی د پریکړې نه داپته ولګیده چې دوی به د پښتونخوا په صوبه کې هم له خلکو نه پوښتنه کوي، ټولپو ښتنه به کېږي او عامې رایې

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومېږي چې تاسې ( پښتانه ) له پاکستان سره تلل غواړئ که له هندوستان سره ؟ نو موږ د دې نظر مخالفت وکړ . د خدايي خدمتگار جرگه چې کېښناسته نو هغوی بيا دا فيصله وکړه چې د پاکستان او هندوستان د تقسيم په مسئله کې که دوی زمونږ څخه پوښتنه کول غواړي نو بيا دې د حق خود ارادیت له اصولو سره دې مونږ ته ددريمي فيصلي اجازه راکړي چې پښتانه له هندوستان سره يوځای کيدل غواړي که له پاکستان سره تلل غواړي اوکه ځان ته يو آزاد مملکت پښتونستان جوړوي ؟ خو دريم حق ورنه کړ شو دخدايي خدمتگار و په مشر توب ډېرو پښتنو په ټولپښتنه کې برخه وانه خېسته )) . (۴ م م ۲۳۴او ۲۳۵)

افغانستان هم بې تفاوته او چپ پاتې نه شو په دې برخه کې درې فکرونه موجود وو : سيد شمس الدين مجروح وايي : (( لومړی فکر داو چې دا د افغانستان خاوره ده بايد ادعا وشي؟ ځکه کوم تړون چې مخکې افغانستان له انگريزانو سره درلود وروسته له مينځه ولاړ ، نور نو د ډيورند کرښه نشته ټوله د افغانستان خاوره ده او له افغانستان سره دې وتړل شي . دوهم فکر داو که چيرې د پښتونستان خلک نه غواړي چې له افغانستان سره يوځای شي ، نو دوی دې د يو تن ( د عبدالغفار خان او نورو مشرانو ) تر لارښوونې استقلال وغواړي او افغانستان بايد ددوی استقلال تاييد او په رسميت و پېژني دريم فکر داو چې پرې به يې ايږدو پښتانه خپله پوهېږي پاکستان او انگريزانو او موږ ( افغانان ) به سيل کوو راتلونکي ته به وگورو. خو ولې ځان په مشکل کې اچوو د افغانستان دولت لومړنی فکر خپل کړ او له برتانيې يې دخپلې خاوري غوښتنه وکړه د ولسي جرگې لخوا هم د ډيورند معاهده لغوه اعلا ن شوه .دولسي جرگې ټول غړي د پښتونستان دمسئلې د حل غوښتونکي شول او ظاهر شاه او دهغه کورنی هم ددوی ملا تړ وکړ . بايد ووايو که چيري يې ملا تړ نه وای کړای د ملت لخوا هرومرو خاين گڼل کيدل. (۴ م م ۲۳۵او ۲۳۷)

سردارمحمد داودخان د پښتو نستان د آزادۍ کلک پلوي و نوموړي په نړيواله سطحه د پښتنو د خود ارادیت مسئله را پورته کړه . ده په ( ۱۹۵۲ ز) کال په مسکو کې دشوروي اتحاد جمهور رئيس ليونيد بريژنيف سره په کتنه کې د پښتنو اوبلوڅو د حقونو په اړه وويل : (( څرنگه چې زموږ دوستان خبر دي په خواشينۍ سره





(c) ketabton.com: The Digital Library

باید ووایم چې زموږ د پښتنو او بلوڅوورونو د سرنوشت په موضوع کې یوازې ښه والې رانه غی بلکې کوم غیر قانوني او سخت چال چلند چې پاکستاني واکمنانو د وطن پالونکو پښتنو او بلوڅو خلکو په مقابل کې غوره کړې دی . په سیمه کې یې


صدراعظم محمد داود او د شلمې پېړۍ ستر مبارز
خان عبدالغفار خان

حالات نور هم ناکراره او کړکیچن کړي دي .
که چیرې د پاکستاني مشرانو سیاست همدغه شان دوام وکړي او د خلکو ملي هیلو او غوښتنو ته په سطحي او سر سري نظر وګوري نه یوازي د بشري حقونو د پرنسیپونو پرخلاف عمل کوي بلکې وېرېږو چې د اسیا په دې برخه کې به سوله اوکرارې له خطر سره مخامخ کړي په هر حال موږ به له خطر سره مخامخ کړي خو موږ په بشپړ زغم سره ددې قضیې د سوله ایزحل لپاره خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړو )).۴م م ۲۳۷او ۲۳۸

د افغانستان دولت د پښتونستان مسئله نوره هم نړیواله کړه. د ملګرو ملتونو په سازمان کې د افغانستان استازي ښاغلي عبدالرحمن ( پژواک ) د پښتونستان د مسئلې سوله ایز حل لپاره په لاندې توګه وړاندیز وکړ : (( د پښتونستان د مسئالي لپاره د افغانستان پیشنهاد چا وانه وریده او پاکستان هم ددې پرېکړې مخالفت وکړ . اوس چې پاکستان د کشمیر لپاره حق خود ارادیت غواړي ، پښتنو ته هم باید دا حق ورکړل شي. ځکه کشمیر د انګریزانو د استعماري سیاست په اساس هند ته وسپارل شو خو پښتونستان هم دانګریزانود استعماري سیاست دیورند کرښې پواسطه له افغانستان څخه جلا کړای شوي . پاکستان هلته یوه خبره مني او دلته بله خبره کوي که دوی په کشمیر کي حق لري نو افغانستان په پښتو نستان کې د ادعا حق لري (۴م م ۲۳۸او۲۳۹)

برتانیې د افغانستان وړاندیزونو ته سمه پاملرنه ونه کړه ، په پښتونخوا (صوبه سرحد) کې د ۱۹۴۷ز کال د جولایې په اخر کې ټولټاکنه وشوه پښتنو د هغو له ځینو مشرانو لکه خان عبدالغفار خان سره یوځای له رایې ورکولو څخه بایکاټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړ، ځکه دوی هم دریم حق یعني حق خودارایت د خپل برخلیک ټاکنه او آزادي غوښتله . خو هغوي ( انګریزانو ) د دوی له ګډون نه پرته ټولټاکنه وکړه خو ګڼ شمېر پښتنو په رایه ورکولو کې ونډه وانه خیستیه ، ځکه پښتنو ته د خپلې خوښې د برخلیک ټاکنې چانس ورنه کړ شو. ځکه د پاکستان د بکسو په سر د قران عظیم الشان نښه او د هندوستان د بکسو په سر د سکانو نښه نښاني شوي وې . پښتنو ته د رايې د استعمال لپاره دریم بکس موجود نه و . (۳۷ م ۸۱ او ۸۲)

شوروي اتحاد د افغانستان د وړاندیز پلوي وکړه بلګانین هم ماسکو کې د (۱۹۵۵ز) کال د ډسمبر په ( ۲۹مه ) نېټه په خپل رپوټ کې ولسي جرګې ( سپريم سوویټ ) ته په دې اړه وويل : (( زمونږ په اند د افغانستان دا غوښتنې چې په پوله پرتو د پښتنو استوګنو ته دې په آزادانه ډول د خپلي خوښې د څرګند ولو موقع ورکړل شي ، جایز او اساسي دی. د دې سیمې خلک د خپل ملي برخلیک د ټاکلو په هکله هم، د نورو خلکو په شان حق لري د هغو خلکوته څه جواز نشته ځوک چې د پښتونستان د خلکو د قانوني او ملي ګټو احترام نه لري او غور پرې نه کوي (۳۷ م ۱۰۳)

د افغانستان دولت په دې خوښ و ، چې د شوروي اتحاد غونډې نړیوال ځواک ملا تړې تر لاسه کړې دی ځکه د پاکستان سره د امریکا متحده ایا لات ملګری و. د داود خان په اند په ملګرو ملتونو کې د پاکستان د شکایت په صورت کې به شوروي اتحاد د امریکا په مقابل کې د افغانستان ملا وتړې . او د امنیت په شورا کې به د افغانستان د لاس وهنې موضوع ویتو کړي . خو شوروي اتحاد د پښتونستان د مسئلې د ملا تړ په خوا کې د افغانستان سره په سیاسي ، اقتصادي او پوځي برخو کې پراخه مرستې وکړ ي . شوروي اتحاد په دې خوښ و. چې افغانستان ددوی مرستې مني او دوی سره اړیکې ټینګولو ته تیار شول، ځکه د دې خلا د ډکولو په خاطر دوی یو هیئت کابل ته راغي په کابل کې خروشیف او بلګاینن په دې خبره ټینګار کاوه چې افغانستان باید خپله بې طرفي وساتي صدراعظم محمد داود خان هم دشوروي اتحادمشرانو ته د افغانستان له بې طرفۍ څخه ډاډ ورکړ او ویې ویل چې هیڅکله به د افغانستان له لاري شوروي اتحاد ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطر پیښ نه شي . په دې شرط چې شوروي اتحاد د افغانستان په کورنیو چارو کې لاس وهنې څخه ډډه وکړي . (۳۷_م ۱۰۴)

افغانستان سره د شوروي د بې ساري اقتصادي مرستو او د پښتونستان د مسئلي ملا تړ لویدیځ او امریکا ته ټکان ورکړ حتی ځینو لویدیځو سیاسي منابعو دا ومنله چې سردار محمد داودخان د کمونیزم په منګولوکي را ګیر شو . خو افغانستان تل خپله بې طرفي ساتله . کله چې د شوروي اتحاد او افغانستان تر مینځ دعسکري مرستو تړون لاسلیک شو او امریکا په ډیر وار خطا حالت سره د خپل هیواد نیشنل سیکوریټي کونسل (د ملي سلامتیا جرګې) ته امر وکړ چې پاکستان سره د افغانستان شخړه حل او افغانستان په دې راضي کړي چې له کمونستي بلاک څخه لږ پوځي وسایل وارد کړي اود خپلې اړتیا وړ وسله د امریکا له بازار څخه واخلي . (۳۷_م ۱۰۴)

د امریکا وړاندیز ډیر ناوخته و خو بیا هم افغانستان په (۱۹۲۲ز) کال( ۲۸ ) تنه افسران د تربیې له پاره امریکا ته واستول . امریکا د( ۱۹۵۲ ز) کال څخه تر (۱۹۵۴) پوري شل زره ټنه غنم په افغانستان خرڅ او د (۱۹۵۲ز) کال څخه تر ( ۱۹۵۹ ز) کال پورې ( ۱۳۰) زره ټنه غنم یې د مرستې په توګه ورکړل. همدارنګه په ۱۹۵۲ زکال کې د امریکا انټرنیشنل کارپوریشن ایډمسټریشن (I C A ) د بین المللي مرستو اداره چې وروسته یې نوم په ایجنسي فارانټرنیشنل ډیویلمت (A I D ) بدل شو . ) په افغانستان کې دښوونې او روزنې ،کرنې ،د کتاب چاپولو او کابل پوهنتون ، سړکونو پخولو ، هلمند پروژه ،اریانا افغان هوایي شرکت په برخه کې ۴۹ سلنه پانګه واچو له ۵۱ سلنه د افغانستان دولت او همدارنګه په ۱۹۵۸ز کال کې د امریکا صادراتي او وارداتي بانک د قندهار او چمن تر منځ د اورګاډي د پټلۍ د جوړولو پور ورکړ خو له بده مرغه دا پروژې د افغانستان او پاکستان تر منځ د اړیکو د خرابوالي او دپښتونستان د مسئلې پرسر د سیاسي شخړو په وجه ځینې نیمګړې پاتې او ځینې هیڅ عملي نه شو ې . خو افغانستان د امریکا په مرستو خوښ و چې دغه مرستې به دشوروي سره موازنه وساتي او د دواړو هیوادونو په اړیکو باندې به مثبته اغیزه وکړي . په (۱۹۵۷ ز) کال د امریکا جمهور رئیس د افغانستان د استقلال ملا تړ وکړ دده راتګ او ملا تړ ډیر سیاسي ارزښت درلوده د اړیکو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیاوړتیا له پاره سردارمحمد داود خان د(۱۹۵۹ ز) کال په جون کې امریکا ته سفر وکړ. او هلته یې د امریکا له جمهور رئیس ایزونهاور او دهغه هیواد د صادراتي او وارداتي بانک له رئیس سره کتنه وکړه د ۱۹۵۹ زکال د جون په (۲۲) نېټه یې د امریکاد کانګرس دواړو جرګوته ویناوې وکړې. او دامریکا د ډیرو مرستو غوښتنه یې وکړه . اوهم یې دچېږ میلان په اړه د امریکایانو شکونه ختم کړل د همدې سفر پایله وه.چې د(۱۹۵۹ ز) کال د ډسمبر میاشت کې د امریکا ولس مشر ایزنهاور کابل ته یو رسمي سفر وکړ . د کابل د ښاریانو د تو د هرکلي سره مخ شو . ایزونهارو د پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه او صدراعظم محمد داودخان سره دوستانه لیدنې وکړې .نوموړي افغانانو ته ډاډ ورکړ چې امریکا به د افغانستان اقتصادي اوټولنیزې ودې په برخــــه کې مرستې وکړي. امریکایانو او افغانانو دواړو دده دا سفر د دواړو هیوادونو د اړیکو په ټینګولو کې مهم ګاڼه . ۳۷_م ۱۰۲

په دې دوران کې دشوروي اتحاد او افغانستان تر منځ اړیکې هم ښې وې ځکه سردار محمد داود خان د( ۱۹۵۲ ز) کال په اکتوبر د( ۱۹۵۹ ز ) کال په مې او د ۱۹۲۱ ز کال په اپریل کې مسکو ته مسافرتونه وکړل او همدارنګه پاچا محمد ظاهر شاه د ( ۱۹۵۷ ز)کال په جولایي او په (۱۹۲۲) ز کال په اګست کې شوروي اتحاد ته رسمي سفرونه وکړل او د(۱۹۵۷ ز) کال په سفر کې شوروي د ګاز د صادراتو په مقابل کې (۱۵) میلونه ډالر ومنل او هم یې په شمال کې د ګاز لټون پیل کړ . په( ۱۹۲۰) زکال خروشیف کابل ته راغې او د دویم پنځه کلن پلان د مالي مرستو ژمنه یې وکړه (۳۷_ م ۱۰۲

هغه مهال دپاکستان او افغانستان دواړه حکومتونود یو بل پر ضد تبلیغات کول مګر ایران، ترکیې او سعودي عربستان د افغانستان او پاکستان د پخلا کولو هڅې تازه کړې د دې دوستو هیوادونو د ټینګاراو هڅو په نتیجه کې د افغانستان پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه او دپاکستان ولس مشر جنرال سکندر یو د بل هیواد ته رسمي سفرونه وکړل . د پاکستان د صدراعظم سهروردي په بلنه سردارمحمد داود خان پاکستان ته رسمي سفر وکړ . دسفر په پای کې یوه اعلامیه خپره شوه. په دې اعلامیه کې مهم ټکي داوو چې دواړه خواوي د پښتونستان د مسئلې په سوله ایز حل راضي شول دا لومړی ځل و چې پاکستان په رسمي سند

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د پښتونستان کلمه ومنله او د پښتونستان د خلکو برخلیک ټاکلو له پاره یې یو ګام پورته کړ د پښتونستان کلمه یې په قوسینو کې نیولې وه .دې اړیکو د افغانستان هیله پیدا کړه چې د دواړو هیوادونو تر مینځ په( ۱۹۵۸ ز) کال ترانزیتي تړون لاسلیک شو چې د کراچۍ له لارې به افغانستان خپل مالونه وارد کړي . دافغانستان او پاکستان تر مینځ تر بګني تر( ۱۹۵۸ ز)کال پورې غلې وه خو د جنرال ایوب واک ته رسیدو سره دغو اړیکو بیرته کړکیچن حالت غوره کړ .۳۷_ م۱۰۸

د جنرال ایوب واک ته رسیدو سره داود خان خپل مشر ورور او د بهرنیو چارو وزیر سردار محمد نعیم پاکستان ته ولیږه چې له ایوب خان سره ووینې له بده مرغه د پاکستان مشرمحمد نعیم خان ته د پاکستان پوځي طاقت او په ساعتونو کې د کابل د نیولو د توان په اړوند خبري وکړې سردارمحمد نعیم خان ته جوته شوه چې سفر یې بې ګټې دی نو ژر بیرته کابل ته راستون شو.سره له دې چې ایوب خان پخپله پښتون و ،خو د پښتنو د ستونزو هوارولو لپاره یې هیڅ کار ونه کړ . دپاکستان او افغانستان سیاسي اړیکي یې ډیري خرابي کړی. پاکستان په قبایلي سیمو کې یې تیرې پیل کړ هغه مهال د پښتنو یو ستر مشر فقیر ایپي (*) چې دانګریزانو اوپاکستان

---

* الحاج میرزا علیخان چې په ایپي فقیر صاحب مشهور وه د ارسلا خان زوی د محمد ایاز لمسي په قوم اتمانزی ، ابراهیم خیل ، نوري خیل ، مداخیل ، بوریه خیل ، ګداخیل ، بنګال خیل ، خټک خیل علي محمد خیل وزیر و. نوموړي په ۱۲۸۴ لمریز ۱۸۶۳ ز کال د وزیر ستان په خیسور کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرضدجنګېده په(۱۹۵۹) زکال مړ شو .د ده په مړيني کې ټولـه پښتـونخوا کې نا ارامي زياته شوه . په (۱۹۲۰ او ۱۹۲۱ ز) کال کې ځيني افغاني عسکرد قبايلو په جامعه کې باجوړته ننوتي و. خو په بدل کې پاکستان په قندهار کې ځيني عناصر په دې پلمـه را پـارولي وو چـې سـردار محمـد داودخـان دښځـو د پـردې (حـجاب) اوچـتـولو

---

* زيږيدلی دی .د مور له خوا د ميرزمان خان لمسي دی. نوموړی د وزيرستان د توچي په سيمه کې د ايپي کلي چې د کجوري او مير علي تر مينځ واقع ده اوسيده.

فقير صاحب خپلي لومړنی زده کړي لکه عقايد ، فقه ، تفسير، د حيدر خيلـو ، دوړ، بنو او کوهاټ پيښور ، رامپور ، خوست او ګيلان خيلو کي د محلی ملايـانو څخه کړي دي . وروسته د خپل کلي مدي خيل څخه چې د کجوري له کلا څخه يې يو کيلو متر فاصله درلوده د ايپي کلي ته راغی په دې کلي کې يې يو کور او مسجد جوړ کړ . فقير ايپي چې پر هند او پيښور باندې د انګليسانو ظلمونه او نا روا وې وليدلي ، لومړی يې د خپل وطن او بيا يې د هند نيمي وچې د مسلمانانو د حق خودارايت او آزادي له پاره د انګليسانو په مقابل کې د جنګ اعلان وکړ .

د ايپي فقير صاحب د هغو نا ارامیو د له منځه وړلو لـه پـاره چې د امـان الله خـان د اصـلاحي پروګرام په مقابل کې پيل شوي وې د يوو فد په مشري پکتيا ته راغي . خو انګليسانو دپيسو په زوراو ډول ډول توطيو پواسطه د ايپي فقير صاحب د عزم په ناکـامولو شـروع وکـړ او فقيـر څـو مياشتي په رنځ او ناروغي تيري کړ ي خو د خپـل پروګرام د تعقيبو لـو څخـه ايـپي فقيـر) ولويـده. هغه وخت چې انګليسانو پر باجوړ ، مهمندو ، اپريدو او وزيرستان باندي تيري شروع کړ و فقير ايپي صاحب د کربوغي حاجي صاحب په ملګرتيا انګليسانو ته د جنګ اعلان وکړ....

په ۱۹۴۷ ز -۱۳۲۶ لمريزکال کې چې د هند لويه وچه پر دوو برخو د هند او پاکستان پـه نامـه ويشله کيدله ايپي فقير صاحب د آزاد وزيرستان د ايالتي حکومت آزادي او دمشر پـه حيث خپـل خط مشي داسي اعلان وکړ .

((...... د لوي خداي(ج) په کومك او دحضرت رسول (ص) د روحانيت په برکت او د افغان غيور قوم پـه همکـاري سـره د ۱۳۲۸ المريزکـال د جـدي ۲۶ ورځـي څخـه چـې زمـونږ يـوه تـاريخي ورځ ده د وزيرستان د ملي حکومت ټولي لښکري تعليمي ، سياسي او اداري چاري د دي لانـدي پروګـرام سره سميږي .۱ـــ د پاکستان د حکومت څخه غـواړو چـې د پښتونستان پـه تماميت او اسـتقلال د صلح او امن د لاري اعتراف وکړي . او له نن ورځي څخه دي خپلو ټولو لښکري او ملکي اجنټانو او مامورينو ته امر وکړي چې فوراً دپښتنو او بلوڅو د ټـولي خـاوري څخـه ووزي. کـه داسـي ونـه کړي نو د هغو د وخيمو عواقبو مسئوليت به چې پاکـستان يـې د دي لجالـت پـه اثـر پيښيـدونکي وي ، هم د خداي (ج) او هم د ملګرو ملتو د موسسي په نزد دپاکستان پـه غـاړه وي. ۲ـ څرنګـه چـې زمـونږ نشـراتي وسـايل نيمګـړي دي د خپـل ورور افغانسـتان ددولـت څخـه چـې تـل يـې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتونستانیانو سره صمیمي همدردي لري .هیله کوو چې د پښتونستانیانو مربوط زمونږ پرګرام او اطلاعات دي د افغانستان په جرایدو کې خپاره کړي .۳ _دنیاد عدالت خوښونکو مرکزونو او [ ۲۰ م م ۴۰۲ او ۴۰۴ ]

فرمان جاري کړی دی .د( ۱۹۲۱ز ) کال د اګست په (۲۳) پاکستان اعلان وکړ چې په جلال اباداو قندهارکې خپلې قونسلګرۍ بندوي او افغانستان دې هم دپېښور، پاړه چنار ،کویټې او چمن قونسلګري او سوداګري مرکزونه بند کړي. ۳۷ _م ۱۰۹

دوي غوښتل چې سفارتي اړیکي غوڅې کړي . چې د افغانانو ستونزې زیاتې شي په دې ډول به دپښتونستان مسئله هیره کړي ، د افغانستان دولت په (۱۹۲۱ زکال داګست په دیرشمه دپاکستان حکومت خبر کړ که دوی خپله پریکړه په یوه اونۍ کې بیرته وانخلي نو ددواړو هیوادونو په مېنځ کې به سفارتي اړیکې غوڅې شي د پاکستان لخوا د ۱۹۲۱زکال د سپټمبر تر (۲) پورې هیڅ جواب رانه غي ، افغانستان دپاکستان سره سیاسي اړیکې غوڅې کړي او په پوله باندې هر ډول تګ او راتګ بند شو خو پاکستان د سوداګرۍ په یو مخیز بندیز سره شور پیل کړ استدلال یې کاوه د(۱۹۸۵ ز) کال تړون سره سم له سوداګریزو نماینده ګیو پرته هم سوداګري کېدلی شي . خو افغانستان داسي دلیل وړاندې کړ تر څو چې افغاني نماینده ګیو ته اجازه ورنکړل شي د افغانستان سوداګري په چټک او آزاد ډول امکان نه لري د(۱۹۵۸ ز) کال د تړون مطابق د سوداګریزو نماینده ګیو د ازادولو پرته یې د تجارت دپیلېدو غوښتنه کوله او ځان یې حق په جانبه ښوده خو دا د افغانستان لپاره

---

*د ملګروملتو د موسسي څخه خواهش کوو چې د پښتنو او بلوڅو خاوره دي یو آزاد ملت او مملکت او دخپل یو اساسي غړي په حیث وپیژني او د پاکستان حکومت دی مجبور کړي چې د پښتنو او بلوڅو د خاوري په آزادي او تمامیت اعتراف وکړي د فقیر ایپي صاحب ژوند ډیر ساده او فقیر انه و. په خوراك او پوښاك كې ساده ګي او سپیلتیا موجود ه و . د تکلفاتو څخه یې ښه نه را تلل . فقیر صاحب متاهل و خو اولاد یې نه درلود ، د سهار د سپیدو مخکي ویښیده تر لمر ختو پوري ی د خداي (ج) عبادت کاوه . څلورویشت ساعتو کې یو ځل ډوډي خوړله زیاتره ورځې به روژه و .دده دشخصیت او کارونو په اړه ډیر اثار لیکل شوی دی نوموړی د زیاتو مجاهدو وروسته په ۱۳۳۹المریز کال کې وفات شو . دخلکو د غوښتني پر اساس دده مړي څلور ورځې د احترام او دعا په خاطر ښخ نه کړ ، دي د ګرو یك د شهیدانو په هدیره کې خاوروته وسپارل شو. دده فاتحه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيرو سيمو کې واخستل شوه. دده ځاي ناستو او پلويانو د انګليس د استعمار پرضد مبارزه کوله او ډير قرباني ورکړي دي . مشهور يي عبارت دي له : (( مشك عالم احمدزي وزير ۱۳۶۱ لمريز کال ، محمد رازدوړ ۱۳۱۷ لمريزجرنيل ښادي خان ۱۳۱۸ لمريز کال کرنيل فرمان احمدزي **۱۳۱۸** لمريز کال ، غازي مير جان اتمانزي وزير ۱۳۱۹ لمريز کال او نور...(( ۲۰. م م ۴۰۲ او-۴۰۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

د منلو وړ نه وه ددوو کلونو له پاره سرحد بانديې تګ او راتګ بندو. او د دواړو هيوادو
تر مينځ سياسي او قونسلګري اړيکې هم نه وې . د سرحد بنديدلو ډېري پروژې خصوصاً د هلمند پروژه ډيره تاواني کړه ځکه امريکا د شوروي اتحاد له لارې خپل مواد نشو راوړلی، جاپان خپل سامان د سايبيريا له لارې افغانستان ته را ليږل د ۱۹۶۲ ز کال په پيل کې افغانانود لږې مودې لپاره سرحد پرانيست خو د کندهار ـ کابل تر مينځ د سړک دجوړولو او دهلمند ناوې د پروژې د پرمختګ لپاره دامريکا اړينه درنه ماشينري پرې را تيره شي .خو د امريکا د پروژو زيات سامان په کراچۍ، پيښور او چمن کې وروست شو. افغانستان او ايران ترمينځ په ۱۹۶۲ ز کال ترانزيتي تړون لاسليک شو چې د فارس خليج د خرم ښارد بندرخخه تر تهران او مشهد پورې په اورګاډي ، او تر هرات پورې به په سړک راوړل کيده. د متحده ايالا تو ټول مالونه دايران له لارې راوړل کيدل، خو بياهم په ۱۹۶۱ ز کال د پاکستان او افغانستان تر مينځ د سرحد تړل ددې سبب شوچې افغانستان خپل انګور هند ته صادر کړي. افغانستان له دې درکه ډېر زيان وليد. پاکستاني حکومت د کوچيانو په تګ راتګ هم بنديز ولګاوه . دافغانستان او پاکستان ترمينځ د پولې تړل يوازې دافغاني خوا اقتصاد ته زيان وانه واړوه بلکه پاکستان هم هغه ګټې چې د سودا ګريزو مالونو په راوړلو يې لاس ته راوړلې له لاسه ورکړ ې . خو امريکا او ايران هڅه کوله چې ددې دواړو هيوادونو اړيکې دوستانه شي تر څو د شوروي اتحاد د نفوذ د زياتوالي مخه ونيسي ، دامريکا ولسمشر جان ايف کينيډي د ۱۹۶۱ ز کال په اکتوبر کې افغانستان او پاکستان ته دامريکا يې ښوو خدمتونوړانديز وکړ خو دوی بايد خپلې کشالې حل او اړيکې ښې کړي . دې وړانديز ته د افغانستان حکومت هر کلی ووايه خو پاکستان پري خوښ نه و . د ايران پاچا هم د ۱۹۶۲ ز کال په اوړي کې کابل او راولپنډي ته سفرونه وکړل خو دواړو خواوو نه رغيدونکی موقف درلود. افغاني مشرانو د مسئلې په اړه د شوروي اتحاد مرسته حاصله کړه، مګر دشوروي اتحاد په نفوذ بانديې افغانان خوښ نه وو . د پولو بنديدو او د پاکستان د تجارتي لارې بنديز د افغانستان مخه شمال ته کړه. د ايران او هندوستان له لوري د دوی ستونزې نه حل کيدلې .په افغانستان کې د شوروي اتحادانحصارله زياتيدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د پښتونستان مسئله زیاته گرمه شوه او دا تریخوالي د افغانستان په زیان و. پر داود خان باندې نیوکې زیاتې شوې خو پاچا کوښښ کاوه چې د پاکستان سره سفارتي اړیکې ټینګي کړي ، د سردارمحمد داود خان دیو لړ وړاندیزونو دنه منلو په اثر خپله استعفا وړاندې کړه . پاچا هم د نورو عواملو په خوا کې د پښتونستان مسئلي د سړولو په خاطر دده استعفا منظورکړه .د۱۹۶۳ زکال دمارچ په (۹) د داود خان استعفا اعلان شوه چې زیات خلک دده په استعفا باندې حیران وو. ۳۷ـ م۱۱۳

د سردار محمد داودخان د استعفا نه وروسته د افغانستان او پاکستان په سیاسي اړیکو کې ژور بدلون راغی . دایران پاچا په وړاندیز د۱۹۶۳زکال د مې په (۲۹) نېټه افغاني او پاکستاني هیئت په ایران کې اعلان وکړ چې د افغانستان او پاکستان سفارتي ، قونسلگري او سوداگري د ۱۹۵۸زکال ترانزیتي تړون په ټولو اصولو راضي شول . افغانستان به ډیر ژر خپلي قونسلگرۍ او سوداگري نماینده گې په پاکستان کې دوباره پرانیزي . پاکستان هم په جلا ل اباداو قندهار کې خپلې قونسلگرۍ پرانیزي او دواړه هیوادونه به خپل منځي ستونزې د بین المللي قوانینو مطابق حل او کوښښ به وکړي چې د باور فضا رامینځ ته کړي .اود پښتونستان مسئله به لړه شان غلې کړ ي خو بیا هم محمد ظاهرشاه د۱۹۶۳ زکال په جولاې کې په یوه لیدنه کې وویل : (( مونږ پښتونستان نشو پرېښودې خوکولې شو او ومو کړل چې د توري ځوکه پخه کړو .)) همدا رنګه محمد ظاهر شاه واشنګټن ته د سفر پرمهال دا ومنله چې (( پاکستان سره دپوره روغې کولو هیله کول ډیره ستونزمنه وه ..... تر هغې چې د پښتنوقبایلو ربړونکي پوښتنه ددواړو هیوادونو ترمینځ حل شوي نه وي .)) ۳۷ ـ م۱۱۸

په ۱۹۶۵ زکال کې د هند او پاکستان تر مینځ دکشمیر په جګړه کې، افغانستان بې طرفه پاتې شو. پاکستان په دې کارډېر خوشحاله شو . پاکستان په۱۹۷۰ زکال کې اساسي قانون جوړ او پوځي رژیم ړنګ شو. پښتونستان دشمال لویدیځ سرحد په نوم او لویدیځ پاکستان د جلا ،جلا واحدونو په توګه په رسمي ډول وپیژندل شو. د ۱۹۷۰ زکال په قانون د پاکستان ولس مشر یحیی خان او سیاسي گوندونو بحث او فکر کړي و چې ولایتونو ته یې یوه اندازه اختیارات

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړي و ، د پښتو نستان مشران هم په دې کار نسبتاخوښ وو ځکه هغوې فکر کاوه چې ګوندي لږ، لږ دآزادۍ خواته وخوځيدل په ۱۹۷۱ زکال کې هندوستان او پاکستان د جګړې په نتيجه کې بنګله ديش آزاد شو او افغانستان د ۱۹۷۳ زکال په ( ۱۸ ) نېټه د بنګله ديش آزادي په رسميت وپيژنده بيا پاکستان په ۱۹۷۳ زکال کې يو بل بنسټيز(اساسي) قانون جوړکړ. نوموړي قانون د ( ۱۹۷۰ ) قانون سره چندان توپير نه درلود بياً هم نوموړی قانون ټولو پښتنو او بلوڅو مشرانو ومانه خو يوازي خيبربخش مري د منلو څخه ډده وکړه . ددواړو اساسي قوانينو( ۱۹۷۰-۱۹۷۳ ) له مخې بايد په صوبه کې ټاکنې شوې وای او هرې صوبې خپل صوبه يې مشران او استازي ټاکلي واي ۳۷ ـ م ۱۱۳

کله چې سردار محمد داودخان له لسو کالو (۱۹۶۳زکال-۱۹۷۳زکال) بې کارۍ او ګوښه ګيرۍ وروسته واک ته ورسېد پاکستان نوي رژيم د۱۹۷۳زکال د جولايې په ۲۲ نېټه په رسميت وپيژنده . خو داود خان د خپلې بهرنۍ سياسي کړنلارې د اعلان پرمهال دومره وويل : (( پاکستان يوازينې هيواد دی چې زموږ سياسي اختلافات د پښتونستان د مسئالی پر سر ور سره شته . د پښتونستان مسئالی ددې دحل لپاره به زموږ پرله پسې هڅې روانې وي .)) دغه راز ده په يومطبوعاتي کنفرانس کې وويل:((دپښتونستان قضيه يو داسې حقيقت دی چې له هغې څخه انکار نه شي کيدای – هيله لرو چې په دغه حقيقت باندې په پوهيدلو او ددواړو خواو په ښه نظردغه مسئله يوه ورځ دپښتنو او بلوڅو خلکو او دهغوی د مشرانو د هيلو او ارزوګانو سره سمه د دوستۍ او روغې جوړې له لارې شرافتمندانه حل اوفصل ته ورسي..۳۷ـ م ۱۲۹

د سردارمحمد داودخان دواکمنۍ پرمهال پورتنۍ څرګندونې د هغه دصدارت له دورې او دپاکستان سره داړيکو په غوڅيدو سره ټينګې اړيکې لرلې ، ځکه پاکستان په دې لسو کلونوکې هم د پښتونستان دخلکو دسياسي حقوقو په اړه کوم مثبت اقدامات نه ووکړي ، نوځکه محمد داودخان د واک ته درسيدو په مهال دې مسئالې ته ژوره پاملرنه وکړه او دمسئالې په سوله ايزه حل يې ټينګار وکړ.خوده ته يې د تېر په څير بيا سياسي ستونزې پيدا کړې . دده هيله داوه چې بايددا مسئله ډير ژر حل شي تر څونوموړی په ډاډه توګه د هيواد ټولنيزې او سياسي ودې ته پاملرنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي. دده اشاري پخلا کونکي وې خو دده وينا په پاکستان باندې بده اغيزه وکړه او دهغه مهال صدراعظم ذوالفقار علي بټو دده په مقابل کې سخته غوسه څرګنده کړه . د مسئالي د حل پر ځای د افغانستان پر ضد پرو پاګند پيل کړ او داود خان يې په دې تورن کړ چې دپاکستان ړنګولو ته يې متې رانغښتي دي .د ۱۹۷۳ ز کال د بلوچستان په شورش کې يې د داود خان لاس شريک ګاڼه او نوموړی يې د بغاوت کونکو د ملا تړ کونکو څخه بللو .د پاکستاني مشرانو په اند د افغانانو د ټولو مشرانو څخه سردارمحمد داود خان ډيرسخت دريځه و . پاکستاني چارواکو اټکل کاوه چې د پاچاهی په اخرو وختو کې به د پښتونستان مسئله غلې او حتی حل وي. خود توقع خلاف اوس بيا حالت خطر ناک وو ځکه سردار محمد داودخان بې د ضرورت د خپلو بي ځايه غرضونو دپاره مسله خوشې په خوشې بيا ژوندۍ کوي. سردارمحمد داودخان دپښتونستان په اړه خپله کړنلاره اعلا ن کړه . خو پاکستان دخپلو ديپلوماتيکو وسيلو پواسطه هڅې کولې چې دغه کړنلاره دپاکستان د تجزيې په نوم تبليغ کړي او ويل به يې چې افغانستان د پاکستان د ازادي ختمول غواړي ، په افغانستان کې دجمهوريت د جوړيدو وروسته بټو داسې تبليغات پېل کړل چې افغانستان د هند په لمسون د پاکستان اسلامي دولت له مينځه وړي . او دا ټول اسلامي نړۍ ته يو ګواښ دی.په ۱۹۷۴ زکال د بلوچستان دپاڅون له امله د پاکستان او افغانستان اړيکې ډيرې زياتې خرابې شوې .د بټو د تبليغاتو په مقابل کې داودخان هم بې تفاوته نه وپاتې، ده د ۱۹۷۴ زکال د فبروري په پيل کې د«الي مانډ»سره په مرکه کې وويل«هر کله که د پاکستان حالات خرابيدو ته پرېښودل شول .د پاکستان شمال لويديځه سرحدي صوبه دپخوا را هيسې د افغانستان يوه پخه برخه وی او بريتاني د يوې بې توله تړون چې افغانانو ته منظور نه و داسيمې د افغانستان له حاکميت نه ويستلې دي .... » (۳۷_م ۱۳۳)

خو بټو د۱۹۷۴زکال د اکتوبر د ۲۴ نيټې پورې د شوروي اتحاد مشر تابه ته څرګنده کړه چې افغانستان د بلوچستان په پاڅون کې فعاله ونډه لرله او د A N p (نيشنل عوامي پارټي) په مشوره په سرحدي صوبه کې دفساد شاته ولاړ دی. اوپه شوروي مشرانويې زوراچوه تر څو افغانستان د پاکستان په کورنيو چارو کې له لاس وهنې څخه منع کړي .له دې هڅو او کودتاه ګانو سره بيا هم د محمد داودخان

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت ټینګ و. بټهو د داود خان د رژیم ضد کسانو ته چې زیاتو یې اخوان المسلمین سره اړیکې درلودې وسلې ورکړې . اخوانیانو په ۱۹۷۴ زکال د هیواد په ځینو سیموکې پوځي عملیات سرته ورسول . خو کومه نتیجه یې ور نه کړه. په دې سر بیره به دپاکستاني الوتکو د افغانستان پر حریم جاسوسي الوتنې کولې یو بال هلیکوپترې د ناړې په سیمه کې چې تیل یې خلاص کړي وو راکوزه شوه چې پکې جاسوسي اسناد وو . د۱۹۷۴او ۱۹۷۵زکلونو په دوران کې سردارمحمد داود خان د ملګرو ملتونو عمومي منشي کورټ والدهایم ته ډیر مکتوبونه ولیږل پردې مکتوبونو کې د پاکستان په اړه دافغانستان د موقف سپیناوی ثبوتونه و.وروسته د کابل او اسلام اباد د اړیکو دښه کولو له پاره اقدامات لومړی د سفارتونو په ذریعه دیوبل پسې د پرو پاګند بندول وو . بل اقدام د(۱۹۷۶)کال په اپریل کې د افغانستان د شمالي سیمو د سیلاب او زلزلي ځپلو خلکو سره د بټهوله خوا د غلو ، خېمو او کمپلو مرسته وه د دې راز مرستو مخالفت وشو. لیکن سردارمحمد داودخان ددغومرستو دمنلو امر وکړ. په۱۹۷۶ زکال کې دپاکستان صدراعظم (بټهو) ته د سردارمحمد داودخان لخوا افغانستان ته دیوسفر بلنه ورکړ شوه . او بټهودا بلنه ومنله پریکړه وشوه چې سفرد ۱۹۷۶ز کال د جون د اومې څخه تر لسمې نیټې پورې وشي .بټهو له راتګ مخکښې د ښه نیت په خاطر دپښتنو مشر خان عبدالغفارخان دبندیخانې نه خوشې کړ. بټهو د ۱۹۷۶ زکال دجون په اومه نېټه کابل ته راورسید.سردارمحمد داودخان بهټو ته وویل:((ما دزړه د اخلاصه غوښتل کومه جګړه چې ددواړو اسلامي هیوادو تر مینځ چاپیریال خړپړ کوي د ډاډ وړیوحل ته ورسیږي هسې نه چې دا حالت دافغانستان او پاکستان د دواړو ملي ګټواودامنیت لپاره د زیانمنو پایلو لا مل شي . ځینې هیوادونه زمونږ د هیوادو تر مینځ داړیکو سمون نه غواړي ...... ده زیاته کړه چې د دواړو هیوادونو ترمینځ دوستي نه یوازي زمونږ له پاره ګټور دي د سیمي د استحکام له پاره ګټوره ده.افغانستا ن هیڅکله دپاکستان کمزرتیا نه غواړي دهندوستان او پاکستان په دواړوجګړ کې افغانستان د حالا توڅخه ګټه اخیسې شوه. او پاکستان یې دشا څخه په چاړه وهلی شو . خو مونږ دې کارته دنورو دهڅونو سره سره داکار ونه کړ .... داودخان بټهو ته وویل : تاسې پخپله په۱۹۷۲زکال په کابل کې پاچا ته زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بې طرفۍ نه خوښي څرګنده کړه چې د ۱۹۲۵ او ۱۹۷۱ زکالونو په جګړه کې برخه نه ده اخیستې او له صبر نه یې کار اخیستی . داودخان ښکاره کړه چې پښتنو په ښیګړه ، دهغوي د پېژند ګلوۍ او د حقوقو په ساتنه کې افغانستان خپله علاقه نه شو پرېښوداې . داودخان وویل : له بلوڅو سره چې څه کېږي هغه د افغانانو د ښه ګاونډیتوب احساساتو ته درد رسوي . مونږ غواړو چې پاکستان هلته جنګ بند کړي او د بلوڅو خلکو ته دهغوي د حقونو دورکولو لارې چارې ولټوي . په دې ځای کې بټو د داودخان خبره ومنله او په ټینګه یې وویل:د پاکستان حکومت پاکستان کې داوسیدونکو پښتنو په ښېګړه او دهغوې د حقونو په ساتنه کې د افغانستان جایزه علاقه مني.)) بټو بیا په موسکا کې زیاته کړه :(( مونږ غواړو چې دټول پاکستان دخلکو په ښېګړه کې علا قه ولرۍ ، نه صرف د پښتنو په ښېګړه کې)) داود خان په جواب کې بې له ځنډه وویل :(( اجازه راکړۍ اول دخپلو غم وکړم ، هغې پسې به دنورو پاکستانیانو وار راځي )) . (۳۷ـ م ۱۵۲

د دې سفرونو نه وروسته ددواړو هیوادونو اړیکې ښې شوې او په سري لانکا کې د ناپېلیو هیوادونو دمشرانو په کنفرانس کې دافغانستان د جمهور رئیس محمد داودخان او پاکستان د صدراعظم ذوالفقارعلي بټوتر مینځ د ۱۹۷۲ زکال داګست د( ۲۰) مه نېټه څخه تر (۲۴) مې پورې دوهم ځل لیدنه او خبرې وشوې :۳۷ـ م ۱۵۴

د ۱۹۷۷ زکال د جون په میاشت کې بټو له تهران څخه پاکستان ته په لاره کابل کې دلږ وخت له پاره تم شو محمد داودخان ته یې وعده ورکړه چې په پاکستان کې به دګډې وډې وضعې په عادې کیدلو سره دپښتنواو بلوڅو ټول سیاسي بندیان ازاد شي .خو د ۱۹۷۷ زکال د جولائ په (۵) نېټه دهغه لوی درستیزجنرال محمد ضیاالحق په کودتاه سره دهغه رژیم نسکور اونوموړی بندي او بیا عدام شو. د جنرال محمد ضیاالحق په کودتاه سره نظامي حکومت اعلان شو سیاسي فعالیتونه منع شو دتوقع برخلاف نوي حکومت له افغانستان سره د اختلافو دحل لپاره دبټو په پر تله ښه روغ نیت وښود .جنرال ضیاالحق غوښتل چې محمد داود خان سره ووینې د ۱۹۷۷ زکال په اکتوبر کې کابل ته راغی او دوه ځلې یې داود خان سره په خصوصي توګه ولیدل . ضیاالحق په خبرو کې ټینګار وکړ چې دواړه اسلامي هیوادونه باید په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوله کې د ورونږو په شان ژوند وکړي او دښمني د دواړو له پاره خطرونه لري موافقه وشوه چې خبرې به بيا کېږي . خو په دې باب کومه (اعلاميه) خپره نه شوه :۴۲ـ م۱۲۳

د۱۹۷۷ زکال په اخر کې د بلوچستان جنګ پای ته ورسېد او دبل کال ترپايه پورې هلته وضع عادي شوه . محمد داودخان د۱۹۷۸ز کال په مارچ کې د يولړ نورو سفرونو وروسته د پاکستان په بلنه راولپنډۍ ته ورسېد . دامهال جنرال ضياالحق دپښتنو او بلوڅوټول سياسي بنديان لکه عبدالولي خان ،غوث بخش بزنجو ،عطاالله خان منګل او خيبر بخش مري په ګډون له بنده خلاص کړي وو . ضياالحق له محمد داودخان سره د عبدالصمد غوث په ګډون په خصوصي ډول وليدل ،داود خان وويل چې ځينې هيوادونه زمونږ ښو اړيکوته په ښه سترګه نه ګوري زمونږ دغه دوه هيوادونه به په يو موټي کيدو او ورور ولې سره وکړای شي له دغو خطرونو سره مقابله وکړي او خپلې خپلواکۍ خوندي وساتي . بيا محمد داودخان دافغانستان او پاکستان تېرو اړيکو ته له لنډې اشارې نه وروسته وويل چې:((که له پاکستان سره دغه اختلاف نه وای چې ملي جذبه غوره کړې ده افغانستان به هغه لار نه وای نيولې چې يې ونيوله .)) ۴۲ـ م م۱۲۳او۱۲۴

جنرال ضياالحق د سردارمحمد داودخان نظريات تائيد کړل او دايې مهمه وګڼله چې ددواړو هيوادونو دپخلاينې لپاره اوس دغسې پوهاوی پيدا شوې چې د هغې په رڼا کې به يو وخت نهايي فيصله وشي . محمد داودخان د هغه له وينا څخه مننه وکړه او هيله يې ښکاره کړه چې (( پښتانه به يوه ورځ ددې پرځای چې د کړکيچ سرچينه وي يو موټی کونکی ځواک اوسي .)) ۴۲م۱۲۴

وروسته محمد داودخان دپښتنو له مشرانو سره ليدنه وکړه او دپاکستان دشالمار په پارک پاکستاني ملت ته خطاب کې وويل : ((ستاسې قوت زمونږ قوت دی ،ستاسې هوساينه زمونږ هوساينه ده او ستاسې ثبات زمونږ ثبات دی)) او داقبال دا شعر يې ووايه :

اسيا يک پيکر آب وګل است ملت افغان دران پيکر دل است
فساد او فساد اسيا از ګشاد او ګشاد اسيا

په بله ورځ د پاکستان د باندنيو چارو وزارت افغان سفارتي هيئت احضارکړ او د باندنيو چارود وزارت سکرترآغاشاهي ،افغان هيئت ته يو متن وسپاره چې پکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلي وو: (( افغانستان لوری به د ډیورند کرښه ددواړو هیوادونو تر مینځ د بین المللي پولي په توګه وپیژني او د پښتونستان دمسئلي نه به تیر شي. دواړه خواوې به یو دبل هیواد په کورنیو چارو کې له لاس وهنې نه ډډه وکړي. دواړه خواوې ژمنه کوي چې د یو بل پر ضد به ددښمنۍ نه ډک پروپاګند نه کوي او دواړه خواوي به داقتصادي ،کلتوري پروګرام لپار دبل سره همکاري کوي )) افغاني هیئت وحید عبدالله وروستي ټکي ومنل خو د لومړنیو ټکو په اړه یې وویل چې افغانستان په دغه ډول دډیورند کرښه منلی نه شي او د پښتونستان مسئله نه شې پریښودلي دغه مسئله به یو ورځ ددواړو خواوو لخوا په قناعت لرونکي ډول سره حل شي او لنې خبرې د همدغو موضوګانو د حل لپاره لاره هوارول دي. دواړو مشرانوتر اوسه لا مناسبه موقع نه ده لیدلې. .... دوحید عبدالله په تبصرې سره پاکستاني مامورین یو څه تروه شول ، محمد داودخان د وحید عبدالله خبره پرځای وبلله او هدایت یې ورکړ (( پاکستانی متن ونه منئی)) بیا محمد داودخان دغه موضوع ضیاالحق ته یاده کړه هغه وخندل او ویې ویل (( چې ماموران یې له حد نه ډیر لیوال دي )) هغه داود خان ته دا هم وویل چې په هغه پر مختګ پوه دی کوم چې په دي موضوع کې شوي دی کله چې وخت یې راغی ددواړو خواو لخوا به مناسب ګامونه واخستل شي ، خو داوس له پاره (( ددوو ورونو تر مینځ د متنونو او سندونو کوم ضرورت نه شته ) ۴۲م ۱۲۷

سردارمحمد داودخان په یوه مطبوعاتي مرکه کي وویل:((په هر څه باندې بحث وشو او دوخت په تیردلو سره به مناسبه موقع کې د هر څه غم وخوري )) دواړو هیوادونو د یو ګډ اقتصادي کمیسیون په جوړولوسره موافقه وکړه په کلتوري ډکر کي به هم مرستې پراخه کړي ، ده وویل چي دخبرو بل پړاو به اوړي په کابل کي سرته ورسي خو میاشت وروسته په داود خان باندی کودتاه وشوه[۲۴ـم ۱۲۷.] دواړو مشرانو دپښتونستان د مسئلې د حل او افغانستان سره دپښتونستان او دهغو دمشرانو داړیکو له پاره به د خان عبدالغفار خان د یو لیک متن چې دجنرال ضیاالحق د لیک په ځواب کي یې لیکلې و ولولو عبدالروف خپلواک په خپلې مقاله کې په دې اړه لیکلي دي.((یوه ورځ زه او اجمل خټک یو ځای په وزیر اکبر خان مېنه کې دده (پاچاخان) کورته ورغلو پاچا خان دوه لیکونه راواخیستل او اجمل خټک ته یې ورکړل اوورته ویې وویل :((هلکه اجمله !دا دضیاالحق لیک ولوله او بیا زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب هم وګوره چې سم دی که نه» اجمل خټک دضیاالحق لیک ولوستلو او په لیک کې داسې راغلي وو: « پلاره! مونږ ټول تا پسې ډیر خفه شوي یو ، ټول پاکستان ستاسو د راتګ په انتظار دی،هیله ده چې ډیر ژر به زمونږ سترګې ستا په لیدو رڼا شي »

بیا پاچا خان ورته په ځواب کې لیکلي و:« زه ستا دغه لیک ته حیران شوم ، که ته ماته پلار وایې ، نو ولې دلته په افغانستان کې زما بچیان وژنې ؟ ولې زمونږ کور راورانوی ؟ ریښتنی زوی خو داسې کارونه نه کوي او داسې نور......» بیا اجمل او ما ورته وویل چې ددغسې لیک همداسې ځواب وي . بیا یې سفارت ته تیلفون وکړچې دا ځواب ضیاالحق ته ولیږي .د سفارت سکرتر راغی ده هم ورته ډیره زاري وکړه چې بابا! وطن ته راشه! پاچا خان ورته وویل چې کور او وطن خو مې دادی چې پکې پروت یم بیا نو سکرتر مکتوب له ځانه سره واخیست او لاړ. ۱۹ـم م -۲۱او۲۲

اوس نو دضیاالحق لیک او د خان عبدالغفار خان ځواب زمونږ دا پوښتنه حل کوي چې پښتونستان د افغانستان سره څومره تاریخي اړیکي لري . هغه خپله وینا رښتیا کړه او ځان یې په افغانستان کې خاوروته وسپاره . دډیورنډد کرښې ارزښت یې له مینځه یوړه او هغه په رښتیني افغانستان خپل کور باله. په دي خاوره او خلکوو دردېده .همدومره داودخان هم په پښتونستان مین او دهغو دحق خوداراديت له پاره یې له هر راز کوښښ او قربانۍ څخه ډده ونه کړه او حتی ډیرې ستونزې یې په دې لار کې وګاللې دصدارت نه ګوښه او دامریکا د مرستو نه بې برخې شودا مسئله یې ځکه دومره وخیږله چی د پښتونستان مسئله د پاکستان او افغانستان ، او هم افغانستان امریکا او شوروي اتحاد سره په سیاسي او اقتصادي اړیکوباندی ژوره او هر اړخیزه اغیزه درلود ه.

ښاغلی عبدالروف خپلواک د کابل پوهنتون استاد په خپله مقاله کې دداودخان اودپښتونستان سره دهغه د علاقی او مینې په اړه داسې لیکلي: «د ۲۰۰۶ ع کال په جنوريځ کې خان عبدالولي خان مړ شو د ستر پاچاخان او شهید داودخان له مړینو وروسته مونږ پښتنو لپاره دا بله لویه ضایع وه، شهید داود خان هم دافغانستان سیاسي خپلواکي ،ارضي تمامیت ،اقتصادي پرمختیا ، ټولنیز

(c) ketabton.com: The Digital Library

عدالت، دښځو او نارینو د حقوقو د برابرۍ او دانګریزانو لخوا لـه مونږ څخه دبیلې شوې خاورې او خلکو بیرته اصلي ټاټوبي سره دیو ځای کولو لپاره تر مرګه هلې ځلې وکړې . ده ددغـو اهدافو تـر لاسه کولـو لـه پـاره ان پـه ۱۹۴۲ م کـال د خپلې کـورنۍ سـلطنت ختمولوتـه مـلا وتړلـه، دپښتونسـتـان دورځـې نمـانځلو تـه یـې دوام ورکـړ ، دپښتونستان ولس سره د اړیکو ساتلو په خاطریې په سر کې د قبایلو ریاست اوبیا دسرحدونو چارو وزارت تاسیس کړل د همدغو اهدافو تر لاسه کولو لـه پـاره یـې د خوشحال خان او رحمان بابا لیسې جوړې کړې، په راډیوکې یې د پښتو نستان په نوم خاصې خپرونې ته ځای ورکړ او دپښتونستان ترانه یې د ملي سرود پـه شـان مقدسه وګرځوله او په پای کې یې د همدې موضوع په خاطر ځان او خپله کورنۍ د امریکا یي سیاستونو په لوبه کې قرباني کړل.)) ۱۹ـ م ۳۱

د پورتنیو اسنادواو دلایلو له لوستلو څخه یې پایلې ته رسیږو چې سردار محمد داوخـان د کومـو سیاسـي سـتونزوپه لړکـې چـې ورتـه پېښـې وې غټـه سـتونزه د پښتونسـتـان مسـئله وه چې دهغې پـه وجـه دده دصدارت پـر مهـال لـه پاکسـتـان سره سیاسي او اقتصادي اړیکې غوځې شوې او دشوروي اتحادله اقتصادي او سیاسي نفـوذ لـه پـاره یـې زمینـه برابـره کـړه ... بـل پلوتـه د صدارت لـه څوکۍ څخـه دده پـه استعفاهم دپښتونستان مسئلې او دپاکستان سره د ترینګلو اړیکو ونډه درلـوده . پاکستان داړیکو دغوځیدو په نتیجه کې دامریکا مرستي لږې او هغـه پـروژې چې امریکایـانو پـه افغانسـتان کې تمویلـولې نیمګـړې پـاتې شـوې . فـوځي وسـایل لـه شـوروي اتحـاد څخـه وارد او دهغـو دنفـوذ لـه پـاره لاره پرانیسـتـل شـوه چې وروسـتـه همدغه ستونزې. شوروي سره دده اختلاف ، لویدیځ او اسلامي هیوادونو تـه میلان را مینځته کړ چې دده د واکمنۍ د سقوط او له مینځه تګ سبب شول. داود خان دیـو ملـي شخصـیت پـه تـوګـه یـو آبـاد ، خپلـواک او پـخـواني افغانسـتـان غوښـتـه . ده د افغانستان پرمختګ د افغاني کلتور او فرهنګ په رڼا کې د پردیو له مستقیم تسلط پرته غوښته او هڅه یې کوله چې ددواړو نړیوالو قدرتونو (امریکا او شوروي اتحاد) تـر مینځ د یـو نـاپییلي هیـواد پـه تـوګـه پـاتې شي . خـو د پښتونسـتـان دمسئلې پرتـه پاکستان سره د اړیکو خرابوالي او دامریکا لخوا د پاکستان پـه خولـه عمـل کـول د نوموړي سیاسي ستونزې لا پسې زیاتې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ـ د ایران سره سیاسي اړیکي :

د ۱۹۲۹ ز کال کې کله چې عزیز الله په تهران کې سفیر و . د افغانستان او ایران اړیکې صمیمي نه وې او د دواړو هیوادو تر مینځ د سرحدي کرښې پر سر مخالفت موجود و . د امان الله خان له واکمنۍ وروسته د کورنۍ جګړې پر مهال د افغانستان د ننه دا ویره موجود وه چې ایران د افغانستان د یوې ټوټې ځمکې نیولو ته سترګې نیولي دي . د شوروي ایزو ستیا ورځپاڼې د شیکاګو د « تربیون » او ځینو ایران ورځپاڼو په حواله ولیکل : « په ایراني پوله د افغاني بریدونه پرپلمه به ایران پر هرات باندې یرغل و کړي » خو ایران کې د « تهران پیغام » نومې ورځپاڼې په موخونو کې د ایران د بهرینو چارو وزارت یو اعلامیه خپره کړه چې په کې د شوروي لخوا دغه راز تورونه یې بنسټه ښودل شوي وو . ۳ـ م ۳۴۱ او ۳۴۲

د افغانستان په ګاونډیو هیوادونو کې له پاکستان وروسته ایران ډیر مهم دی . په ۱۹۲۵ ز کال په ایران کې د قاجاري کورنۍ واکمنې ختمه شوه پر ځای یې د پهلوي کورنۍ یو نظامې افسر رضا خان پهلوي واک ته ورسېد . نوموړی په ۱۹۴۱ ز کال د دوهمې نړیوالې جګړې په دوران کې شوروي اتحاد او برطانیه فشار په وجه له واکمنۍ نه ګوښه او دهیواد څخه په وتلو مجبور شو . پرځای یې مشر زوي محمد رضا پهلوي پاچا شو . نوموړي هم په ۱۹۵۳ ز کال د صدراعظم مصدق سره د اختلاف له امله هیواد نه وتلو ته اړ شو . خو د نظامې افسرانو او د امریکا دسي ، آي ، ای ) په مرسته په دریو ورځو کې بیرته پاچا شو . ده بولړ ټولنیز ، اقتصادي ، سیاسي او د ځمکو اصلاحات عملي کړل . مګر د ۱۹۷۷ ز کال وروسته د آیت الله روح الله ( خمیني ) په دوامداره او ټینګ مقاومت په پایله کې پاچا د ۱۹۷۹ ز کال په جنوری کې له هیواد څخه وتلو ته اړ او یو کال وروسته مړ شو . ۴۲ م ۱۲۸

د ایران د پاچا پواسطه د پاکستان او افغانستان تر مینځ چې د پښتونستان مسلې پر سر اړیکې ترینګلې شوې وې سیاسي اړیکې سره نږدې کېدو او د تاو تریخوالي له مینځه تللو په درشل کې وې اوهم د ایراني بندري لارو څخه د افغاني مالونو د واردولو ، د تجارت دزیاتوالي په اساس د دواړو هیوادونو تر مینځ اړیکې ډیرې ټینګې شوې خو په ۱۹۷۲ ز کال کې د هلمند د اوبو پر سر ستونزو پیدا شوه دواړو هیوادونو غوښتل چې دې مسلې ته یوه سوله ایزه حل لار پیدا کړي . د دوی تر مینځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پر لـه پسـې او بريـاليو خبرو پـه پايله کې د ۱۹۷۳ ز کـال د مـی پـه میاشت کې د دواړو هیوادونـو تـر مینـځ د هلمنـد د اوبـو تـړون د افغانسـتان د صـدارعظم موسـی شفیق @ او د ایران د صدراعظم امیر عباس هویدا لخوا په کابل کې لاس لیک شـو . په دې تړون کې چې په ۱۹۵۱ ز کال کې د ایران له پاره چې کومه وړانـدو وینـه شـوې وه زيات حق او برخه ور کړل شوه (۳۷ ) م ۱۱۹

---

@ محمد موسي شفيق پـه ۱۳۰۸ لمريز کال پـه کابـل کي زيږيـدلی . پـلار يې مولـوي محمـد ابراهيم کـاموي نوميـده اصلا دننگرهار ولايت د کامي د ولسوالي او سيدونکي و ، د هيواد يو لوي سياست پوه، د پلومـات ،شـاعر ، ليکـوال او قانون پوه و.

محمد موسي شفيق لومړنی ذده کړه د کامي او کابل پـه لومړنيو ښوونځيو کی وکړي ،منځني ذده کـړې د ننگرهـار ليسـه او نجم المدارس کي کړي وروسـته د کابـل پـه عربي دارلعلـوم کـی شـا مـل او لـه هغـه ځايـه څخـه يې ددولسـم ټولگي د فراغت سند تر لاسه کړ . لومړنی ماموريت يې په شاهي دارالتحرير کې وروسـته د پـوهنی وزارت لخـوا مصـر تـه وليـږل شو ، ليسانس يې د اسلامي حقوقو پـه څانگـه کي د مصرد الازهرد پوهنتون د قضـا پـه څانگـه سرتـه ورسـول . د کـولمبيـا پـه پوهنتون کي ما فوق لسانس ديپلوم دبين الدول د حقوقو پـه څانگـه واخست او دامريکا دهـارودد پوهنتـون څخـه يې دپه بين المللي مسايلو کي يو تصديق په لاس راوړ.محمدموسي شفيق د زده کړو ختمولو وروسـته د کابـل پـو هنتـون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي کي د استاد ، دعدلي وزارت د قوانينو عمومي مـدير ،د عـدلي وزارت د قوانينـو د رئيس او دعدلي وزارت د معين داساسي قـانون د مطالعي د کميسـون غـړي ، داساسي قـانون د مشـورتي کميسـون د منشي پـه ۱۳۴۳ لمريز کال د لويه جرگي عمومي منشي ، دبهرني چارو دوزار ت مشاور و وروسـته پـه قـاهره ، بيـروت ا و خرتوم او اگره کي يې دسفير په توگه دندي اجراکړي .محمد موسي شفيق د اتن دحقوق دانانو او دلاهور پـه ښـار کـي ختيځ پيژندونکو په کنفرانسونو کي د غړي ،او په ژينو کي د اتومي سلاح لرونکي هيوادونـو پـه غونـډه کـي د افغـاني هيئت د رئس په توگه گډون کړي ، ده په پښتو دري ، عربي ، انگليسي او فرانسوي ژبو خبري او ليکل کولې شول .

د هلمند د اوبو دويش مسئله ختمه شي . خو د ۱۹۷۸ زکال په پيل کې د ايران د قـم او تبريز په ښار کې مظاهرې وشوې ،په سوونو ايرانيان په کې مړه شول ، دايـران پـاچـا پـه کورنيو شخړو کې ر ا گير شو .۳۷ _ م م ۱۷۷او ۱۷۸

پـه دي ترتيـب د هغـه سفر افغانسـتان تـه پـاتې شـوې ځکـه پـه همـدې کـال دداودخـان رژيم هم سقوط وکړ . دايـران او افغانسـتان تـر مينـځ اړيکـې د داودخـان د واکمنـۍ پـه ټولـه دوره کـې ښـې اود پراختيـا پـه حـال کـې وې. داودخـان د ايـران هيـواد سـره ديـو اسلامي هيواد پـه توگه د ښو اړيکو غوښتونکې و.

---

@ دداکتر عبدالظاهرد استعفا دوه ورځې وروسته پـه ۱۹۷۲ زکـال د سـپتمبر پـه (۷) د ۱۳۵۱ لمريـيز کـال د قـو س پـه (۱۲) نيټه د پاچا لخوا د صدراعظم په حيث اعلان او کابينه يې تشکيل کړه . د ۱۳۵۲ لمريز کـا پـه کودتـاه کـي بنـدي خو وروسته له بند څخه خلاص شو ولي د ۱۳۵۷ کال کودتاه وروسته ونيول شو د همدي کال د ثور پـه (۲۳) نيټـه شـهيد شو .مخونه ۵_۲ : ۴۳۷-۴۳۸_ ۴۳۹ -۴۴۰نوټ : دښاغلي محمد موسي شفيق د لنډي بيـو گـرافي پـه ترتيـب کـي ددوه کتـابونو څخـه گتـه اخسـتل شـوي خـو امـين الله (دريـځ) پـه خپـل اثرکـي دده زږيـدو کـال ۱۳۱۰ کـال ښـودلي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱_امین الله (دریځ) افغانستان در قرن بیستم .دانش خپرندوي ټولنه ۱۳۷۹ لمریز کال مخونه ۴۳۹ - ۴۴۲
۲_صدیق الله .بدرځ د هیواد نامتو څیرو لنډه پیژنګلوي ۱۳۸۲ لمریز کال قجر مطبعه : کلید مخونه ۳۷_۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

- چین سره سیاسي اړیکې :

د افغا نستان او چین ترمینځ سیاسي اړیکي تـل ښې او دوسـتانه وې . افغانسـتان په شمال ختیځه برخه کې د چین سره یـوه سرحدي پولـه لرلـه . ولـې دډیر پخوا زمـانې څخه را پدیخوا د ځمکو پر مـخ تثبیت نـه وه. خـو دچـین دولسـي جمهوریـت د جوړیـدو وروسـته ( د ۱۹۴۹ز کـال) د سـپټمبر پـه ۲۱ نېټـه دواړو هیـوادوو تـرمینځ د سـرحد دټـاکلو خبـرې پیـل شـوې پـه ۱۳۳۲ ل ۱۹۵۷ زکـال کـې موافقـه وشـو چـې نومـوړي سرحدي پولـه دې د ځمکـې پـرمخ تثبیـت او وټـاکـل شـي . دغـه شـمال ختیځـه سرحدي کرښه له یولې درې څخه د یو قوس په بڼه د کلیک تر کوتله (دواخجیر د کوتـل سـهیل ختیځ) پورې امتداد لري .بالاخره دغه د افغاني پـامیر او سنکیانگ د ولایت تـر مینځ په ۱۳۴۳ ل ۱۹۶۴ زکال کې په فني توگه د ستنو او پلیرونو پواسطه په نښه او تثبیت شو (۲۹) م م ۱۷۳و۱۷۴

د چین د هیـواد سره د سـردارمحمد داودخـان د صدارت ۱۹۵۳-۱۹۶۳ زکـال او واکمنـې ۱۹۷۳ -۱۹۷۸ ز کـال پـه دوره کـې سیاسـي اړیکـې ښـې وې. ددواړو هیوادونوتر مینځ کومه سیاسي ستونزه موجوده نه وه.د چین له هیواد سره دافغانستان اقتصادي او سـوداگریزې اړیکـې ښې وې . اوس چینـایي مالونـه پـه افغانسـتان کـې پلورل کېږي او د گاونډیو هیوادونو سره په پرتله د چین هیواد د افغانستان په کورنیو چارو کې مداخله نه کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ناپېلیتوب له غورځنګ سره د سردارمحمد داودخان اړیکې:

د نړۍ هرې امپراتورۍ کو ښښ کړی چې لومړۍ هند ونیسي او بیا د نورو په وړاندې د هغه ساتنه وکړي . د روسي او بریتانیا د همدې سیاست په پایله کې افغانستان ډیر زیان ولید . ځکه دوی (روسانو) هند ګرمو اوبو ته ځان رساوه. خو انګلیسانو د هغوې دپر مختګ د مخنیوي له پاره پر افغانستان سیاسي او نظامي فشار زیاتوه چې دهمدې موخې له پاره یې دوه ځله (۱۸۳۹ _۱۸۷۸ ز کلونو کې ) پر افغانستان نظامي یرغلونه هم وکړل . خو د ګندمك د تړون (۱۸۷۹ ) مې او د ډیورنډ تړون (۱۸۹۳زکال) لاسلیك کولو وروسته انګلیسان نسبتا خپلې موخې ته ورسیدل. ځکه ددوهم نړیوال جنګ نه وروسته سردار محمدهاشم خان د ډیورنډ دکرښې څخه هغې خواته پښتانه د انګلیسانوپر ضد د شورش نه منع کول او اجازه یې نه ورکوله چې د افغانستان له خاورې څخه د انګلیسانو پر ضد تبلیغات وکړي ، دموازنې د ساتلو په غرض یې د افغانستان په شمال کې د شوروي اتحاد ضد عنا صر د هغه هیواد پر ضد د پوځي عملیاتو څخه منع کول او په ۱۹۳۶ز کال کې یې د ځینو توکو د واردولو تړون هم لاسلیك کړ . ۳۷ م :۶۸

ددوهمې نړیوالې جګړې وروسته بریتا نیا ډیر ژر د هند د نیمې وچې څخه ووتله او دوه هیوادونه (هند او پاکستان ) مینځ ته راغلل . د افغانستان د ګاونډ څخه د بریتا نیا لریوالی داسې حالا ت پیدا کړل چې د هیواد د سیاسي او اقتصادي کړنلارې ټاکنه یې تر اغیزې لاندې راوسته ،ځکه په دوهمې نړیوالې جګړې پسې ډیر ژر سړه جګړه پیل شوه . دنړۍ هیوادونه په دوو مخالفو ډلو وویشل شول چې د یوې ډلې مشري د امریکا متحده ایالاتو اودبلې ډلې مشري شوروي اتحاد کوله چین هم د شوروي اتحاد ملګري و.د سړې جګړې پر مختګ افغاني واکمنان اندیښمن کړل ځکه امریکا چې په اسیا کې د شوروي اتحاد د نفوذد مخنیوي له پاره کومه ستراتیژي درلوده هغه د دوی د (افغانستان) له ګټو سره سمون نه درلود . امریکایانو د شوروي اتحاد او چین د نفوذ دمخنیوي له پاره یوازې په نظامي تړونونوبسنه وکړه او ددې تړونونودغړو هیوادونو په وسیله یې د پورتنیو هیوادونو (شوروي اتحاد او چین) څخه کرښه تاو کړه تر څو په نړیواله کچه د کمونیزم د نفوذ او پر مختګ مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونيسي . افغانستان په دغو تړونونو کې له ګډون څخه ډډه وکړه. خو امريکا په نظامي تړون کې د نه ګډون په وجه افغانستان سره له اقتصادي مرستو ډډه وکړه . بل پلو ته شوروي اتحاد هم که يو طرف ته جګړې زپلي وه خو بيايي هم نيم المان او يو شمېر آسيايي هيوادونه تر کنترول لاندې وو .او ددوی پخوانی دښمنه امپراتوري(بريتانيه) په اسيا کې غايبه شوې وه .دوی هم د اسيايي هيوادونو د سياسي او اقتصادي فعاليتونو نظارت او د سياسي لوري کنترول خپل حق ګاڼه .۱۰ــ م ۸۰

ددوهمې جګړې له پای ته رسيدو وروسته د اندونيزيا په شمول يو شمير هيوادونه آزادۍ ته ورسيدل ، خود اندونيزيا او هاليند د لنبکرتر مينځ خونړۍ جګړه پېښه شوه. ددي پېښې د څېړلو په غرض د ۱۹۴۹ زکال د جنوری په مياشت کې پنځلسو (۱۵) آسيا يي هيوادونو په نوي ډهلي کې غونډه وکړه تر څود هاليند په مقابل کې يو واحد دريځ غوره کړي او دملګرو ملتونو په سازمان کې د مخالفو نړيوالو ځواکونو تر مينځ او هم دښځړو د هوارولو په لار کې د منځګړو په حيث خپلو همکاريو ته ادامه ورکړي. دغو هيوادونو د کوريا د جنګ په ختمولو کې فعاله ونډه واخيسته ، د هند صدراعظم جواهر لعل نهرو ددې هيوادونودې همکارۍ ته مثبتې بې طرفۍ نوم ورکړ. ۴۱:م۴۵

د اندونيزيا صدراعظم د۱۹۵۳ زکال د اګست په مياشت کې خپل پارلمان په غونډه کې د اسيايي او افريقايي هيوادونو د همکارۍ غوښتنه وکړه. د دې وړانديز په اساس د ۱۹۵۴ زکال د اپريل په مياشت کې داندونيزيا ،هند ،پاکستان ، سيلون او برما صدراعظمانو د کولمبو په ښار کې سره غونډه وکړه دوی پريکړه وکړه چې بله غونډه به د اندونيزيا د بوګر( Bogar ) په ښار کې دايره کړي د بوګر په غونډه کې پريکړه وشو ه چې د باندونک غونډې ته دې ځيني اسيايي او افريقايي هيوادونه هم را وبلل شي او په لاندې موضوعاتو باندې بايد په دې غونډه کې بحث وشي. داسيايي او افريقايي هيوادونو تر مينځ به همکاري جلبوي او په نړۍ کې به د سولې سره مرسته کوي .۴۱ : م ۴۵

د باندونک کنفرانس د ۱۹۵۵ زکال د اپريل د مياشتي له ۱۸ نېټې تر ۲۴ نېټې پوري (۱۳۳۴ لمريز کال د حمل د مياشتي په ۲۸ نيټه) ذ اندونيزيا د باندوك په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنسار کې د لاندې (۲۷) هیوادونو (افغانستان ،برما ، کمبوديا ، سيلون، مصر، حبشه، هند ، اندونيزيا ، ايران، عراق ، اردن، لاوس، لبنان، ليبريا ، نيپال، شمالي ويتنام ،پاکستان، فليپين، سعودي عربستان، سودان، سوريه، تايلند ، ترکيه، جنوبي ويتنام، او يمن) په ګډون دايره شو. په دې کنفرانس کې افغانستان فعاله ونډه واخيسته. په نوموړي کنفرانس کې د افغاني هيئت مشري سردار محمد نعيم خان په غاړه درلوده ۴۱ـ: م ۴۵

د افغاني هيئت ترکيب په لاندې ډول و:

سردار محمد نعيم حان د صدارت مرستيال او د بهرنيو چارو وزير د هيئت رئيس عبدالمالك عبدالرحيزي د مالي وزارت کفيل او دملي اقتصاد د وزارت کفيل، دمطبوعاتو مستقل رئيس محمد هاشم ميوندوال، داکتر نجيب الله په لندن کې د افغانستان لوي سفير، عبدالهادي داوي په اندونيزياکې د افغانستان مختار وزير،عبدالرحمن پژواك ، محمد غوث عليزى مير عبدالوهاب ، او سيد محمد قاسم رښتيا د باختر د اژانس رئيس د افغانستان د مطبوعاتو دنماينده په توګه د هيئت سره ملګري وو. ۲۱ م۳۶۸

د باندونك په کنفرانس کې د ناپيليو هيوادونو له خوا لاندې پنځه اصله تصويب شول .

۱ـ ديو بل د خاورې بشپړتيا او ملي حاکميت ته به احترام کوي.

۲ ـ يو پر بل به تعرض نه کوي .

۳ ـد يوبل په کورنيو چارو کې به مداخله نه کوي .

۴ ـد يوبل سره به مرسته کوي .

۵ ـ په سوله کې به سره ژوند کوي .

دلته يوه خبره د يادولو وړ ده چې دغه پورته پنځه اصله يو کال مخکې د ۱۹۵۴ د اپريل د مياشتې پر ۲۹ نېټه د تبت په موضوع کې جواهرلعل نهرو او جووين لاى له خوا ومنل شو. ۴۱ـ: م ۴۶

پريکړه وشوه چې د ناپيليو هيوادو راتلونکي غونډه به د ۱۹۵۶ ز کال په مارچ کې په الجزايرکې دايره شي .شورويانو هم ادعا کوله چې دوی يو اسيايي هيواد دی ، د الجزاير په غونډه کې بايد ګډون وکړي ولی چينيانو مخالفت کاوه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوروي يو اروپايي هيواد دی. او په کنفرانس کې د ګډون حق نه لري په دغه وجه د ناپيلتوب د غورځنګ غړي پر دوو ډلو وويشل شول . د چين صدراعظم جووين لای په کنفرانس کې د برخې اخستلو له پاره قاهرې ته رسيدلي وچې ۱۹۵۶ زکال د جون د مياشتې په ۱۹ نېټه هواري بومدين د ابن بلا پر ضد په الجزاير کې کودتاه وکړه په دې توګه د اسيايي او افريقايي د (ناپيليو)هيوادونو غونډه وځنډ يده . شپږ کاله وروسته د ۱۹۶۱ ز کال د سپټمبر د مياشتې په لومړی ورځ د ناپيلو هيوادونو کنفرانس د يوګو سلا ويا په پلاز مينه بلګراد کې جوړ شو چې د افغاني هيئت مشري سردار محمد داود خان



کوله دغه کنفرانس د سيمې پر اساس نه بلکې د ناپيلتوب د غورځنګ د اصولو په اساس جوړ شوی و . هغه هيوادونه چې د نړيوالو نظامي اتحاديو غړي وو ، دغه کنفرانس ته دعوت نه شول. د افريقاهغه هيوادونه چې د فرانسې سره يې نږدې اړيکې درلودې په کنفرانس کې د ګډون څخه محروم شول. پاکستان او ايران دواړه کنفرانس ته را ونه بلل شول، د بلګراد په کنفرانس کې د ګډون له پاره استر يا ،آيرليند او لا تيني امريکا ته په کنفرانس کې دګډون له پاره بلن ليك استول شوي وو. برازيل ، بوليويا او اکوادور د مشاهده کونکو په توګه په کنفرانس کې برخه واخسته . د بلګراد په کنفرانس کې د نړۍ دغه لاندې څليرويشتو هيوادونو (افغانستان ،د الجزاير جلا وطن حکومت، برما ،کمبوديا ، ګيتي، کيوبا ، قبرس، حبشه، ګانا ،ګيتي ،هند ،اندونيزيا ،عراق، لبنان،مالی ، مراکش ، نيپال ، سعودي عربستان ،سوماليه ، سودان،تونس، عربي امارت ، يمن او يو ګو سلا ويا ) ګډون کړی وو اوس د ناپيپلو هيوادونو غورځنګ۱۱۳ اصلي غړي ۱۳ مشاهده کونکي او د (۲۷) ميلمانه غړي لري د دي سر ببره ددغه نهضت په غونډه کې (۲۴) بين المللي

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسسو استازي برخه اخلي چې د هغو له جملې خخه (۶) مشاهده کونکي او (۱۸)د میلــمنو په تـــــوگـــه گډون وکړل.۴۱ ـ م ۴

د بلگراد په کنفرانس کې د افغاني هیئت غړي عبارت و له: سردارمحمد داود خان د هئیت رئیس او هر یو د ملگرو ملتو په سازمان کې د افغانستان دایمي استازی عبدالرحمن پژواك ، د بهرنیو چارو په وزارت کې د ملگرو ملتو د څانگې مدیر عبدالغفور روان فرهادي، د بهرنیوچارو وزارت مامورین لکه سعدالله غوثي ، امان الله حسرت ، یونس رفیق، او یاسین محسني و او سید محمد قاسم رښتیا د دوی سره ملگري و.د غونډې په دوهمه ورځ پربکړه وشوه چې دبهرنیو چارو وزیران دي د اعلامیې د ترتیبولو په خاطر په ځانگړې ځای کې غونډه وکړي .چې ښاغلي پژواك د دوو تنو غړو سره هلته معرفي شو. په غونډه کې د اندونیزیا جمهور رئیس سو کارنو وړاند یز وکړ چې : ( د ایریان غربي) په اړه باید په اعلامیه کي یو دوه جملې ځای کړل شي .په غونډه کې ددې وړاندیز په مخالفت یو شمېر گډونکونکو لاسونه پورته کړل لومړي د سعودي عربستان نماینده د واحه بریمي موضوع چې د انگلستان سره یې لانجه درلوده مطرح کړه سردار محمد داود خان پرته له ځنډه څخه میکروفون د ځان خواته را کش کړ. او په لوړ آواز یې وویل : (که چېرې مخکنۍ پربکړه ما تېرې په هغه صورت کې د پښتونستان مسئله چې د اته میلونه انسانانو سر نویشت سره تړاو لري له بلې هرې موضوع څخه اړینه او مهمه ده باید د لومړیتوب حق ورکړل شې ، زه په هیڅ ډول داسې یوه استثنا قبلولې نه شم .) ۲۳ ـ م م ۱۴۱ او ۱۴۲

د سردار محمد داود خان وینا په غونډه کې سخت انعکاس وکړ د یوگوسلاویا د بهرنیو چارو وزیر پوپو ویچ د سید قاسم رښتیا په غوږ کې وویل چې مارشال ټیټو هیله لري چې جناب صدراعظم صاحب بله موضوع را پیدا نه کړي ،مونږ به کوښښ وکړو چې موضوع دده دمیل سره سم حل کړو دایې وویل او د تالار هغې خواته چې هلته د اندونیزیا جمهور رئیس سوکارنو دنهرو او د گانا جمهور رئیس نگروما وو حرکت وکړ. پوپوویچ لومړې د نگرو په غوږونو کې پټې خبرې وکړې . دغو دواړو د مارشال ټیټو وړاندیز سووکارنو ته ورساوه هغه موافقه وکړه . وروسته سوکارنو د غونډې د رئیس د لبنان صدراعظم صاحب سلام څخه اجازه واخسته په لوړ اواز یې وویل :د غونډې ډېر گډونکي زما د وړاندیز سره موافقه نه لري پس زه خپل وړاندیز

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببرتـه اخلـم . چې دا اعـلان د گـډونكونو لـه خـوا پـه چكچكـو سـره بدرگـه شـو امـا سردارمحمد داود خان همغسي عصبي و . دم په دم به يې سگرت څكول . ۲۳ـ م ۱۴۲

د اعلاميې متن غونډې ته را ورسېد پر ځينو مادو لكه واشنگتن او مسكو تـه د هيئتونو لېږل وو د كنفرانس د پرېكړې د اعلانولو مخكې. سوكارنو د اندونيزيا جمهور رئيس په خپل ځان واشنگتن ته د هئيت د رئيس په توگه كانديد كړ . مگر د هند صدراعظم جواهر لعل نهرو مسكو ته د هيئت د رئيس په توگه د خلكو لـه خوا و ټاكل شو .بالاخره اعلاميه لاسليك او غونډه د سهار پـه ۳ بجو پـاي تـه ورسيده .

سردارمحمد داود خان د غونډې له پاي ته رسېدو دری ساعته وروسته د سهار شپږ بجې له بلگراد څخه د كابل په لور حركت وكړ . ددې وارخطايي علت هغه اولتيما توم و چې ده يوه اونۍ مخكې د ۱۹۶۱ د اگست پـه ۳۱ نېټه د افغانستا ن دحكومت لـه خوا پاكستان ته د قونسلگريو د بند بدو په اړه وركړی و . د هغـه ضرب الاجل وخت په همدغه ورځ (۱۹۶۱ز كال د سپټمبر په شپږمه نېټه ) پوره كېده. سردارمحمد داود خان غوښتل چـــې په هـــمدې ورځ كابـــل تــــــه را ورسېږي ۲۳ -م: ۱۴۲

د غونډې د پای ته رسېد و وروسته سوكارنو غوښتل چې دداودخان سره پخلا شي . مگر كله چې سوكارنو ده ته نږدې شو داود خان بل پلو تـه حركت وكړ او د ځان سره يې وويل . ( بې شخصيته انسان ) څو ورځې مخكې جمال ناصر تـه بد ويلې اوس هره لحظه د هغه په مـقـابـل كې لاس په نامـه ولاړ دی ، هــيله نـه لــرم چـــې لـه داسې انـســانـانـو سـره مخامخ شم .)) ۲۳ــ -م ۱۴۳

سـردار محمـد داودخـان پـه دې كنفـرانس كـې مثبـت نقـش ولوبـاوه . ښـاغلی داودخـان د افغانسـتان د نـاپېلتوب پـه اړه ۱۳۵۴ لمريـز كـال د مېـزان پـه ۱۹ نېټـه د تركيې خبر نگار سره پـه مركـه كې وويـل :(( پـه دې كې شـك نشـته چې مـونږ د سولې غوښتونكې يو هيله لرو چې د نړۍ د ټولو هېوادونو سره دوستانه او صميمي اړيكې ولرو.افغانستان يو ناپېيلی او بې طرفه هېواد دی .مگر د ټولو مسئلو پـه اړه مونږ بې طرفه او بې تفاوته نه يو . ځكه د افغانستان بې طرفي يـوه فعالـه او پـر آزاد قضـاوت باندې ولاړه بې طرفي ده ۴ ـ م : ۲۵۴

همدارنگه نومورې په ۱۳۵۵ لمريز كال د جمهوريت د دريمې كاليزې د نمانځلو پرمهال بيا هم د افغانستان په ناپېيلتوب ټينگار وكړ او و يې ويـل : (( افغانسـتان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريمې نړۍ هېوادونو له جملې څخه يو ناپېيلي هېواد دی. د سيمي او نړۍ هېوادونو کلونه کلونه د نړيوال امپر يا ليزم د استعمار تر اغېزې لاندې ډېر زيا نونه ګاللي دي. مګر نن د غفلت له خو به و يښ شوي چې اوس دنړۍ ددغه بدلون په خاطر يوه نوي نهضت تـه اړتيـا لـري او پـه دې عصـر کـې د دغـه نهضـت اغيـزه د پام وړ ده.)) ۴۱م: ۳۵۵

سردارمحمد داود خان مخکې له دې چې د ناپېيلو هېوادونو کنفرانس کې د ګډون له پاره د سريلانکا پايتحت کولمبو ته ولاړ شي د ناپېيلتوب د غورځنګ په بې طرفۍ باندې يې ټينګار وکړ اودمصري خبر نګار جميل عارف د دې پوښتنې په ځواب کې چې رومانيا د ناپېيلتوب د غورځنګ غړيتوب تر لاسه کولاي شي وويل: (( هغـه اساسنامه چې پـه بلګراد کـې تصويب شـوې پـه دې اړه واضح ده چې ددې نهضت دروازې د هغو هېوادونو پر مخ تړلې دي چې د يو نظامي پيمان غړي وي. رومانيا هم د وارسـا د نـظامـي پـيـمان غـړي دي ددې هـېـواد مـنل غـيري مـمکـن او غـيـري معقول کار دی.))۷ -م۲۵

د نا پېيلو هېوادونو د کولمبو(سريلانکا) پـه کنفرانس کې د جمهور رئيس ،صدراعظم او د بهرنيو چارو وزير په توګه د سردارمحمد داود خان ګډون حتمي وه. ددې هيئت غړي عبارت وو له: سردارمحمد داود خان د هيئت مشر ،وحيد عبدالله د بهرنيو چارو د وزارت معين ، عبدالرحمن پژواك په نوي ډهلي کې د افغانستان لوی سفير ،حميدالله د سوداګرۍ وزارت معين ، وفي الله سميعي د معارف وزارت دوهم معين او عبدالصمد غوث د بهرنيو چارو وزارت د سياسي چارو عمومي مدير د غړو په توګه ملګري وو .د نوي ډهلي په هوايي ډګر کې لـه لږ تـم کېدو وروسته افغاني هيئت د ۱۳۵۵ لمريز کال د اسد په ۲۴ نېټه د ناپېيلو هېوادونود مشرانو پـه غونډه کې د ګډون له پاره د سيريلانکا پاي تخت کو لمبو ته ورسېد. ۷-م۲۵۷

داود خـان پـه کنفرانس کې وينـا وکـړه او افغانسـتان يـې د نـاپېليتوب غورځنګ لـه بنسټ ايښـودونکو څخـه وګاڼـه او پـه دواړو نړيوالـو جګـړو کـې يـې دافغانستان د بې طرفۍ غوره مثال ورکړ. او دناپېلو هيوادو تـر مېنځ پـه يـووالي او همکارۍ باندې يې ټينګار وکړ ده په ښکاره ډول د پښتونستان مسئله يادە نه کړه بيا هم ده په خپله وينا کې ځينې مسايلو تـه اشاره وکړه او د پښتونستان مسئله يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تائید کړه ده وویل : «د افغانستان سیاست د ناپېلیتوب ، دوستۍ او نړیوالي سولي په اصولو ټینګ دی . خو زمونږ بې طرفي د نړیوالو مسایلو څخه د استعفا په معنی نه ده بلکه یو فعال او مثبت سیاست دی، دغه سیاست د تجاوز، د نورو سیمو د نیولو د خلکو د خقوقو د پایمالولو او ملي حاکمیت د له مینځه وړلو سره نه پخلا کیدونکی سیاست دی اوددنیا په هیڅ برخه کې دا ډول سیاست نه مني » ۷ـ م م ۲۵۷او۲۵۸

سردارمحمد داود خان د ناپېیلتوب د غورځنګ کلك پلوی او دې اصولو ته تر اخره وفادار پاتې شو .دی هیڅ کله هم د نړیوالو ځواکونو تر اغېزې لاندي را نه غی. نوموړی د صدارت او ریاست جمهوري پر مهال د ناپېلیتوب غورځنګ ته وفادار و. هغه په دې اند و چې ددریمي نړۍ هېوادونه د خپل کلتوري او ملي فرهنګ په رڼا کې د شرق اوغرب له پیروي پرته د پر مختګ او تکامل لاره طی کړې ده . دخپلې واکمني پر مهال د شوروي اتحاد مشر بریژنف سره په کورنیو چارو کې د مداخلې په اړه کلك لفظي ټکر وکړ . اوخپل سفر یې نیمګړې پرېښود. داودخان د امریکا او شوروي تر مېنځ د تعادل پلوي وه . غوښتل یې چې له دواړو هېوادو څخه مرسته تر لاسه کړي او دخپل هېواد په پر مختګ کې ترې ګټه واخلي.

## ـ بهرنیو هېوادونو ته د سفر موخې او پایلې:

اسلامي هېوادونو ته د جمهور رئیس سردار محمد داودخان سفر کومه بېړه نه وه . بلکې هغه غوښتل چې په اوه کلن اقتصادي پلان کې د شوروي اتحاد مرستندویه انحصاري سر چینې لږې شي او دهیواد شمالي برخې چې د ډېرو کلونو له پاره د شوروي اتحاد پروژو ته په انحصاري ډول ځانګړې شوې وې خلاصې کړې .دغو اسلامي هېوادونو مخکې هم د نوموړي پر مختیایي ،اقتصادي پلان په تطبیق کې د مرستو ژمنې کړې وې . محمد داود خان غوښتل چې د نویو اړیکو د ټینګښت په خوا کې له دغو هېوادونو څخه د خپل ځان او دولت لخوا مننه هم وکړي.
۳۲ـ م م ۱۲۰ او۱۲۱

سردارمحمد داود خان دجمهوریت په ټوله دوره کې د اقتصادي منابعود پراختیا، خپل استقلال ، داسلامي او ناپېیلي هویت دبقا او ساتني په خاطر هڅه کوله چې د بې طرفو او اسلامي هېوادونو څخه مرستې تر لاسه کړي. ده د همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

موخې له پاره د ۱۹۷۴ زکال د جولاې په میاشت کې سردارمحمد نعیم او وحید عبدالله ایران ، عراق، لیبیا ، الجزایر، مصر، سعودې عربستان او کویټ ته واستول . دغو ټولو هېوادونو له دوې سره د صمیمانه سیاسي اړیکو د ټینګولو او اقتصادي مرستو وعدې وکړې ، او دا چې افغانستان خپل استقلال ،اسلامي او ناپېیلي هویت ساتلې دی د پورتنیو هېوادونو د ستاینې وړ وګرځید .همدارنګه سردار محمد داودخان هم د۱۹۷۵ زکال په اپریل کې تهران ته سفر وکړ چې د ایران دولت د دې سفر په دوران کې د اوه کلن پلان د تطبیق له پاره افغانستان ته د دووبېلونو ډالر پور ورکولو موافقه وکړه.۳۷ م م: ۱۷۲ او ۱۷۷)

سردارمحمد داودخان په ۱۹۷۴ زکال مسکو ته سفر وکړ خو په همدغه کال (۱۹۷۴زکال اکتوبر) د شوروي اتحاد د دفاع د وزارت مرستیال مارشال موسکونیکو کابل ته رسمي سفر وکړ. دی پخوا د یو شمېر هیوادونو سره محمد داودخان مخکې د خپل صدارت پر مهال هم د ډیپلوماتیکې اړیکې ټینګې کړې وې چې د جمهوریت په دوره کې هم د همدغو هیوادو سره دده اړیکې ښې وې د چین له هیواد سره پر۱۹۵۵ (۱۳۳۴المریز کال) دیپلوماتیکي اړیکې ټېنګې وې او په ۱۹۶۰زکال د دواړو هیوادونو تر مینځ د نه لاس وهنې اود توکو واردولو تړون هم لاسلیک شو .په ۱۹۵۸ زکال کې د رومانیا او مجارستان سره دیپلوماتیکې اړیکې او د المان سره سوداګریزې اړیکې ټینګې او همدارنګه د افغانستان او پولینډ ترمینځ د فرهنګي همکارۍ تړون لاسلیک او دچکوسلواکیا له خوا مرستې هم زیاتې شوې .۲۱-م ۳۴۷

په ۱۹۸۵ زکال پاکستان سره د افغانستان په ګټه یو ترانزیتي تړون لاسلیک او په همدې ( ۱۹۵۸ )کال فدرالي المان (المان غرب) نماینده ګې فعال ،او دافغانستان او المان ترمینځ د اقتصادي او تخنیکي همکاریو تړونونه لاسلیک شول. دغه راز په ۱۹۵۹ زکال دفرانسې او افغانستان ، په ۱۹۶۰ زکال د افغانستان او ایټالیا ،په ۱۹۶۲ زکال د ایران او افغانستان له لارې دسوداګریزو مالونو د راوړلو تړون لاسلیک شو .۲۱_م ۳۴۷

سردارمحمد داود خان په دې بریالی شو چې دده دولتي لوړ پوړي چارواکي او دې په خپله ځینو هیوادونو ته سفر وکړي تر څو د خپل بهرني سیاست موازنه وساتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د همدي سیاست په پایله کې سردار محمد نعیم د امریکا په بلنه په ۱۹۷۶ زکال امریکا ته سفر وکړ . تر څو د نشه يي توکو د نه کرلو په اړه د هغه هیواد ذیصلاح مقاماتو سره خبرې وکړي . خو افغانستان له دې مخکې د امریکا د کانگرس په غوښتنه په ۱۹۴۷ زکال کې د کوکنارو د نه کرلو اعلان کړی و ، خو بزګرو د ځمکې د لړوالي له امله د کوکنارو له کرلو پرته بله چاره نه درلوده . دغه مهال یو شمیر هیوادونه د جرمني او امریکا په شمول د ملګروملتو موسسي ته پیسې ورکړې چې د افغانستان پولیس پرې تقویه کړي تر څو هغوی د کوکنارو د کرلو مخه ونیسي . دافغانستان دولت هم د بهرنیو چارو په وزارت کې یوه څانګه پرانیسته چې د کوکنارو د کرنې دمخنیوي لارې چارې ولټوي . په دې اړه یو څه پرمختګ وشو . خو د ۱۹۷۸ زکال د ثور د اوومې نېټې د بدلون وروسته د امریکا او افغانستان تر مینځ اړیکې خرابې شوې. ۴۲ م م: ۱۳۴او۱۳۵

سردارمحمد داود خان په دې سفرونو کې چې دده او دده د دولتي د لوړپوړو چارواکو له خوا سرته ورسیدل و توانیده چې د امریکا او شوروي اتحاد ترمینځ په بهرني سیاست کې انډول ( موازنه) وساتي او له اسلامي هیوادونو څخه د مرستې د ترلاسه کولو په مټ د شوروي اتحاد نفوذ د افغانستان په اقتصادي چارو کې یو څه کمزوری کړي . په ۱۹۷۶ز کال کې د امریکایانو لوړ پوړي چارواکې ، کسینجر کابل ته راغی او د افغانستان د ناپییلتوب په اړه یې د خپل دولت خوښي ښکاره او د مرستو وعده هم وکړه د عربي هېوادونو لخوا مرستو داود خان په خپل ناپییلي سیاست باندې باوري کړ. خوده د خپل هیواد پرمختګ د نورو هیوادونو له نفوذ پرته غوښته او تل یې هڅه کوله چې دغه مرستې دبهرنیانو له نفوذ پرته تر لاسه کړي . نوموړي دهمدې موخې له پاره د واکمنۍ په اخرو وختونو کې یو شمیر اسلامي او عربي هیوادونو ته سفر وکړاو دلیونید برژنیف یوه سرزوره خبره (د افغانستان په شمال کې د لویدیځوهیوادونود انجینرانو پر استخدامولو باندې انتقاد) د بریژنیف سره خبرې بس او خپل سفر یې نیمګړی پریښود چې دده دا عمل دده داسقلالیت او خپلواکی ښکارندوي ده . هغه د هیڅا امر او نفوذ نشو زغملي او هیچاته د هیواد په کورنیو چارو کې د لاس وهنې اجازه نه ورکوله . د اسقلا لیت او خپلواکی ښکارندوي ده. سردارمحمد داود خان د هیڅ هیواد نفوذ او په کورنیو چارو کی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس وهنه نشو زغملي . نوموړي تر اخره ناپېيلي پاتی شو او پـه نړيوالو نظامي ترړنونو کې يې ګډون ونه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اقتصادي کړنلاره

## ـ له بهرنیو هېوادونو څخه د قرضې اخېستل .

سردار محمد داود خان غوښتل چې د شوروي اتحاد له انحصار څخه د خلاصون له پاره ځانته یوه بله لاره پیدا کړي ، په دې نیت یې اسلامي هیوادونو ته سفر وکړ او د ایران سره یې په ۱۹۲۵ ز کال یو اقتصادي تړون لاس لیک کړ . داود خان په هغه لار تلل غوښتل چې نه شوروي اتحاد غوښتل او نه امریکا ، ایران هم د خپل فرهنګ او نفوذ د پراختیا په فکر کې و . سردار محمد داود خان د ایران دې موخې ته په اشارې سره وویل : (( ما از ایران تقاضای کمک نکردیم ، ولی اګر اعلیحضرت پادشاه ایران که الان تصمیم ګرفتند به افغانستان کمک کند . با کمال میل مې پزیریم و البته مي دانیم که این کمک ها بدون شرط است منظورم این که فشار به صورتی نبوده که وادار کند دولت افغانستان را که مطالبی را بپزیرد ....)) ۲۸ م م ۱۸۹ او ۱۹۱

داود خان د ایران د دولت په موخه هم پوهېده خو د ایران د دولت نفوذ او انحصار یې هم نه مانه . نوموړی د شوروي اتحاد پر ځای د نورو زېرمو د پیدا کولو په لټه کې و تر څو د هیواد په پرمختګ کې یې تري ګټه واخلي . ځکه ایران د دوو بیلیونو ډالروپټلیو غزولو او بندر عباس او نورو لارو څخه د افغانی مالونو د صادرولو او وارودلو وعده هم کړي وه په دې مرستو کې د هغه هېواد هدف نغښتی وه . د امریکا متحد ایالاتو زیاته علاقه نه ښودله ځکه افغانستان یې د شوروي اتحاد یوه سپوږمی بلله او د پاکستان سره د اختلاف په اساس چي افغانستان ته یې ښه نه لیدل.[۳۳ م ۲۳۹] خو بیاهم د شوروي اتحاد (د مسکو د کرښی ضد دولتونو او د هغوي په سر کی د امریکا متحد ایالاتو له پیل څخه کوښښ کا وه چې داود خان له شوروي اتحاد څخه لري کړي . افغانستان ته یې د اقتصادي مرستو وعدي ورکړې ولی امریکا ژمنه کړی وه چي د خپلو مادي او تخنیکی مرستو په خواکی به عربي هیوادونو هم وهڅوي چي د افغنستان په اقتصادي پرمختګ کی مرسته وکړي . دلته د امریکی او ځینو هیوادونو د مرستو څخه د بیلګی په توګه یادونه کوو .

د امریکا د تعلمیی چارو په برخه کی د کابل پوهنتون د انجینری ، کرنی او ښوونې او روزنې له پوهنځیو سره د ۱۳۵۲ لمریز کال دلیندی په ۱۸ نېټه د دری میلنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالرو د مرستې وعده وکړه . او د همدي کال د حوت په اتمه نیټه یې د دیموګرافی ، راهنماي خانواده او د صحیی وزارت د احصائې د پروګرام سره یو میلون او دیرش زره ډالرو مرسته وکړه . دغه تړون د معارف د وزارت د معین علی محمد خرم او د امریکا د سفیرتیودروایلوت ترمینځ لاس لیک شو .او د ځمکې د لاندینو منابعو د لټون له پاره یې هم په همدې (۱۳۵۲ ل)کال د (۱۲۵ ) زره میلونو ډالرو د مرستی وعده وکړه.په (۱۳۵۳ ) لمریز کال کی د تعلیمی نصاب د چارو له پاره (۸۱۹) زره ډالرو د مرستی وعده وکړه . د چین هېواد په کندهار کې د ( ۲۵۲) بستریز روغتون تړون لاس لیک کړ د کاناډا هېواد د ۱۳۵۳ لمریز کال د ثور په (۷ ) نیټه یو بال تیاره باختر افغان الوتنې ته داضافی سامان سره د نهه ( ۹) سوه زرو ډالرو په قیمت ور کړه. د چین هېواد د ټوکر اوبدلو او کاغذونو د تولید د فابریکو د جوړولو تړون د ۱۳۵۵ لمریز کال د سنبلی په میاشت کې لاس لیک کړ ...

د امریکا د کمپنیو ( فولر فشین باخ او مان انټرنشنل ) په کندهار کې د سمنټوو د فابریکی د جوړولو تړون لاس لیک کړ . البته بودجه یې د ایران له قرضی څخه وه په ۱۳۵۵ لمریز کال د اسیا پرمختیایی بانک د ( ۱۴ ) څوارلس میلونو ډالرو د قرضی وعده ورکړه . په همدي کال جاپان د تلویزون د جوړلو له پاره (۵) پنځه سوه میلونو ډالرو مرسته وکړه . او د عراق سره هم سوداګریز تړون لاس لیک شو .د ۱۳۵۵ لمریز کال د جدي په ۱۹ نېټه په واشنګټن کی د افغانستان لوی سفیر عبدالله ملکیار د نړیوال بانک سره د کرنی دښوونځیو جوړولو له پاره د ( ۲ ) شپږ میلونه ډالروو مرستي تړون لاس لیک کړ .

د انګلستان هیواد (۲ ) شپږ میلونه سترلنګ پونډ بلا عوضه مرسته وکړه اسلامی بانک هم د ( ۲ ) شپږ میلونو ډالرو دمرستی وعده وکړه د المان فدرالی جمهوریت دلس میلونو مارکو قرضی ورکولو اعلان وکړ .

کاناډا لس زره ډالر بلاعوض کومک وکړ او استرالیا د بادغیس ، جوزجان او فاریاب ولایتونو کې د اقتصادی ، مالداري پروژوو ، مسلخ او وریو مینځلو د فابریکو د جوړلو اعلان وکړ [ ۲۱ـ مم ۵۷۵ ـ۵۷۷] دا هغه مرستی وي چی د شوروي د اقتصادي نفوذ د کمیدو په خاطر د پورتنیو هیوادونو لخوا افغانستان سره کیدلي یي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سردار محمد داود په خپله نشنلست افغان او سوچه مسلمان و ده چپی عناصر ( کمونستان) په دي تورن کړل چې کمونستانو ته کمونیزم له افغانی نشنلیزم څخه لوړ او د شوروي اتحاد گټې د افغانستان له ګټو څخه ورته ډیری مهمی وی له دولت څخه د کمونستانوله ویستلو وروسته په ۱۹۷۷ز کال کې یې عربی هیوادو او ایران ته سفر وکړ چې د شوروي اتحاد پر ځای د افغانستان د پرمختګ له پاره د هغوي له مالي زیرمو څخه استفاده وکړی۵۰ م ۱۸۲

د سردار محمد داود خان اخرنیو سفرونو شوروي اتحاد اندیښمن کړ او د هغه هیواد امنیتی سازمان کې جی بې په دي اړه ډیره نګران وه نوموړی یې ایران او عربی نړي حتی لویدیځ ته په نږدی کېدو متهم کا وه خو اولس مشر سردار محمد داود ددي له پاره چي د شوروي اتحاد اندیښنه کمه شی د شوروي اتحاد په بلنه د ۱۹۷۷ زکال په اپریل کې مسکو ته لاړ په دغه سفر کې شوروي اتحاد حکومت افغانستان ته د ۴۳۷ میلونو ډالرو اعتبار منلی و په ۱۹۷۲ ز کال کې د دواړوهیوادو ترمینځ د سوداګری داسي قرارداد هم لاس لیک شوی وو چی د دواړو هیوادوو تر مینځ د سوداګری حجم ډیر شی او تر ۱۹۸۰ز کال پور ی شپیته سلني ته ورسیږي د همدغه کال ( ۱۹۷۷ ز) کال تر سپتمبر پوری په افغانستان کي د شورویانو شتون د هر بل هیواد تر ماهرانو اومتخصصانو څخه ډیر وه. خو محمد داود په افغانستان کی د شوروی ماهرانو له ډیر شتون څخه هم اندیښنه کی و. تر خپلی کودتاه وروسته د دفاع وزارت د څانګو د مشرانو په یوي غونډه کی ویلی و چي ((از تعداد مشاورین نظامی شوروي کاسته شود اصرار مینمود که کار ها بدست صـــاحب منصبان افـــغانـــی سپرده شود ۰۰۰)) ۴۲م م۱۰۳او ۱۰۴

داود خان هڅه کوله چی د نړۍ د هیوادونو په مینځ کی خپل اسلامی ناپېیلی هویت وساتي او د هیچا فکري ،اقتصادي او نظامي تسلط ته یې غاړه نه ایښودله دده هیله دا وه چی افغانستان ډیر ژر پرمختګ وکړي او په نړیوالو اړیکو کی بی طرفه او ناپېیلی پاتې شي . دده په اند او هڅو ، ټول پوهیدل خو د سیمې هېوادونه په تیره بیا امریکا او شوروي د خپلو ګټو په لټه کې وو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ـ داوه کلن پرمختایي پلان طرحه او عملي کول :

د هېواد په اقتصاد کې بحراني وضعې او نړيوال اقتصادي حالت ته په کتنه ، دهېواد د اقتصادي ،ټولنيز پرمختګ او د خلکو دژوند د سطحې لوړولو په خاطر لومړنی پنځه کلن اقتصادي پلان د ۱۳۳۵ لمريز کال د ميزان په مياشت کې چې ۱۹۵۶ ز کال ه سپټمبر سره سمون لري د سردارمحمد داودخان د صدارت پرمهال ترتيب او تطبيق شو دا پلان د ۱۳۴۰ ل -۱۹۶۱ ز-اګست پورې دوام وکړ .(۹ م:۱۰۴)

۱۳۳۵ لمريز کال دافغانستان د اقتصاد په تاريخ کې د اهميت وړکال و. ځکه د هيواد اقتصاد په سيمه ايزه کچه سکتوري او اقتصاد خواته رهبري کړ. د لومړي اقتصادي پلان د جوړيدو( ۱۳۳۵ لمريز کال ) پرمهال په افغانستان کې (۲۷) بابه ليسې اومنځني



ښوونځي موجود وو، خو ددې پلان د ختميدو مخکې (۱۳۴۰ل) کال په افغانستان کې د ليسو او منځنيو ښوونځيو شمېر ۱۴۳۲ بابو ته ورسيد . په دې پلان کې د معارف پراختيا ته ځانګړې پاملرنه شوې وه .(۱۳ م۱۳۴)

دويم پنځه کلن اقتصادي پلان چې په ۱۳۴۱ لمريز کال ترتيب او ۱۳۴۵ لمريز کال پورې دوام وکړ، دا پلان زياتره په بهرنيو منابعو او پورونو ډډه لګوله . ددې پلان پيشبيني شوې پانګه ۹۱،۵۸۹ ميلونه ډالره وه .چې پکې (۲۳۰) ميلونه ډالره د شوروي اتحاد، ۲،۸۲ ميلونه د امريکا متحده ايالاتو، ۴،۳۱ ميلونه ډالره لويديځ المان ، ۸،۳ ميلونه ډالره چکسولواکيا ، (۵) ميلونه ډالره د ملګرو ملتونو دموسسې لخوا ورته برابر شوي وو. چې له دې جملې څخه ۲۱۸ ميلونه ډالره پور او ۵،۱۳٤ ميلون ډالره د وړيا مرستې په شکل ورکړل شوي وو. ددې پلان د تمويل دريمه منبع بهرني استملاکې مواد چې ټول ۸،۵۵ ميلونه افغانيو جوړ وله . له دې جملې ۲۹۰۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

میلونه افغانۍ د امریکا د متحده ایالاتو او فدرالي المان لخوا د مرستې او پور په بڼه برابریدلې . (۹م:۱۱۲او۱۱۷)

په دویم پلان کې مواصلاتي کرښوته د لمړیتوب حق ور کړل شوی و . دریم پنځه کلان پلان چې ( ۱۳۴۲ تر ۱۳۵۰ ل) کال پورې دوام وکړ عمده موخې یې د طبعي منابعو فعالول ، د کرنیزو او صنعتي تولیداتود زیاتوالی په اساس د خلکو د ژوند د سطحې لوړوالي د تولنیزو خدمتونو عامول او د عوایدو عادلانه وېش ، د تادیاتو د بیلانس د وضیعتي بهبود ، د دولتي او خصوصي پانګو هڅول ، او د اقتصاد استقرار و ، د دې پلان توپیر د مخکینو د وو پلانونو سره دا و چې په دې پلان کې انکشافي پروژو ته د زیر بنایي پروژو په پرتله زیاته پاملرنه شوې وه (۹م ـ ۱۲۸)

ددې پلان موخې په لاندې شا خصونو کې ښودلای شو .

۱ : د یو پراخ پرمختیایي پروګرام پلي کول .

۲ : د کوچینو صنایعو اود ار ترقي موادو د ایجاد او د تولید چټک پرمختګ.

۳ : د نفت وګاز ، کانونو ، او د ځمکې لاندې اوبو جیولوجیکې لټون ادامه .

۴: د ګازو د ایستلو پیل د طلا او بیریلو د کانونو سروې .

۵ : په ولایتونو کې څښاک د اوبو د شبکو جوړول .

۶: په لومړنی ، منځنی ، ثانوي او عالي کچه د معارف پرمختیا ، او د کارګرانو اومتخصیصینوتربیه .

۷ : د روغتونونو او نورو خدماتي موسسو جوړول ( ۲۱:م ۳۲۲ )

په دریم اقتصادي پلان کې د( ۳۳ ) ملیاردو افغانیو د پانګې اچونې وړاندوینه شوې وه چې دوه ملیارده افغانی یکې د خصوصي پانګې ونډه وه . په دریم پلان کې د دویم پلان په نسبت په بهرنیو پورونو کې لږوالی راغلی و.د ډیر تاکید سره سره چې په دې پلان کې بایدد زیر بنایي پروژو پر ځای هغه پروژې چې ژر یې حاصل ورکاوه تطبیق شوې وای خو دا پروګرام عملي نه شو دصنعت او کانونو انکشاف په دو یم قدم کې ځای ونیو . د دولتي عوایدو لوړوالی تطبیق نه شو ولې دا پلان د مخکنیو دواړو پلانو څخه د موخو په طرحه او دستونزو د حل د لارو د په روښانولو کې بشپړ شفاف و ( ۹-م ۱۳۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له څلورم پلان (۱۳۵۱-۱۳۵۵ل) څخه ۱۲ کاله مخکې دهیواد پرمختیایي پروګرامونو منظم شکل نه درلود په غیر منظم ډول د هیواد په یوه او بله څنډه کې پرمخ بیول کېدل. د ۱۳۳۵ لمریز کال څخه را په دیخوا اقتصادي او ټولنیز فعالیتونه اقتصادي پلانونو کې تنظیم شول. څلورم اقتصادي او ټولنیز پلان باید په ۱۳۵۱ لمریز کال کې تطبیق شوی وای خو د ځینو ستونزو له کبله عملي نه شو. بیا هم په دغو (۱۲) کالونو کې د(۵۳) میلیاردو افغانیو په ارزش د پنځه کلنو اقتصادي پلانونو (۱۳۳۵-۱۳۵۱ل) په ترځ کې د ترانسپورت ،مواصلاتو، اوبو لګولو ،انرژي، صنعت او معارف په برخه کې ځینې پروژې عملي شوې خو دغه پلانونه په زیاته اندازه د بهرنیو مرستو او پورونو پواسطه تمویل شوي وو. په داخل کې په تېره بیا په بشري قوت کې ځانګړي تغیر رانه غې .دڅلورم پنځه کلن اقتصادي پلان تطبیق چې د (۱۳۵۱-۱۳۵۵) کلونو له پاره په نظر کې نیول شوی و، دداخلي او خارجي ناوړو سیاسي ،اقتصادي شرایطو له امله تطبیق نه شو. ځکه یو طرف ته تمویل کونکي منابع ثابتې نه وي. پارلمان هم دا پلان تائید نه کړ. بله غټه سیاسي پېښه په ۱۳۵۲ لمریز کال د داودخان کودتاه وه چې سیاسي نظام یې بدل او اقتصادي پالیسي هم بدلون وموند. د سردار محمد داود خان د واکمنۍ پر مهال د ۱۳۵۴ لمریز کال تر پایه پورې ټول دولتي مصارف د کلني مصرف په اساس پیشبیني او سنجول کیدل. چې په دې څلورو کلونو کې ټول پرمختیایي مصارف ۴، ۱۹۷۵ میلونه افغانیو ته رسیدل چې یوه اندازه یې د بهرنیو قرضو څخه پوره کیدل (۹_م ۱۴۴)

په ۱۳۵۲ لمریز کال کې د نوي رژیم په مینځ ته راتګ سره ۱۳۵۲د ، ۱۳۵۳، او ۱۳۵۴ لمریزکلونو پرمختیایي مصارف په کلنی اندازه پیشبیني او اجرا کیدل خو د (۱۳۵۵) لمریز کال په لومړیو کې یو اووه کلن اقتصادي پلان مطرح شو. نوموړی پلان د کاغذ پر مخ له مخکنیو پلانونو څخه معقول او مکمل و ځکه په دې پلان کې له نمایشي پروژو څخه صرف نظرشوې و،او تمویل کوونکې منابع یې موثقې او ډاډ وړ وي خو ددې پلان طبیق په دولتي اداره کې د پلان د تطبیق اداري ناتوانې او له حده څخه زیاته اندازه په بهرنیو قرضو او مرستو باندې اتکا دنوموړی پلان تطبیق له ستونزو سره مخ کړی و مخکې له دې اوه کلن پلان څخه په بهرنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورونو اتکاء ۴۵ فیصده خو ددې پلان پرمهال دغه اتکاء( ۲۲ ) فیصدو ته لوړه شوه . لاندې جدول د اووه کلن پلان ( ۱۳۵۵_ ۱۳۶۱ ) تمویل کوونکې منابع ځرګند وي .

| تمویلوونکی منابع | پانګه اچول په ملیارد افغانی | فیصدي |
|---|---|---|
| پورونه او پروژوې مرستې | ۱۱۴، ۷۴ | ۶۲ % |
| د استهلاکې موادو پلورل | ۱۱، ۹۲ | ۷ % |
| د داخلې بازارونو عواید | ۳۴، ۷۸ | ۲۰ % |
| د مرکزي بانک قرضه | ۱۲ ،۹۸ | ۷۰ % |

(۹ _ م ۱۴۲)

په ټولنیز پرمختیایې پروژو کې صنعت ته د لومړیتوب حق ور کړل شوی و .د نوموړي پلان ټوله پیشبیني شوې پانګه ۴۳ ، ۱۷۴ ملیارده افغانی وه له هغې جملې څخه ۹ ، ۲۲ ملیارده ۱ ، ۳۲ فیصده صنعت ، کانونو او انرژۍ ته،۵، ۳۱ فیصده د مواصلاتو لپاره ۷ ،۲۴ فیصده د کرنې او اوبو لګولو چارو ته ، او ۲ فیصده یې ټولنیزو خدمتونوته ځانګړې شوې وه . د دې پلان موخې په لومړیو دوو کلونو یعنې ۱۳۵۵ او ۱۳۵۶ لمریز کلونو تطبیق شوې خو د۱۳۵۷ ل د ثورد بدلون له امله دا پلان بشپړ نه شو. . د دوو کلونو تولیدات یې په لاندې جدول کې ښودل شوي دي .

د ۱۳۵۵ او ۱۳۵۶ کلونو پرمختیایې لګښتونه او صنعتي تولیدات

| تولیدات | پرمختیائي لګښت | په میلیون افغانی سره |
|---|---|---|
| نوم | ۱۳۵۵ لمریز کال | ۱۳۵۶ لمریز کال |
| کرنې او اوبو لګولو چارې | ۳۵۰۷ | ۵۱۳۰ |
| کانونه | ۱۷۲۴ | ۱۳۲۷ |
| صنعت | ۲۸۲۰ | ۲۶۱۷ |
| انرژي | ۱۰۲۰ | ۱۷۲۸ |
| ټولنیز خدمتونه | ۱۷۸۹ | ۲۷۹۳ |
| مواصلات | ۲۹۲۵ | ۲۲۶۴ |
| متفرقه | ۱۲۲ | ۱۵۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| مجموعه | ۱۴۰۲۷ | ۲۰۲۳۲ |
| صنعتي توليدات | ۱۳۵۵کال | ۱۳۵۶ کال |
| ـــ بريښنا ( ۱ ميلون کيلوات ساعت ) | ۲، ۹۲۵ | |
| ـــ طبيعي گاز ۱ ميلون متر مکعب | ۲۵۴۲ | ۹، ۲۵۸۱ |
| ـــ خام نفت ( ټن ) | ۱، ۵۲۹ | ۱، ۱۲۰۰۰ |
| ـــ د ډبرو سکاره (زار ټن ) | ۹، ۱۵۹ | ۷، ۱۷۲ |
| ـــ لاجورد ( زر کيلوگرام | ۷، ۴ | ۲، ۳ |
| ـــ مالگه ( زر ټنه ) | ۷، ۷۲ | ۷، ۷۷ |
| ـــ کيمياوي سره( زر ټنه ) | ۱، ۵۵ | ۲، ۹۹ |
| ـــ سمنت ( زر ټن ) | ۱، ۱۲۵ | ۰، ۱۵۰ |
| ـــ پلاستيکي بوټ ( ۱ ميلون جوړه ) | ۱، ۴ | ۳، ۸ |
| ـــ چرمي بوټان ( زر جوړه ) | ۲، ۳۳۲ | ۲، ۲۹۸ |
| ـــ مالوچ ( زر ټنه ) | ۷، ۵۲ | ۱، ۴۷ |
| ـــ نخي تار ( ټنه ) | ۳، ۱۰۵۹ | ۱۱۷۷ |
| ـــ نخي ټوکر ( ميلون متر ) | ۷، ۱۱۳ | ۸، ۷۲ |
| ـــ سنډي ټوکر ( ميلون متر ) | ۹، ۲۷ | ۷، ۲۹ |
| ـــ وړين ټوکر ( زر متره ) | ۳۴۱ | ۴، ۳۴۷ |
| ـــ پوستکی ( زر جلده ) | ۲، ۱۹۵۹ | ۱، ۱۹۱۴ |
| ـــ بوره ( زر ټنه ) | ۱، ۱۱ | ۱، ۱۱ |
| ـــ اوړه ( زر ټنه ) | ۹، ۵۷ | ۹، ۵۹ |
| ـــ غوړي ( زر ټنه ) | ۱، ۱۰ | ۰، ۱۳ |
| ـــ صابون ( ټن ) | ۲۹۰۰ | ۲۲۰۰ |

۹ م م ۱۴۷ او ۱۴۸

البته د ۱۳۵۵ لمريز کال د پرمختيايي لگښت له پاره (۸۸۸۰) افغانۍ او ۱۳۵۶ لمريز کال (۱۳۵۸۲) افغانۍ دبهرنيو هيوادونو د پروژو پورونو (قرضو پوا سطه مرسته شوې چې په ۱۳۵۶ لمريز کال کې بهرنۍ پور(۳۰۰) ميلونه ډالرو ته رسيده چې له هغې جملې څخه ۷۱/۲ ميلونه ډالره ايران ،۶۳/۹ميلونه ډالره شوروي اتحاد، ۳۰،۲ميلونه ډالره دبين المللي بانک پرمختيايي اداري ۲۶،۳ د اسيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمختیایي بانک ، ۱۷/۲ میلونه ډالره لویدیځ المان مرسته کړې وه.چې ۴۱٪ پانګه د ۱۳۵۶ لمریز کال په اوږدو کې د صنعت او انرژۍ په برخه کې مصرف شول . ۹- م۱۴۹

د۱۳۳۵ او ۱۳۵۲ کالونه په بهیر کې چې لومړی او دوهم اقتصادي پلانونو کې دپانګې زیاته برخه د زیر بنایي تاسیساتو په جوړولو کې لکه مواصلات ( ۲۵۰۰ کیلو متر سړک قیر شو ) ، د نغلو، ماهیپر او کجکي د بریښنا بندونه جوړ شول .په ځینو ولایتونو کې حرارتي دستګاه ګانې هم جوړې شوې . په دریېم او څلورم پلان کې هغو پروژو ته زیاته پاملرنه وشوه چې ژر یې ثمره ورکوله .د خصوصي پانګې د هڅونې په خاطر په ۱۳۵۳ لمریز کال کې د پانګې اچولو قانون جوړشو .په هیواد کې یو شمیر کوچنۍ صنعتي فابریکې هم جوړې شوې . خو په پلانونوکې په بهرنیو قرضو باندې دمتکي پروژو په ټاکنه او پرمختګ کې یې یولړ ستونزې را منځته شوې وې خو بیا هم د نوموړو پلا نونو د جوړیدو او ترتیب په پایله کې دوه سوه وړې او غټې فابریکې جوړې شوې چې (۴۰) زره کارګرانو په کې کار کاوه .۹ـ م: ۱۵۰

په اووه کلن اقتصادي پلان کې لومړی د ښوونې او روزنې په ډګر کې لومړنیو ، منځنیو او دلیسه په کچه ښوونځیو جوړول، په هرات کې دیو پوهنتون تاسیس او دننګرهار پوهنتون پراختیا په پام کې نیول شوې وه. دیني مدرسې چې تر دغه مهاله په شخصي ډول د خلکوله خوا اداره کیدلې د پوهنې وزارت پورې اړه ونیوه ،دسواد زده کړې کورسونه هم جوړ شول .که چیرې ددې اوه کلن پلان ټول مواد عملي شوی وای نو په پوره باور سره ویلی شو چې زمونږ په ټولنه کې به دخلکو د ژوند په سطحه کې بدلون راغلې وای.۳۲ـ م۱۸

سردارمحمد داود خان له پورتنیو یاد شویو هیوادو پرته له یو شمیر نورو هیوادونو څخه هم مرسته تر لاسه کړه . په ۱۳۵۵ لمریز کال یې د چکوسلواکیا څخه ۲۶، ۸ میلونه ډالره، او دیوګوسلاویا د انکارا شرکت له خوا د ۶۶۰، ۲۳۸ میلونو ډالرو په ارزش د ځینو فابریکو جوړولو وعده اخیستې وه . ۵ م: ۱۲۷

خو ښاغلي عبدالملک عبدالرحیم زي دمالیې پخواني وزیرد سردارمحمد داود خان د اوه کلن پلان په اړه ځانګړي نظر لري او په خپل کتاب ارمغان زندان کې لیکلي: (( سردارمحمد داودخان بطوریکه توازن بودجوی و پلان اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطروحه روی غرض شوم و براي خواسته هاي خود از بين برد و كشورا به بې توازني مالي و كساد بحران اقتصادي مواجه كرد .اين بار نيز از كودتاه تاريخي ۲۶ سرطان اش قدرت نمايې كرد . وان كار هاي رو بروه شدن مربوطه به دوره هاي پلان سوم و چهارم را باز برهم زد و كشور را به پيمانه وسيعتر به فساد اقتصادي و عدم توازن بودجوي و هم چنين فساد و بحران سياسي مواجه ساخت . چنانچه پلان هاې گذشته را يكسره ناديده گرفت وخودرا باهمه ناكامي هاي گذشته همچنان قانون شكني ها وظلم هائيكه كرده بود خير خواه جامعه معرفي كرده ، پلان دوره جمهوريت خود ساخته و نام نهاد خود را بنام پلان اول انكشاف هفت ساله اعلان كرد.

اين پلان كه باز هم بوسيله رئيس پلان سازي روسيه و هيئت معيتي وى تكميل گرديد ، حجم سر مايه گذاري سالانه (۳۳) ميليارد افغاني معرفي كرد . منجمله (۱۳) ميليارد ان را براي بودجه عادې .و (۲۰) ميليارد ان را جهت سر مايه گذاري بيان نمود .وي نه انكه (۱۰) ميليارد افغاني بودجه پيش از دور خود را به مصارف عادي بكار برد ،(۳) ميليارد ديگر افزونتر از ان را در مصارف عادي از طريق كريدت ها تمويل نمود .گويا روى اين محاسبات بيش از شصت فيصد بودجه عادي سردارمحمد داودخان قرضه داخلي و خارجي تمويل ميگرديد . اينكه در مخارج يكسال سر مايه گذاري ها را (۲۰) ميليارد افغاني معرفي كرده است ، نيز سخني است دور از حقيقت ، سردار محمد داودخان بدين مامور و عمل خود باز از يكسو جلو انكشاف كشور را گرفت از سوي ديگر اينكه به تدريج تلافې تمرينات گذشته دوره صدارت وي را ميكرد .بدين معني كه همه ساله بيش از سيزده ميليارد افغاني ثروت كشور را تمويل ارزوهاي خود در سكتور خدمات عادي به كار مي برد ، در مقابل در انكشاف اقتصادي،اجتماعي كشور (۲۰) ميليارد افغاني كه همه ساله در بودجه هاي خود مصرف و اعلان ميكرد . فقط دو ميليارد سرمايه گذاري كه ان هم بيشتر به كومك هاي بلاعوض منابع بين المللي و با كشور دوست متكي بوده ويا از قروض خارجي تمويل ميگرديد . باقي(۱۸) ميليارد افغاني وجود نداشت ونه سر مايه گذاري ان موضوع بحث ميباشد....)) ۳۰ م م ۱۴۷_۱۴۸

كله چې داود خان له مسكو څخه مايوسه شو .د غرب خواته يې مخه كړه خو بيا هم يې د خپل موقف په خاطرد لويديځ پر ځاى اسلامي هېوادونو يعنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایران،سعودي عربستان ،ترکیه،مصر اوکویټ سره خپلې سیاسي اړیکې ټینګې کړې . اوله دغو هیوادونو څخه یې د خپل اوه کلن پر مختیایې پلان د پروژو د تطبیق په خاطر د مالي کومکونود جلبولو په خاطر خپلو دیپلوماتیك اقدامات پیل کړل. په ۱۹۷۸(۱۳۵۷ل ) کال په پیل کې کله چې د مسکوله پیښې یو کال تیریده دغو هیوادونو ته سفرونه وکړل . ۲۳ م ۴۳۹

د ښاغلي عبدالرحیم زي نظر یو اړ خیزه دی ځکه نوموړی مخکنې پلانونه تائیدوي او یوازې اوه کلن پلان چې دې پکې نه و ردوي . بل دا چې دا پلان دوه کاله تطبیق شو یو شمېر پروژې بشپړې شوې او کومې پروژې چې پاتې دي اوس ۱۳۸۸ کال د هماغه پلان پروژې د تطبیق په حال کې دي اوس هم دولت د داود خان د پلان پاتې او نیمګړې پروژې تکمیلوي چې هره پروژه اوس هم ځانګړې اقتصادي ارزښت لرونکي ده. ددې پلان سیاسي ارزښت په دې کې دې چې د نړۍ هیوادونو د سیاسي اړیکو په پام کې نیولو سره مالي او اقتصادي مرسته کوله. شوروي اتحاد د ډیرې مالي او تخنیکي مرستې په اساس په افغانستان کې د سیاسي نفوذ غوښتونکې وو . داود خان دهر هیواد له سیاسي نفوذ سره مخالف و . کوښښ یې کاوه چې د نړۍ له ټولو هیوادونو خصوصا اسلامي هیوادونو څخه مرسته تر لاسه کړي نو ځکه یې د اسلامي هیوادونو همکارۍ ته ډیر اهمیت ورکاوه . د نوموړي دغه پلان هغه د سیاسي ستونزو سره مخ کړ.

## د سردار محمد داود خان ژوند ، شخصیت او تېر وتنې .

### ـ شخصیت :

سر دار محمد داود خان د سردار محمد عزیز خان زوي په ۱۲۷۸ لمریز ۱۹۰۹ ز کال د کابل په ښار کې زیږدلې دی . د استقلال په لیسه کې زده کړه کوله چې په ۱۳۰۰ لمریز ۱۹۲۱ ز کال د محصلینو په لومړي ګروپ کې چې د ده د کاکا زامن محمد ظاهر او محمد طاهر هم ور سره د امان الله د واکمنۍ پر مهال د تحصیل لپاره پاریس ته ولاړل .

کله چې محمد نادر خان د امیر حبیب الله خان کلکاني سره د مقابلې په خاطر افغانستان ته راغي ، سر دار محمد داود خان او محمد ظاهر شاه په پاریس کې پاتې شول او تخصیل ته یې ادامه ور کړه کابل ته له راتک وروسته

مخکې له دې چې د نظامې زده کړې لپاره په عسکري لیسه کې شامل شې د لنډ وخت لپاره د بهرنیو چارو په وزارت کې د مامور په توګه مقرر شو . تر ۱۳۱۰ لمریز کال پورې ده ټولې ملکې او نظامې زده کړې پای ته ورسولې. ۷م ۲۳ او ۲۴

نومورې په ۱۳۱۱ لمریز کال د فرقه مشرۍ رتبې ته ترفیع وکړه . او مشرقې کې د عسکري قوماندان په توګه مقرر شو . او یو کال وروسته یې د مشرقې د اعلی حکومت مسئولیت هم په غاړه واخیست ، په ۱۳۱۳ لمریز کال یې د فرقه مشرۍ لومړۍ رتبې ته تر فیع وکړه او بیا د پاچا د فرمان په اساس د قندهار او فراه د عسکري حوزې د قوماندان او نائب الحکومه په توګه مقرر شو. په ۱۳۱۷ لمریزکال د دهم ځل لپاره مشرقې ته راغی خو دا ځل د رئیس تنظیمه او د مشرقې د ټولو عسکري قواو د قوماندان په حیث په دنده وګومارل شو . د ۱۳۱۸ لمریز کال د زمري په میاشت کې سر دار محمد داود خان د قوای مر کز او عسکري مکتب د قوماندان په توګه مقرر شو . په ۱۳۲۵ لمریز کال کې چې ۳۸ کلن و د خپل تره شاه محمود خان لخوا د دفاع د وزیر په حیث مقرر شو . یو کال یې له دندې څخه نه وتېر شوي چې په ۱۳۲۵ ل ( ۱۹۴۸ ز کال ) په پاریس کې د سفیر په توګه فرانسې ته ولاړ . مګر هلته ډېر پاتې نه شو او د ۱۳۲۸ ل کال د لړم په میاشت ( ۱۹۵۰ ز ) کې بېرته کابل ته راغی او د دوهم ځل لپاره د دفاع د وزیر په توګه مقرر شو. ۷م ۲۴

سر دارمحمد داود خان په ۱۳۱۲ لمریز کال د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د خور زینب سره چې د ده د کاکا لور کیده واده وکړ . ده اوه اولادونه درلودل چې عمر ، تورپیکۍ ، شینکۍ ، درخانۍ ، خالد ، ویس او رزلښته نومیدل . نومورې د روغتیا په لحاظ جسماً قوي او د منځنې قد لرونکې مګر په ملا کې یې د لویدو له امله د درد او روماتیزم تکلیف درلود . په ۱۹۵۹ ز کال یې په سویس او داتریش دویانا په ښارکې در ملنه وکړه مګر بیا هم په ۱۹۲۱ ز کال یې په روم کې د اوسیدو پرمهال په ملا کې د فقرې د بې ځایه کیدو له امله د جراحې عملیات تر سره کړل هغه ډېر سګرت څکول خو وروسته یې د داکترانو د توصیې او مشورې په اساس ترک کړل . د ده لور درخانۍ د اود خان په اړه وایې چې زما پلار د مشروباتو او ښکار سره علاقه نه در لوده . د ده مینه یوازې د افغانستان





(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره وه تل به يې جريدې ، ورځپاڼې او مجلې لوستلې ، تر څو د ورځنيو پېښو
څخه خبر شي ډېر وخت يې په اداري او سياسي موضوعاتو کې تيراوه . کله چې
به يې کور ترک کړلو له هغو ساختماني پروژو څخه به يې ليدنه کوله چې ده پېل
کړې وې تر څو د هغو د پرمختګ کار په خپلو سترګو وګوري ، درخانۍ ،
عبدالله مکيار او ده ته نورنږدې کسان په دې نظر دې چې د کور د ننه له ده څخه
د کور غړي ويريدل خو نوموړي تل ملايم او د محبت څخه ډک سلوک کا وه کله
کله به يې ټوکې هم کولې اولادونو ورته بابا ويلې .۷م ۲۲

سردارمحمد داود خان د ۱۳۳۲ _ ۱۳۴۲ ل ) کال پورې د افغانستان د
صدراعظم په توګه دنده اجرا کړه . خو نوموړی په ۱۳۴۲ ل ۱۹۶۳ ز کال کې د
صدراعظمۍ له څوکۍ څخه استعفا وکړه ، پوره لس کاله يې په ګوښه ګيري کې
ژوند تېر کړ . تر څو په ۱۳۵۲ لمريز ۱۹۷۳ ز کال کې کودتاه وکړه او واک ته
ورسېد . تر ۱۳۵۷ ل او ۱۹۷۸ ز کال پورې يې د افغانستان د جمهور رئيس په
توګه دنده اجرا کړه د ۱۳۵۷ ل کال د ثور د اوومې نېټې د بدلون په پايله کې
نوموړی شهيد او واکمنۍ پای ته ورسېد .

ښاغلی* لالا جان حق شناس د داود خان په اړه داسې نظر
لري : (( مرحوم شهيد محمد داود خان مدام دريشي اغوسته کله به چې له دندې
څخه کور ته راستون شو خپل منظم لباس ( دريشې) به يې بدله کړه او داسې
پتلون او کميس به يې اغوستل چې په هغه لباس کې به يې خپل کور کې د
باغوانۍ چارې اجرا کولې او د باغوانۍ سره يې ډېره مينه لرله د همدې مينې په
نتيجه کې يې د دلکشاه د ماڼۍ د لومړي لمبر قصر تر څنګ په يوه
ساحه کې چې

---

* ښاغلی لالا جان يو ښه صاحب منصب او ډ ښه خوی خاوند دی . نوموړي سره ما شخصا د ۱۳۸۸ لمريزکال د چنګاښ په ۲۲ مه د ۲۰۰۹ زکال د اګست په ۱۷ نيټه د هغه څخه پوښتنه کړې او نوموړي د سردار محمد داودخان د ساتونکی له ډلې او نږدې اړيکي ور سره درلودې خپل ځان په خپله داسې را پيژني . زه لالا جان حق شناس د مرحوم حاجي فيض محمد خان زوي د پکتيا ولايت د آريوب ځائيوولسوالي د هاشم خيلو د شګي په کلي کي په ۱۳۲۸ هـ ـش کال کي زږيدلي يم . دري کاله مي د آريوب ځائيو په لومړني ښوونځي کي او دري کاله مي د قندهار په احمد شاهي لومړني ښوونځي کې زده کړې کړې دي په ۱۳۴۱ کال کي حربي ښوونځي ته انتخاب شوم په ۱۳۴۷ کال کي د حربي ښوونځي څخه فارغ او بيا په ۱۳۴۸ هـ ش کال کي حربي پوهنتون پلي پوهنځي کي شامل او په ۱۳۵۰ هـ ش کال د حربي پوهنتون څخه ددوهم بريدمن په رتبه فارغ شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړنی دنده یې د مرکزي قول اردو د اوومي فرقي په ۳۸ غنډ کې وه د ۱۳۵۲ هـ ش کال د چنګاښ په ۲۲ نېټه کله چې مرحوم شهید محمد داود خان د وخت او خلکو د شرایطو او غوښتنو سره سم شاهي نظام ته د پای ټکي کیښود او جهموري نظام چې په ملي سطحه یې په خاص ډول روڼ اندي او تحصیل کړي او ار مانجن او په بین المللي سطحه یو منل شوي نظام دي را مینځ ته شو او د شاهي ګارد پر ځای نوي ګارد د جمهوري ګادر په نوم جوړ شو زه هم ګارد ته انتحاب شو چې د جمهوري ګارد د دوهم کنډک په لومړي ټولي کې د بلوک د قوماندان په توګه مې لومړنۍ دنده اجرا کوله چې وروسته د همدي ټولي قوماندان وټاکل شوم . په ۱۳۴۵ هـ ش کال او ۱۳۵۲ هـ ش کال کې دوه ځلي د ازمویني په نتیجه کې هندوستان د مسلکې لوړو زده کړو په خاطر تللي یم چې شپږ میاشتې مې هلته زده کړه کړیده .

زما ټولي دنده د جمهوري ارګ سره د باندنیو چارو وزارت، د چین هېواد سفارت ، د فرانسۍ د تجارتي اتشي وداني ، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دفتر ، د مرحوم شهید سر دار محمد داود خان د کور احاطوي ساحه . ( د جمهوري ارګ سره متصل اړخونه ) او د د لکشاه ماڼۍ ساتل وو .

د ۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور په اوومه نېټه د پنجشنبې ورځ چې د حکومت او نظام د ړنګیدو په خاطر کودتاه شروع شوه مازیګر د جیټ الوتکو په جمهوري ارګ باندي په خاص ډول د دلکشاه ماڼۍ په ساحه کې بمبارد وکړ . د ا ځکه چې د دلکشاه ماڼۍ په چمن کې د هوايي دفاع څلور میله ماشیند اری ځای پر ځاي وو او د جیټ په الوتکو شاه محمود نومې دوهم بدیر من انداخت وکړ چې یو ډیر زړور صاحب منصب و دغه موضو پیلوټانو په نښه کړه او په پر له پسي ټګه یې دغه ساحه بمبارد کړه . د دغه بمبارد په نتیجه کې زما د ټولي د یو بلوک قومندان چې سلطان محمد چوپان نومیده . دوهم برید من او مونږ دواړه څنګ په څنګ په موضو کې ناست وو شهید شو او زه په چپ لاس او چپه پښه سخت ټپې شوم د جمهوري ارګ څخه د وتلو ټولي لاري د مخالفینو له خوا نیول شوي وي یوازي یوه لاره چې مخالفینو ته نه وه معلومه هغه د چین سفارت او د باندنیو چارو وزارت تر منځ لاره وه څرنګه چې زما درملنه د ګارد په روغتون کې ممکنه نه وه د ګارد د روغتون سر طبیب چې لا لا جان شیرزي نومیده . د امبولانس

خالې ځمکه وه د منهو نیالګي چې چې شمیر یې د سلو شاو خوا ته رسیده د جمعي په ورځ یې له نقشې وروسته کښینول شاید چې اوس هم وي شهید سردار محمد داود خان او د هغه فامیل ټولو غړو په دری ژبه خبری کولې په پښتو ژبه یې ښې خبري نه شوالی کولالې .....)) (۱۲)

سر دارمحمد داود خان د شخصیت په اړه مختلف نظریات موجود دي خو زیات په دي عقیده دې چې هغه ښه کار کوونکی ، باعزمه او واک اخېستلو ته لیواله شخص و ، خو د هېواد د راتونکې پرمختګ سره یې ډیره مینه درلوده ، هغه په سیاسي او اداري چارو کې د روحانیونو مخالف و خو په خپله یو کلک مسلمان او پرهیزګاره شخص او د کاملې اتوریتې خاوند و . ده غوښتل چې په خپل ژوند کې افغانستان له منځنیو پیړیو حالت څخه وباسي او د پر مختللو هېوادونو په قطار کې ودر وي . ده په ۲۴ ساعتونو یعنې په یو شپه او ورځ کې (۱۲ ) ساعته کار کاوه .[۷_م۲۸ ] عسکري تربیه ، نظم او دسپلین د ده د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصیت جز و، ځینو داود خان د سوکارنو او جمال عبدالناصر سره تشبه کړی چې د خلکو په مینځ کې یې محبوبیت درلوده .ده ټول قومونه ورونه او برابر بلل او او سنې غم د دغسې مشرانو نشتوالي له امله دی. چې ګاونډیو او نړیوالو هیوادونو د خپلو ګټو په خاطر افغانان یو دبل په مقابل کې درولې دي داود خان وکولی شول چې لویدیځ او ختیځ په سیالې کې افغانستان له ګوښه ګیرۍ څخه وباسي او د ناپیلي هیوادونو په قطار کې ودر وي. د ده خوښــې پـه خــدمت او کار کــې نـغــښــتـې و، ده بـلـه

*ډریور ته هدایت وکړ چې ما د همدغې لار څخه د قواي مرکزي روغتون ته انتقال کړي او هلته ځو چې لرله قوماندان وټاکل شوم وروسته د کورنیو چارو وزارت د قرارګاه قوماندان وټاکل شوم او په دغه وخت کې مې د پولیسو په اکادمې کې محصلینو ته تدریس هم کاوه د تدریس سره مې ډیره مینه لرله دا مهال د پولیسو اکادمې ته تبدیل شوم لومړي د پولیسو اکادمي د مقرراتو سره سم د استاد معاون او د پیارتمنت د امر په حیث ي دنده اجرا کړي ده د پولیسو په اکادمي کې مې د پنځلسو کالو څخه زیاته موده د استادي دنده لرله او په دي موده کې د استادي تر څنګ د دریو کالو لپاره د ۱۳۶۰ څخه تر ۱۳۶۳ کال د پولیسو اکادمې قوماندان لومړي مرستیال هم وم په دي کړ کې مې د پولسیو د اکاډمې د مقرري* مطابق د تدریس کدر په برخه کې د شرایو د پوره کولو سره سم د پوهندوي علمې ربه تر لاسه کړي ده هلته ځو ورځې کم د ددو مساشتو لپاره بستر شوم کله چې د روغتون څخه رخصت شوم د ګارد څخه تبدیل او د دفاع وزارت احیتاطو ته معرفي شوي وم په ګارد کې یوازي هغه سصحبمنصبان پاتې شوي وو چې د خلق یا پرچم ګوندونو سره یې اړیکې لرلې د ټولي د سلاح او اجناسو دور تسلیمې څخه وروسته اختیاطو ته ولاړم د دوو هغتو څخه وروسته د دفاع وزارت څخه د کورنیو چارو وزارت ته تبدیل او هلته لمړي د څه وخت لپاره د پولیستو د تشریفاتو سفارتونو او خارجي سیاسې نمایندګیو د ساتنې دنده اجرا کړیده د پولیسو په اکاډمې کې مې پنځلسو کالو څخه د استادي دنده لرله په ۱۳۶۳ لمریز کال د قوماندان لومړي مرستیال وم او د پوهندوي علمي رتبي ته مې ترفیع وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیڅ تفریح نه درلوده. نوموړي ښه خواړه او کالي (جامی) نه خوښول ، په هیڅ ډول فساد کې ښکیل نه و. د پاک لاس خاوند و، نړیوالو مسایلو ته یې ځانګړې پاملرنه کوله او نوې تکنالوژۍ ته یې ډیر پام کاو د کار پوهانو نظر ته ي ارزښت ورکاوه د هیواد له مخورو اشخاصو سره یې پیژند ګلوی درلوده ، ښځو ته یې د هغوي حقوق ورکړل . له ده څخه اوس یوه لور میرمن درخانۍ پاتې ده، چې له خپل میړه ډاکتر توریالي نور سره د سویس د لوزان په ښار کې اوسیږي .
۳۱ م م ۱ او ۲

په سیاسي ژوند کې هم سردار محمد داود خان بې تفاوته پاتې نه شو . د سردار شاه محمود خان د صدراعظمۍ پر مهال نوموړي د هغه له لارې او کړنلارې سره جوړ نه و بهر ته لاړ او په پاریس کې یې د سفیر په توګه مقرر شو خو له یو لنډې مودې وروسته بیرته خپل هیواد ته راغی او عبدالمجید خان زابلي سره یې یو ځای د شاه محمود خان پر ضد سیاسي فعالیت پیل کړ . دوی داسې استدلال کاوه چې د شاه محمود خان حکومت یوه معتدله او نرمه کړنلاره په مخکې نیولې ده او په هیواد کې یې نظم او امنیت له خطر سره مخامخ کړیدي نو باید مخکې له مخکې د دي کار مخنیوي وشي ترڅو دا حکومت د ګډودۍ سره مخ نه شي نو له دي امله په سردار شاه محمود خان باندې فشار راوړ تر څو په خپله د صدارت له دندي څخه استعفا وکړي فشار په ۱۹۵۰ز کال کې د ملي دیموکرات ګوند (ملي کلوپ) جوړیدل و . چې د دولت د لوړپوړو چارواکو او حاکم نظام لخوا په دې خاطر تاسیس شو تر څو د هغو ګوندونو او سیاسۍ کړیو سره چې نوي په افغانستان کې تاسیس شوي رقابت وکړي او هغه شمیر ځوانان چې د هیواد د ابادۍ فکر لري په خپلو لیکو کې تنظیم او جذب کړي . عبدالمجید خان زابلي د اقتصاد وزیر ، سر دار محمد داود خان د دفاع وزیر ، سر دار فیض محمد خان ذکریا د معارف وزیر ، علی محمد خان یفتلي د صدراعظم مرستیال او غلام فاروق عثمان د دي نوي ګوند موسسین ګڼل کیږي .
۱۳ م م ۴۴ او ۴۵

د ملي دیموکرات ګوند جرړي او اغیز یوازې کابل کې و چې وروسته یې په ملي کلوپ په نوم شهرت پیدا کړ. د دی ګوند لګښتونه د ښاغلی عبدالمجید

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان زابلی لخوا ور کول کیدل باید وو ایو چې د دې گوند ( ملې کلوپ ) منشې داکتر عبدالقیوم و . د ملي کلوپ د جوړیدو وروسته سردار محمد داود خان او عبدالمجید خان زابلی د یو شمیر تحصیل لرونکو محصلینو په جلب و جذب کې فعاله ونډه در لوده ملي کلوپ چې د صدراعظم په ملاتړ تاسیس شوی و ډیره هڅه وکړه چې د محصلینو د اتحادیې غړي جذب کړي چې هغو ته د چپي افکار و څخه نجات ور کړي . مگر د وخت په تیریدو سره ملي کلوپ د سردار محمد داود خان او دهغو د ملگرو د لاس اله او وسیله شوه چې د سردار شاه محمود خان د سیاست په انتقالو کې له دې فرصت څخه گټه اخستنه او د سیاسي پروپاگند په توگه یې په مقابل لوري کلکی نیوکې کولې د محصلینو اتحاد د نوی فکر د جوړیدو او تربیه له پاره یو ښه جوړښت و . خو د ملي کلوپ د فعالیت او ددې اتحاد یې د ځینو غړو د جذب پواسطه د دې اتحاد یې فعالیت مخه ډپ کړه. شاه محمود خا ن غوښتل چې دوه گوندونو تشکیل شې یو حکومت جوړ کړي او بل د دولت مقابل اپوزیسون نقش ولري .۱۳ م ۴۲

دوی غوښتل چې د شاه محمود خان د حکومت سقوط وکړي او سردار محمد داود خان او زابلی واک ته ورسیږي بل پلوته په هیواد کې دوه گوندي سیستم هغه هم د ملي کلوپ څخه تشکیل شي چې د نورو گوندونو د فعالیت او واک ته د رسیدو مخه ونیسې کله چې ښاغلي ډاکتر محمودی ، غبار او کریم نزیهې ته بلنه ور کړل شوه چې د ملي کلوپ غړي شې هغوي له دې کار څخه ډډه وکړه البته د دې حرکت هغوي د محصلینو د اتحادیې مخالفت ته وهڅول چې دغه مخالفت او حرکت د محصلینو د په ناکامی باندې ختم شو او ملي کلوپ هم د هغو اشخاصو او سیاسي رهبرانو په جلب او جذب کومو چې په شورا کې د دیموکراسۍ پلوي کوله پاتې راغی . د دوی دمخکینۍ طرحې یعنې د وزارتونو په گروپونو باندې د ویشلو په اړه هم اختلاف پیدا شو او ځینو لکه عبدالحی عزیز له خپلو دندو څخه استعفا وکړه ، صدراعظم هم پوهیده چې ملي کلوپ په ظاهري بڼه کې دوستې کوي خو په پټه د حکومت ستنې تخریبوي . ځکه چې د ملي کلوپ د فعالیت په مقابل کې ځینې ستونزي ایجاد کړې تر څو د صدراعظم د کړنلارې په پایله کې عبدالمجید خان زابلی استعفا ته مجبور شو . له ملې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلوپ څخه د عبدالمجید خان زابلی وتل نوموړی سازمان د مالي ستونزو سره مخ کړ او په تدریجي ډول له مینځه تلو په حال کې و خو سردرا محمد داود خان او د هغه د ځینو ملګرو چې لوړې څوکۍ او حتی وزارتونو یې په لاس کې وو د هغو ې نفوذ ورځ په ورځ زیاتیده . تر څو یې شاه محمود خان دې ته مجبور کړ چې سخت ګیري و کړې خوبیا هم شاه محمود خان استعفا ته مجبور شو د سردار محمد داود خان په صدراعظم کیدو سره ملې کلوپ هم پرته له دې چې خپل مرام ته ورسیږي له مینځه ولاړ .۱۳م۴۷

سر دار محمد داود خان چې په ځوانۍ کې د خپل تره سردار محمد هاشم خان سره کار کاوه او دهغه لخوا تربیه شوی و نوموړی هم د هغه (محمد هاشم خان) په څېر با انضباط ، سخت ، مغرور خو د هیواد د پرمختګ سره یې ډیره مینه درلوده . د خپل تره بر خلاف د مال او ثروت جمع کولو ته لیوالـه نه و. نوموړی په اداره کې د ډیر صلاحیت غوښتونکی و. هغې شخصیتونو ته چې د وینا توان او خبرو کولو جرئت یې درلود په خپله کابینه کې ځای نه ورکاوه . هر چا چې بـه دده مخالفت کاوه ، پـر هغـه یـې د مـاجراجوی نـوم ایښـوده . د دیموکراسۍ په دوره کې داسې استدلال کاوه چې وروسته پاتې ټولنه کې د یموکراسې نشې کامیابیدلی ، لومړی باید اقتصادي پرمختګ عملي شې بیا د یموکراسي . ۱۳ـ م۴۸

سر دار محمد داود خان وطن پرست ، صادق او یو باتقوا مسلمان و د عیاشۍ څخه مبرا و پرده د هیڅ ډول عیاشۍ ثبوت نشته ، نوموړ ي د رهبري شوې اقتصاد پلوي و خصوصي پانګه اچونه یې هڅوله . هغه دامتیازاتو مخالف او د والاخضرت لقب یې رسماً لري کړ . ده افغانستان ته د اقتصادي پرمختګ له پاره د اقتصادي پلانونو جوړول رواج کړل .

نوموړي په داسې حال کې د افغانستان صدراعظم شو چې د دوهمې نړیوالې جګړې په پایله کې المان ، جاپان او ایټالیا ماتې خوړلې وه . فرانسې او انګلستان ډیر زیان لیدلې و او خپلې مستمري یې له لاسه ور کړې وې دوو نویو نړیوالو قوتونو (امریکا او شوروي) په نړۍ کې ظهور وکړ . امریکا چې د جګړې له ډګر څخه لرې و ډیره تاوان یې نه ولیدلی، په ناګاساکي او هیروشیما کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتوم د بم د استعمال څخه وروسته جاپان دې ته اړ کړ چې جګړه پریږدي او د جاپان نیول شوي سیمې یې تر فیلیپین پورې ونیولې . شوروي اتحاد هم د یو فاتح په توګه په نیمه اروپا او نیمه کوریا باندې مسلط شو . ۴۱_م ۵۲ او ۵۳

سر دار محمد داود خان د خپلې صدراعظمۍ (۱۹۵۳ _ ۱۹۶۳ ز کال) په لسیزه کې وځلیده . څرنګه چې پر امیر دوست محمد خان او امیر شیر علي خان باندې د برطانوي هند وضعې ، امیر عبدالرحمن خان باندې د مرکزي اسیا وضعې اغیزه کړې وه . پر سر دار محمد داود خان باندري هم د فرانسې وضعې چې د غازي امان الله خان د واکمنۍ پر مهال فرانسې ته د تحصیل په غرض تللی و ډیره اغیزه کړې وه . د ده ملي ارمانونه امان الله خان او دحکومت طرز یې سر دار محمد هاشم خان او امیر عبدالرحمن خان ته ورته و . یعنې په دې مانا چې داود خان یوسمونپال او رزوناکه ټینګ افغان و . خو په پښتو ژبه یې خبرې نه کولې او یا یې پښتو نه شوه ویلې که څه هم نوموړي ټینګ مسلمان و خو د امان الله خان په څیر یې له پیرانو او ملایانو او مذهبي مشرانو سره نه لګیده . هغوی یې د پرمختګ او عصري توپ په وړاندې خنډ ګڼل د خپلو لایقو وزیرانو په مرسته یې یو لړ اقتصادي ، پوهنیزه ، اجتماعي او نظامي سمونونه عملي کړل ، ده دامریکا ، شوروي اتحاد او نورو هیوادونو کریدتونه او هم بې عوضه پولې مرسته ترلاسه کړه . ۴۲ م م ۱۴۹ او ۱۵۰

افغانستان بهرنۍ سیاست د داود خان په هڅو فعال او نړیوال مسایلو کې هغه وخت شریک شو چې د داود خان په هڅو د افغانستان هیئت د باندونک په کنفرانس کې فعال ګډون و کړ . افغانستان ته یې د اسیایې او افریقایې هیوادونو په مینځ کې د روښانه موقف په غوره کولو سره د نړیوالو پام را و ګرځاوه . عبدالرحمن پژواک چې د ملګرو ملتونو په سازمان کې دافغانستان نماینده و د ملګرو ملتونو د سازمان د مکرافون له لاري د افغانستان ملي سیاست ته نړیواله جنبه ور کړه ده د هري نړیوالي پیښې په باره کې خپل نظریات په واضح توګه څرګندول او د ملګرو ملتو په سیاسي کمیسونونو کې یې فعاله ونډه اخیسته . ۴۷ م م ۲۱۷ او ۲۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د صدراعظمۍ څخه د استعفا وروسته هغه زیات وخت ټولنیزو فرهنګي موسسو څخه لیدنه کوله او د هغو ودانیو ساختماني چارې کتلې چې د ه د صدرات پر مهال پیل کړې وې د نسوانو د عالي موسسې څخه یې دلیدنې پر مهال د دې موسسې منسوبیتونه د ده لرې کیدو په اړه ډیر احساساتي غبر ګون وښوده . بل وخت سر دار محمد داود خان غوښتل چې د کابل پوهنتون څخه لیدنه وکړي خو د پاچا لخوا ورته اجازه ور نه کړل شوه .

د ده کور ته د سیاسي او ملي شخصیتونو په تګ را تګ باندې هم بندیز ولګید نوموړي یوازیتوب او تجرید کې ژوند تیراوه خو کله چې ډاکتر محمد یوسف د صدراعظمۍ پر مهال نوي اساسي قانون جوړ شو . د دې اساسي قانون د ۲۴ مادې په اساس د پاچا د کورنۍ ( دهغه دکاکا زامن او نور) غړي دوزارت ، شورا کې غړیتوب او سیاسي ګوند د جوړلو او غړیتوب څخه منع شول د دې قانون تصویب نوموړې نور هم د ګوښه ګیري خوا ته ور ټیل واهه .

سر دار محمد داو خان غوندې یو زړه سواند ، ریښتنی ، ترقي غوښتونکي او آزادي خوښونکي شخص په توګه د دې حالت زغمل ډیر سخت کار و . په دې اړه ښاغلي غوث الدین فایق داسې لیکي : (( احوال ګیري سر دار محمد داود خان را وجیبه ملي و انساني خود دانسته به قبول هر ګونه خطر و عواقب نا ګوار بدیدنش میرفتم . اګر چه بارها با تاکید برایم میګفت اولاد دار هستي نیا که بندي نشې، بانهم میرفتم ، اعتراف شود که سر دار مر حوم مرد باشهامت و پر غرور بود . که در صدرات و ریاست جمهوري هیچ دشمن نیرومند طرف مرز ما را که پس از او جولان ګاه سواران روس و غلامان انګلیس ګردید نداشت ... در زمان حکمر وایې او امنیت در سرا سر مملکت تامین ګوشه و کنار کشور از پاتک و رهزن ها ، خالي موتر هاي ترانسپورتي شب و روز در بین ولایات در ګردش بود نامې از دزد ور هزن برده نمي شد ..... )) ۳۹ م م

د دولت مشر( محمد داود خان ) له هماغه پیل څخه ځان د یو کلک او ځواکمن واکمن په توګه را څرګند کړ او هڅه یې کوله چې دولتي اداري په څیر د هیواد په سیاسي ژوند هم ټینګ واک ولري نوموړي د ۱۹۷۳ ز کال د جولای د ۲۷ دریو فرمانونو په حقیقت کې د نوي جمهوري دولت د بنسټ ډبره کیښوده په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي ډول پارلمان رنگ او د ۱۹۲۴ ز کال د بنستیزه قانون چلښت یې تم کړ د افغانستان د خلق دیموکراتیک گوند په گډون یې د ټولو سیاسي گوندونو فعالیت او د هغوي ور ځپاڼې بندی کړې په ټول هیواد کې یې پوځي حالت اعلان کړ چې دنوي اساسي قانون تر تصویب ( ۱۹۷۷ ز کال پورې یې دوام وکړ . ۴۲ـ م ۱۳۹

ده د جمهوریت په ټوله دوره کې د سیاسي گوندونو فعالیت بند کړ . یوازې یو گوند ( ملي غورځنگ ) چې د ( ۱۳۵۲ لمریز کال کې دنوي اساسي قانون له تصویب وروسته جوړ شو د فعالیت قانوني اجازه درلوده د ملي غورځنگ ( د ملي انقلاب گوند ) جوړیدل سره د افغانستان د ځوان نسل او روڼ اندو د شدید عکس العمل سره مخامخ شول د ملي غورځنگ گوند په جمهوریت کې عملاً درې اړخونه درلودل حکومت هم په دغه دریو اړخونو ویشل شوي و .

ـ د سید عبدالله ، عبدالقدیر نورستاني او غلام حیدر رسولي ډله .

ـ د پوهاند عبدالقیوم وردک او داکتر عبدالمجید خان ډله .

ـ د سید وحید عبدالله او عزیز الله واصفي ډله . ( ۴۱م ۲۴۲

سر دار محمد داود خان د دې گوند په جوړیدو هم ونه توانیده چې خپلو هیلو ته ورسیږي او په هیواد کې ټول پرمختیایي پروگرامونه عملي کړي بالاخره د نړیوالو سیالیو په لړ کې شوروي په مخالفت او په هیواد کې سیاسي گوندونو مخالفت په وجه نوموړی د سیاسي ستونزو سره مخ شو چې بیا نوموړي د هغوي په حل کې پاتې رغی د ده په اند د سیاسي گوندونو د رهبرانو له مینځه وړل به د ده کار اسانه کړي خو دا کار هم ده ته گټه و نه کړه که څه هم نوموړي ، د ځینو گوندونو رهبران بندیان او ځیني فرار ته اړ کړ ، ځان ور ته بریالی ښکاریده خو د افغانستان د خلق دیموکراتیک گوند د رهبري د بندي کیدو سره سم هغوي خپله ترتیب شوې نقشه عملي کړه او د نوموړي واکمنی ته یې د ۱۳۵۷ لمریز کال د ثور په اوومه نېټه د پای ټکې کیښود .

## ـ تېرو تنې:

ـ سردار محمد داودخان یو ملي شخصیت په توگه افغانستان گټو ته وفادار په افغانستان کې درهبري شوي اقتصاد کلک پلوي و هڅه یې کوله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولي چاري دده د لاربښوونو سره سمه پر مخ ولاړې شي ، نوموړي په خپلو کړنو او د اشخاصو په ټاکنه کې يو لړ تيروتنې وکړې چې خپل حکومت يې د سياسي ستونزو او دولت يې د کودتاه ګانو سره مخ کړ . دده هغه تير وتنې چې جمهوري نظام يې له ستونزو سره مخ او رنګ کړ په لاندي ډول دي .

ـ داودخان په خپلې کودتاه سره د يو داسې قانون او قانوني نظام له مينځه يوړ چې په جرګې سره تاسيس شوی اوپه ملي ټاکنو سره تثبيت شوې و . ده په دې ډول قانون او قانوني دولت تر دې حده بې اعتباره کړ چې د هغه په کودتاه او د جوړ شوې نظام پرضدوروسته هم څو کودتاګانې وشوې او په پای کې د ثورد اوومې نېټې په کودتاه سره دده نظام هم له مينځه ولاړ.

ـ سردار محمد داودخان خپله کودتاه د هغو وړو افسرانو پواسطه تر سره کړه چې ډير يې مسکو پلوي او دافغانستان د خلق ديموکراتيک ګوند غړي وو. ده دنوموړي ګوندد پرچم ډلي ته ډيراعتبار ورکړ . د اساسي قانون د نشتوالي له امله پرچميان په امنيتي څانګو کې د قدرت خاوندان شول دوی هڅه کوله چې خپل مخالفين له مينځه يوسي ، د محمد هاشم ميوند وال او خان محمد مرستيال په ګډون د کودتا په پلمه تر ځلويښتو زيات ملي او نظامي شخصيتونه اعدام او بندي کړي. وروسته د اسلام پالونکې ډلې مشر غلام محمد نيازی بندي ا وځينې يې اعدام او نورې د هيوادپريښودلو ته اړ شول. په دې کارد جمهوري نظام سياسي چلند دنيوکوسره مخامخ او خلک په دې نظام باندې شکمن شول .

ـ د محمد داودخان بلـه تېر وتنه د صدارت د وخت ځينو ملګرو ته د ((ضعيف النفس))په خطاب کولو سره شا کړه، يوشمېر جنرالان يې د وخت څخه مخکې تقاعد کړل . نوموړي په دې کار سره خپل پخوانی او ريښتني ملګري له لاسه ورکړل او ځان يې نا توانه کړ . دی پرځان دومره ډاډمن شوي و چې د خپل ورور محمد نعيم او مشر زوی محمد عمر مشوروته يې هم غوږ نه نيوه، هغوی هم تري ناراضي وو. ۴۲-م م ۱۵۳او۱۵۴

ـ په **۱۹۷۵** زکال يې هغه افسران چې په شوروي اتحاد کې تحصيل کړي و ، له پوځ څخه وويستل . تر څو په پوځ کې د افغانستان دخلق ديموکراتيک ګوندې نفوذ کم او ښې اړخي عناصرراضي کړي . په دې کار سره ده ځان يواځې کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پوځ کې د ګوند منځنیو کړیوفعالیت کاوه . ښې اړخو او اسلام پالو په ده اعتماد نه کاوه .

ـ دده بله لویه تیروتنه د نوي اساسي قانون د تصویب وروسته د ملي انقلاب (ملي غورځنګ) د ګوند تاسیسول و . چې د همدې قانون په اساس د نورو سیاسي ګوندونو فعالیت بند شو. ډیرو روڼ اندو او سیاسي ګوندونو د محمد داودخان ددې تصمیم سره مخالفت وکړ په دې کې د سردار محمد داودخان تیروتنه داوه چې نوموړي د شتو ګوندونو د جوړښت او نفوذ څخه خبر و. دخپل ذهن سره سم یې دا پریکړه کړې وه . خو سیاسي ګوندونو د جمهوریت پرضد پراخه تبلیغات پیل کړل ، دې پروپاګند هغه وخت زور واخیست چې ده (داودخان ) د ۱۹۷۵ زکال د نومبر څخه وروسته عملاً ددوو مهمو مسلو (د پښتونستان موضوع او دهلمند د اوبو تړون څخه شاتګ و کړ. ځکه کله چې نوموړي د ۱۹۷۸ز کال د مارچ په پنځمه نېټه له پاکستان بیرته هیواد ته راغی د جمهوریت په سیاسي کړیو کې داسې ویل کیدل چې سردار محمد داودخان دډیورنډ کرښه منلې ده ښاغلي اجمل ختک په دې اړه داسې وایي :((محمد داودخان موږ ته وویل چې جنرال ضیاالحق هغه پښتانه او بلوخ چې دذوالفقار علي بوټو په وخت کې بندیان وو آزاد کړي دي.او تاسې د ضیاالحق تر رهبرۍ لاندې خپل حقوق تر لاسه کولی شی، ما د محمد داودخان ددغه تصمیم سره مخالفت وکړ)). ۴۱ م: ۲۵۴

ـ دسردارمحمد داودخان درې واړه کارونه یعنې د هلمند د اوبو په تړون کې د اسنادو د تبادلې په اړه نرمښت ، د سیاسي ګوندونو د فعالیت بندول او دپښتونستان مسئلې ته شا کول دده غټې سیاسي تیر وتنې ګڼلی شو ځکه داکار د افغانستان د هغه وخت موجودو شرایطو خلاف کړنه وه ، نوموړی ګوندونه دومره پیاوړي شوي وو چې د جمهوریت نه مخکې یې تقریباً (۵) صدراعظمان له ستونزو سره مخ او استعفا ته اړ کړي وو.

ـ سردارمحمد داودخان داسلامي نهضت په مقابل کې هم داسې دریځ غوره کړ چې هغو یې حتمي عکس العمل او نظامي پاڅون ته اړ کړل . تر څو ددې رژیم په مقابل کې نظامي عملیات تر سره کړي. ښاغلي ګلبدین حکمتیار په دې اړه داسې نظر لري:(( د داودخان کودتاه په حقیقت کې دکمونستانو کودتاه وه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

روسانو په وينا او مرسته ترسره شوې وه ،د کمونستانو لومړی ماموریت د هیواد د اسلامي نهضت ځپل دي که مونږ او ټول افغان ولس دا حقايق درک نه کړو او له دې خطرناک وضعيت سره د مقابلې لپاره مناسب اقدامات ونه کړو شايد له داسې عواقبو سره مخ شو چې چاره به يې ممکن نه وي .....» ۱۸ م: ۲۴۲

ښاغلي حکمتيار چې د اسلامي نهضتت د رهبرۍ غړی و او په وينا کې د داودخان د وخت سياسي وضعي ته اشاره کوي ( سره له دې چې روسانو مستقيماً په دې کودتا کې ونډه نه درلوده. خود پرچميانو موجوديت او تر کودتاه وروسته په حکومت کې د هغوې زيات نفوذ خلک شکمن کړې وو.

_ بله تير وتنه يې ، دا بولو سره ددې چې د ولسمشرۍ پر مهال د پارلماني مبارزې له پاره ښه سياسي ، ټولنيز او امنيتي شرايط موجود وو. خو ده چاته د کانديدو او انتخاباتي مبارزې اجازه ورنه کړه. د واليانو په مرسته يې د ولايتونو څخه استازي وټاکل او د جرګې پر مهال له ده بل کانديد هم موجود نه و . ده سياسي لاره بنده کړه او د ګوندونو په ځپلو يې پيل و کړ . پاکستان د همدې اسلامي نهضت له غړيو څخه چې هلته يې پناه اخيستې وه . د داود خان په مقابل کې ډيره ګټه واخېسته او د شوروي اتحاد د يرغل په مقابل کې يې د همدغو ر هبرانو په مرسته ستر اسلامي ځواک جوړ کړ .

_ ده د کودتاه په لومړيو وختونو کې ښاغلي ميوندوال د کودتاکولو په توربندې او په پوځ کې لوړ پوړي افسران بنديان او يا له دندو څخه لرې کړل ، او دواک په ورستيو وختونو کې هغو افسرانو چې له ده سره يې په کودتاه کې مرسته کړې وه خو په شوروي اتحاد کې يې تحصيل کړی و له پوځ څخه لرې کړل .په دې کارسره ده پوځ کمزوري او خپل ځان يې ناتوانه کړ . .

_ د سردار محمد داودخان دا هڅه چې د شوروي اتحادله اقتصادي نفوذ څخه ځان خلاص کړي اسلامي او عربي هيوادونوته يې مخه کړه.عربي هيوادونه د افغانستان څخه لري وو ، دغو هيوادونو تخنيک او تکنالوژي نه درلوده ، او هم يې د پانګې اچونې سره مينه نه درلوده له دې امله نوموړي په دې پلان کې پاتې راغی . خو شوروي اتحاد يې په خپل ځان بد ګمانه کړ. په پای کې دده تير وتنې په لاندي ټکو کې را لنډوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د محمد هاشم میوندوال وژل دمینځ لارو ملي ،اشحاصو ته په دولت کې ونډه نه ورکول .

ـ په هیواد کې د یو ګوندي سیستم رامینځ ته کول او دنورو ګوندونو د فعالیت بندول او دګوندونو د رهبرانو نیول او بندي کول.

ـ په سرکې د پښتونستان دمسلي پر سر دامریکا او پاکستان سره د اړیکو خرابول او په ا خرکې نر مښت.

ـ د هیواد سیاسي ګوندونو او دشوروي اتحاد نفوذته لږ ارزښت ورکول .

ـ په سلطنتي کورنۍ باندې د باور نه درلودل او له واک څخه د هغوی لرې ساتل.

ـ د خپلو نظریاتو تحمیلول او دحکومت غړوته د انتقاد او دنظر ثرګندولو اجازه نه ورکول.

ـ د میر اکبرخیبر د مړینې په ورځ د مظاهره کوونکو په مقابل کې دشدید عکس العمل نه ښودل

ـ د صدارت د مهال ملګروته شا کول.

ـ په نړیواله کچه د ناپیلیتوب غورځنګ په پیاوړتیا باندې ډیر ټینګار چې دا کار د امریکا د خفګان سبب شو .

ـ د دولت او پوځ په منځنیو پوړیوکې د چپیانو پرېښودل .

ـ په بهرني سیاست کې موازنې نه ساتل یو طرف او بل طرف ته میلان پیداکول.

ـ اقتصادي فعالیتونو او کرنلارو ته د سیاسي مسلو په پرتله زیات اهمیت ورکول.

ـ د۱۹۷۷ زکال په اګست کې د اریانا پیلوت انعام الحق ګران او د همدې کال په نومبر کې د پلان وزیر علي احمد خرم اود ۱۹۷۸ زکال په اپریل کې د میر اکبر خیبر ترور ، د پېښو د عاملانو نه پیدا کول او په پورتنیو پېښوکې د بهرنیو هیوادونو لاس لرلو ته کلکه پاملرنه نه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سردار محمد داودخان شهادت او دجمهوریت ړنګیدل:

سردار محمد داودخان د افغانستان د خلق دیموکراتیک گوند د خلق او پرچم د اړخونو په یو ځای کیدو خپه او په غصه و. خوسردار محمد نعیم خان دا کار یوه بد مرغي ګڼله کله چې یې د ۱۹۷۷ زکال د سپتمبر په میاشت کې یوه ورځ دحکومت په کورنیو او بهرنیو کړنلاروتبصره کوله وویل :(( چې جواري مې وبایلله ، مونږ خپل چال وچلا وه خو مو بایلو د ، ژر یا وروسته به یوورکې اقلیت واک تر لاسه کړي او د وسلې په زور به په ټولو خلکو حکومت کوي)) ۳۷_م: ۲۷۷

د جواری ځخه د هغه مطلب د داود خان د صدارت پرمهال د داود خان او شوروي اتحاد تر مینځ دنږدې اړیکو ټینګول او د هغوی ځخه د ډیرې مرستې اخېستل و . د ۱۹۷۷ ز کال د اګست په میاشت کې پیلوټ انعام الله ګران او د۱۹۷۸ زکال په اپریل کې د میراکبر خیبر وژنې چې د پرچمیانو د رهبری غړي وو. هیڅوک یې د وژنې د جرم په تور ونه نیول شو ل.خو د خیبر د وژنې په اړه مختلف نظریات موجود دي ځینې داسې ګمان کوي .چې نوموړي د حفیظ الله امین په امربه صادق عالمیار وژلی وي . خو د افغانستان د خلق دیموکراتیک گوند رهبری د داود خان استخباراتي دستګاه (د ملي مسئونیت اداره) د خیبر د وژنی مسئول بله. **ښاغلي لاله جان شیر زي په دې اړه داسې نظر لري چې خیبر د شوروي اتحاد د سفارت د اته شي د یوه غړي له خوا ووژل شو چې د ثور له کودتاه وروسته په فرانسه کې د شوروي اتحاد د سفارت د اتیشیې غړي په توګه مقرر شو. (۲۷)

ښاغلی محمد حسن کاکړ په دې اړه داسې نظر لري او لیکي:(( دجمهوري نظام وروستي ډیر اثر ناکه ترور د خلق دیموکراتیک ګوند تیوري پوه میر اکبر خیبر ،چې د ۱۳۵۸ لمریز کال د وري د میاشتي په ۲۸ مه (د ۱۹۷۸ زکال د اپریل په ۱۸ مه ) نېټه د کابل ښار د ولتي مطبعي ته مخامخ سړک کې د مازیګر او ماښام تر مینځ له یو روان روسي جیب نه پرې ډزي وشوې . دغه ترور د پرچم ګوند د ننه په اصل کې د خیبر او کارمل تر مینځ د اختلاف نتیجه وه چې په غالب احتمال د

---

* ښاغلي داکتر لالاجان شیر زی د محمد حسن زوې د ننګر هار ولایت دشیر زادو د ولسوالي د تو تو اوسیدونکې چې په ۱۳۵۲ لمریز کال د جمهوري ګارد په شفاخانه کی د سر طبیب په توګه مقرر او د۱۳۵۷ لمریز کال د ثور د میاشتي تر اخره یې هلته دنده اجرا کوله . اوس ( ۱۳۸۸/۱۱/۹ لمریز کال)نوموړي د ننګرهار د کانال د ریاست مربوط د هډې د فارم په کلنیک کې دنده لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارمل د نږدې ملګري نوراحمد نور او امتیاز حسن لخوا عملي شوي و. » ۴۲ـ م:
۱۴۳

د افغانستان د خلق دیموراتیک ګوند مرکزي کمیټې غړې ښاغلی عبدالقدوس غوربندي د ښاغلی محمد حسن کاکړ سره په یو نظر دی او لیکې: « د خیبر په ترورکې داود او د هغه استخباراتې دستګاه ګډون نه لري که له دې بې ځایه او بې بنسټه تورونو څخه تېر شو او په دې هکله حقیقت وپلټو ډیر دلیلونه شته چې د ببرک (کارمل) د ناسمو معلوماتو له مخې میر اکبر (خیبر) د کی ـ جې ـ بي له خوا ترورشوی دی چې ددې کار یو شمېر څرګند دلیلونه دادي.

۱: بارق شفیعي ، سلیمان لایق او زه (عبدلقدوس غوربندي) شاهدان وو چې ببرک کارمل ، د نور احمد (نور) په واسطه میراکبر (خیبر) ته ګواښوونکې خبرتیا وې لیږلې وې.

۲: زه عبدالقدوس غوربندي) د خیبر په کور کې وم . خیبرنورو ته وویل : کارمل ګواښ راته کړی دی . ورته وواياست چې زه له مرګه نه ویریږم او په رسمي غونډو کې له هغه سره تر یو چت لاندې نه کینم.

۳: د خیبر د ترور په شپه کارمل ، نور محمد (تره کي) ته ویلي و څوک چې ډبل لو به کوي سزا به یې همدا وي . او دا کار د کارمل ځکه دی چې کي ،جي ، بي د کارمل، واک ته درسیدو له پاره نړیواله ستونزه را ولاړه کړه. او خپل ټول نظام یې په قمار کې کیښود . د یو کس ترور ورته اسانه و

۴: کارمل د خیبر د جنازې پرمهال په مکارۍ سره خواشیني څرګندوله.ځکه ده د اوږدې واکمنۍ پر مهال یو ځل هم د هغه کلیزه ونه لمانځله .

۵: د خیبر کورنۍ هم په دې پېښه کې د کارمل او دهغه د پلویانو لاس بولي .

۶: د خیبر تر ترور یوه ورځ وړاندې د خیبر سره په وزیر اکبرخان کې ګرځیدم هغه (خیبر) وویل : زه نه پوهیږم کارمل د کوم میخ په زور الوزي او په دیر ښه او نا متعارف ډول اقدام او سوچ کوي چې په دې ډول به وکړی شي مونږ د ځان تابع کړي چې هیڅکله به هم داسې ونه شي ..۳۸ـ م۸۹او۹۰

ډیر اسناد په دې شاهدي ورکوي چې میر اکبر (خیبر) د ببرک (کارمل)د توطیې په پایله کې ترور او داودخان یې د لوې سیاسي ستونزې سره مخ کړ.چې دغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتې کيدلو او عکس العمل ښودلو دواړو په پايله پوهيده خو چپ پاتې کيدل ورته گران و. نو ځکه يې شديد عکس العمل وښود.

د خيبر د جنازې پر مهال له حفيظ الله (امين) پرته نورو ټولو مشرانو د نور محمد (تره کي) او ببرک (کارمل) په شمول وينا وکړه. په ښکاره يې د خيبر دوژلو تور په دولت ولگاوه او خپلو ملگرو ته يې وويل: چوپتيا ماته کړئ، تر څو د محمد داودخان دا مطلق العنانه رژيم نسکور کړئ. د خيبر له ښخولو وروسته حکومت په مظاهرو بنديز ولگاوه او د عدلي وزير او لوی څارنوال وفي الله (سميعي) څخه يې وغوښتل چې دافغانستان د خلق ديموکراتيک گوند دهغومشران بندي کول او محاکمه کول چې د خيبر په جنازه کې يې د دولت پر ضد وينا کړی جايز دي او که نه هغه يو اونۍ وروسته داود خان ته خبر ورکړ چې د نوموړي گوندمشرانود قانون مخالفت کړي دی د هغوی نيول او محاکمه جايز دي. سردار محمد داودخان د هغو د نيولو په خطر پوهيده. خو داچې د افغانستان د خلق ديموکراتيک گوند رهبري ډېره مغروره شوې وه او داودخان ته له ځان پرته د بل قوت زغمل ډير گران کار و. ډير ژر يې د لوي څارنوالی (جنرال وفي الله سميعي) د دفتر د څرگندونو وروسته، حکومت پريکړه وکړه چې د افغاستان د خلق ديموکراتيك گوند مشران محاکمې ته تيار کړی شي. دهغو د نيولو سندونه تيار شول د۱۹۷۸ز کال د اپريل (۲۲) شپه يو پر بل پسې پرته له حفيظ الله امين نور ټول ونيول شول. (۳۷-م: ۲۳۰)

حفيظ الله (امين) چې د خيبر په جنازه کې وينا نه وه کړې آزاد پاتې شو. شايد دا کار يې د گوند په دستور کړې وي که نه نوموړی د گوند تکړه وينا وال و. ده دداودخان له غندلو څخه ډډه وکړه. حفيظ الله (امين) د نظامي عملياتو نقشه ترتيب کړه او دستوريې ورکړچې د گوندد رهبرۍ د بندي کيدو په صورت کې بايد هغه عملي شي. حکومت نوموړی هم د ۱۹۷۸ ز کال د اپريل په ۲۷ نېټه بندي کړ. دده په بندي کيدو سره د افغانستان د خلق ديموکراتيك گوند رهبران ټول بنديان شول. دولت ددوې د محاکمې اعلان وکړ د دولت لخوا د افغانستان د خلق ديموکراتيک گوند رهبرانو د محاکمې د اعلان سره سم د ۱۳۵۷ لمريزکال د ثور په اوومه نېټه او ۱۹۷۸ زکال د اپريل په ۲۷ نېټه د غرمې نه مخکې ۱۱ بجې او ۴۵ دقيقې لومړنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټانګ د محمد اسلم (وطنجار) په لارښوونه د دفاع په وزارت فیر وکړ . ده پسې جوخت محمد عمر په ګارد باندې فیرونه پیل کړل د غرمې ۱۲ بجې یې د دفاع وزارت ونیوه. ۳۷ م ۲۳۲.

غلام حیدر (رسولي) د اوومې او اتمې فرقې د سوق په خاطر د دفاع وزارت له شاته دروازې ووت او په جیپ موټر کې یې قرغی دفرقې په لور حرکت وکړ .کله چې ددفاع وزیر غلام حیدر (رسولي) او لوی درستیز عبدالعزیز صحنې څخه وتښتیدل او د قرغې فرقې ته ورسیدل ، هلته وضعه بدله وه ډېر ژر د ریشخورو خواته و خوځیدل په لار کې ونیول شول وروسته ووژل شول. ۳۳م ۲۹۶.

د ۱۳۵۷ لمریز کال د ثور په اوومه نېټه د سهار اوه بجې ولسمشر محمد داود دکور په دوهم پوړ کې له خپلې کوټې څخه لاندې راغې د امانی لېسې ته مخامخ د کور په وره کې یو حکومتي موټر په بېړه را تاو شو او ودرېد . یو اروپايي ډوله څلویښت کلن سړی ترې را کوز شو ساتونکي مېلمه وپېژانده او دننه یې پرېښود دا د کورنیو چارو وزیر عبدالقدیر و. ولسمشر او وزیر دواړه د مېز تر شا کښېناستل او پر کومه مهمه موضوع غږېدل خو اصلي موضوع د افغانستان د خلق دېموکراتیك ګوند د رهبرانو نیول وو ، دکورنیو چارو وزیر ولسمشر ته د امنیتي حالاتو له رپوټ ورکولو وروسته په بېړه دخپل موټر په لور ولاړ . د سهار اته بجې او پنځلس دقیقې ولسمشر د چایو غوښتنه وکړه څه وخت ډوډۍ لړ کوچ او مربا ور وړل شول ، سباناري یې وکړ . کار ته د تللو له پاره چمتو شو ، د سهار نهه بجې او لس دقیقې ولسمشر ابي درېشي اغوستې ، همېشني بکس یې په لاس کې وه د ارګ لور ته د کور له کوچنۍ دروازې ووت ، د ګارد قومندان او یاور یې هر کلی وکړ، خو ده خبرې ونه کړې او موټر ته وخوت د نورو ورځو په خلاف پلې لاړ نه شو .۱۲ م م م ۲۷ ، ۲۸ ، ۲۹

کله چې سردار محمد داودخان د کابینې د غونډو تالار ته ننوت ټول وزیران مخکې له مخکې هلته ټول شوي وو . دوه وزیران نه وو راغلي یو د فوایدعامې وزیر غوث الدین فایق پکتیا ته تللي و ، او غلام حیدر رسولي په قطعاتو کې د خوښیو د غونډو په سمبالولو بوخت و چې د ده په نوښت د خلقي او پرچمي مشرانو د نیوولو په ویاړ جوړې شوې وې . د کابینې غونډې به عموماً د سی شنبې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ورځ دایرېدې خو وړمه ورځ د کابینې په غونډه کې ټول مسایل ونه څېړل شول ، د پنجشنبې ورځې ته وځنډول شو. د کارګرو په قانون بحث کېده . لومړی د کورنیو چارو وزیر عبدالقدیر ته وار ورکړل شو چې دنیول شویو ⊗ کسانو ( خلقي او پرچمي مشرانو) د نیونې او په ښار کې د امنیتي حالاتو په اړه معلومات ورکړي . هغه وویل چې دېري تورن نیول شوي او د کابل ولایت په یوه خونه کې ساتل کېږي د سهار لس بجې او دېرش دقیقې د کار او کارګر قانون په موادو بحث کېده . د دود په خلاف د جمهوري ګارد قومندان جګړن صاحب جان په بېړه غونډې ته را ننوت او د ولسمشر په غوږ کې یو څه وویل او د پلچرخي څخه د ټانګونود حرکت په اړه یې پوښتنه وکړه هغه ورته وویل : پوښتنه وکړي چا راغوښتي دي ؟. دسهار لس بجې او پنځه ځلوېښت دقیقې د معمول په خلاف د ګارد دوه نور افسران په بېړه د ولسمشر خواته راغلل او ورته یې وویل ټانګونه بې له دې چې لارښوونو ته ځواب وواېې دښارلورته پر مخ راځي.۱۲ ــ م ۳۱

د غرمې دولس بجې وزیرانو ارګ ته نږدې د چاودنې یو دوروند غږ واورېده . د غونډې مشرې وحید عبدالله کوله هغه وزیران له حالاتو خبر کړل .چې د څرخې پله څخه څو ټانکونه په خپل سر را وتلي او ښار ته را رسېدلي دی. دولس بجې او پنځلس دقیقې د راډیو افغانستان رئیس د لارښوونې غوښتنه وکړه . هدایت ورکړ شو . چې په یکه توت کې دراډیو پر خپروو نکو دستګاوو بریښنا پری کړي. دولس بجې او دیرش دقیقې ولسمشر غونډې ته را ستون شو . ولې غونډه په خپله خرابه شوې وه . او ګډونکوونکی ډلې ډلې شوي وو او خپل منځي خبرې کوې، یوه بجه وزیرانو ته ډوډې راغله خو هیچا ډوډۍ ونه خوړه، د ماسپښین یوه بجه او دیرش دقیقې د داود خان په غوښتنه د هغه کورنۍ ټول غړي یعنې زامن، لوڼې ، لمسیان د سردار محمد نعیم خان د کورنۍ د غړو په ګډون ګلخانې ته راوستل شول . دوه بجې محمد داود خان د نورو قطعاتو سره د اړیکو ټینګولو کوشش کاوه خو د مازیګر درې بجې کودتا کوونکو د مخابراتو د مرکز دروازې والوزولې او له ارګ سره یې د مخابراتو اړیکې پرې کړې . د مازیګر درې بجې او

⊗ ¤ کورنیو چارو وزیر عبدالقدیر د کودتاه په دوهمه ورځ په ټپي حالت د کودتاه د افسرانو لاس ته وراغي او هماغی ورځ په مابنام په روغتون کې مړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لس دقیقې شل زر پوش ګاډي د داود خان په پلوۍ کابل راډیو ته نږدې شول . د کودتا کوونکوله خوا په دې بهانه چې دوی هم د هغوی ملګرې دې هغوی ودرول او تسلیم یې کړل . د مازیګر څلور بجې له راډیو څخه د لومړۍ اعلامې په خپریدو سره یې د داود خان د رژیم سقوط اعلان کړ. د مازیګر پنځه بجې داود خان د ګلخانې له دوهم پوړ څخه لاندې راکوز شو تر څو خپل وزیران وګوري ، پنځه بجې او پنځوس دقیقې داود خان همغسې له خپلو وزیرانو سره په خبرو بوخت و . چې اشپز ډوډۍ راوړه داود خان یو ټوټه ترې واخیسته . د کابل له راډیو څخه محمد اسلم وطنجار په پښتو او عبد القادر په دري ژبه د اعلامیې متن لولې ، د شپې اته بجې د بی بی سي راډیو د کودتا خبرخپور کړ، نهه بجې دوې بیاهم راډیو ته زنګ وهې د هغې خوانه د نا اشنا کس له خوا ځواب راځي چې حالات سم دي . دوی پوه شول چې راډیو تسلیم شوی ده ، نهه بجې د ریشخور قرغی د فرقې د تسلیمۍ خبر هم اعلانیږي .د ماخوستن نهه بجې او څلوېښت دقیقې وحید عبد الله ولسمشر ته وړاندیز کوي چې پلازمېنه په موقت ډول ترك او قندهار ته ولاړ شي ، مشر زوی مخالفت کوي خو سردار محمد نعیم خان وایې چې دا کار باید مخکې شوی وای . ۱۲_م م۳۵ او۳۶

کله چې ولسمشر( محمد داودخان ) د قندهار په نبت د موټر په لور حرکت وکړ. ارګ ته له مخا مخ جو مات څخه پرې ډزې وشوې ، نوموړی بیر ته ګلخانې ته ننوت ، د شپې لس بجې او پنځلس دقیقې له بګرام څخه یوه بم غورځونکې الوتکه راغله غوښتل یې چې ښارته راتلونکې ټانګونه بمبار کړي خو په مخابره کې سره پوه شول چې د دوی ملګرې دي . دوی ( د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند نظامی رهبري ) د شپې تر ۱۲ دولس بجو پوري د مرکز ټول قطات په خپله و لکه کې راوړل . ۱۲_م م۳۸ او ۳۹

د ثور اتمه د شپې یوه بجه او شل دقیقې وې چې جګړن صاحب جان خپل پوځی کالي وایستل او په ملکی دریشۍ کې ولسمشر ته ورغی او ورته یې وویل نور څه نشي کولای هغه ( داودخان ) ور ته وویل چې تمانچه ورکړه او ځان وژغوره ، د ثور اتمه د شپې له دوه بجو او دېرشو دقیقو څخه تر دریو بجو پورې وزیران د ګلخانې په دهلېز کې ګرځېدل ، ولسمشر په لاندي پوړ کې له خپلو بچیانو سره ناست دی خو وزیران نه ور تلل . د ۱۳۵۷ لمریز کال د ثور په اتمه نیټه د سهار شپږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بجي د گارد پاتي افسران او عسکر کودتا کوونکو ته تسليم شول . په داسي حال کې چې لاسونه يې پورته وو . دوی د پښتونستان څلور لارې ته ورسول شول . نورمحمد تره کي د ۴۴۴ کوماندو قطعي څخه و غوښتل چې ارگ ته ورشي او داود خان ونيسي . د ثور اتمه د سهار شپږ بجې او پنځه لس دقيقې د کوماندو د ۴۴۴ قطعې يو بلوک افسران گلخانې ته ورسيدل وزيران په دهليز کې وو يو افسر امر وکړ . څوک چې وسله نه لري دې خوا دې راشي ، بې وسلې وزيران د دوې خواته ورغلل . يو يو له گلخانې څخه وايستل شو او څنگ ته د تيلفون په خونه کې بنديان شول . سيد عبدالله . عبدالقدير او د ماليې وزير پاتې شول ، د ماليې او دکورنيو چارو وزيرانو دواړو وسلې درلودې ځکه پاتې شول ، د ثور اتمه له شپږ نيمو بجو څخه تر اوو بجو پورې د کوماندو بلوک ،ولسمشر پسې راغی ، د تسليمۍ غوښتنه يې ترې وکړه ، انتظار اوږد شو ، د گلخانې په مانۍ کې چوپتيا درنده وه ډزو چې له يوې خوا نه واوريدل شوې ماته کړه . د ۱۳۵۷ لمريز کال د ثور په اتمه نېټه د سهار اوه بجې او ديرش دقيقې راډيو په يو بيړني خبر کې وويل : سردار محمد داود خان د ليوني مقاومت په نتيجه کې له مينځه ولاړ . ۱۲_م۴۲

ډير اسناد داسې شاهدې ورکوي چې داود خان د کوماندو د ۴۴۴ قطعې افسر امام الدين ساپي له خوا ووژل شو . خو د پېښې يو عيني شاهد ښاغلي لالا جان حق شناس د گارد د دوهم کنډک د لومړي ټولي قومندان و داسې وايې چې امام الدين ساپي له داود خان څخه د تسليمۍ غوښتنه وکړه هغه پرده فير وکړ ، زخمي شو او پر ځمکه پريوت له ده سره يو خلقي ملگري ببرک نومي ( چې د گارد د اور وژنې ( اطفايې ) په بلوک کې يې دنده اجرا کوله ،او وروسته يې د نور محمد تره کې د ساتونکو په ډله کی دنده لرله کله چې نور محمد تره کی له مينځه ولاړ ببرک هم د هغه دمخالفينو لخوا ووژل شو) موجود و . د امام الدين په لويدو سره هغه پر داودخان فيرونه وکړل او داودخان يې له مينځه يوړ . (۱۲)

ښاغلي داکتر لالاجان شيرزی په کودتاه کې د گارد د زخميانو شمېر (۵۳) تنه ښيي چې ده دقوای مرکز روغتون ته معرفي کړې دی (۲۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دي ترتیب سره داود خان له مینځه ولاړ او نوی سیاسي نظام مینځ ته راغی ،د داود خان د رژیم ړنګیدل د افغانستان د اوسنیو (۱۳۸۸ لمریز کال)د پیښنو سره مستقیم تړاو لري . د ۱۳۵۷ لمریز کال د ثور د اومې نېټې د کودتاه پر مهال د جمهوري ګارد تشکیل او مسئولین په لاندې ډول وو:

۱: جګړن صاحب جان د ګارد قومندان .

۲: جګتورن عبدالرحیم شادان د پیژند آمر.

۳: جګتورن عبدالحق علو مي د ګارد د کشف آمر .

۴: تورن محمد هاشم وردک د کشف معاون .

۵ : جګړن محمد ذاکر حسین د وسله پالي او تخنیک آمر .

۶ : جګړن محمد سرور خان چپرهاری د ګارد د لومړي کنډک قومندان .

۷: جګتورن محمد عزیز حساس د ګارد د لومړي کنډک ددوهم ټولي قومندان.

۸: جګتورن غلام رباني وردک د ګارد د لومړي کنډک ددوهم ټولي قومندان.

۹ : جګتورن محمد نادر خان د ګارد د لومړي کنډک ددریم ټولي قومندان .

۱۰ : جګړن محمد عزیز خان د ګارد د دوهم کندک قومندان.

۱۱: تورن لالاجان ځاځی حق شناس د دوهم کنډک د لومړي ټولي قومندان.

۱۲: جګتورن محمد ظاهر د ګارد د دوهم کنډک ددوهم ټولي قومندان.

۱۳ : جګتورن محمد صدیق د ګارد د دوهم کنډک د دریم ټولي قوماندان .

۱۴ : جګتورن جبارخیل د ګارد د دوهم کنډک د ماشیندار ټولي قوماندان .

۱۵ : جګتورن اقا محمد د ګارد د مخابري آمر .

۱۶ : تورن عبدالمجید د اطفایې د بلوک قوماندان .

۱۷ : جګتورن فضل احمدد انظباط د بلوک قوماندان .

په هر ټولي کی دري ، دري تنه د بلوک قوماندانان وو . د هر ټولي دمسئولیت ساحه معلومه وه

خو ښاغلی عبدالمجید باز د محمد داود خان یاور ، بازمحمد د ولسمشر ناظر او لومړی یاور یې جنرال جان محمد سالم و . (۱۲)

د هغو تعرض کوونکو قوتونو شمېر او ترکیب چې د ۱۳۵۷ کال په وسله وال پاځون کې یې ونډه اخستې وه په لاندې ډول د ي. د وسله وال پاځون د پېل عمومی مسئول د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د مرکزی کمیټې غړی حفظ الله امین و .

(c) ketabton.com: The Digital Library

| شمیره | د قطعې نوم | د ګډونکو افرادو شمیر | د محاربوي او زرهپوش ټانکونو شمیر | د طیارو شمیر | د مختلفي توپچي وسایطو شمیر | قوماندانان او مسولین |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۴ او ۱۵ زغره واله لوا | ۴۰۰ تنه | ۲۰ عرادی ټانکونه ۲۰ عرادی محاربوي ماشینونه ۲۰ عرادی زرهپوش | ۰ | | جګړن محمد اسلم وطنجار جګړن محمد رفیع |
| ۲ | ۸۸ توپچی لو ا | ۳۰۰ تنه | ۳۰ D_-۳ M توپونه | ۰ | لاس لرنکښتوپونه | جګړن خلیل الله |
| ۳ | کوماندو ۴۴۴ قطعه | ۵۰۰ تنه | ۱۰ عرادی ټانکونه ۱۵ عرادی زرهپوش | ۲۶ باله سو ۲۲ او میک ۲۱ | | جکتورن محمد یعقوب |
| ٤ | د بګرام شکاري غنډونه | ۱۰۰ تنه | ۰ | | | عبدالقادر پیلوټ |
| ٥ | ټول | ۱۳۰۰ تنه | ۷۰ عرادي B M R ۱۲۵ عرادي زرهپوش | | ۴۰ ضربه | |

# په کابل کې د دولت دفاعي قطعات

| شمیره | د قطعې نوم | ګډونکوونکېپرسوتل شمیر | د محاربوي او زرهپوش تانکونو شمیر | د مختلفو توپونو شمیر | قوماندان او مسئولین | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | دجمهوري ګارد لوا | ۱۵۰۰ تنه | ۱۰ عرادي | ۲۲ میله هاوان ۹ میله راکت | جګړن صاحب جان | |
| ۲ | د ریشخور فرقه | ۵۰۰۰ تنه | ۳۱ عرادي | ۱۲ ضربه اوبوس | تورن جنرال محمد نظیم | |
| ۳ | د قرغې اتمه فرقه | ۵۰۰۰ تنه | ۲۰ عرادې زرهبوش | | | |
| ۴ ۵ | د قول اوردو | | ۲۰ عرادې زرهپوش | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | مستقل قطعـــــات ، انظباط، | ۱۰۰ تنه | | | | |
| ۷ | پراشـــــوت اونور | ۱۲۵۰۰ | ۷۲ عرادې تانگونه<br>۲۰ عرادې زرهپوش | ۲۴ ضـــــربه اوبوس | | |

دو لتې قوتونـه د ترکیب او کمیت پـه لحـاظ د کودتـاه کوونکو څخه ډیر زیـات د تخنیک او شمیر پـه لحـاظ پـه نـا مسـاوي توگـه یو دبـل پـه مقابـل کې ولاړ وو. کـه چېرې مدافع قوتونـه پـه ښـه ډول سوق او اداره شوې واې. دوی تـوان در لـود چې تعرض کوونکو قوتونو ته ماتې ورکړې. خو باالمقابل تعرض کوونکو وسله والو د ښـه تاکتیـک او ادارې څخـه کـار واخېسـته د مهمـو او کلیـدي ځـایونوېې لکـه جمهـوري ریاسـت ارگ ، د دفـاع وزارت، محـل چنـار( دهـوایې اومـدافع هـوائې قوتونو د سوق او ادارې مرکز)، د مخابراتې سیستم فلج کول، دافغنستان د راډیو نیول وو، دغو تاکتیکونو ته بیا هم په لاندي ډول اشاره کوو.

- دزر هي قوتونو منظم کار ول او د توپچي قوتونو سره د هغوی هماهنگ کول.
- د طیارو پو اسطه د ټانگونو د تعرض ملاتړ او حمایه کول.
- په رڼا ورځ یو ناڅاپې د بریښنا په څیر تیزد حملې د تاکتیک کار ول.
- د مقابل لوري غافل ساتل .
- د مقابل لوري بي رحمانه ټکول او هغوی ته د موقع په لاس نه ورکول تر څو چې د احتیاطي قواو څخه ددوي مقابل کی استفاده ونه کړي. ۳۵ـ م ۱۳۰

د ۱۳۵۷ لمریز کال د ثور د اوومي نیټې د وسله وال پاڅون اساسي، نظامي څیري عبارت دي له .

ـ ډگروال عبدالقادر پیلوټ دهوایي قوا و رئیس ارکان (خلقي)په شوروي اتحادکې تحصیل کړي و .

ـ جگړن محمد اسلم وطنجار پـه څلورمـه زغـره وال قـوا کـی د کنـډک قومانـدان (خلقي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

- جگړن محمد رفیع د ځلورمي زغره والې قوا رئیس ارکان او ددي قوا و سر پرست(پرچمي)
- جگړن شېر جان مزدور یار په ځلورمه زغره واله قوا کې د کنډک قوماندان (خلقي).
- جگتورن فتح محمد افسر د ځلورمي زغره والې قوا ټانکست (خلقي)، په شوروي اتحاد کې تحصیل کړي و.
- تورن محمد داود عزیز په ځلورمي زغره والې قوا کې د ټولې قوماندان.
- جگړن خلیل د ۸۸ توپچي لوا رئیس ارکان (پرچمي).
- جگړن اسدالله سروري د هوایي قواو افسر (خلقي)، زده کړه په شوروي اتحاد کې.
- جگتورن سید داودتړون د هوایي قوا د مترلوژی مشر (خلقي)، تحصیل په شوروي اتحاد کې.
- سید محمد گلاب زوی د هوا یي قواو میخانیک ( خلقي ).
- جگړن نظرمحمد پیلوټ د هوایي قواو افسر ( خلقي ) په شوروي اتحاد کې تحصیل کړي و .
- جگړن غوث الدین پیلوټ د هوایي قواو افسر ( خلقي ) په شوروي اتحاد کې تحصیل کړی و .
- تورن اسد الله پیام د جمهوري گارد د مخابري آمر ( خلقي ) په شوروي اتحاد کې تحصیل کړی و .
- جگړن گل اقا د جمهوري گارد د اپراسیون آمر( پرچمي)، په شوروي اتحاد کې د تحصیل کړی و
- جگړن عبدالحق علومی د جمهوري گارد افسر( پرچمي)، په شوروي اتحاد کې تحصیل کړی و
-تورن مهمند د ۴ ځلورم زغره والې قواو افسر ( خلقي ) په بهر کې تحصیل کړی نه و
- تورن عمر د ځلورمې زرهې قواو افسر ( پرچمي ) په بهر کې تحصیل نه وه کړی .
جگتورن محمد یعقوب دکوماندود ۴۴۴ قطعې رئیس ارکان ( خلقي ) په شوروي اتحاد کې تحصیل کړي و

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ لومړی بريدمن امام الدين د كوماندو د ۴۴۴ قطعې افسر (خلقي) په شوروي اتحاد كې تحصيل كړي و
ـ جګړن محمد امين د زرهدارو قواو افسر ( خلقي ) ،د هيوادنه بهر يې تحصيل نه و كړي .
ـ جګړن عبدالحق حمدي د هوايي قوا ميخانيک ( خلقي ) په شوروي اتحاد كې تحصيل كړی و (۳۵ـ م م ۱۳۰ او ۱۳۱ )
ـ د دورې په مقابل كې د پوځ يو شمېر افسرانو په مېړانه او داود خان ته په وفادارۍ سره مقابله كوله چې د ګارد قوماندان صاحب جان خان ډېر مقاومت وكړ .
د دې مقاومت نور افسران عبارت دي له :
ډګرجنرال غلام حيدر رسولي د دفاع وزير او د مركزي قواو قوماندان ، لوی درستيز تورن جنرال عبدالعزيز د قواې مركز رئيس اركان، بريد جنرال عبدالعلي وردګ ، د اوومې فرقې قوماندان تورن جنرال محمد نعيم ، د يولسمې فرقې قوماندان تورن جنرال محمد يونس ، ډګر جنرال محمد موسی د هوايي او مدافع هوايي قوماندان ، بريد جنرال ظريف ميداني د دافع هوا د ۸۸ توپچي قطعې قوماندان ، د حربي پوهنتون قوماندان تورن جنرال شاهپور احمدزي ، د ملي مصئونيت رئيس تورن جنرال محمد اسمعيل، د ژندارم او پوليسو قوماندان بريد جنرال محمد طاهر، د قندهار د پنځلسمې قوا قوماندان تورن جنرال غلام نبي فراهي، د پكتيا د قول اردو قوماندان ډګر جنرال سراج الدين ، د خوست د ۲۵ مې فرقې قو مندان بريد جنرال فرح الدين (سيف)، د هوايي او مدافع هوايي قوا درستيز وال ډګروال عبدالقادر ، دبګرام د هوايي قواو قوماندان ډګروال غلام سخي ، د شينډنډ د هوايي قواو قوماندان ډګروال عبدالرحيم نورستاني ، دښاري انظباط قوماندان جګړن خان محمد ، د خواجه رواش د هوايي مفرزې قوماندان جګړن خان جان مقبل ، د ځلورمې زغره والې قوماندان ډګروال سرور نورستاني(چې شوروي اتحاد ته سفر كړی و) او جګړن محمد رفيع د قوا كفالت په غاړه درلود . (۳۵ـ م م ۱۳۱ او ۱۳۲ )

دغو پورتنيو افسرانو په مېړانه دفاع كوله چې زيات شمير په همدي ورځ شهيدان او كم شمېر يې ژوندي مخالفو وسله والو ته په لاس ورغلل . په دې ترتيب

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۳۵۷ ل کال د ثور د اوومې نیټې وسله وال پاڅون په ډېر کم وخت د ځانګړي تاکتیک ، قوماندې او انظباط په پایله کې بریالیتوب ته ورسید او په هېواد کې نوی سیاسي رژیم اعلان کړ نوی سیاسي رژیم ډېر ژر د شوروي اتحاد ، هند ، مغلستان ، چکوسلواکیا ، مجارستان ، کیوبا ، ویتنام ، ترکیه ، پاکستان ، جنوبي یمین ، یوګوسلاوي او ایران وروسته نورو هېوادونو یو پر بل پسې په رسمیت وپېژنده . او سفیرانو یې نور محمد تره کي ، ببرک کارمل او حفیظ الله امین سره لیدنې کولې او د خپلو دولتونو لخوا یې ورته ډاډ ورکاوه . (۴۸ـ م: ۳۷۹)

د داود خان او دهغه کورنۍ د مړو موندلو له پاره په ۱۳۸۷ لمریز کال کې حامد کرزي یو فرمان صادر کړ او یو کمیسیون یې موظف کړ چې د محمد داود خان مړي ولټوي دکمیسیون غړیو د څلورمې زغره والې لوا شاته کار پیل کړ . هلته له سهار څخه تر مازیګره پورې پنځوس ، شپیته تنه کارګرانو د کمیسیون تر نظر لاندې کار کاوه . هر کارګر ته د ورځې درې سوه افغانۍ ورکول کیدې . خو په کومه ورځ چې د سردار محمد داود او د هغه د کورنۍ مړي و موندل شول ، پر دغې تنخواه سل افغانی نوري هم د انعام په توګه ورزیاتې شوې ، کمیسیون اعلان وکړ که هر چاته د پخوانې ولسمشر د خښیدو ځای معلوم وي دوې ته دې خبر ور کړي ، کمیسیون د پخوانې رژیم له لوړپوړو چار واکو څخه پوښتنې وکړې خو ګټه یې ونه کړه . ځکه هغو ویل نه پوهېږو او خبر نه یو . ځینو افغانانو له بهر څخه تیلفونونه کول یو ځای او بل ځای یې ښوده او کمیسون به هم ځایونه پلټل یوه اونۍ وروسته سردار نادر نعیم خبر راکړ چې له پکتیا څخه د پخوانۍ څلورمې لوا یو افسر ټیلفون کړی او ادعا کوي چې د خښیدو اصلي ځای ورمعلوم دي .: ۱۲ـ- م: ۴۵.

⊗ پاد شاه میر یوه اونۍ وروسته کابل ته راغی ، د کیندنو ځای چې یې ولید . ویې ویل چې تیر وتې یاستې ، تقریبا درې کیلو متره وړاندې یې دصافي غره تر

---

⊗ پادشاه میر د څلورمې لوا افسر چې د قوماندانۍ لخوا ورته د قبرونو د کیندلو امر شوی او د خښیدو پرمهال یوه شوې چې داودخان او د هغه د کورنۍ مړي دي . او مولاګل د کلي یو ساده بزګر ورته وویل : چې پردغه سیمه یې د تلو او راتلو لار تیره شوې وه . یو ورځ په دغه سیمه کې د عسکرو او موټرو بې ساري ګڼه ګوڼه وه . د یو عسکر له خولې مې واوریدل چې دلته داودخان او دهغه د کورنۍ غړي خښ شوي او دې یې ساتنه کوي ، څوورځې وروسته چې عسکر ولاړل د مور په لارښودنه مې قبرونه په نښه کړل او بیاهغې د خپل مذهبي دود سره سم حلوا راوړه او ویې ویشله . د مولاګل کلیوالو اوس پر هغه ځای زیارت جوړ کړی دی ۱۲ـ م : ۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویدیځې لمنې ته بوتلو چې د ځلورمې لوا شمال کیږي . کله چې ورسیدو پاد شاه میر وویل همدا ځای دی. خو تر لږ شیبې وروسته داسې وبریښیده چې هغه هم ځای نه پیژنې هرې خواته یې کتل بیا یې په عاجزۍ وویل وروښو دیرش کاله تېر شوی د ځمکې مخ اوښتې نوځکه پوره نه پوهیږم چې قبرونه به چیرته وي ، همدغه مهال یو لاروي پوښتنه وکړه چې په څه بوخت یاستی ؟ کله چې وپوهیده په منډه ولاړ او د نږدې کلې څخه دوه کسان حمیدالله او مولاګل یې راخبر کړل . دې دواړو سره کره معلومات وو. مولاګل تقریبا شپیته متره شاته راغی ، پر یو ځای ودرید او ویې ویل : قبرونه دادي ، نژدې سل متره ها خوا ولاړ او په ګوته یې اشاره وکړه . دویم قبر دادی مانا داچې دا مړي په دوو ډله ایزه قبرونو کې په جلا ډول خښ شوي دي ، تر کیندو وروسته په یو قبر کی ۱۳ دیارلس او په بل کی ۱۲ شپاړس مړي (ټول۲۹مړي) ښځې ، کوچنیان او نارینه وموندل شول ۱۲__م م: ۱۴۲او۴۷

د داود خان او دهغه دکورنۍ مړي د کابل په پلچرخي کی له موندلو وروسته ۲۰۰۹ زکال د مارچ په ۱۷ نیټه د سکاټ په غونډۍ کې چې د داودخان په نوم ونومول شوه خاورو ته وسپارل شول .۲_م۲۳۳.






د داودخان دواکمنی پاي ته رسیدل او دیوې ... سره د هیواد سیاسي وضع بدله شوه په دې مود... قدرتونو د مستقیم تیري لپاره زمینه برابره شو... د دلوه ۱۵ نیټې پورې زمونږ هیواد دیوه قوی مر... ددې پیښو او حوادثو لاملونه د داودخان دواکمنۍ سره تړنګې اړیکې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پـــا یـــله

د افغانســـتان پـــه معاصـــر تـــاریخ کـــې افغـــاني دولتونـــه د احمـــد شـــاه بابـــا (۱۷۴۷ز -۱۷۷۳ ز کال) او تیمور شاه (۱۷۷۳ز -۱۷۹۳ز کال) له و اکمنۍ وروسته د شاه زمان د پاچا کیدو (۱۷۹۳-۱۸۰۰ز کال) سره سم د انګلیسانو لخوا دسیاسي ستونزو سره مخ شو .انګلیســانوپه هند کې د خپل نفوذ د پراختیا پـه لارکـې د افغانســتان امپراتــور (شــاه زمــان) لــوی خنــډ ګاڼــه نومــوړي یــې د خپلو سیاســي فعالیتونوپه پایله کې ناکام کړ. په دې کار سره انګلیسان خپل هدف تـه یـو څـه نږدې شول. ځکه دوې افغانستان کی دیوه ضعیفه حکومت دمینځ تـه راتـګ لـه پـاره هلې ځلې کولې او د شاه محمود خان سدوزاي د حکومت په خپله یو ضعیفه حکومت و.

انګلیســانو د دریــو ((۱۸۳۹، ۱۸۳۸-۱۹۱۹-۱۹۱۹ز کــال)) یرغلونــو پــو اسطه خپلــو موخو تـه ورسیدل . که څه هم دوې په دې یر غلونو کې په نظامي لحاظ ماتې خوړلې وه خو پـه سیاسي لحاظ لاس بري وو . پـه نړۍکـې د اروپـا یـې هېوادونـو تـر مینـځ د نفوذ د پراختیا له پاره دوه نړیوالې (۱۹۱۴-۱۹۱۸-۱۹۳۹-۱۹۴۵ ز کـالونو) کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جگړې وشوې .ددغو جګړو پایلو د افغانستان په سیاسي وضع باندې هم ډېره اغېزه وکړه . خصوصا دغه اغیزه د دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته چې نړۍ په دریوبلاکون یعنې ختیځ، لویدیځ او ناپیلیوهېوادونو باندې وویشل شوه. سردارمحمد داودخان له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته (۱۳۴۲، ۱۳۳۲ ل کال ۱۹۶۳-۱۹۵۳ زکال) د افغانستان د صدراعظم په توګه دنده اجرا کوله . دسیاسي موقعیت په غوره کولو او داړیکو په ټینګولوکې له ستونزو سره مخ شو.

سردار محمد داودخان د یو آزادې خوښونکې او هېواد پالونکي شخص په توګه چې د هېواد د پر مختګ سره یې ډېره مینه درلوده هڅه کوله چې له سیاسي نفوذ پرته مالي او تخنیکي مرسته تر لاسه کړي . دی ( داودخان )د ختیځ او لویدیځ د ملګرتوب پرځای د ناپېلیتوب د غورځنګ فعال غړي شو. او په هیڅ نظامي تړون کې شامل نه شو . ځکه داودخان ، نهرو ،مارشال ټیټواوسوکارنوهڅه کوله چې له د واړو خوا وونه (ختیځ اولویدیځ) څخه بې له قیده او شرطه مرستې تر لاسه کړي .

افغانستان د شوروي اتحاد او پاکستان سره دګاونډیتوب له امله د سختو سیاسي ستونزو سره مخ و.ځکه شوروي اتحاد د یو نړیوال ځواک په توګه د افغانستان د سیاسي وضعیت او پیښو سره علاقه درلوده او په دې اړه هیڅکله بې تفاوته نه پاتې کېده. پاکستان چې د افغانستان په خوا کې د انګریزانو پواسطه جوړ شوي هېواد او د امریکا د نظامي سازمان غړي و د افغانستان سره یې د پښتونستان د مسلې پر سر اختلاف درلود . او دغه اختلاف افغاني دولت له هغې اعلامې څخه ښه معلومېږي کوم چې په پښتونستان کې د پاکستانې دولت د نظامي عملیاتو په اړوند خپره کړې وه . په دې اعلامیه کې راغلي وو :(( د افغانستان جمهوري دولت له یوی خوا هر ډول وژنې او تشدد غندي او له بلې خوا د پښتنو او بلوڅو خلکو په مقابل کې د پاکستان د حکومت د ظلم نه ډکه غېر عادلانه او غېر دیموکراتیکه حرکتونه په تیره بیا په پښتونستان کې د هغه حکومت سخت او نا عاقبت اندیشانه حالت هم په کلکه غندي. د هغو د هر ډول خطرناکو عواقبو مسئول یوازې او یوازې د پاکستان حکومت بولې ....)) ( ۴۹_م ۲۲۹

خو امریکا د پاکستان په لمسون د افغانستان د دولت سره د مرستو د ورکولو څخه ډډه وکړه ،سردار محمد داودخان د ناچارۍ له کبله دشوروي اتحادڅه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرستې غوښتنه وکړه شوروي اتحاد هم دده غوښتنې ته مثبت ځواب ورکړ . د وسلو سر بیره یې د داود خان د صدارت پر مهال د هغه د پنځه کلن اقتصادي پلان د پروژو د عملي کولو له پاره ډیري مرستې وکړې.

سردار محمد داودخان په سیاسي لحاظ د شوروي اتحاد ددولتي سیستم (سوسیالیزم) پیروی نه کوله خو هڅه یې کوله چې له هغه هېوادڅخه داقتصادي ،تخنیکي او نظامي مرستې تر لاسه کړي ځو په سیمه کې دپاکستان سره سیالي وکړي په ځیرنه کې مونږ ته دا واقعیت روښانه شو چې پاکستان هم د امریکا د متحده ایالاتو د اقتصادي مرستو سر بیره په نظامي برخه کې هم په ۱۹۵۱ او ۱۹۵۲ ز کلونو کې د امریکا په پیشنهاد شوي پوځي بلاک کې ګډون وکړ او د دغه هېواد په د ننه کې د پوځي او هوايي اډو جوړولو په باب یې دامریکا سره خبرې تر سره شوي، د ۱۹۵۲ ز کال د جنوري په میاشت د پاکستان د بهرنیو چارو وزیرهم د نظامي اتحاد په جوړیدو او په هغه کې د منځنی او نږدي ختیځ د هېوادونو ګډون مهم وګاڼه . د ۱۹۵۳ز کال د سپتمبر او اکتوبر په میاشتو کې د پاکستان صدراعظم محمد علي او دپاکستان د پوځ اعلی قوماندان جنرال ایوب خان ته بلنه ورکړل شوه چې واشنګټن ته سفر وکړي . او د امریکا د پوځي کمېټي غړو هم د ۱۹۵۳ ز کال په اکتوبر کې پاکستان ته سفر وکړ. ۴۴_م م ۳۳۱ او۳۳۳)

دې وضعیت سردار محمد داودخان هڅاوه چې افغانستان هم باید پیاوړې فوځ اوغښتلي اقتصاد ولري خو د پاکستان پوځ د امریکا د مرستو په اساس دومره پیاوړې شوې و چې پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد له یرغل وروسته کولی شول چې د خپلو پوځي وسایلو پواسطه د شوروي پوځ عملیات وځاري اولازم ځواب هم ورکړي .د شوروي اتحاد د پوځ یو قوماندان ب ګروموف په دې اړه داسې لیکي : (دپاکستان د پوځ وسلې د امریکې په مرستو جوړې شوې دی ، له هوا نه هوا ته ویشتل کیدونکو توغندیو یې تر لسګونو کیلو متر وړورې واټن ویشتلی شو. په کابین کې دننه تخنیکي امکاناتو پاکستاني پیلوټانو ته دا وس ورکاوه چې په هوا کې هر څه پوره روښانه ووینې. دغو پیلوټانو د خپل تخنیک په مرسته کولای شول بې له دې چې په خپلو سترګو ددښمن آلوتکه ووینې د آلاتو په مرسته او د توغندي پواسطه را وغورځوي،د ډګروال و_اوڅکوي آلوتکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې په همدې ترتيب ويشتلی ده . په اصل کې هغه دپاکستان د ښکاري آلوتکو پو اسطه ويشتل شوې وه. مونږ هڅه کوله د پاکستان له وسله والو ځواکونوسره ان د تصادفي مخامخ کېدو مخه هم ونيسو ...» ۴۵_ م ۳۸۷

د پورتنيو د لايلو په اساس د داودخان تشويش او وړانديز د پاکستان په اړه ډېر صحيح او پرځای و. ځکه دده له صدارت (۱۹۵۳) څخه تقريبا ۲۲ کاله وروسته د شوروي اتحاد پوځي افسر د پاکستان پوځي پياوړتيا تائيد کړه . داودخان د صدارت په دوران کې کوښښ کاوه چې د شوروي اتحاد څخه داسي پوځي مرسته تر لاسه کړي چې په نظامي ډگرکې د پاکستان سره سيالي وکړای شي. تر څود پښتنو او بلوڅو سره د هغوي د حقه حقوقو په لاس ته راوړلو کې مرسته وکړي ،د داودخان د صدارت پرمهال په نړۍ کې ملي آزادي بښونکې نهضتونه او ديموکراسي د پياوړتيا او توسعي په حال کې وه .ده هم هيله درلوده چې دافغانستان روڼ اندوته دی دگوندونود جوړولو او مطبوعاتو په برخه کې يو لږ ازادي ورکړل شي . ده ددې کارلپاره پاچا ته په اساسي قانون کې د بدلون وړانديزوکړخو پاچاد ده وړانديز ته مثبت ځواب ورنه کړ. په پايله کې ده خپله استعفا وړاندې کړه . پاچا د ده د فکر برخلاف د نوموړي استعفا منظور او ډاکتر محمديوسف ته يې د کابينې جوړولو دنده وسپارله په دې کار سره سردار محمداودخان د يوې بلې سياسي ستونزې سره مخ شو نا چاره د يوې بلې سياسي لارې د پيداکولو په فکر شوه ،پوره لس کاله يې په گوښې گيرې کې تېر کړل.

سردار محمد داود خان د ۱۳۵۲ لمريز کال د سرطان په ۲۲ نېټه واک ته د رسېدو سره سم د جمهوري رياست ديو فرمان پو اسطه پخوانی (۱۳۴۳ل کال) اساسي قانون لغوه اعلان کړ.ده دصدارت ددورې په څېر د اقتصادي پرمختگ له پاره هڅې پيل کړې . خو دا ځل يې هم ډېره تکيه د شوروي اتحاد په مرستو کوله . خو د جمهوريت په اخرو کلونو کې داودخان غوښتل چې دشوروي اتحاد نفوذ او انحصار کم کړي .عربي هېوادونو ته يې مخه کړه . د نوموړی دغه اقتصادي پاليسي پر ده باندې د کودتا له امله نيمگړې پاتې شوه.

لويديځو هېوادونو مخکې د ويانا (۱۸۷۸م) په کنگره کې افغانستان د حايل هيواد په توگه پېژندلې و. له دوهم نړيوال (۱۹۴۵) جنگ وروسته هم لويديځ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګړې ډول د امریکا متحده ایالات افغانستان سره اړیکو ته لېواله نه و. په دې اړوند د پاکستان دریځ هم ډیر مهم و. د نړیوالو شرایطو په خوا کې اصلي سیاسي ستونزه داوه چې داود خان پخوانۍ اساسي قانون لغوکړ او د نوي قانون تصویب وځنډیده . بیا هم د نوي اساسي قانون د تصویب وروسته دنورو سیاسي ګوندونو په فعالیت باندې بندیزو لګېده.یوازې یو ګوند د سیاسي فعالیت قانونی اجازه درلود کوم چې د حکومت لخوا جوړ شویو . دې کار د هېواد د روڼ اندي خپه کړل

په دې څېړنیز اثر کې د سردار محمد داود خان د سیاسي ستونزو داخلي او نړیوال لاملونه تو ضیح شوي او هم داود خان د واکمنۍ پرمهال شته ستونزو او هغو ستونزو ته چې د هغه پواسطه راپیدا شوي وي او د پورتنیو پېښو سره ارتباط ورکړل شوي ده مونږ په یقین سره ویلي شو چې داود خان د واکمني پرمهال کورنۍ او بهرنۍ سیاستو کړنلاري ، لوري او نیمګړتیاوې د اوسنیو پیښو په رامېنځ ته کېدو کې مستقیمه اغیزه لري .

په نړیواله کچه امریکا د دوو نړیوالو نظامي پکتونو ـ(Nato) د شمالي انتلانتیک پکت او (SEATO) دجنوب ختیځي اسیا د پکت پواسطه د شوروي اتحاد شخه یو نظامي کمر بند تاو کړ.شوروي اتحاد دوارسا د نظامي پکت پواسطه خپل طرفداران تقویه کول او دوي یو د بل د نفوذ د کمولو کوښښ کاوه.خو افغانستان (د سردار محمد داودخان)دریمه لار یعنې دناپیلیوهېوادونو غور زنګ د غړیتوب لار په مخکې ونیوله.چې لویدیځ ددې سیاست پلوي نه کوله . په داخل کې د نورو عواملو تر څنګ ده یو لړ داسی اقدامات وکړل . چې د ده ستونزې یې نورې هم زیاتې کړې دا اقدامات سردار محمد داود خان لخوا د ۱۳۵۲ ل کال داسد په ۴ نېټه د یو فرمان په ذریعه د شاهی دورې اساسي قانون لغوه اعلان شو. او میوندوال د کودتاه په تورد یو شمېر نظامي او ملي اشخاصو بندي کول او وژل،د سیاستي ګوندونو د فعالیت بندول او درهبرانو تعقیبولو دده له پاره سیاسي ستونزې زیاتې کړې، ښاغلي ګلبدین حکمتیار په دې اړه داسې لیکې: (( د سردار محمد داودخان د اقتدار له زمانې چې د یوې عسکري کودتاه په تور زما د نیولو او وژلو فیصله وشو او زما په غیاب کې زما د اعدام پرېکړه صادر شوه، د نوموړي په وخت کې دوه ځله زما د اوسېدو ځای محاصره شو ، یو ځل په کابل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځلورمې فرقې درئيس ارکان جکتورن شېرعلي خان په کورکې او دوهم ځل په فرزي کې د پاچا صاحب د میرصفي الله په کور کې...» ۱۷-_م ۱۲۲-

د حکمتيار ليکنه ثابتوي چې داود خان د خپلې واکمنې پرمهال سياسي ګوندونو ته د فعاليت اجازه نه ورکوله چې د نوموړو ګوندونو وسله واله مبارزې پيل کړه او دا لړۍ تر اوسه (۱۳۸۸لمريز کال) پورې روانه ده خو سردارمحمد داودخان داقتصادي او سياسي فعاليتونو او مالي ستونزو سره سره د معارف په برخه کې هم د پام وړ کارونه کړي دي . ده په ۱۳۵۲ لمريز(۱۹۷۳زکال (۱۸) نوي کليوال،(۹) لومړني ښوونځي جوړ او ۲۳ کليوال يو ښوونکې ښوونځي له يو ښوونکې دوه ښوونکيو ، او ۲۹ کليوال ښوونځي لومړنيوښوونځيو او ۲۰ کليوالي يو ښوونکې دري ښوونکې ښوونځي ته لوړ او د معارف انکشافي بوديجه ۳۲۷۸۳۰۴ افغانيوته لوړه شو ، )۷( اوه ليسې او ۱۰۸ کورسونه جوړ شول چې ۱۲۷ ښوونکو او سوپرو ايزرانولخوا پکې درس ورکول کيده. (۱۰۹) تنه افغاني زده کوونکې بهرته د تحصيل په خاطر ولاړل او په۱۳۵۳ ل ۱۹۷۴ ز کال کې دزده کړي کورسونه جوړشول .په ښوونځي کې د (۲) کلنی او (۷) کلني عمر د شموليت حد وټاکل شو د نورو اجرا تو تر څنګ په فراه کې دکرنې ليسه اودکابل پولې تخنيک جوړ شو . د موزيک ليسه جوړه ، ۹۰ کليوال او ۲۵ لومړني ښوونځي پرانستل شول ، ۹۷ کليوال ښوونځي لومړنيوښوونځيو ته ، ۱۱۲ يو ښوونکي ښوونځي دوه ښوونکې او ۲۵ دوه ښوونکې ښوونځي درې ښوونکې ښوونځيو ته لوړشول په ۱۳۵۴ ل کال کې د بدني روزنې انستيتوت جوړ شو . په ۱۳۵۴ ل کال کې د تعليمي موسسو شمېر ۴۱۹۸ بابه د زده کوونکو شمېر ۸۸۸۸۰۰ تنو او د ښوونکو شمېر ۱۲۴۰۰ تنو ته رسيده .[ ۴۳-م م۱۱۳او۱۲۲ ] په ۱۳۵۵ او ۱۳۵۶ لمريز کالونو کې نور پرمختک هم وشو .

د سردار محمد داودخان د وخت د اساسي قانون د تصويب په خوا کې په مختلفو برخو کې(۲۲) مختلف قوانين، ۱۲ تقنيني فرمانونه ۳۰، اساسنامي او ۱۲ مقرري تصويب شوي دي چې ډيرې مهمې يې عبارت دي له:د مترقي ماليې قانون، دجزا قانون په۵۲۳ مادو کې، مدني قانون په (۲۴۱۲) مادوکې ، د ځمکو اصلاحاتودقانون، دبانکونو قانون د ځمکو د سروي، تصفيي ثبت

(c) ketabton.com: The Digital Library

قـــانون،دبيمي قـــانون، دکـــورنۍ او بهرنـــۍ پـــانگي اچـــوني قـــانون، د کوپراتيفونوقانون،د سوداګري او صنايعو داطاقونو قانون،د استهلاکي مـوادو د ماليي قانون ، دسياحت قانون، دترانسپورت او جادي د ترانزيت قانون او دبيسيم د دستګاه له قانون نا ويلي دي پاتې نه شي چې دجزا او مدني قـوانين پـه تـدوين او تصـويب کـې د يـو شميراسـلامي هيوادونـو ، لکـه مصـر، الجزايـر او عـراق لـه متخصصينو د مرستې غوښتنه کړې وه .

د دې خيړنې په جريان کې مونږ ته دا حقيقت ښکاره شو چې د سردار محمد داود خان د صدارت او جمهوريت دواړه دورې له سياسي ستونزو څخه ډکې وې خو ده شـته سـتونزو پـه موجوديـت کـې يـو لـړ اقتصـادي کارونـه هـم سـرته ورسـول او پرمختيايي اقتصادي پلانونه يې ترتيب کړل چې تر اوسه د هغو پروژو اهـميـت د دياداونې وړ ده

نومړې دافغانستان د پرمختګ سره مينه درلوداو هڅه يې کوله چې پرستونزو برلاسي شي خو هيڅ دا ده ته په ريښتني توګه د مرستې لاس ور نکړ. خو نومـوړې د نړۍ د يو نړيوال ځواک تر اغيزې لاندې رانغي .په هرځای هر کنفرانس ،او هر محفل کې په ملي او نړيواله کچه د خپل هېـواد ګټـو تـه پـه پـام کـولـو سره موضـوعـات مطرح کـول. دده صـدارت او جمهوريـت دورې د هېـواد پـه معاصـر تـاريخ دويـاړ او دياداونې وړ ګڼل کېږي. داچې ده سياسي ستونزې درلودې دا ټولې ستونزې دده د ذهن زيږنده نـه وې . دا ستونزې د هغـه دوخت پـه نړيوالـو او کورنيـو اقتصـادي او سياسي شرايطو پورې اړه درلوده، دده دتېروتنو او ستونزوديادونې سره سره دده ملي شخصيت د احترام وړ دی ځکه نومړې هر وخت نړيوالو استعماري ځواکونو واکمنانو تـه زغرده ځواب ورکاوه ډېرکسان داسې خبرو او ځواب ورکـولـو تـوان نـه لری.ځکـه هغـوی د خپـل واک پـه اړه فکـر کـوي . خو ده خپـل واک بريژنيـف تـه پـه زغرده ځواب سره د زوال لور تـه سـوق کـړ . د امريکا ، ايران اوپاکسـتان واکمنـانو سره يې هم په زغرده او ملي ګټو ته پـه پـام کـې نيولـو سره برخورد کـاوه او تـل لـه پاره يې د افغانستان اسلامي ، ملي او ناپيلي هويت وساته.

ددې اثر په څېړنه کې ثابتـه شـوه چې داود خـان د نـاپېيلو هېـوادونـو پـه کنفـرانس کې فعال ګډون وکړ دافغانستان په معاصر تاريخ کې د دخيل هېواد د بې طرفي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړه پوره معلومات ورکړل او د افغانستان په فعالې بې طرفې باندي ټینګار وکړه ده په خپل قاطع بر خورد سره د جواهر لعل نهرو ، مارشال ټېټو او سوکارنو توجوه جلب کړه هغوی دده د وړاندیز سره سم د کنفرانس په مصوبه کې تغېر راوست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وړاندیزونه :

۱ : ددې څېړنېز اثر له لو ستلو وروسته یې دې پایلې ته ورسېدم چې د سردار محمد داودخان ژوند ، سیاست، او کارونه جلا جلا څېړنو ته اړتیا لري سره له دې چې بیا هم دده ژوند ټول اړخونه نه رو ښانوی، وړاندیز دادی چې دده د ژوند هره برخه دې د یوې پروژې په بڼه و څېړل شي تر څو دغه نیمګړتیا وې پوره شي .

۲ : داود خان په افغانستان کې درهبري شوي اقتصاد کلک پلوی و د ده د صدارت او جمهوریت په دورو کې یو شمېر اقتصادي زېر نباوې جوړې شوې خو دده اقتصادي پلانونه نیمګړې پاتې شول،چه اوس هم د هغو پروژو بشپړول د افغانستان لپاره اهمیت لري.ذیصلاح دولتی مقاماتو ته وړاندیز کوم چه د دغو پروژو بشپړول په خپل اقتصادي پلان او پالیسۍ کې شامل کړي .

۳ : د داود خان د صدارت پرمهال د امریکا متحده ایالاتو او شوروي اتحاد د خپلو ګټوسره سمې مرستې کولي کله به چه هغوې ګټې په خطر کې شوی بیا به یې خپلې مرستې قطعه کړی اوسنې سیاسي او اقتصادي حالت لړ او ډېر د هغه وخت د شرایطو سره ورته والي لري د اوسني دولت سیاسي او اقتصادي مسولیتونه ته وړاندیز کوم چه ګاونډیو هېوادونو او نړیوالو سره د سیاسي او اقتصادي اړیکو په ټینګو لو کې تاریخي سوابقو او د داود خان د وخت اړیکو ته ژوره پاملرنه و کړي .ترڅو دغه مرستې زمونږ د هېواد د ستونزو د کمیدو پر ځای زیاتي نه کړي .

۴ : څرنګه چه اوس په نړۍ کې شوروي اتحاد د یو نړیوال ځواک په توګه له مېنځه تللي ، خو په نړیوالو سیاسي او اقتصادي اړیکو او د افغانستان په داخلي سیاسي ، وضع باندي د هغوې اغېزه اوس هم د پاملرنې وړ ده . وړاندیز کوم چه د اقتصادي او سیاسي پالیسۍ په طرحه کولوکې د پخوانی شوروي اتحاد اوسنیو شمالي ګاونډیو هېوادو نو اغېزه او نفوذ په پام کې ونیسي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ : د سردار محمد داود خان د سیاسي ستونزود لاملونو په پام کې نیولو سره دولتی ذیصلاح مقاماتو ته وړاندېز کوم چې د چارو په مخ بیولو کې د نورو دنظر درناوی وکړي اود پارلماني مبارزې له پاره زمینه برابره کړي ،سیاسي گوندونه باید وهڅوي چې د وسله الې مبارزې پرځای انتخاباتي مبارزه وکړي مرکزیت باید قوي وساتي ، تر څو په حالاتو باندي کنترول له لاسته ورنه کړي، واکمنان باید خپل نظر کټ مټ د تطبیق وړ ونه گڼي ، اساسي قانون دې په هر اړخېز ډول پر خپل ځان او نورو تطبیق کړي

۶ : سردار محمد داود خان د ناپیلیتوب د غورزنگ فعال غړی و . په نړیوالو اړیکو کې د هغه ونډه او دریځ باید د یوی پروژی په بڼه وڅېړل شي او نړیوالو خصوصاً امریکا او شوروي اتحاد لخوا د اړیکو قطع کول د هغوی ( امریکایانو اشتباه وه .نه د داود خان

۷: دا چې لوړ رتبه استادان د د ټیټو رتبو استادانو په تربیه او لاربښونه کې فعاله ونډه اخلي وړاندېز کوم چې د لوړو زده کړو وزارت باید هغوي ته حق الزحمه ورکړې. چې دهغوي اقتصادی ستونزي حل او په ډاډه زړه خپلو لاربښوونو ته ادامه ورکړی

۸: لوړو دولتي مقاماتو ته وړاندیز کوم چې یو ښوونځی او یایوه اقتصادي موسسه دې د داود خان په نوم و نومول شي ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مناقشه

کومه څیړنه چې د سردار محمد داودخان د واکمنۍ او دهغه د سیاسي ستونزو په اړوندتر سره شوه په دې څېړنه کې د سردار محمد داود خان د صدارت او جمهوریت پرمهال د ده سیاسي ستونزې ، د پاچا له کورنۍ سره سیاسي اړیکې ، دسردار محمد هاشم خان ، او نور پنځه صدراعظمانو څخه یادونه او پرتله شوي او دصدارت د څوکې څخه دده د استعفا د لاملونه د توضیح پرمهال د پاچا کړنه ، موخې هم روښانه دي چې لاندې پایلې درلودې .

څیړنې وښوده چې د سردار محمد داودخان ستونزو د محمدهاشم خان او شاه محمود خان د ستونزو سره ډېر توپیر درلود هغوې (سردار محمد هاشم خان او شاه محمود خان) د صدارت پرمهال هریو د پاچا د کورنۍ له غړو سره ښې اړیکې درلودې او دپاچا کورنۍ شورا له دوې څخه هر اړخیز ملا تړ کاوه حتي دهېواد ټول واکه له دوې سره وو .خو محمد داود خان سره سردار ولي او احمدشاه چې د پاچا د کورنۍ مهم غړي وو. اختلاف درلود او داود خان ته یې په اداري چارو کې ستونزې ایجادولې . څرنگه چې داود خان ، شاه محمود خان له ستونزو سره مخ کړي و.

د سردار شاه محمود خان د صدارت پرمهال د نړۍ استعماري هېوادونه په دوهم نړیوال جنگ او خپل مینځ کې په جگړو اخته وه. او دافغانستان د کورنیو چارو ته دومره وخت نه درلود یوازې د افغانستان بې طرفي ورته مهمه وه . په هېواد کې دیموکراتیک قوتونو نوې د دیموکراسۍ لپاره مبارزه پیل کړي و. خو د داود خان په دوره کې دوهم نړیواله جگړه پای ته رسیدلې وه په نړۍ او سیمه کې دیموکراتیک او آزادي غوښتونکو قوتونه پیاوړي شوي وه .چې دې وضعي د حکومت په کړنلاره او ورځنیو چاروکې ډېر اغېزه درلوده.

دسردار محمد داودخان دصدارت دوره د ډاکتر محمد یوسف، میوندوال ، اعتمادي ډاکتر محمد ظاهر ، موسي شفیق، د صدارت دورو سره ځانگړي توپیر په دې کې وه چې دغو صدراعظمانو په وخت کې د سردار محمد داودخان د صدارت په پرتله سیاسي گوندونه ډېر پیاوړي شوي وه نوموړي صدراعظمان یې استعفا ته اړ ایستل .د گوندونو د جوړیدو په خوا کې مطبوعاتو هم په نسبي ډول آزادي تر لاسه کړي وه ، حتی په صدراعظمانو به یې نیوکې کولې . په شوراکې دهر صدراعظم د اعتماد د رایې اخستلو پرمهال ډېرې ستونزې رامنځته کېدلې چې دغو ستونزو سیاسي بڼه درلوده . د موسي شفیق د صدارت پر مهال د هلمند د اوبو د تړون د لاسلیک کولو په اړوند په کابل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاریونونه وشول او حکومت یې تر سیاسي فشار لاندې راوستي وه .دې گوندونو د دولت هغه کړني چې لږ منفي اړخ به یې درلود ور څخه ډیرسیاسي گټه اخېسته او له دې پیښې څخه به یې خپل سیاسي پروپاگند کې ډېره گټه واخېسته او سختې نیوکې به یې کولې ځوانان به یې دحکومت ضد کړونو ته هڅول او هر گوند د خپلولیکو د پیاوړتیا په موخه مخفي فعالیتونه کول .د دوې ټولو هڅه داوه چې په پوځ او پولېسو کې خپل نفوذ زیات کړې تر څو د پوځي کودتاه له لارې واک ته ورسېږي . خو اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په افغانستان کې د نړیوالو شرایطو په پام کې نیولو سره دديموکراسي پلوي و. نو ځکه د مظاهره کوونکو په مقابل کې یې د امکان تر بریده پوري شدید عکس العمل نه ښوده .مگر د پاچاد کورنۍ غړي ټول په دې نظرنه وو. ځيني یې شدید برخورد پلوي وو چې کله کله به یې په خپل سر هم د مظاهره کوونکو په مقابل کې شدید عکس العمل ښوده .

څېړنې وښوده چې د جمهوریت په دوره کې د سردار محمد داود خان سیاسي ستونزو نوي بڼه غوره کړه . چې ځيني ستونزې لا له پخوا څخه موجودي وي . خو ځيني محمد داودخان د خپل مطلقه رویش په اساس ایجاد کړي ځکه واک ته له رسیدو لږ موده وروسته د ښاغلي محمد هاشم میوندوال او دهغه د کودتاه په تور یو شمېر سیاسي پوځي او ملي شخصیتونه بندي او ووژل. هم یې داسلامي نهضت لارښوونکې بندیان او فرار ته اړکړل . چې په دې کار د خپلې سیاسي ستونزې نوري هم زیاتي کړې ځکه ډېرروڼ اندي او اسلام پاله ډله په ده باندې شکمن شول او لامل یې دا وه چې دده په اداره کې دغه کارونه دافغانستان د خلق دیموکراتیک گوند د پرچم د اړخ پواسطه سرته رسیده .

په دې څېړنه کې کوښښ شوي او دا واقیعت روښانه شوي چې داودخان د اقتصادي پلانونو په تطبیق د شوروي اتحاد د مرستو ډېرې وېډې ، وروسته ده ته سیاسي ستونزې پیدا کړي . ځکه په دې مرستو کې د افغاني پوځ د افسرانو تربیه هم شامله وو چې وروسته د دغو افسرانو ډېر شمېر د افغانستان د خلق دیموکرایتک گوند غړي شول او د سردار محمد داود خان د واک په ړنگېدو کې فعاله ونډه واخېسته . سردار محمد داود خان هم په دې پوهیده ځکه ده مخکې له مخکې یو شمیر هغه افسران چې په شوروي اتحاد کې تحصیل کړي وو . له دندو څخه لرې کړل خو دا کار ده ته گټه ونکړه د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د واکمنۍ په اخره لسیزه کې یو اساسي قانون تصویب کړ چې په هغه کې د افغانستان خلکو او روڼ اندوته یو اندازه سیاسي او ټولنیز حقوق ورکړي شوي وو . سردار

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد داودخان واک ته د رسیدو (۱۳۵۲ل کال) سره سم دغه اساسي قانون د یو فرمان پواسطه لغوه کړ او نوی اساسي قانون تصویب وځنډیده چې دي خلا ده ته سیاسي ستونزي پیدا کړي ځکه پارلماني مبارزي نه موجودیت کې گوندونو پټ فعالیت کاوه . او خلکو هم د هغو په وعدو ټینگ باور درلود.

باید یادونه وشي چې د سردار محمد داودخان سیاسي ستونزو خصوصاً دواکمني پرمهال ځانگړي بڼه درلوده د ده ستونزو ډېر دده په مطلقه پالیسې او کورنۍ سیاست سره اړیکي درلودي. دده په اند افغانستان په اقتصادي او سیاسي لحاظ وروسته پاتې هېواد دې . په دې هیواد کې یو سیاسي گوند دسیاسي رهبري له پاره کفایت کوي ، ده دنورو گوندونو په سیاسي فعالیت باندي بندیز ولگاوه. دي کار هم ده ته ډیري سیاسي ستونزي پیدا کړي تر څو یې دده واکمني ختمه او هیواد د کورنیو جگړو او گډوډي خوا ته سوق کړ. دهیواد اوسني سیاسي زعامت باید دغه ستونزو ته دقیقه پاملرنه وکړي هر وړي سیاسي پیښې لا ملونه باید په ژوره توگه وڅیړل شي تر څو په هېواد کې سیاسې ثبات پیدا او کورینو جگړو ته د پای ټکی کېښودل شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه


۱_ ا- هارون (۱۳۷۲هـ ش). *داود خان د کې جي بې په لومو کې*، نشرات سبا_ پېښور _ پاکستان.

۲_ احمد زي ، سپين غر (۲۰۰۹م – ۱۳۸۸کال). *د وياړونو لړۍ*. عنايت الله خپرندويه ټولنه ، ناصرباغ، پېښور.

۳_ ادمک، ډبليو (۱۳۷۸زمري- ۱۹۹۹ اگست). *د شلمې پيړۍ تر نيمايي دافغانستان دبهرنيو اړيکو تاريخ*. ژباړن نثار احمد ، دانش کتابتون ، قصه خواني بازار- پېښور.

۴_ ارغنداوي ، عبداالعلي (۱۹۹۷ز). *ژوندۍ خاطرې، په تيرو نهو لسيزو کې د افغانستان تاريخ*. خپرندوي د بې بې سي د پېښور څانگه چاپ پليک ارټ، پريس -پېښور.

۵_ اريا نفر ، عزيز _۲۰۰۴ زکال. *افغانستان او نړي (اروپا ، امريکا او اسراليا يي هيواد ونه)*. ژباړونکی نصرالله ناصر ، خپرونکی د بهرنيو چارو وزارت د ستراتيژيکو څيړنو مرکز، چاپ ځای د ميوند خپرندويه ټولنه او مطبعه کابل- افغانستان.

۶_ اريا، محمد نجيم ( ۱۳۸۷ لمريز کال ) طبع چهارم ، *محمد هاشم ميوندوال* ، ارش کتابخانه ، مرکز نشراتي ميوند ، سبا کتابخانه

۷_ اکرم ، عاصم (      ) *نگاهی به شخصيت، نظريات و سياست هاي سردار محمد داودخان.*

۸ _فغان ، فرياد ، نجم الدين (۱۳۸۴هـ - ۲۰۰۶ع). *نگرش برتاريخ معاصر افغانستان*. بخش تخنيکي ، انجمن نشراتی دانش – پشاور.

۹ امين ، حميدا لله . ( ۱۳۲۰هـ ش ). *جغرافيايي صنعتی افغانستان* ، ديپارتمنت جغرافيه ،پوهنځي زمين شناسی پوهنتون کابل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰ انصاري ، خواجه بشير احمد ( ۱۳۸۳لمريز پسرلي) .*افغانستان د تيلو په لمبو کې*. ژباړن سيد عبدالله پاچا ، ميوند خپرندويه ټولنه ، صدارت څلور لارې ، کابل ،افغانستان.
۱۱بدر ، صديق ا لله (۱۳۸۲) *چهره ها : د هيواد د نامتو څيرو ، لنډه پيژندنه* ، د فجر مطبعه ، کمپوز محمد اکرم درويش.
۱۲جنبش ، داود ( ۱۳۸۸ل ۲۰۰۹م ). *څلرويشت ساعته چې افغانستان يې واړواه*. د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمنی، اسد دانش مطبعه ، ملې مارکيټ کابل- افغانستان.
۱۳ـجنبش ، عبدالصابر. ( ۱۳۸۵کال) .*افغانستان در دوران صدارت سردار محمد داودخان* ، مرکز نشراتی سعيد ، قصه خوانی بازار، پشاور.
۱۴حبيبی، عبدالحي (۱۳۷۲ لمريز کال جوزا) .*جنبش مشروطيت درافغانستان* . ناشر احسان الله ، ليتو گرافی وچاپ ، اسماعليان.
۱۵ حسين خيل ، ليوال، عبدالروف( ۱۳۸۷کال) . *ولي اعدام*. ډيزاين جاويد افغان.
۱۶حق شناس، ځاځی لالا جان (مرکه ۱۳۸۸لمريز کال). د جمهوري گارد د لوا د دوهم کندک د لومړي ټولې قوماندان.
۱۷ـ حکمتيار، گلبدين( ۱۳۷۸هـ ش ). *پټې توطې ، برېنډې څيرې*.
۱۸ حکمتيار، گلبدين(      ) د اسلامي نهضت ، لوړې ،*ژورې د نادري کورنی له راوستو ، د روسانو تر ايستو*.
۱۹ـ خپلواک ،عبدالروف( ۱۳۸۸ل ـ۲۰۰۹م) . *پاچا خان عدم تشدداو په افغانستان کې دسولې لار*، د مقالو ټولگه ، افغانستان دکلتوري ودې ټولنه – جرمنی، اسد دانش مطبعه کابل- افغانستان.
۲۰ ځلمی، محمد ولي (۱۳۸۲هـ ش کال) . *د استبداد او مطلقت په مقابل کې د ځينو افغانانو مبارزې* ، ميوند خپرندويه ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۱دریځ ،امین الله (جدي۱۳۷۹ خورشیدي-جنوري ۲۰۰۱ میلادي).
*افغانستان در قرن بیستم* ، کتابخانه دانش ،بازار قصه خوانی – شهر پشاور.
۲۲د نیکووا ،ت زاگارو( ۱۳۸۵ل-۲۰۰۲ز). *په منځنۍ اسیا کې لویه لوبه* .
ژباړن محمد طاهر کاتې، افغانستان د کلتوري ودې ټولنه –جرمنی، د اسد دانش خپرندویه ټولنی تخنیکي څانګه – پیښور
۲۳رښتیا ، سید قاسم.( )*خاطرات سیاسی سید قاسم رښتیا* . ۱۳۱۱-۱۹۳۱-۱۳۷۱-۱۹۹۳ بااهتمام محمد قوي کوشان .
۲۴ سیتانی، محمد اعظم( ۱۳۷۹-۲۰۰۱م) . *میوند _ دافغانستان دتاریخ ځلی* د سیمنارونو ټولګه ، افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ، جرمنی، افغان کمپوز سنټر.
۲۵ سیاسنګ ، صبورالله ( ۱۳۸۸ل –۲۰۰۹ اګست) . *د پسرلنی سباوون د ګولیو باران* . ژباړن رحمت اریا ، اسد دانش خپرندویه ټولني مطبعه ، ملي مارکیټ، کابل افغانستان .
۲۲ شرق، محمد حسن ( ) تائسیس و تخریب اولین جمهوری افغانستان جز خاطرات ۱۳۱۰-۱۳۷۴ .
۲۷ شیرزی، لالاجان(مرکه ۱۳۸۸ لمریز کال).د ۱۳۵۲- ۱۳۵۷ د ثور تراخرد جمهوري ګارد د *روغتون سرطبیب* وه.
۲۸ طنین ، ظاهر.( ۱۳۸۴ ل ل) افغانستان درقرن بیستم ، د ۱۹۰۰-۱۹۹۲ پوري لیتو ګرافی ، چاپ وصحافی طیف نګارا ، تهران .
۲۹عارض ، غلام جیلانی، چنګابښ۱۳۵۲ ل ل- جولای ۲۰۰۳ع)*د تاریخ په اوږدو کې دافغانستان سرحدونه او اداري ویش* . ژباړونکی حفیظ الله تراب، ختیځ بیا رغونی اداره(کور).
۳۰عبدارحیم زی ، عبدالمالک( ۱۳۸۸) *ارمغان زندان*، بنیاد عبدالمالک عبدارحیم زی، مطبعه شمشاد ، کابل افغانستان .
۳۱عطائې ، کریم (۱۳مارچ ۲۰۰۹)*د جمهوریت بنسټ ایښودونکی*، **B.B.C pAshto**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۲عطايي ، کريم (۱۳۸۲ پسر لی) *شهيد سردار محمد داود خان او د سرطان د ۲۶ مې پاڅون*، ژباړن امير جان وحيد احمدزی، پير خپرندويه ټولنه .
۳۳ عطايي، محمد ابراهيم ( ۱۳۸۲هـ ش کال داسد ۲۸مه) . *د افغانستان پر معاصر تاريخ يو لنډه کتنه* ،دويم چاپ، انتشارات ميوند ، سبا کتابخانه، کابل .
۳۴ عطايي ، محمد ابراهيم ، ( ۱۳۴۸ کال د سنبلې نهمه). *د پښتونستان مسئله د حق خودارادیت په رڼا کې*. طبع او تصحيح مهتمم، ميراجان (سحيقي) د پوهنی مطبعه .
۳۵عظيمي، محمد نبی (۲۲ دلو۱۳۷۸هـ ش). *اردو وسياست درسه دهه اخير افغانستان*، مرکزنشراتی ميوند ، سبا کتابخانه، قصه خوانی بازارپيښور.
۳۶ غبار،مير غلام محمد. ( .(۱۳۴۲هـ ش) .*افغانستان در مسير تاريخ*. مطبعه دولتی
۳۷ غوث ، عبدالصمد چنگانی( ۱۳۷۸المريز-۱۹۹۹جون).*د افغانستان سقوط* ژباړن شير زمان طائزی، دانش کتابتون، قصه خوانی بازار ، پيښور.
۳۸ غوربندي، عبدالقدوس(۱۳۷۹-۲۰۰۱م کال). *افغانستان د خلق ديموکراتيک گوند تاريخ ته يو کتنه*. ژباړن نور محمد کړاو ، افغان کمپوز سنتر گل حاجي پلازا ، پيښور.
۳۹ فايق ،غوث الدين ( بهار ۱۳۷۹ خورشيدي ) . *رازي راکه نمی خواستم افشا گردد* ؟ کتاب فروشی فضل ، کوچه نعلبندي ، بازار قصه خوانی ، پيښور
۴۰ فرهنگ ، مير محمد صديق ( ۱۳۴۲ ه ش ) *افغانستان در پنج قرن اخير جلد سوم با ضمايم واضافات جديد* .
۴۱_ فراهي ، عبدالغفار ( ۲۰۰۲ ز کال )*افغانستان د ديموکراسی او جمهوريت په کلنو کې* ، دانش کتابتون ، قصه خوانی بازار ، پيښور .
۴۲_ کاکړ ، محمد حسن ( ۱۳۸۸ ل _ ۲۰۰۹ م )*د سرطان کودتاه د افغانستان د اوږدې بې ثباتی پيلامه* ، د افغانستان دکلتوري ودې ټولنه جرمني ، اسد دانش مطبعه ، کابل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۳_کامګار، جمیل الرحمن ( ۱۳۸۸ هـ ل _ ۲۰۰۹ م ) *د افغانستان د معارف تاریخ* ژباړن. قاري عبدالسمع شیرزاد ، میوند ، خپرندویه ټولنه ، کابل ، افغانستان

۴۴_ ګانکوفسکی ، یو ، وي ، او ، ل ، ر ، ګوردن پولنسکایا ( ۱۳۶۲ هـ ش ) دپاکستان تاریخ ، دوهمه برخه. ژباړونکی محمد عالم علمي ، دقبایلو وزارت د نشراتو ریاست ، کابل ، افغانستان .

۴۵_ ګروموف ، ب ( ۱۳۷۵ هـ ش ۱۹۹۷ میلادي ) *سرې لښکرې په افغانستان کې* . ژباړه ،داود جنبش ، دانش کتابخانه ، پېښور .

۴۶_ ګورګون ، ویکتور ګریګو ، یچ ( ۱۳۸۱ ( ۲۰۰۲ م ) *افغانستان : سیاست او سیاست وال* . ژباړه محب الرحمن ، د افغانستان کلتوري ودې ټولنه / جرمني .

۴۷_ مبارز ، عبدالمجید ( ۱۹۸۸ میلادي ) *بیان حقایق و انتقادات ، کتاب خاطرات سیاسي سید قاسم رښتیا* ، سبا کتابخانه ، قصه خواني بازار، پشاور .

۴۸ مبارز ، عبدالمجید ( ۱۳۷۵ هـ ش ) *تجلیل واقعات سیاسي افغانستان* ( **۱۹۱۹ _ ۱۹۹۶** ) طرح و دیزان حمید نور .

۴۹_ متین ، کلیم الله ( ۱۳۵۴ ل د وږې نهمه ) **د خپلواکۍ تړون** ، د پښتنو او بلوڅو ملي مبارزې ، د سرحداتو وزارت ، د تبلیغاتو د ادارې لـه خوا کابل ، افغانستان

۵۰ مصداق ، نبي ( ۱۳۸۷ لمریز _ ۲۰۰۰ م کال ) *په شلمه پېړۍ کې د افغانستان بهرني سیاست* ، د پوهنیزه ، سینما د لیکنو ټولګه ، مهتم حفیظ الله غښتلی ، جرمني ، د کولن ښار .

۵۱_ نطزي ، محمود ( ۱۳۸۸ لمریز _ ۲۰۰۹ ز ) *د نړۍ افسانوي او لوتونکې* ، دانش خپرندو یه ټولنه ، پېښور .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**